# ځوانه تا خپل ارزښت
# او مسؤلیتونه پیژندلي دي؟

د ځوان نسل فکري روزنه ډېره ضروري ده، ځکه اوسني ځوانان د خواهشاتو په سند کي غرق دي، د دوی سالمي روزنې ته باید لازمه توجه وشي

Ketabton.com

لیکوال:

فرید احمد (مبارز)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب پیژندنه

د کتــاب نــوم: ځوانه تا خپل آرزښت او مسؤلیتونه پیژندلي دي؟

لـــيـــکـــوال: فرید احمد (مبارز)

کــمــپـــوزر: خپله لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

**موضوع** **مخ**


د کتاب پیژندنه........................................................................................ ۱
بسم الله الرحمن الرحیم................................................................................ ۲
فهرست................................................................................................ ۳
سریزه................................................................................................ ۴
ځوانه تا خپل آرزښت پیژندلی دی؟................................................................. ۵
ځوانه تا خپل مسؤلیتونه پیژندلي او درک کړي دي؟........................................... ۹
ځوانه ته باید په ژوند کي باهدفه تګلاره وټاکې................................................... ۲۰
ځوانه د ژوند ښه تنظیم د بریالیتوب شرط دی................................................... ۲۳
ځوانه د وخت قدر او آرزښت وپیژنه............................................................... ۲۶
ځواني غنیمت وګڼه ستا څخه د ځوانی په هکله پوښتنه کیږي؟............................... ۳۲
ځوانه د ژوند آرزښت په هدف ټاکلو کي دی..................................................... ۳۴
ځوانه د بریالیتوب لومړی شرط د ځان اداره کول او پر ځان باور درلودل دي.............. ۳۷
ځوانه ځانګړتیاوي دي وپیژنه....................................................................... ۴۲
ځوانه ستا څخه اسلام څه غواړي؟.................................................................. ۴۸
ځوانه د غرور څخه ځانه وساته غرور جهالت دی.............................................. ۵۵
ځوانه سیرت النبي (صلی الله علیه وسلم) د ځان د اصلاح لپاره غوره کړه.................... ۶۰
ځوانه کبیره او صغیره ګناهونه وپیژنه او ځان ځیني وساته................................... ۶۶
ځوانه تقوا اختیار کړه تر څو ژوند دي د نیکمرغیو څخه ډک سي............................ ۷۰
ځوانه د دعوت او تبلیغ آرزښت دي پیژندلي دی؟.............................................. ۷۳
ځوانه پوهیږې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مفهوم څه دی؟........................... ۸۲
ځوانه خپل د بې لاریتوب اسباب وپیژنه........................................................... ۸۵
ځوانه د ټولنیزو رسنیو په استعمالولو کي د ډیر احتیاط څخه کار اخله..................... ۸۷
ځوانه زموږ د عظیم تاریخ کارنامې دي لوستلي دي؟.......................................... ۹۲
ځوانه ته د اسلامي نړۍ سرښندونکي آتلان پیژنې؟............................................ ۱۰۰
ځوانه خپل دوښمن وپیژنه............................................................................ ۱۱۲
ځوانه د نشنلیزم یا ملتپالني د ناوړه اعمالو څخه په ټینګه ځان وساته..................... ۱۱۸
ځوانه د فکري جګړې خطر دي حس کړی دی؟................................................. ۱۲۴
ځوانه مسلمانان ولي وروسته پاته سول؟.......................................................... ۱۵۹
ځوانه ستا د بریا راز په څه کي وو................................................................. ۱۷۹
ځوانه د ځان سره محاسبه وکړه او د ژوند اصلي مسیر درک کړه!........................... ۱۸۲
ځوانه موسیقي د روح غذا نه، بلکي زهر ده...................................................... ۱۸۳
ځوانه د ګناهونو څخه د توبې کښلو نیت نه لرې؟.............................................. ۱۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

الحمدالله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلوة والسلام على اشرف الانبياء محمد مصطفى (صلی الله علیه وسلم). اللهم صل علیٰ محمدوعلیٰ آل محمد کما صلیت علیٰ ابراهیم وعلیٰ آل ابراهیم انک حمید مجید. اللهم بارک علیٰ محمدوعلیٰ آل محمد کما بارکت علیٰ ابراهیم وعلیٰ آل ابراهیم انک حمید مجید. اما بعد!

ځوان په ټولنه کي د ملا د تير حيثت لري، د ځوانۍ عمر يو داسي حالت دی، چي په دې کي د انسان ټول قوتونه د رشد په حالت کي وي، همدا د سمون او فساد عمر دی، له دې امله هره نظريه، فکر، نظام او حرکت د ځوانانو پواسطه قوي کيږي او د ځوانانو پواسطه کمزورئ کيږي، اسلام په ډير ښکاره ډول د ځوانانو څخه غواړي تر څو غښتلي واوسي، پياوړتيا او غښتلتيا د شخصيت جوړولو او ژوند تيرولو په هر پړاو کي ډير اړين او غوښتل سوی شی دی، چي ځوانان بايد ځانونه پرې روږد کړي، غښتلتيا او پياوړتيا تر لاسه کول د الله سبحانه وتعالی د لوري يو لازمي شی دی، ځوان بايد په دې پوه سي چي ده ته په شخصي او ټولنيزه برخه کي کوم مسؤليتونه او دندي متوجه دي، د ټولني د ښه سمون لپاره کوم وګړي ډير ګټور واقع کيدای سي او هغه څوک دي؟ هغه ځوانان دی، ځوانه ته بايد اسلامي عقايد، عبادات، معاملات، حقوق او د اسلام هر اړخيز نظام په ښه ډول د افراط او تفريط څخه پرته په ډير حکمت او نرمۍ سره وروښول سي، استعدادونو ته يې بايد درناوئ وسي، وړتياوي يې بايد په کار ولويږي، د ځوانانو پوښتونو ته بايد جواب ورکړل سي او هر څه د دوی په ژبه ورته وړاندي سي، ځوان بايد د خپلو خواهشاتو څخه ځان وژغوري، د اسلامي اُمت آينده د ځوانانو څخه غوښتنه کوي چي په دې لار کي تکليف وګالي، تر څو هغوی او راتلوونکي نسلونه د رنځ، غريبۍ، وروسته پاته والي او جلاوالي څخه نجات ومومي، دا کار يو عملي پروګرام ته ضرورت لري، چي په دې توګه خپل اهداف تر لاسه کړو، او په اسلامي ټولنه کي د ځوانانو ژوند يو هدفمند ژوند وګرځي، مسلمان ځوان بايد تل په خپل اسلامي هويت وویاړي او ددې هڅه وکړي، تر څو ريښتينی مسلمان سي، مسلمان ځوان يوازي بايد پر الله سبحانه وتعالی ايمان ولري، د زړه له تله د الله سبحانه وتعالی په يووالي باور ولري، ځواني غنيمت ګڼل په کار دي، د خپل ځان او نورو په اصلاح کي استعمالول يې په کار دي، ځکه چي د قيامت په ورځ به ستا څخه د ځوانۍ په هکله پوښتنه کيږي: تا د عمر دغه تر ټولو غوره برخه چيري او څنګه تيره کړه، د ځوانۍ څخه دي خپله څومره ګټه تر لاسه کړې وه او نورو ته دي څومره ګټه رسولې وه؟

**په درنښت**

**فريد احمد (مبارز)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه تا خپل آرزښت پيژندلی دی؟

ځوان په ټولنه کي د ملا د تير حيثت لري، همدا ځوانان دي چي په نړۍ کي بدلونونه او انقلابونه راولي، همدا ځوانان دي چي د ټولني د پرمختګ سبب ګرځي، که خپل اسلامي تاريخ ته ځير سو او وګورو نو په دې به پوهه سو، همدا ځوانان وه، چي د الله (جل جلاله) دين يې په نړۍ کي تر موږ پوري را ورسوی، حضرت ابراهيم (عليه السلام) ځوان وو، په پيغمبرۍ لا مبعوث سوی نه وو، د الله (جل جلاله) د توحيد او وحدانيت لپاره يې مبارزه وکړه او ټول بُتان يې مات کړه، که د حضرت موسی (عليه السلام)، حضرت داود (عليه السلام)، حضرت سلميان (عليه السلام)، حضرت عيسی (عليه السلام) څخه يادونه وکړو، نو ټول ځوانان او د الله (جل جلاله) دين د حاکميت لپاره الله (جل جلاله) دنيا ته راليږلي وه، که د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) صحابه کرامو تاريخ ته وګورو، رسول الله (صلی الله عليه والسلم) د نبوت د بعثت څخه مخکي په آمين مشهوره وو او د نيکو اخلاقو خاوند وو.

د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) صحابه کرامو حضرت ابوبکر (رضي الله عنه)، حضرت عمر (رضي الله عنه)، حضرت عثمان (رضي الله عنه) او حضرت علي (کرم الله وجه) ټول ځوانان وه، د دين څخه يې خپل مالونه او سرونه قربان کړه، ددې دين او د بشريت د اصلاح په خاطر يې خپل د مور پلار وطن پريښود، مديني منورې ته يې هجرت وکړ، نن چي موږ او تاسو په سپيڅلي دين اسلام مشرف سوي يو، دا اصحابو کرامو او رسول الله (صلی الله عليه وسلم) قربانياني وې، د نن ورځي ځوان که خپل ځان اصلاح کړ، بيشکه ده ټولنه اصلاح کړه، د ځوان سره بايد همدا هدف وي، چي د نن په پرتله راتلوونکي ته ترجيح ورکړي او خپل ټولني ته د داخل څخه وګوري، نه د دباندي څخه، تر څو ټولنه مو د پرمختګ، سوکالۍ، خوشحالۍ او ترقۍ په لور پرمختګ وکړي.

د اسلامي نړۍ د لوی مفکر، د غوره اسلامي احساس او ميني څخه برخمن شخصيت علامه اقبال څخه به يې واورو، چي دی هر مسلمان ځوان ته څنګه خطاب کوي او څه ته يې متوجي کوي؟ مسلمانه ځوانه! نژدې ده چي زه په ژړا کي ويني توی کړم، که زه تا په دغه نرم حالت کي وينم، په تا کي خير نسته، که څه هم چي د دنيا پاچا سې، تر هغو چي تا د حضرت علي (کرم الله وجه) د ځواک او د حضرت سليمان (عليه السلام) د استغناء څخه برخمن ونه وينم. ای ځوانه! تاته تعجب کوم د نړۍ افق درته وځليدی، مګر ستا څخه ځان ورک سو، تر څو به ته غافل، ضايع او معطل ناست يې؟ زما بلي او روښانه ډيوې ټوله پخوانۍ نړۍ رڼا کړله، تياره شپه يې منسوخ کړله او لا تر اوسه پوري هغه (يدبيضا) چي تا ته د حضرت موسی (عليه السلام) څخه په ميراث پاته دي، ستا په ورغوي کي دئ. بيده ګله! د هغه نرګس په شان دواړه سترګي خلاصي کړه، چي سترګي يې يوه لحظه هم نه پټيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته آزلي ناموس او آمین یې، ستا پیدایښت د خاورو څخه وو، مګر پر تا باندي د نړۍ دریدل او اُمتونو بقاء ده، د یقین ډکه پیاله وڅیښه، د ګومان او اټکل د تل څخه لوړ سه، ستا هغه ژوره خوب اوږد سو، متوجه سه! ګوره هغه څوک چي خپل ځان وپیژني، هغه کس خپل آرزښت او مرکزیت پیژني، چي یوازي د پاچاهانو او سلطانانو تختونه ورسره مناسب دي، ژوندۍ اوسیدل شرف او کرامت نه دی، مګر په دغه معرفت کي کله چي تا دغه معرفت په واک کي راوست، نو ټوله نړۍ دي په واک کي راوستله، خو که دي دا معرفت د لاسه ورکړ، نو غورځول سوی مال سوې، زما د شعر او ادب په مدرسه کي داسي ځوانان روزل کیږي، چي هیڅ درهم او دینار نه لري، مګر د پاچاهانو خوی لري، ته اختیار لرې چي څه دي خوښه سي هغه غوره کړه، خو ما ته د ژونده تېښته، په کونجونو او ګوښه ځایونو کي کښینستل غوره معلوم نه سول. مسلمانه! که عربي یې او که عجمي د شهادت په کلمو ستا نطق ناآشنا خبري دي، تر څو ستا زړه پرې شاهدي ونه وایي.

مسلمانه ځوانه! ستا پر دې محکوم حالت دا مځکه او نور مخلوقات خواشیني دي، ځان دي نه دی اندازه کړی، تر څو به د ذلیلي دنیا تر شاه ځغاستي کوې او ورته تابع کیږې به؟ یا یې په پوره توګه زده کړه، زهد په کښي وکړه او لاس ځیني واخله، یا یې خپله کړه، لوړ سه او مشري وکړه، مګر د دوو منزلونو په منځ کښي مه اوسیږه. اې د اسلامي توحید میراث خوره ځوانه! هغه جذابي او ساحري ویناوي، ځواکمن او تیار کار دي د لاسه ورکړی دی، د ورځو څخه یوه ورځ به چي تا یو چا ته وکتل، نو د بیري به په لړزه سوه، زړه به یې ستا د نظر اور وخوړی، مګر نن ټولو ته د ټولو خلګو په شان سوی یې، بې روحه سوړ، نفسونه نه جذبوې. اې مسلمانه ځوانه! خپل ځواک او عزت ته ور وګرځه او د ورځو واک خپل کړه، د تاریخ جلب ټینګ ونیسه او د بشریت قافله لوړ هدف ته ورسوه، په نړۍ کي بُتان نوي سوي دي، داسي نوي عبادت ځایونه ودان سوي دي، چي په هغو کي د قوم پرستۍ، وطن پرستۍ، نفس او شهوت عبادت کیږي، د غه بت پرستۍ اسلامي او عربي نړۍ ته سرایت کړی دی.

نو آیا نړۍ نوي ابراهیمي انقلاب ته اړتیا نه لري او داسي بت ماتوونکي ته اړتیا نه لري، چي د غو عبادت ځایونو ته ننوځي او دغه بُتان ټوټي ټوټي کړي؟ د پیدایښت او کار هدف، د دین او اسلام راز دا دی چي وروړګلوي، مینه او دوستي پرمختګ وکړي. اې مسلمانه ځوانه! د رنګ، غوښي او وینو بُتان مات کړه او حق ته په حنیف ملت کي ذوب سه، تر څو نوې خپلوي رامنځته کړې، داسي خپلوي چي په هغه کي توپیرونه، جنسیت پرستي، تعصب او قوم پرستي نه وي. کلک یقین، سم دوامدار عمل او د عظیم رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مینه د ملتونو او اُمتونو فاتح دی، هغه د ژوند په جګړه کي د سړیو او اتلانو په لاسونو کښي را ایستل سوي توري دي، نو څه ورته لازم دي، چي باید سړی ځان ورباندي ښایسته کړي؟ سلیم زړه، صافه سرچینه، د نظر، پریشانه زړه او ګرمه هڅه لرونکې مینه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمانه ځوانه! راسه چي د اُمتونو د پای په اړه تا خبر کړم، اُمتونه چي د بابيزو سندرو، عياشيو او بې حيايي مرحلې ته ورسيږي، د عياشي په هر رنګ خوند اخيستلو باندي اخته سي، د ټولو اخلاقي حدودو، انساني اعتباراتو څخه تير سي او هر حقيقت هير کړي، نو دا هغه مهال دی چي الهي غضب مداخله کوي، په جراحي عملياتو سره يې را اخلي او د دغه ټپ څخه دغه د سرطان دانه د ټولني د وجود څخه قطع کوي. مسلمانه ځوانه! که ته خپل رازق ونه پيژنې، نو پاچاهانو ته به اړ يې، مګر که دي هغه وپيژاندی، نو لوی پاچاهان به تا ته اړ او محتاج وي، استغناء پاچاهي ده او د نس عبادت د روح وژل دي. ګوره! دغه انسان چي د ختيو څخه پيدا سوی دی، په خپل طبيعت سره رڼا او اور نه دی، بلکي ژوند يې پر عمل ډير او مبارزې ولاړ دی، بيا د جنت او اور لاري ته ځي، او د خپل عمل ثمره اخلي.

اې الله (جل جلاله) د ځوانانو ځيګرونه د ديني دردونو په غشو باندي ټپي کړې، بيدې هيلي او آرزوګاني يې په سينو کي ستا د آسمانونو په هغو ستورو ويښي کړه، چي لا تر اوسه پوري د شپې ويښ دي، د اسلام بازانو ته داسي وزرونه او اوچت پرواز ورکړه، چي ورباندي الوزي او ښکار باندي کوي، د مسلمانانو ځوانانو زړونه ژوندي وساته، حساس او درديدلي ولره. الله سبحانه وتعالی د ټولو مخلوقاتو دوه (۲) ډوله پيدا کړي دي، يو هغه چي مکلف نه دي، پر هغوی کوم عبادت فرض کړل سوی نه دی، او نه به د هغوی څخه پوښتنه کيږي، بلکي هغه په فطري او پيدائشي ډول د الله سبحانه وتعالی د حکمونو پابند دي، او د کوم هدف لپاره چي الله سبحانه وتعالی پيدا کړي دي، هغه په ښه ډول سر ته رسوي، دوهم ډول هغه مخلوق دی چي هغه مکلف دی، پر هغه باندي الله سبحانه وتعالی خپل حکمونه عملي کول فرض کړي دي، هغه ته يې د خپلي تابعدارۍ آمر کړی دی، د هغه د ژوند تيرولو لپاره يې بيلا بيلي طريقې او قوانين برابر کړي دي.

بيا مکلف مخلوق پر دوه (۲) ډوله دی، يو هغه چي په هيڅ وخت کي د الله سبحانه وتعالی د حکمونو نافرماني نه کوي، او د خپل فطرت سره د الله سبحانه وتعالی د حکمونو داسي پابند دی، لکه په هغو کي چي د مخالفت توان نسته، دا فرشتي يعني ملائيکي دي، د مکلف مخلوق دوهم ډول هغه دی چي په هغه کي د خير او شر، نيکۍ او بدۍ، عبادت او مخالفت، تابعدارۍ او نافرمانۍ صلاحيت سته، هغه په خپله خوښه د الله سبحانه وتعالی د حکمونو تابعداري هم کوي، او نافرماني هم کوي، په دنيا کي پر دوی باندي هيڅ قسم پابندي نسته، د انسانانو او پيريانو د ژوند اصلي هدف د الله سبحانه وتعالی عبادت کول دی، تر څو د عبادت په نتيجه کي الله سبحانه وتعالی راضي او دوی د جنت مستحق وګرځوي، او په دنيا کي څومره رزق د هغوی لپاره مقرر سوی دی، بيله کمي او ډيريښته يې هغوی ته ورکوي، کله چي انسان خپل هغه مقصد پوره کړي د کوم لپاره چي پيدا سوی دی، نو د دنيا رزق خو هسي هم هغه ته ورکول کيږي، په آخرت کي به جنت هم ورکړل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو که انسان د رزق په ګټلو کي د الله سبحانه وتعالی د عبادت څخه غافله سي، نو رزق به د خپل مقدار په اندازه لاسته راوړي، مګر د جنت د لاسته راوړني څخه به محروم سي، بیا په هره نوعه کي د خپل عمر، قابلیت او نورو وجوهاتو د امله بیلا بیلي مرحلې وي او د هري مرحلې خپلي غوښتني وي، چي د هغو پوره کول ضروري وي، انسان الله سبحانه وتعالی په ډیر ښه ډول د لوړو صلاحیتونو سره پیدا کړی دی، بیا الله سبحانه وتعالی د انسانانو د لارښووني لپاره پیغمبران، کتابونه او صحیفې را واستولې، تر څو نافرمانه انسان ته سمه لاره وښيي، د عمر په لحاظ د دغه انسان مختلفي مرحلې دي، ماشومتوب، هلکوالی، ځواني، سپین ږیروالی، په کوچینوالي کي انسان مکلف نه وي، پر هغه کوم حکم فرایض نه وي، په خپله خوښه چي څه غواړي هغه کوي.

د سپین ږیروالي په حالت کي د انسان ټول قوتونه کمزوري سي، دماغ، د وینا قوت، د اوریدو قوت، د لیدو قوت په هر شي کي يې کمزوري پیدا سي، چي ددې د امله انسان په ښه ډول د الله سبحانه وتعالی د عبادت حق نه سي ادا کولای، مګر د ځوانۍ عمر یو داسي حالت دی، چي په دې کي د انسان ټول قوتونه پر خپل ځای وي، همدا عمر د سمون او فساد دی، له دې امله هره نظریه، فکر، نظام او حرکت د ځوانانو پواسطه قوي کیږي او د ځوانانو پواسطه کمزورۍ کیږي، د همدې آهمیت د امله اسلام د ځوانانو د اصلاح او سمون لپاره خاص حکمونه بیان کړي دي، او د اسلام ستر پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) په خپلو احادیثو کي د ځوانۍ او ځوانانو آهمیت ښکاره کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه تا خپل مسؤلیتونه پیژندلي او درک کړي دي؟

ځوان ته ډېر لوی مسؤلیت متوجه دی، باید خپله ځواني د اسلام د ګټو او د مسلمانانو د حقوقو د اداء کولو لپاره قربان کړي، ځکه داسي یوه ورځ راتلونکې ده چي الله سبحانه وتعالی به د ده څخه پوښتنه وکړي: اې زما بنده! هغه عمر، ځواني او استعداد چي ما درکړی وو، هغه دي په څه کي استعمال کړل؟ ځوان استعداد هغه لویه هستي ده چي کولای سي یوه داسي ستره اسلامي بریا لاسته راوړي چي ټول اسلامي اُمت په آمن کي سي، نو زموږ د ټولني ځوانانو ته په کار ده، چي خپل مسؤلیت درک کړي او خپله وظیفه سرته ورسوي، تر څو ټولنه مو د اسلامي آرزښتونو ته په نظر کي نیولو سره د اصلاح په لور حرکت وکړي، راتلوونکی ژوند مو سوکاله او خوشاله تیر سي، په یوه ټولنه کي که هغه ډېره عادي هم وي یا ډېره پرمختللې وي، درې (۳) ډوله انسانان ژوند کوي، چي یوه برخه یې ماشومان دوهمه برخه یې ځوانان او دریمه برخه یې مشران یعني هم سپین ږیري دي، که چیري موږ وغواړو چي یوه ښه پرمختللې د بدمرغیو او تاوتریخوالو پاکه او سوچه ټولنه ولرو، د ټولني هر یو وګړی او خصوصاً ځوان دا مسؤلیت او دنده لري چي خپل مسؤلیتونه وپیژني.

ځوان باید په دې پوه سي چي ده ته به شخصي او ټولنیزه برخه کي کوم مسؤلیتونه او دندي متوجه دي، دا سمه ده چي په ټولنه کي هم ښه او هم خراب انسانان ژوند کوي، یو ډول انسانان په ټولنه کي د انساني نظام پر ضد عمل کوي او یو ډول نه غواړي چي په ټولنه کي داسي چاري تر سره کړي چي د انسانانو د ښوو صفاتو او شهرت لامل وګرځي، د ټولني د ښه سمون لپاره کوم وګړي زیات ګټور واقع کیدای سي او هغه څوک دي؟ هغه ځوانان دي چي بادرکه، با احساسه وي پوهه او علمیت ولري، که چیري دغه ټول یاد ټکي په ځوانانو کي شتون ولري، حتمي ده چي ددې تر څنګ ځوانان انرژي، ځواک، وړتیا، صبر، حوصله او د پاک زړه خاوندان هم وي، ځوانان هیڅ کله د چا سره بې ځایه شخړه نه کوي او کله چي د داسي چارو سره مخ هم سي، نو د صبر او زغم څخه کار اخلي.

یو انسان ته الله سبحانه وتعالی یو نعمت چي هغه ځواک، توان او پوهه ده ورکړې وي، ددې تر څنګ دا مسؤلیت هم ورته متوجه دی چي د دغه ځواک او توان د استعمال او مصرف پوښتنه هم ځیني کیږي، کله چي یو ځوان دې ته متوجه سي چي زه په ټولنه کي څوک یم او څه مسؤلیت لرم همدومره کفایت کوي چي دې ته هم متوجه سي چي دی باید څه وکړي، لومړی هر ځوان ته لازمه ده چي خپل ځان سم کړي، پوهه حاصله کړي، که چیري موږ په ټولنه کي داسي ځوانان ولرو چي د ښوو زده کړو خاوندان وي، زموږ راتلوونکی ژوند به ډېر آسانه وي، که چیري ځوانان خپل ځانونه د علم په ګاڼه سینګار نه کړي هیڅ کله هم نه سي کولای چي د ټولني په اصلاح کي ونډه واخلي، ټول ځوانان دي علم تر لاسه کړي، که علم او پوهه نه وي هیڅ کله به انسانان په ژوند کي نیکمرغه نه سي، ځکه نو هر ځوان ته په کار ده چي خپل اصلي شخصیت او خپل اصلي مسؤلیت وپیژني، د حق او باطل تر منځ فرق وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مسلمان ځوانانو په اوسني عصر کي ديني مسئوليتونه:ـ ١: مسلمان څوک دی؟ ٢: ځواني د قوت او ځواک دوره ده. ٣: ځوانان د وحيي او رسالت حاملان يعني وړونکي. ۴: د ځوانانو لپاره ښې بيلګي او نمونې؟ ۵: د مسلمان ځوانانو څلور (۴) خاص مسؤليتونه:ـ ١: د اسلام صحيحه پيژندنه. ٢: په اسلام او علم باندي عمل کول. ٣: اسلام ته د دعوت او بلنه کول. ۴: د دعوت په کار کي همکاري او ورورولي کول. ځوانانو د يو کورنی، ټولني، يوه هيواد او ملت د ملا د تير حيثيت لري، که چيري د يوې ټولني يا کوم هيواد ځوانان د عقيدې، فکر، اخلاقو او جسم د لحاظه جوړ، پياوړي، ځان پيژندونکي او مسؤليت پيژندونکي وي، نو هغه ټولنه او هيواد به د هره اړخه منظم، د هر راز مادي او معنوي پرمختګ څخه به برخمن وي، او که داسي نه وي، نو هغه ملتونه به د هر راز بدبختيو ښکار، په هر وخت او ځای کي به هره لحاظه د غليم او استعمار په وړاندي پر ګونډو وي، د هر هيواد او ملت د ځوانانو کمزوري د هغه ملت د ضعف يوه مهمه او اساسي نقطه ده، چي د اسلام غليمانو د اسلامي اُمت ددې ضعيفي نقطې څخه ډيره ګټه پورته کړې ده، اوس هم په ډيره چټکتيا سره اخته دي.

زموږ ځوانان هم ددې بلا څخه خوندي نه دي پاته، ټول ممکنه وسايل يې په کار اچولي دي، ډير کسان يې ګومارلي دي، تر څو د مختلفو لارو د مسلمانانو ځوانانو د نارينه او ښځي عقيده، فکر او اخلاق فاسد او منحرف کړي، خپل ځان، اسلامي هويت او خپل ديني مسؤليتونه ځيني هير کړي، د نفس او شيطان بندګان يې کړي، د خپلو کرغيړنو موخو او شيطاني اهدافو په خاطر يې په پټو سترګو د ځان مقلدين کړي او د استعماري اهدافو په ګټه يې وکاروي، نو دغو خطرنو ته په پام سره چي نوی مسلمان نسل تهديدوي، دا د اسلامي علماؤو، مشايخو، دعوتګرانو، والدينو، ليکوالانو او اُستادانو اسلامي دنده ده، چي مسلمان ځوانان ددې ويجاړونکي ګرداب او ګمراه کوونکي طوفان څخه چي د لويديځ د لوري په چليدو دی وژغوري، ځوانان په اسلامي لارښوونو او اسلامي اخلاقو سمبال کړي، دوی ته خپل اسلامي عقايد، عبادات، معاملات، حقوق او د اسلام هر اړخيز نظام په ښه ډول د افراط او تفريط څخه پرته په ډير حکمت او نرمی سره وروښوي.

د دوی استعدادونو ته بايد درناوی وسي، د دوی وړتياوي بايد او پر کار ولويږي، د ځوانانو پوښتونو ته بايد جواب وويل سي او هر څه د دوی په ژبه ورته وړاندي سي، د دوی به زړونو کي د خپلو مقدساتو لکه: الله سبحانه وتعالی، قران کريم، رسول الله (صلی الله عليه وسلم)، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) اصحاب کرام (رضي الله عنهم) او نورو سلف صالح (رحمة الله عليهم) سره مينه او محبت يې پياوړی سي. د مسلمان ځوانانو ديني مسئوليتونه په اوسني عصر يعني انترنيټ او ارتباط په عصر کي د ځوان مسلمان نسل ديني دندي او مسؤليتونه، په عامه توګه د ځوانی مفهوم د خلګو سره يو څه، مګر د يو مسلمان ځوان په حيث ځواني بل مفهوم لري، مسلمان ځوان د خپلي عقيدې او ټولني په وړاندي ډيري دندي او مسؤليتونه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواني د قوت، ځواک او توان دوره ده، ځواني د ژوند منځنۍ مرحله ده او د هر شي منځنۍ برخه د هغه شي غوره برخه وي، د ځوانۍ مرحله د انسان په ژوند کي د میراني، خوځښت، بیدارۍ او تازګۍ مرحله ده، په همدې دلیل د انسان د ژوندانه ډیره مهمه مرحله شمیرل کیږي، ځواني د ورکړي او بخشش، د ستونزو او مشکلاتو په وړاندي د صبر، استقامت او پایدارۍ مرحله ده، همدا لامل دی چي د آسماني او الهي دعوتونو بلوونکي، حامیلین او ملاتړي ټول ځوانان وه، د مسلمان ځوان درې (۳) اساسي مسؤلیتونه په لاندي ډول دي:

**۱:۔ د اسلام صحیحه پیژندنه:** د اسلام د دین په سمه توګه پیژندل دي، او ځان باندي پوهول، ځکه د عمل څخه مخکي پر هغه عمل پوهه او علم درلودل ضروري دی، ددې لپاره چي مسلمان ځوان د خپل دین څخه خبر سي، باید د اسلام حقیقت په ښه توګه وپیژني، الله (جل جلاله) خپله دا دین پوره او کامل نازل کړی دی او په هغه کي د هیچا ډیروالی او کموالی نه مني، کله چي د مسلمانانو حال او اوضاع بدلون وموند او پر مسلمانانو باندي د انحطاط او وروسته پاته والي دور راغلی، ددې پر ځای چي د دنیا په کارونو کي یې په اختراع او نوي والي لاس پوري کړی وای، په دین کي یې په نوي والي او بدعتونو لاس پوري کړ، په دنیوي ژوند کي د هیڅ ډول پرمختګ او ترقۍ خاوندان نه سول، چي په نتیجه کي د مسلمانانو ژوند د ولاړو اوبو په شان وګرځیدی، نو ځکه د مسلمانو ځوانانو څخه غواړو چي اسلام په سمه او صحیح توګه زده کړي، تر څو بیرته وخپلي اصلي او رڼي سرچینې ته وګرځي، اسلامي لارښووني او احکام ټول په یوه درجه او مرتبه کي نه دي واقع، بلکي هر یو د خپلي مرتبې درلودونکي دي، په دې معنا چي عقیدوي مسائل د اسلام اساس، بنسټ او پایه تشکیلوي.

د اسلام بنیاد پر پنځو (۵) شیانو ولاړ دی:۔ ۱: ددې شاهدي ورکول چي الله سبحانه وتعالی څخه پرته بل معبود نسته او حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله سبحانه وتعالی رسول او پیغمبر دی. ۲: لمونځ کول. ۳: زکات ورکول. ۴: د رمضان د میاشتي روژه نیول. ۵: حج کول د هغه چا لپاره چي لار ورته پیدا کړي او وس یې ولري.

ځوانه ته باید د الله (جل جلاله) کتاب قرآن کریم او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وسنتو ته مخه کړې، اصحاب کرامو او تابیعینو (رضي الله عنهم آجمعین) پوهي او درک ته چي د اسلام په اړه یې درلودی، ځان متوجه کړې، ځکه هغوی په ډیر ښه وخت او عصر کي اوسیدل او اسلام یې لکه څنګه چي ښایي هماغسي زده کړی وو، هغوی د اسلام پیغام او روح تر موږ ډیر ښه پیژندی او د عمل په ډګر کي خو موږ د هغوی د پښو خاورو ته هم نه سو رسیدلای، په اسلام باندي زموږ عمل د دوی د اعمالو په پرتله داسي دی، لکه د ریګ یوه دانه د لوی غره په مقابل کي، نو باید اسلام د هماغه لومړنۍ مدرسې څخه زده کړو، هغه مدرسه چي هیڅ ډول شک او ګډوډۍ هغې ته لاره نه درلوده، تر څو پاکه او روښانه څهره یې ور بدرنګه نه کړو، بیله شکه په اسلام او مسلمانانو کي د اسرائلیاتو، ضعیفو روایاتو، موضوعي احادیثو، افراطي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او تفريطي خيالاتو ورګډېدل او وروسته د اسلام ښه غوره کول، د اسلام ښکلې څهره ور بدرنګه کړل، دا ټول د مسلمانانو سره د نورو ملتونو، اُمتونو، مختلفو ډلو او مذاهبو په ګډه او يو ځای اوسېدلو په نتيجه کې رامنځته سول، دا ځکه چې د نورو انسانانو د عقايدو، دود، دستور او افکارو څخه اغيزمنتيا د انسان طبعي او بشري غوښتنه ده، د دغو او نورو موضوعاتو په اړه بايد د پوهو او مخلصو عالمانو څخه پوره او سم معلومات تر لاسه کړو، او په دې باندې وپوهېږو، نو مسلمان ځوان بايد د اسلام څخه سمه پوهه ولري، په دين کې تخصص، پوره پوهه درلودل او څېړنه کول فرض کفايي ده، نو ځکه بايد ځيني کسان دغه مسؤليت پر غاړه واخلي، تر څو وکولای سي چې نورو ته يې ور زده کړي او عامو مسلمانانو ته د ديني پوښتنو د جواب او فتوا مرجع وګرځي، مګر دا بيا پر هر مسلمان فرض ده، چې خپله عقيده وپيژني، حلال او حرام، امر او نهي، عبادات او معاملات، اخلاق او په سمه توګه د الله (جل جلاله) او د الله (جل جلاله) د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د لارښوونو سره سم تر سره کړي، د الهي احکامو او حدودو څخه تيری ونه کړي، اسلام بايد د خپلو پاکو، رڼو سرچينو او منابعو څخه چې قرآن کريم او نبوي سنت دی زده کړل سي.

په دې اړه بايد د افراط او تفريط څخه په کلکه ډډه او پرهيز وسي، ډېر لوی زيان او تاوان چې اسلام او مسلمانانو ته رسيدلی، هغه د افراط او تفريط څخه رسيدلی دی، هغه مسلمان ځوان چې په اسلام عمل کوي، بايد په درس ويلو کې تر نورو ځان مخکې او ګړندی کړي او د يوې غوره نمونې په توګه نورو ته دا خبره ثابته او واضح کړي، چې دين د تحصيل، زده کړې او پرمختګ د لارې خنډ نه دی، په دې ډګر کې بايد يو مسلمان ځوان ډېر ځير او متوجې اوسي، چې خپل ټول ديني او دنيوي واجبات او مسؤليتونه پر خپل ځای او وخت کې تر سره کړي، هر کار او هر شي ته د هغه مقام او مرتبې په اندازه آرزښت او آهميت ورکړي، درس ويل او په خپلو درسونو کې بريالېتوب تر لاسه کول د هر دعوتګر لپاره واجب او ضروري کار دی، په دې توګه چې د ژوند ټوله ګړنلاره بايد د ديني لارښوونو پر اساس منظم او عيار کړي.

يو مسلمان ځوان بايد د ورځني ژوندانه آداب، احکام او مسائل لکه: خوراک، څښناک، ليدل، اورېدل، د خلګو سره ناسته او ولاړه او داسي نور... هغه کارونه چې د ورځني ژوند په بهير کې ورسره مخامخ کيږي زده کړي، اسلام يو داسي دين دی، چې اساس او بنسټ يې پر علم او پوهې ولاړ دی، د اسلام دين د نورو دينونو غوندي نه دی، چې وايي: په پټو سترګو او په مطلقي ناپوهۍ سره يو شي ته عقيده ولره، په پټو سترګو او تړلو غوږونو پيروي او تقليد وکړه، يا د علم او پوهې څخه ماسيوا تقوا غوره کړه! نو هر څوک چې د الله (جل جلاله) او د الله (جل جلاله) د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) پيرو او اُمتي وي، د هغه دنده او وظيفه همدا ده چې په دليل، برهان، پوهې او معرفت سره به خلګ د الله (جل جلاله) دين ته دعوتوي، اسلام هيڅکله نه غواړي چې انسان په توره تياره کې روان سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسلام هیڅکله نه غواړي چي یو عاقل مسلمان دي د نجوم ګرانو، فال کتونکو په خبرو او وړاندوینو پسي روان سي او باور پرې وکړي، اسلام د مسلمان څخه غواړي چي دین په دلیل، برهان او علم سره وپیژني، په لارښوونو او تعلیماتو يې پوره پوهه ولري، هر کله چي د یو مسئلې په اړه ښه معلومات تر لاسه کړي او دلیل يې وغواړي تر څو زړه يې آرام او مطمئن سي، مسلمان دا حق لري چي د احکامو دلایل وپیژني او په اصل کي د علم معنا همدا ده چي انسان حق او حقیقت د دلیل سره وپیژني، د دغو مسائلو پیژندل په ځانګړي ډول په اوس عصر کي ډیر مهم او ضروري دي، ځکه هڅي او کوښښونه کیږي، تر څو مسلمانان د خپلو دیني تعلیماتو او مفاهیمو څخه ناپوه او جاهل پاته سي، د کومي مودې څخه چي مسلمانانو خپل یووالی، سیاسي قدرت، شان او شوکت، علم او معرفت، تقوا او پرهیزګاري د لاسه ورکړې، فقر او غربت يې ملا ماته کړې ده، په دیني او او دنیوي چارو کي وروسته پاته سوي دي، ځکه نو په اکثره اسلامي هیوادونو کي درسي کتابونه، مدارس او مکتبونه داسي جوړ او عیاریږي چي مسلمان نسل د خپل دیني تعلیماتو او لارښوونو څخه لیري وساتي.

اوس یو مسلمان ځوان د اسلام د تاریخ څخه د اورپا تاریخ ډیر ښه پیژني، ناپلئون تر اصحابو کرامو ډیر ښه پیژني، او د اسلامي دعوت د دوران په پرتله يې د فرانسي د انقلاب په اړه ښه معلومات لري، نبوي سیرت يې یو څو صفحې سر سري مطالعه کړی وي، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د اصحابو او یارانو په اړه یوازي يې د هغوی اختلافات لوستلي وي، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د پاک او سپیڅلي شخصیت د مختلفو اړخونو په اړه هیڅ معلومات نه لري، نه پوهیږي چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څه شی نړۍ والو ته وړاندي کړي دي؟ د اسلام د تمدن، تاریخ، فلسفې او نورو په اړه لږ معلومات لري، او که يې لري هم هغه يې د ختیځ پیژندونکو د آثارو او لیکنو څخه زده کړي دي، چي هغه د مختلفو دلایلو پر اساس هیڅکله د غرض څخه خالي نه دي، اسلام په داسي وخت او عصر کي هغه رباني، انساني اخلاقي تمدن منځته راوړل، چي لویدیځوال د علم، پوهي او تمدن څخه خبر هم نه وه.

نو باید اسلام ښه درک کړو، باید د هغه څخه ګرد او غبار لیري کړو، دین باید ښه زده کړو، تر څو لومړی خپله د دلیل سره عمل پرې وکړو او بیا يې نورو ته ور زده کړو، د ګمراهانو او لار ورکو شبهاتو او شکونه چي په اسلام کي يې پیدا کړي او باطل يې د حق سره ګډ کړی دی واضح او رسوا کړو، هغه تهمتونه او درواغ چي په ناحقه پر اسلام، د الله (جل جلاله) پر رسول (صلی الله علیه وسلم) او پر اسلامي اُمت تړل سوي او ویل سوي رسوا او بیرته يې دوی ته ور زده کړو، حتماً باید د رسول الله (صلی الله علیه وسلم)، د دین، قرآن کریم، شریعت، تاریخ اسلامي فرهنګ او اُمت څخه دغه ډول کامل او اصولي شناخت او پیژندنه ولرو، تر څو د حق حقوالی او د باطل باطلوالی د اسلام د دوښمنانو د هیلو او تمي خلاف روښانه او څرګند کړو، که څه هم موږ مسلمانانو ته دا نه ښایي چي د اسلام د حقانیت د اثبات په اړه یوازي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فاعي دريځ ولرو، بلکي بايد اسلام ښه وپيژنو، بيا د دوښمنانو سره دليل او برهان په زور مقابله وکړو، او تهاجمي ښه ځان ته غوره کړو، ځکه چي اصلي دلايل زموږ او ستاسي په اختيار کي دي، د غلطو، خرافي او ناوړه عقيدو څخه پرده پورته کړو، د دوی ناپوهي، ګمراهي، د اسلام سره د دوی بعض او کينه، د اسلام او مسلمانانو په اړه د دوی غلط، بې انصافه او غيري عادلانه قضاوتونه په خپل دليل او عمل سره ټول بشريت ته واضح او روښانه کړو، د خپلي عقيدې پاکوالی، حقانيت او عظمت ورته څرګند کړو. د زانګو څخه تر قبره پوري د علم په لټه کي اوسه. د يو عالم څخه وپوښتل سوه: آيا زاړه او د ډير عمر خاوندان هم بايد علم حاصل کړي؟ هغه په جواب کي وويل: هر کله چي جهل او ناپوهي د ده په زيان او ضرر تماميږي، نو علم او پوهه يې د ګټي او بريالیتوب لامل ګرځي.

مګر اوس داسي وخت راغلی دی، چي د مسلمانانو اکثريت د لوستلو سره هيڅ آشنايي نه لري، د کتاب سره هيڅ ډول مينه او علاقه نه لري، دا ډير د افسوس ځای دی، نو اړينه ده چي ددې ستونزي په وړاندي ژغ پورته کړو او ددې اُمت تګلوری سم لور ته واړوو، تر څو لوستلو او مطالعې ته مخه کړي، علم او پوهه تر لاسه کړي او په دې لاره کي انتهايي هڅه وکړي، وخت يې بې ځايه ضائع نه سي، استعدادونه او وړتياوي يې په ګټورو کارونو کي بوخت او په کار ولويږي. ځينو علماء کرام وايي: علم هيڅکله خپله يوه برخه تاسو ته نه درکوي، تر څو تاسو خپل وجود هغه ته ورنه کړی، يعني تر څو ټولي هڅي، استعداد او وخت د علم د زده کړي لپاره وقف نه کړی د علم د حقايقو څخه به برخمن نه سي.

**۲:- په اسلام او علم باندي عمل کول:** اسلام هيڅکله دا نه مني، چي مسلمان دي يوازي ديني معلومات تر لاسه کړي، عالي تحصيلات دي تر سره کړي، عالم دي سي او بيا دا ګمان وکړي چي ديني مسؤليتونه يې اداء کړي، هيڅکله نه! اسلام داسي علم غواړي چي د عمل په ميوه ښکلی او ښايسته وي، نه داسي علم چي ثمره او حاصل يې يوازي بحث او جدل وي، اسلام داسي علم او پوهه غواړي چي پر زړونو او دماغ اغيزه او اثر ولري، داسي علم چي د مسلمان اراده او وجدان په حرکت او خوځښت راولي، هغه علم چي په زړونو کي د الله (جل جلاله) څخه بيره پيدا کړي، داسي علم او معرفت چي انسان تقوا او پرهيزګاری ته چمتو کړي.

کله چي حضرت عمر (رضي الله عنه) د منافق عالم څخه و الله (جل جلاله) ته پناه وړل، د ده څخه وپوښتل سول: څنګه کيدای سي چي منافق دي عالم وي؟ حضرت عمر (رضي الله عنه) وفرمايل: کله چي په ژبه عالم او پوه وي او په زړه جاهل او ناپوهه وي. علم پر دوه (۲) ډوله دی: يو هغه د الله سبحانه وتعالی دليل او حجت دی، د حضرت آدم (عليه السلام) پر اولاد يعني انسانانو او بل هغه علم دی چي په زړه کي وي، دا ډير ګټور علم دی. مسلمان عاجزي، خاکساري، ريښتنولي، صداقت، سخاء، او داسي نور... زده کوي، او بيا په دغو لارو باندي پوره عمل کوي، حلال او حرام په سمه توګه پيژني او بيا د حرامو څخه ځان ساتي، د حلالو څخه ګټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او فایده اخلي، هم دا مفید او ګټور علم دی، کله چي یو مسلمان ځان په اسلامي لارښوونو او اسلامي اخلاقو سمبال، ښکلی او د ژوندۍ نمونې په توګه د خلکو په منځ کي څرګند سي، نو په دې وخت کي د خلکو پام او توجه ده ته ور اوړي، که یو مسلمان د زړه له کومي ځان په اسلامي لارښوونو او اخلاقو سمبال کړي، نو خلګ حتماً د ده د اخلاقو او د ده دین څخه اغیزمن کیږي، او اسلام هم په دغه ډول په نړۍ کي خپور سوی دی. اسلام په جذابو، شاعرانه ویناوو او مقالو د نړۍ وه هر ګوټ ته نه دی رسیدلی، بلکي د مسلمانانو اسلامي کړنلاري او اخلاقو د لاري و ټولي نړۍ ته رسیدلی دی، اسلام د تاریخ په اوږدو کي د نورو ادیانو غوندي د حرفه یي مبلیغانو درلودونکی نه وو، ډیر هغه کسان چي د اسلام په تبلیغ او خپریدو کي یې ونډه اخیستې ده، عادي خلګ وه، لکه: سوداګر، صنعت کاران او داسي نور... اسلام د حضرموت د سوداګرانو پواسطه اندونیزیا او ډیرو نورو هیوادو ته ور داخل سو، د جنوبي کوریا یو زیات شمیر خلګ د مسلمانانو د نیک چلند تر اغیر او تاثیر لاندي راغلل او اسلام یې ومانه، ترکي مسلمان سرتیرو هم د کوریا په جګړه کي برخه درلودل.

کله چي به د لمانځه وخت سو، دغو مسلمانو سرتیرو به خپل ټول کارونه پریښوول د اوداسه او نظافت وروسته به په ډیر نظم، صف صف، په ادب او عاجزي د جماعت پر لمانځه ودریدل، کله چي نورو سرتیرو دغه صحنه ولیدل، ډیر اغیزمن سول او پوښتنه یې وکړل: تاسو څوک یاست؟ هغوی په جواب کي ورته وویل: موږ مسلمانانو یو! بیا یې پوښتل: اسلام څه شی دی؟ هغوی هم د خپلي پوهي په اندازه اسلام ور معرفي کړ، په دې توګه په زرګونو خلګو د اسلام سپیڅلی دین ومنی، اسلام د نیکو، ښو او ژوندیو عملي نمونو او مثالونو پواسطه خپریږي، نور چي کله د اسلام څهره د مسلمانانو په نیکو اخلاقو او ښه چلند کي ویني، نو د دوی په خاطر د اسلام سره د هغوی مینه پیدا کیږي، په تیرو وختونو کي اسلام په دغه ډول په نړیوالو کي خپور او نشر سوی دی، لوی خنډ او مشکل چي نن ورځ د اسلام د خپریدو په مخ کي پروت دی.

هغه د نني مسلمانانو د بد اخلاقۍ او په اسلام باندي د نه عمل کولو په خاطر دی، د اسلام څهره په کتابونو کي ډیره ښکلې او سپیڅلې ده، مګر کله چي نور ملتونه او خلګ د اوسني مسلمانانو بدو کړو او هر اړخیز بد حال ته ګوري، نو داسي وایي: ولي اسلام خپلو پیروانو ته هیڅ ګټه او فایده نه ده رسولې؟ ولي اسلام د خپلو پیروانو په ژوند کي هیڅ بدلون نه دی راوستلی؟ ولي اسلام پر خپلو پیروانو اغیزمن نه دی؟ او داسي نور... دا په داسي حال کي چي اسلام او انظباط آمر کړی دی، مګر اسلامي هیوادونه په بې نظمي او ګډوډي کي د نورو لپاره متل ګرځیدلي دي، اسلام د یووالي، همکارۍ او ورورولی آمر کړی دی، مګر اسلامي هیوادونه تیت او پرک او ټوټه ټوټه سوي دي، حتی د هیوادونو په دننه کي په بې اتفاقۍ، قومپالني او ګوند پالني اخته دي، په دې لار کي د سخت او ناروا تعصب څخه کار اخلي، اسلام د ژوند په هر ډګر کي په قوت، طاقت او توان لرلو سره آمر کړي یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر مسلمانان تر ټولو ضعيف او ناتوانه دي، دا ولې؟ اسلام د هر روا ګټور علم، پرمختګ او ترقۍ په لاسته راوړلو آمر کړی دی، مګر اسلامي هيوادونه د بې علمۍ، بې سوادۍ، بې وزلۍ، فقر او وروسته پاته والي ښې بيلګې او نمونې دي. يو لويديځوال چې د اسلامي کتابونو د لارې د اسلام سره آشنا او مسلمان سوی وو، ډيره هيله يې وه، چې اسلام عملاً د مسلمانانو په ژوند کې ووينې، مګر کله چې يو شمير اسلامي هيوادونو او بيا يې حج ته سفر وکړ، کومې بې نظمۍ، بد اخلاقۍ او د حيرانتيا وړ کارونه چې يې د سفرونو په دوران کې وليدل، نو داسې يې وويل: الهي زه ډير شکر ګزار يم، چې د اسلامي هيوادونو د سفر مخکې دې د اسلام په دين مشرف کړم. يعني که چيرې ما د اسلام راوړلو مخکې د مسلمانانو دغه اوسنۍ حال او اعمال ليدلې وای، هيڅکله به مسلمان سوی نه وای. ددې لپاره چې د اسلام ښکلې څهره لکه داره نه سي، نو د اسلامي ټولنې هر غړی او هر ځوان بايد د اسلامي عملي نمونه، د اسلامي اُمت ژوندی او فعال غړی وي، او بايد قرآن کريم په خپلو نيکو اعمالو تفسير کړي، په همدې خاطر موږ پر کار او عمل ټينګار کوو، هغه عمل چې نيک او خالص وي.

اسلام زموږ څخه غواړي چې د الله سبحانه وتعالی فرايض او واجبات پر ځای کړو، د منهياتو او منع سويو شيانو څخه پرهيز او ډډه وکړو، ټول هغه حقوق او واجبات چې د ځان او نورو په وړاندې پرې مکلف کړي يو، مراعات او پر ځای کړو. مثلاً: الله (جل جلاله)، د الله (جل جلاله) رسول (صلی الله عليه وسلم)، ټولنه، کورنی، ميلمه، خپل نفس، جسم او نور... هر يو پر موږ ځانګړي حقوق لري، چې بايد د هر يوه حقوق اداء او پر ځای کړو. په ژوندانه کې يو ډول توازن او هماهنګي وجود لري، چې مسلمان بايد د هغه لپاره هڅه وکړي، تر څو د ژوندانه په جريان کې د هر چا حق پر ځای، ژوند يې ښه تنظيم او برابر سي، ځکه اسلام د منظم او برنامې درلودونکي ژوند غوښتوونکی دی، د هغه په وسيله د مسلمان ټول رفتار او کړنه صحيح کيږي، ښه کړنه او عمل په اسلام کې د سمې پوهې ثمره او يا پايله ده.

د مختلفو وګړو او افرادو کړني او اعمال په مختلفو مراحلو کې توپير لري، لکه يو متعلم او طالب العلم چې مرحله په مرحله مخ په وړاندې ځي، نو اعمال هم مخ په وړاندې ځي، ترقي کوي او پر يوه حال باقي نه پاته کيږي، د نيکو اعمالو په اړه شايد يو مسلمان په ابتداء کې په فرايضو او واجباتو بسنه او اکتفاء وکړي، مګر وروسته سنت او مستحبات هم پر ځای کوي، په همدې شکل پرمختګ کوي، د منهياتو په مورد کې هم همداسې وي، لومړی د محرماتو او حرامو څخه ډډه او پرهيز کوي، وروسته د شبهاتو څخه ځان ژغوري او د هغه څخه وروسته د مکروهاتو څخه ځان ساتي، چې په اخير کې د رېښتينو او صادقو پرهيزګارانو په قطار کې راځي، بيا د هر کار او هري خبري په کولو کې د ډير احتياط څخه کار اخلي، په دې خاطر چې د ګناه مرتکب نه سي، بل دا چې يو مسلمان هر وخت بايد ښه نيک اهداف او موخې ولري او د الله (جل جلاله) سره ډير رېښتني او صادق واوسي، دا ځکه که چيرې اهداف او نيتونه سم وي، نو په اطمنان سره ويلای سو: د خوځښت او حرکت تګ لوری به هم صاف او روښانه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۳:- اسلام ته دعوت او بلنه:** هر مسلمان د الله (جل جلاله) دین ته د دعوت او بلني دنده او مسؤلیت دی، یوازي د یو مسلمان د عمل سموالی کافي نه دی، بلکي اسلام د یو مسلمان څخه غواړي، چي علاوه پر خپل ځان نور هم اصلاح کړي او خلګ سمي لار ته راوبولي، په همدې خاطر الله (جل جلاله) د (عصر) په مبارک سورة کي د تباهی او زیان څخه د انسان د خلاصون یو شرط دا هم بولي، چي هغه نورو ته د حق او صبر توصیه وکړي، د الله (جل جلاله) لاري او دین ته یې راوبولي او د نورو څخه هم دا توصیه قبوله کړي، مسلمان باید یوازي په ایمان او صالح عمل بسنه ونه کړي، بلکي حق نورو ته ورسوي، او د نورو څخه یې هم قبول کړي، یعني دغه کار حق، صبر او توصیه باید برابره وي، نو په دې دلیل باید هر مسلمان خپل ځان د حق په لاره کي اماده کړي، باید خپل ځان په دې لاره کي په صبر او حوصله سره عادت کړي، په همدې خاطر الله (جل جلاله) د حق د رسولو او صبر لاربنوونه یو ځای کړې ده، تر څو دغه دواړه په حق سره توصیه او صبر هر وخت یو ځای وي.

صبر او حوصله په ځانګړې توګه په اوسني وخت کي ډېر اړین دي، په اوسني وخت کي د دعوت کار د مختلفو خنډونو او موانعو په اساس ډېر ستونزمن دی، هغه لکه د خلګو دین ته شا کول، د دنیا سره افراطي مینه، د یقین لږوالی، د اخرت هیریدل یا اخرت ته نه پاملرنه، د خیر په لاره کي د ډیرو موانعو شتون، د ګمراه کوونکو شیانو ډیریدل او داسي نور... نو دعوتګران باید ډیرو سختیو ته ځان چمتو او ډیري ستونزي وګالي، ډیر کله یو دعوتګر په دې لاره کي د مختلفو خنډونو سره مخ کیږي، حتی کله کله خپل کورنۍ کي هم امکان لري، چي پلار، ورور، ملګري او نژدې دوستان د ده د لاري خنډ وګرځي، او په دې لاره کي یې اراده او عزم ورکمزورۍ کړي، او ورته ووایي: ته په دې مسائلو څه کار لرې؟ آیا غواړې چي دا بلا او هغه بلا دي پر سر نازله کړي؟ او داسي نوري خبري، که د مسلمان ځوان ایمان او اراده ضعیفه او کمزورې سول، د دغو باطلو او فساد اچوونکو خبرو تر اغیزې لاندي راغلل، نو ځوانه طبقه به ګمراه سي.

په اوس وخت کي ډیر عوامل وجود لري، چي خلګ ګمراه کوي او هغوی د خپل دین څخه لیري کوي، باید د موجوده ټولنیزو او کورنیو فشارونو سره سره په ټینګ ایمان او اراده اسلام ته وفادار واوسو او نور خلګ هم ورته دعوت کړو، د دغو ټولو ستونزو او مشکلاتو په وړاندي ودریږو، خپلو ځانونو ته قوت او ځواک ورکړو، ځکه هیڅ داسي دعوت نسته، چي مقاومت او میراني ته اړتیا ونه لري، هر الهي او حق دعوت دوښمنان او مقاومت کوونکي لري، الله (جل جلاله) حضرت آدم (علیه السلام) پیدا کړی، شیطان یې هم ورسره پیدا کړی، الله (جل جلاله) حضرت ابراهیم (علیه السلام) پیدا کړی، نمرود یې هم ورسره پیدا کړی، الله (جل جلاله) حضرت موسی (علیه السلام) پیدا کړی، فرعون یې هم ورسره پیدا کړی، او الله (جل جلاله) حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) پیدا کړی، نو ابو جهل یې هم ورسره پیدا کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فرعون، نمرود او ابو جهل غوندي کسان په هر وخت کي موجود دي، که څه هم نومان او لقبونه به يې توپير لري، مګر داسي کسان خورا ډير دي، يوازي يې نوم بدل وي، په اوس وخت کي چي د نويو ايډيالوژيو يعني عقايدو عصر يې بولي، يهوديان، مسيحيان يعني عيسويان، بهايان، کمونستان او قاديانيان هر يو ځانګړي پيروان او بلوونکي لري، نو په دې صورت کي اسلام بايد دعوتګران ونه لري؟ په داسي حال کي چي حق او کامل دين دی او په خپل طبيعت کي د دعوت او نشرولو دين دی، مسلمان ځوان بايد خپل ځان د الله سبحانه وتعالی لوري ته د دعوت لپاره چمتو او تربيه کړي، ددې مسؤليت څخه بل هيڅ لوړ او غوره مسؤليت نشته، ځکه چي دا د الله سبحانه وتعالی د پيغمبرانو (عليهم السلام) د مسؤليت دوام او د هغوی لاره ده، دا مسؤليت قبلوونه ددې لامل ګرځي چي مسؤليت منوونکی شخص پر الهي رسۍ منګولي ټينګي کړي، ځکه يو کس چي نور خلګ اسلام ته رابولي، نو خپله هم هڅه کوي چي د هغو مسائلو په اړه ښه عملي نمونه وګرځي، کوم چي دی نور خلګ ورته دعوتوي، او په دې خبره يې قانع کوي، چي هغه اسلامي احکامو او لارښوونو ته پابنده واوسي.

هغه ځوانان چي د دين سمه، صحيح پوهه او پر هغه باندي د ټينګ او قوي ايمان درلودل، او الهي دين ته د نورو خلګو دعوتول د ځان تر ټولو لوی او لومړی مسؤليت ګڼي، هغوی ته لازمه ده، چي يو تر بله مرسته او همکاري وکړي او په خپل منځ کي نژدې اړيکي ولري، تر څو ځواکمن سي، په اسلام کي په انفرادي شکل کار نشته، ځکه چي انفرادي او يوازي کار کفايت نه کوي، ټول کارونه بايد په ټوليزه او يو ځايي توګه تر سره سي، د ګډ کار څخه موخه دا ده، چي موږ بايد يو تر بله د اخوت او ورورولۍ اړيکي ولرو، زموږ او ستاسي يو تر بله همکاري، ليدل، کتل، ناسته او ولاړه بايد ټول د الله (جل جلاله) لپاره وي، په مشترکو او ګډو مسائلو کي بايد يو تر بله تفاهم او پوهاوي ته ورسيږو، که څه هم د دعوت په لار کي په مختلفو ډلو او ټولنو پوري تړلي يو، که ګډه همکاري او نژدې ارتباطات ونه لرو، نو هيڅ کار به مخ په وړاندي ولاړ نه سي، او بل دا چي اوس فساد اجتماعي او عام دی.

نو دا کار اجتماعي اصلاح او کار ته اړتيا لري، د اجتماعي فساد مخه په يوازي او انفرادي شکل نه نيول کيږي، کافران يو د بل مرستي ته وردانګي او يو د بل لاس نيوی کوي، موږ مسلمانان هم بايد يو د بل مرستي او همکارۍ ته وړاندي سو، نژدې او د ورورولۍ اړيکي سره ولرو، داسي نه وي چي باطل او فساد ته بلوونکي يو موټي، يو تر بله همکار وي او د حق، اصلاح پيروان، دعوتګر، متفرق او پاشلي وي، پر جُزي مسائلو اختلاف او تعصب يې تر منځ واټن ور ډير کړی وي، چي دا کار د اسلام د دوښمنانو په ګټه تماميږي، نو په دې صورت کي به مځکه د فساد او فتنې څخه ډکه او لويه تباهي به رامنځته سي، مسلمان ځوان بايد دغه درې (۳) اساسي مسؤليتونه ښه درک کړي، ځان په وپوهوي. د خپل ځان څخه دي وپوښتي: آيا دغه مسؤليتونه يې منلي؟ غاړه يې ورته ايښې ده؟ او آيا د دغو ديني مسؤليتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حق يې پر ځای او اداء کړی دی؟ مسلمان ځوان بايد په اوسني عصر کي خپلي دندي او مسؤليتونه وپيژني، د ليري او نژدې تاريخي پېښو څخه ډير درسونه او عبرتونه واخلي او په دې وپوهيږي چي څه ډول د اسلام په لار کي د اسلام سره حرکت وکړي، تر څو اسلام ځواکمن سي او يو واقعي اسلامي حکومت رامنځته سي، دا د مسلمانانو لپاره د شرم خبره ده، چي هر دين او د هر مذهب پيروان حکومتونه لري، مګر اسلام او مسلمانان يې نه لري، موږ د اسلام او مسلمانانو لپاره د داسي يوه حکومت غوښتوونکي يو، تر څو وکولای سي اسلامي عقيده، اسلامي شريعت، اسلامي اخلاق، اسلامي کلتور، اسلامي تمدن او د ژوندانه اسلامي نظام رامنځته او پلي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه ته باید په ژوند کي باهدفه تګلاره وټاکي

د باهدفه ژوند پشپړ مفهوم د هدف څخه پرته د انسان ژوند یو بې نظمه ژوند دی، او اسلام هیڅکله په بې نظمۍ او پلانګذارۍ څخه پرته منځته نه سي راتلای، لکه ډیرو پوهانو چي دې ته اشاره کړې ده، او دا یو څرګند حقیقت دی چي بې نظمي او بې پروګرامي د مسلمانانو یوه عمومي نښه ګرځیدلې ده او همدا د مسلمانانو د وروسته پاته والي اساسي سبب دی، نو ددې څخه د خلاصون لاره موږ باید د ژوند په هر اړخ کي لومړی په اصولو کي او بیا په جزئیاتو کي یو باهدفه ژوند وي، تر څو د پیلامو څخه مطلوب نتائج تر لاسه سي، د انسان د ژوند لپاره باهدفه تګلاره وضع کول ګران کار نه دی، ځکه ددې بنیاد زموږ په مبارک دین اسلام کي د پخوا څخه وجود لري، انسان د پردیو جوړ کړي پوښاک استعمالولای سي، تیاره سوې غذا خوړلای سي، مګر تر هغه پوري د یو مسلمان ځوان ژوند اسلامي ژوند نه سي کیدای، تر څو د داسي تګلاري پر بنیاد ولاړ وي، چي اسلامي بنسټونه ولري، هغه بنسټونه چي پر قرآن او سنت ولاړ وي.

په اسلامي تاریخ متقي وي او داسي بنسټونه ولري چي خالص اسلامي وي، د بل چا څخه وارد کړل سوي نه وي، تر څو په ښه او دقیق توګه دا تګلاره پرې قائمه سي، د باهدفه ژوند معنا دا ده د انسان ژوند باید مهم او باهدفه وي او د هر کار څخه د مخه ددې سوالونو جواب ولټوي. ولې؟ څنګه؟ کله؟ چیري؟ د کومه ځایه؟ د باهدفه ژوند بنسټ هیڅکله پر ناپوهۍ دریدلای نه سي او نه دا د مسلمان لپاره جواز لري، ځکه چي الله سبحانه وتعالی انسان د هغه د پیدایښت څخه را په دې خوا لویه مرتبه ور په برخه کړې او په ځانګړې توګه یې بیا د علم په میدان کي فضلیت ور په برخه کړی دی، ددې لپاره چي انسان د الله سبحانه وتعالی خلیفه جوړ سي. باهدفه ژوند یو څه نور بنسټونه هم لري، د مثال په توګه وخت: وخت د ځوانانو لپاره ډیر آهمیت لري، باید یوه دقیقه بې فائده ځیني تیره نه سي. انسان خو یا باید کار وکړي او یا د عبادت څخه وروسته استراحت وکړي کار او استراحت ټول د هغه مسلمان لپاره عبادت شمیرل کیږي، چي د الله سبحانه وتعالی په لور یې د هجرت نیت کړی وي.

د حکمت تقاضا او غوښتنه دا ده: ډیري خبري پریږدو او د هغه پر ځای کار کوو، سره له دې چي په یو باهدفه ژوند کي چي په بیلا بیلو مرحلو او ټولنو کي په دقیقي پلانګذارۍ ولاړ وي، کله چي ژوند داسي وي نو وخت د افرادو او ملتونو په پرمختګ کي بنسټیز عنصر ګرځي، نو باید ځوانان خپل ځانونه په ټولو ځایونو کي د حق لپاره په کار مشغول وساتي، هغه شخص چي د حق لپاره کار نه کوي ضرور په باطل کي مصروف سي، ځکه چي د حق څخه وروسته یوازي ګمراهي پاته کیږي، انسانان باید دا حقیقت درک کړي خپلي هیلي دومره لاسته رواړي، څومره چي د هغو لپاره مشقت ګالي، نن ورځ ځوانان زر ځله مري پرته له دې چي په دې پوهه سي چي خپل وخت هم ضایع کوي او د نورو وخت هم، دا د ناپوهۍ له امله داسي کوي، د اسلامي اُمت باهدفه مستقبل دا غوښتنه کوي چي هر مسلمان د خپلو خواهشاتو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان وژغوري، دې عظيم مصلحت ته پر خپلو شخصي ګټو ترجيح ورکړي، د اسلامي اُمت آينده د اُمت د ځوانانو څخه غوښتنه کوي چي په دې لار کي تکليف وګالي، تر څو هغوی او راتلوونکي نسلونه د رنځ، غريبۍ، وروسته پاته والي او جلاوالي څخه نجات ومومي، دا يوازي د خبرو کولو څخه په لاس نه راځي، بلکي يو عملي پروګرام ته ضرورت لري، داسي پروګرام چي د کار وسائل او اساسات تعيين کړي، تر څو کار په دې بنيادونو استوار سي، په دې توګه خپل اهداف تر لاسه کړو، او په اسلامي ټولنه کي د ځوانانو ژوند يو باهدفه ژوند وګرځي، چي بنياد يې د پرديو پر مرستو ولاړ نه وي، دا د يو کس يا يوې ډلي کار نه دی، دا يو داسي کار دی چي اجتماعي او د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره خالص کار ته اړتيا لري، چي هيڅ ډول تنظيمي تعصب په کښي نه وي، که څه هم هر څوک په خپل تنظيم کي پاته هم سي، موږ څنګه ځوانان په راتلوونکي کي د خپل رول د لوبولو لپاره تيارولای سو، بل دا چي موږ خپل راتلوونکی تعين کړو، چي موږ څنګه مستقبل غواړو؟ دلته اوس د اسلامي پلانګذاری مفهوم تبارز کوي.

چي د ترقی د مشکلاتو د حل لپاره د اسلام عملي نظريه څرګنده کړل سي او د ټول انسانيت تر منځ د اړيکو جوړولو، د ټولو انسانانو تر منځ د تعاون او متبادلې مرستي له منځته راوړلو لپاره د نړيوالو اسلامي مؤسسو سره همکاري وکړي، د يو اسلامي جماعت چي د امکاناتو او صلاحيتونو څخه په اعظمي استفادې سره د اصلاح او تعمير په کار کي د اُمت نمائندګي وکړي او خپل رول ولوبوي، په جوړلو سره د الله سبحانه وتعالی د عبادت معنا تحقق ومومي، ځکه د يوې اسلامي ټولني پر مخ وړل د الهي شريعت د پلي کولو بنياد دی، دا ټول بايد د باهدفه تګلاري مفهوم په دائره کي واضح وي، هغه داسي يو ژوند وي چي د يو پروګرام او يو ټاکلي سياست پر بنياد روان وي، وسائل او موجود امکانات د آهميت په تناسب استعماليږي، د هر کار څخه وروسته ژوره بررسي او احتساب صورت ونيسي، چي د خپل ځای څخه پيل کيږي، د هر کار څخه وروسته او هره ورځ سر ته ورسيږي.

حضرت عمر (رضي الله عنه) فرمايي: د خپل ځان سره محاسبه وکړئ، مخکي له دې چي ستاسي سره محاسبه وسي. هغه آينده چي موږ يې جوړول غواړو بنيادونه يې فرد، کورنی او ټولنه ده، هر فرد بايد دا حقيقت درک کړي چي د ټولنو بنياد په علم او پر هغه باندي پر عمل کولو ولاړ دی. په زړه کي د توحيد د ټينګيدو څخه وروسته په اوسني عصر کي تر ټولو ښه علوم عصري علوم دي، همدا راز په اوسنی زمانه کي ضروري او ښه علوم د ادارې، تنظيم او مطبوعاتو علوم دي، په دې ټولو کي وروسته پاته والی د اسلام د دعوت وروسته پاته والی ګڼل کيږي، او په دې کي مهارت تر لاسه کول د اسلام د عظيم دعوت د خپرولو ذريعه ده، د داسي چا په علم بايد موږ خوښ نه سو چي علم حاصل کړي، د کورنی او ټولني په وړاندي خپلو مسؤليتونو ته پام ونه کړي، دا د انقلابونو کار نه دی، بلکي د غوره افکارو خپريدل، روحي لارښووني او نفس امادګي ددې کار يوازينی لاره ده، پر ټولو مسلمانانو او خصوصاً په ځوانانو کي د ژوند آهميت احساس پيدا کړل سي، فني ماهرين بايد نويو اختراعاتو ته وهڅول سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې لپاره باید د نور هر څه څخه ډېر په ټولنه کي د استعدادونو پلټنه وسي، او هغه په کار واچول سي، ګټه د مشقت په اندازه وي، باید د وخت څخه استفاده وکړو او خپل وختونه باید په داسي کارونو کي مصرف کړو، چي د فرد، کورنۍ او ټولني لپاره ګټور وي، ټولنه باید د اسراف د نقصاناتو څخه خبره کړو او د هر کار په دقیقه توګه د سرته رسولو آهمیت ور په ګوته کوو، اسراف یوازي په خوراک کي نه دی، بلکي په خبرو او وسائلو کي هم دی، موږ باید وپوهیږو که مسلمانان په همدې حالت کي پاته سي، نو تر ډېري مودې پوري به يې د سرمایه دار نظام او یا کوم بل نظام څخه استفاده کوي، باید د اسراف څخه هم ځان وساتو، د نارینه وو او ښځو د ټولو د صلاحیتونو څخه استفاده وکړو، تر هغه حده پوري چي د شریعت مخالفت په کښي نه وي، د نورو ملتونو د تجربو څخه باید استفاده وکړو، د خپل تاریخ څخه درس او عبرت حاصل کړو، د ټولني اهداف او مقاصد باید تعین سي او هغه اساسي هدف چي د هغه تر څنګ ټول تنظیمونه او افراد پرې راټولیدای سي هغه باید څرګند سي، دا مقصد د یو پرمختللي ټولني د جوړولو په ذریعه د الله سبحانه وتعالی رضا تر لاسه کول دي، چي امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوي.

لویو ګټو ته په تنظیمي، قبیلوي او قومي ګټو ترجیح ورکوي، چي په هغه کي مشران او افراد خپل شخصي خواهشات پریږدي، په دې موقع باید ددې کار د سرته رسولو ثوابونه هیر نه کړو، ځوانان دي دا حقیقت درک کړي اسلام د مشکلاتو په مخ کي او د هغه نظامونو په مخکي چي افرادو او ملتونو د اصلاح لپاره ضروري دي لاس تړلي نه دریږي. امام حسن البناء د اخوان المسلمون د تنظیم بنیاد ایښودونکی دی، ددې تنظیم لپاره يې د اسلام پر اساساتو برابر یوه تګلاره وټاکله او د اسلامي ټولني د بیا ژوندي کولو لپاره يې د نوي روح په حیث وړاندي کړه، د مصر د درې (۳۰۰۰) زره کلیو او ښارونو څخه يې لیدنه وکړه، تقریرونه يې وکړل، خلګ يې د خپلو سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو ستونزو هواریو ته متوجه کړل. د امام حسن البناء څخه پوښتنه وسوه: کله بیدیږې؟ امام حسن البناء په جواب کي ورته وویل: آیا د دعوت دې لوی بار موږ ته د خوب وخت پرې ایښی دی؟ آیا مسؤلیتونه د وخت په پرتله ډېر نه دي؟ هغه به په شپه او ورځ کي څلور (۴) ساعته بیدیدی.

سید قطب هغه شخصیت دی چي ویل به يې: زموږ خبري بې روحه وي، مګر کله چي د هغه په لاره کي شهیدان سو، نو هغه ژوندۍ سي. هغه خپل ژوند د اسلامي اُمت څخه قربان کړ او د هغه فکر د ځوانانو د صحیح او بشپړي باهدفه پوهي لپاره توښه وګرځیدله. امام مودودي (رحمة الله علیه) د هند په نیمه وچه کي د جماعت اسلامي بنیاد ایښی دی، که چیري اخوان المسلمون او نورو اسلامي تحریکونه نه وای، نو اوسنۍ نړۍ کي به داسي څوک نه وای، چي اسلام د یو بشپړ نظام په حیث وپیژني، اسلام به یوازي د څو بې روحه عبادتونو نوم وای او په خاصه توګه هغه وخت چي دعوتګران حاکمانو د ګټو ساتونکي او د هغوی غلامان وي. دې مثالي شخصیتونو د خپل ژوند یوه لحظه هم بې ځایه تیره نه کړه، دا ستراتیژیکو نمونو د اسلام لپاره په داسي وخت کي کار او قرباني ورکړې، چي په خلکو کي د سربښندني جذبه مړه وه او دوی بې حرکته پراته وه، هر ځوان باید د خپل ځان لپاره د ژوند بشپړ پلان تنظیم کړي، تر څو د اُمت د آینده د جوړولو کار په ښه ډول صورت ونیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه د ژوند ښه تنظیم د بریالیتوب شرط دی

الله سبحانه وتعالی دا لوی نظام ډیر دقیق، عجیب او حیرانونکی جوړ کړی دی، هیڅ ډول ګډوډۍ او بې نظمی ته ځای په کښې نسته، ددې بې ساري تنظیم سره الله سبحانه وتعالی د خاص حکمت لپاره انسان ته یو څه اندازه آزادي او اختیار د امتحان لپاره ورکړي دي، ددې ورکړل سوي آزادۍ پواسطه انسان کولای سي خپل ژوند تنظیم کړي او یا یې همداسي ګډوډ پریږدي، انسان ته د شپې او ورځې بدلون د موسمونو اختلاف، د میوو پخیدل، د حیواناتو تکاثر او تناسل او حتی د کون د ذرې څخه تر آسمانه پوري په تنظیم کي عظیم درس ورکوي، اسلامي شریعت ددې حقایقو مراعات په خپلو ټولو احکامو معاملاتو او عباداتو کي کړی دی، کله چي انسان ددې ټولو حقایقو څخه استفاده ونه کړي او خپل پاته ژوند ددې اختیار په حدودو کي ترتیب او تنظیم نه کړي، په پایله کي به ستړۍ زیانمن، ناکام او خفه به سي.

تنظیم د ښه پلان پواسطه د غوره سویو هدفونو د لاسته راوړني لپاره د موجودو وسایلو سمي کاروني ته ویل کیږي او ددې لپاره ځیني ټکي په نظر کي نیول په کار دي:- ۱: د مطلوبه وسایلو اندازه. ۲: د هري وسیلې د آرزښت پیژندنه. ۳: د کار لپاره د هري وسیلې د استعمال ځای پیژندل. ۴: د هري وسیلې لپاره د مناسب وخت ټاکل، او د هر څه د مخه د منظم پلان پواسطه د موخو دقیق څیړل.

د ژوند د ګډوډۍ او نه تنظیم لاملونه: د وخت څخه مناسبه ګټه نه اخیستل او په بې هوده چارو کي یې تیرول، د عاقلو خلګو لپاره تر ټولو لوی مصیبت ګڼل کیږي، ځکه هره شیبه چي تیریږي بیرته نه راګرځي، عاقل په دې پوهیږي چي وخت د ده تنفس دی او د هري دقیقې په تیریدو سره ژوند په کمیدو دی، نو له همدې امله باید عاقل انسان ددې احساس په درلودلو سره د هري شیبې څخه اعظیمي استفاده وکړي، په دې فکر چي الله سبحانه وتعالی د ده د عمر او ځوانۍ پوښتنه ځیني کوي، چي په څه کي یې تیر کړي دي. د بې کاره او بې هدفه انسانانو سره وخت هیڅ قیمت نه لري، په لوبو او بې ځایه چارو کي یې تیروي، په دې هکله هیڅ فکر او اهتمام نه لري، ان تر دې پوري چي د وخت د وژلو او ساتیرۍ ږغ پورته کوي او په دې نه پوهیږي چي دوی خپل ځانونه وژني. د فرد او اُمت د پرمختګ او تمدن د لاملونو څخه یو هم د وخت آرزښت، پیژندنه او ښه ډیره استفاده ځیني کول دي، کله چي انسان د وخت څخه په استفاده روږد سي، کولای سي د خپل ژوند ټول کارونه منظم او ترتیب کړي، او تل یې دا حکمت په یادوي: وخت ژوند دی، په خپله او نورو سره په ګټه اخیستلو کي مرسته وکړه. د ډیرو آرزښتناکو او لږ آرزښته چارو تر منځ توپیر نه کول، ځکه ځیني خلګ خپل قیمتي وخت او وسائل په کم آرزښته چارو مصرفوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډېرو آرزښتناکو چارو څخه غافل او ناخبره وي، پر مستحباتو باندي اهتمام کوي، مګر فرض ځيني پاته کيږي، همدارنګه د ځينو خلګو ژوند د درواغجنو او بې معنا مظاهرو څخه ډک وي، مګر که د حقائقو پلټنه، د علم او عمل پوښتنه يې وکړې، هيڅ به ورسره نه وي، دا ډول خلګ که څه هم تر يو مهاله په کبر او غرور کي ژوند وکړي، مګر يوه ورځ به هرومرو هغه وخت راويښ سي، چي د ژوند پاڼه يې ژړه سي، خلګ يې هير کړي، يا مړ سي، او آخرت ته ولاړ سي، هلته انسان ته معلومه سي چي څګونه بې ګټې دي، عمر يې نه وي او خلکو ته ګټه نه سي رسولای، د باطل ملګري تل کوښښ کوي چي زيارکښ او د لوړ همت څښتنان په کوچنيو او لږو ګټو لرونکو چارو اخته کړي، د لويو چارو د ترسره کولو مخه يې ونيسي، او ژوند يې غيري منظم تير سي، د کوچنيو چارو لپاره خلګ ډير دي، مګر د لوړو او سترو چارو لاري د تلوونکو څخه خالي دي، که د لوړ همت خاوند يې، نو پر دې لاره ولاړ سه، د کارونو د ترسره کولو لپاره نامناسب وخت ټاکل، او يا يې د وخت څخه مخکي يا وروسته کول، يعني هر کار بايد په خپل وخت کي تر سره سي.

که نظام ته ځير سو، دا به راته څرګنده سي، چي الله سبحانه وتعالی د هر څه لپاره وخت ټاکلی دی، چي تقديم او تاخير نه مني، لکه: د شپې او ورځي بدلون، د لمر طلوع او غروب او د ژونديو تناسل او داسي نور... په همدې ډول د الهي شريعت د احکامو لپاره وختونه ټاکل سوي دي، لکه: د لمونځ، روژې، حج، زکات او نور... احکام. انسان بايد ددې کون سره ځان منسجم او منظم کړي، د وحيي د احکامو سره په پابندۍ خپل ژوند ترتيب کړي، د هر کار لپاره پر خپل وخت اقدام وکړي، د کار نيمګړی پريښوول، ډير خلګ د خپل ژوند ډيره موده د ګټورو چارو په عملي کولو کي تير کړي، مګر د بشپړيدو څخه مخکي ځيني لاس په سر سي، بل کار پيل کړي هغه هم نيمګړی پريږدي، وختونه تيريږي، مګر ثمرې او پايلي ته نه رسيږي او په بې هدفه چارو پسي ځغلي.

د کړي کار بيا بيا تکرارول، په دې ګومان چي مخکي يې دا کار کړی نه دی، د کار د کولو لپاره ناسم پلان، ځيني خلګ ددې پروانه لري چي خپل کار د کوم ځای څخه شروع او چيري يې پای ته ورسوي، دا ښه ده چي انسان د هر څه لپاره د مخکي څخه وسائل برابر کړي، مګر په هغه صورت کي چي ترتيب يې په نظر کي نيولی وي، ددې لپاره وخت او امکانات ولري، د کار د عملي کولو لپاره له مخکي څخه پلان نه درلودل، دا د انسان د ژوند د ګډوډۍ او د وسائلو د بې ځايه کاريدو لامل ګرځي، يوازي په منظم پلان سره انسان کولای سي خپل هدفونه وټاکي، د وخت او وسائلو څخه په زړه پوري ګټه واخلي. څنګه خپله ورځ تنظيموی؟ کله چي انسان د خپلو ورځنيو چارو په تنظيم کي برياλی سي، هغه کولای سي د خپل ژوند په تنظيمولو کي هم برئ وسومي، ډير خلګ خپله ورځ بې هدفه تيروي، له دې امله د ډول ډول ستړياوو او کړاونو سره مخامخ کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظم ژوند هغه دی چي پر پلان ولاړ وي: پلان د ښه ژوند لپاره لومړی شرط او د ګډوډۍ مخه نيونکی دی، د پلان لپاره خپل شرائط او اساسات دي:- ۱: د مهم کار لپاره د پلان ګذارۍ پر مهال په ذهني، بدني او نفسياتي لحاظ سره سالم، معتدل مزاجه، قرار او هيله مند يې، ځکه پلان ستا ټول ذهني ځواک ته په تفکير يادښت او تصور کي اړتيا لري. ۲: دا په عادي حالت کي، مګر په بيړنيو حالاتو کي بيا هماغسي مناسب تصرف په کار دی، ځکه د هر حالت لپاره خپل احکام دي. ۳: د موجوده حالاتو او د راتلوونکي پروژې په هکله بشپړ معلومات راټولول، ځکه د پروژې کاميابي د حالاتو د څرنګوالي سره مستقيم تړاو لري، او همدارنګه د پروژې په اړوند تفصلي معلومات، لکه: موخي، وسائل، ګټي او اړتياوي لاسته راوړل په کار دي. ۴: د خپلي پروژې لپاره موخي ټاکل په داسي ترتيب سره چي عملي کول يې ممکن او د اړتيا پر مهال بدلون هم منلای سي، پوره څرګند او د واقعيتونو سره برابر وي.

۵: د هغو مادي او بشري وسائلو او امکاناتو بشپړه احصائيه چي د کار په عملي کولو کي ورته اړتيا ده، د هغو شتون او نشتوالی په ښه کول، او دا چي غيري موجود څنګه لاسته راتلای سي؟ دا ټول بايد په منځنۍ کچه وي، د اسراف څخه ليري وي، او حلالوالی يې هرو مرو په نظر کي ونيول سي. ۶: د پروسې د عملي کولو وخت او ځای بايد په څرګنده او دقيقه توګه ټاکل سوی وي، د ژوند د هر کار لپاره وخت او ځای ځانګړی آرزښت لري، چي پرته له دې څخه يو کار هم شونی نه دی، له همدې کبله بايد وخت، ځای، د موجوده وسائلو نقش او د هري برخي کار له مخکي څخه وټاکل سي. ۷: د پروسې د عملي کوونکي مشخص کول، که هغه په نامه وي يا په صفت، يوکس وي او که ډله، نو بيا وکتل سي چي ددې کار لپاره هغه صفات په کښي سته چي ددې کار د عملي کولو وړتيا لري، ځکه د هر فن لپاره خپل خلګ په کار وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه د وخت قدر او آرزښت وپيژنه

د قرآن کريم په ډيرو برخو کي د وخت يادونه د وخت په آرزښت باندي دلالت کوي، البته خورا لوړ آرزښت يې له دې څخه معلوميږي، چي الله سبحانه وتعالى په وخت باندي څو ځله قسم ياد کړى او په قرآن کريم کي يې پوره سورت د العصر په نامه د وخت په نامه را نازل کړى دى. الله سبحانه وتعالى په وخت سره قسم ياد کړى او فرمايي: (وَالْعَصْرِ ۙ(١) اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ۙ(٢) اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا بِالْحَقِّ ۙ۬ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ (٣). ژباړه: قسم دى په زمانې سره بيشکه! انسان خامخا په تاوان کښي دى مګر هغه کسان چي ايمان يې راوړى وي دوى او عمل يې کړى وي نيک (ښه) او نصيحت يې کړى وي (يو دبله سره) د حق (دين) او نصيحت يې کړى وي (يو دبله سره) د صبر. (سورت العصر)

که څه هم د وخت آرزښت يو کوچنى عنوان دى، مګر د معنا په لحاظ بيا ډير اړخونه لري، هغه دا چي وخت د فلسفيانو سره يو ډول آرزښت لري او د سوداګرو سره بل ډول آرزښته لري، سياست پوهانو، جنګياليو، ځوانانو، سپين ږيرو، زده کوونکو، عالمانو او پوهانو هري يوې ډلي د وګړو سره جلا جلا ډول آرزښتونه لري. وخت د توري په څير تيره دى، که يې پرې نه کړې، نو تا به پرې کړي. ابن ابي جمرة (رحمة الله عليه) ددې جملې معنا داسي کوي: وخت په کار کولو سره پرې کړه، څو تا په معطلي او ناوخته کيدلو سره پرې نه کړي. د وخت ضايع کول د هلاکت لويه نښه ده. وخت په حقيقت کي د انسان عمر دى، د تل پاتي نعمتونو او ابدي ژوند لپاره هم يو بنياد دى، په دنيا کي هغه کسان چي موږ او تاسو يې د پرمختګ په حالت کي وينو، لکه: پوهان، سياسي چارو شنونکي، ستر ليکوالان، دغو ټولو کسانو د وخت قدر يې کړى دى، ځکه خو دغو لوړو مرتبو ته ورسيدل، او چا چي د وخت قدر نه دى کړى، هغو ته وخت د تل لپاره لوى دوښمن ګرځيدلى دى.

وخت د انسان د عمر فرصتونه، کلونه، مياشتي، ورځي، ساعتونه، بلکي دقيقې، ثانيې او لحظې دى او دا هغه قيمتي پانګه ده، چي د انسان سره تر هغې بله لويه او قيمتي پانګه شتون نه لري، د وخت څخه سمه استفاده کول هغه لوى توفيق دى، که د انسان په برخه سي، نو د مادي او معنوي پرمختګ او لوړوالي تر ټولو لوړو مرتبو ته رسيداى سي، وخت د انسان سره په شته څيزونو کي تر ټولو ډير قيمتي او آرزښتناک شى دى، ځکه وخت د انسان د هري کړني، هري هڅي او هري لاسته راوړني لپاره لوبښى دى، چي په حقيقت کي د فرد او ټولني رښتينې پانګه بلل کيږي، که په سمه توګه د ظاهر او باطن د ترقۍ لپاره وکارول سي، نو د ترقۍ او لوړوالي زينه او ډيره آرزښتناکه سرمايه ده، مګر که په سمه توګه استفاده ځيني ونه کړل سي، بيا سرمايه نه، بلکي شرمايه ده، د ټولو ناخوالو او بدبختيو لپاره ځاله جوړيږي.

حافظ ابن قيم (رحمة الله عليه) په خپل يوه کتاب ليکي: هوښيار هغه څوک دى، چي پر وخت مين وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې اړه ځيني علماء ليکي: انسان بايد د ځان جوړوني او معنوياتو د تر لاسه کولو لپاره سهار د ورځې د پيل څخه بيا د شپې د خوب تر وخته پوري لاندي پنځه (۵) مرحلې په خاص ترتيب سره ترسره کړي:- ۱: مشارطه. ۲: مراقبه. ۳: محاسبه. ۴: معاتبه. ۵: مکافئه. مطلب دا چي انسان بايد په لومړی مرحله کي د الله سبحانه وتعالی سره تعهد وکړي او شرط وکړي چي ګناه به نه کوي. په دوهمه مرحله کي به متوجه او مراقب وي، څو په خپل عهد باندي وفا وکړي، د جدي مراقبت په پايله کي د ګناه نه کولو ته ادامه ورکړي. په دريمه مرحله او د کار په پای کي بايد د خپل ځان سره محاسبه وکړي، د خپلو کړنو او ويلو دقيق حساب او هر اړخيزه ارزونه وکړي. که يې په محاسبه کي وموندل چي ګناه ځيني سوې ده، نو په څلورمه مرحله کي بايد توبه وکړي، خپل سرکښه نفس ورتې او ملامت يې کړي، څو د نفس سرکښي يې ماته سي. په پنځمه مرحله کي به متوجه وي چي د ده څخه د ګناه ترسره کيدل يوه ننګونه ده، نو د ګناه له امله دغه را منځته سوې تشه بايد په نيکو کړنو او د خير په کارونو سره ډکه کړي. د پنځو مرحلو دغه کړنلاره په يو ډول سره د وخت پيژندل او د طلايي وخت څخه د ګټې پورته کولو يو فرصت دی، چي هرومرو د معنوي ترقی، په دنيا او آخرت کي د بري لامل کيږي.

امام شافعي (رحمة الله عليه) فرمايي: ما د صوفيانو سره ملګرتيا وکړه، يوازي مي دوې خبري ځيني زده کړې:- ۱: وخت د توري په څير دی، که يې پرې نه کړې، نو تا پرې کوي. ۲: که دي ځان په حقه لاره کي بوخت نه کړ، نو په باطله لاره به اخته کيږې.

علماء ليکي: په وخت باندي د الله سبحانه وتعالی په قسم يادولو کي مؤمنو بنده ګانو ته د وخت د ساتني او اهتمام لارښوونه ده، ځکه د ژوند څخه د انسان برخه همدغه وخت او زمانه ده، نو انسان خپل وخت بايد په هغه څلورو (۴) شيانو باندي ډک کړي، د کومو يادونه چي د عصر په سورت کي سوې ده او که يې په دې څلورو (۴) شيانو سره ډک نه کړي، نو هرومرو انسان په لږ يا ډير خسران او تاوان کي دی. الله سبحانه وتعالی دي موږ، تاسي او ټول مسلمانان د دا ډول لوی تاوان څخه وساتي، هغه څلور (۴) شيان عبارت دي له: ايمان، نيک عمل، د الله سبحانه وتعالی لور ته بلنه او د همدې بلني په سلسله کي پر مشکلاتو باندي صبر کول.

څنګه د وخت څخه سمه استفاده وکړو: هر انسان بايد د خپلو مثبتو کړنو لپاره د وخت په نظر کي نيولو سره دقيق او هر اړخيز پلان جوړ او داسي يې پلي او تعقيب کړي، چي د کومې ورځې د نه پلي کيدو په صورت کي د ننګوني او کمبود د احساس سره مخ سي، د هغې د جبيره کولو هڅه وکړي. د ژوند تنظيمول د ژوند د بريا لامل کيږي، ځکه الله سبحانه وتعالی دنيا په يوه دقيق او هر اړخيز نظام سره روانه کړې ده، داسي نظام چي په هغه کي ګډوډۍ او عبث ته هيڅ ځای نسته، الله سبحانه وتعالی د خپل حکمت سره سم انسان ته آزادي او اختيار ورکړی دی، څو د امتحان او آزماينت دوره باندي تکميل کړي، له دې آزادۍ څخه په ګټې اخيستني سره انسان کولای سي، خپل ژوند تنظيم کړي، ښه او مؤثره استفاده ځيني وکړي او يا يې همداسي معطل او عبث تير کړي. د وخت څخه په ګټه پورته کولو کي تمبلي کول او په بې ګټې شيانو سره د وخت ضايع کول. د کارونو تر منځ توپير نه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه دا چي نه ورمعلوميږي، چي د کوم کار آهميت ډير دی او لومړی بايد تر سره سي او د کوم يوه آهميت د هغه څخه کم دی، لکه ځيني خلګ چي فرايض او واجبات ځيني پاته وي، په مباح يا سنت کړنو باندي بوخت وي، د هر کار لپاره يې خپل وخت په پام کي نه نيسي، ځيني کارونه د وختنه مخکي او ځيني نور يې بيا د خپل وخت څخه وروسته تر سره کوي، دا دواړه کړني د وخت د ضايع کولو په معنا دي، د پيل کړي کار نه پوره کول، ځيني خلګ ټول ژوند نن په يوه او سبا په بل کار کي په داسي توګه تير کړي، چي هيڅ يوه پيل کړې کړنه ترسره نه سي، د يوه کار تکراري ترسره کول، يوه کړنه په دې فکر سره څو ځله تکرار کړي، چي ګواکي نه يې ده ترسره کړې، ځواني دي په څه شي کي ختمه کړه، وختونه تل خالي نه پاته کيږي، نو هغه بايد د خير په کړنو سره ډک کړل سي، هر انسان که خپل زړه او نفس په حق سره بوخت نه کړي، نو نفس به دی په باطل سره مشغول کړي، په خاصه توګه کله چي ځواني، شتمني او بې کاري سره يو ځای سي، نو د خطراتو د ګواښ کچه يې لوړيږي، د وخت پر وړاندي د مسلمان مکلفيت، د وخت په اړه تر ټولو لومړی او مهم د مسلمان دنده دا ده چي د خپل وخت ساتنه وکړي او د خپل وخت څارونکی وي.

د مال څخه ډير بايد د خپل وخت ساتنه وکړي، ځکه مال بيا هم تر لاسه کيږي، مګر وخت چي يو ځل تير سي، بيا په هيڅ ډول سره نه را ګرځي، وخت نه عوض کيږي، نه ذخيره کيږي او په هر څومره لوړ قيمت سره نه سي اخيستل کيدلای، د ژوند هره لحظه بايد د ځان او ټولني د نيکبختی، مادي او معنوي ترقۍ لپاره ولګول سي، څوک چي د خپل ژوند وختونه بې ګټي او بې پايلي تيروي، يقيناً هغه د خپل وخت حق نه دی پوره کړی او د ځان سره يې ظلم کړی دی، وخت ته بايد سمه کتنه وسي، په سمه توګه وخت ته کتنه هغه فکر دی چي تيره سوې، راتلوونکې او موجوده زمانه په خپله غيږه کي رانغاړي او هري يوې ته ځانګړې پاملرنه کوي، مسلمان ته اړينه ده چي تيري سوي زماني ته دقيقه او هر اړخيزه کتنه وکړي.

څو د پخوانيو اُمتونو د برخليک او د هغوی په اړه د الله سبحانه وتعالی د کړنو څخه پند او عبرت واخلي، ځکه تيره سوې زمانه د پيښو او عبرتونو خزانه ده، اړينه ده چي انسان خپل راتلوونکي ته هم يوه کتنه او يو څه پاملرنه وکړي، ځکه انسان د طبيعت پر بنسټ د راتلوونکي سره اړيکه لري او نه سي کولای چي د خپل راتلوونکي څخه سترګي پټي کړي، لکه څنګه چي الله سبحانه وتعالی انسان ته حافظه ورکړې ده، څو د تيري زمانې سره اړيکه باندي ټينګه کړي، همدارنګه يې انسان ته د تخيل قوه ورکړې ده، څو خپل راتلوونکی د ځان لپاره منسجم کړي، مګر مهمه دا ده چي انسان بايد په موجوده حال زمانه کي هدفمند او ميوه لرونکی ژوند ولري او د راتلوونکي لپاره معقوله هڅه وکړي، خپل فکر د راتلوونکي لپاره وکاروي او د تير څخه عبرت واخلي، ځکه همدا د شپو او ورځو تيريدل هر تازه شی زړوي، هر ليري شی رانږدې کوي، عمرونه را لنډوي، زاړه د فنا لور ته ټيله کوي، نو مسلمان بايد د شپو او ورځو د بدلون څخه غافل نه وي، بلکي فکر وکړي چي د شپو او ورځو په دې بدلون کي د عقل د څښتنانو لپاره لويي نښاني دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره کړنه ځانګړی وخت لري، که انسان د شپو او ورځو بدلون او يو پر بل پسي راتلو ته دقيق سي، نو وبه مومي چي هره لحظه يې ځانګړی طبيعت لري او د جلا کړني غوښتنه کوي، په دې اړه د شريعت کړنلاره ډيره ښکاره ده. د مثال په توګه: لمونځ چي په خپل خاص وخت کي ترسره کيږي، همدا ډول نور عبادتونه. هره کړنه په خپل معين وخت کي د خورا لوړ آرزښت څخه برخمنه وي او که د وخت څخه تيره سي، نو يا خو د سره آرزښت نه لري او يا يې هم آرزښت را کميږي. په اصطلاح په اوسنۍ پرمختللي نړۍ کي هم د هري کړني لپاره د وخت په نظر کي نيول خورا آرزښتناک کار دی، که څوک خپل کارونه په ټاکل سوي وخت کي ترسره کړي، نو بريالۍ او هدف ته رسيدونکی انسان دی، ددې لپاره چي انسان د خپل وخت څخه سمه استفاده وکړای سي، بايد د خپلو کړنو لپاره اهداف وټاکي، او په هدف ټاکلو کي هم مهم اصل دا دی، چي هدف بايد يو وي، د هغه د تر لاسه کيدو وروسته بايد بل هدف وټاکل سي، که يو څوک د ځان لپاره دوه يا درې هدفونه وټاکي، نو تر لاسه کول به يې ستونزمن وي.

انبياؤو (عليهم السلام)، صحابه کرامو (رضي الله عنهم)، تابعينو او په همدې ترتيب پخوانيو اُمتونو مسلمانانو د وخت څخه سمه استفاده کړې ده او د هدف په ټاکلو کي بريالي وه، ځکه هغوی يو هدف ټاکلی وو، چي هغه د الله سبحانه وتعالی رضا وه، که هر کار به يې ترسره کوی مطلب به يې دا وو، څو خپل هدف ته ور نږدې سي، که به يې عبادت کوی، که به يې تجارت کوی، که به يې د چا سره ناسته او ولاړه کوله او داسي نور... په ټولو کي يې مقصد هماغه ټاکلي هدف ته ځان رسول وه، او همدوی وه چي د وخت څخه يې سمه استفاده کړې ده، هغوی د وخت په تړاو د ځانونو په تنظيم کي د نورو لپاره تل پاته مشالونه دي او که هر مسلمان د هغوی په قدم روان سي، هرومرو به بريالی وي.

د هغوی د ژوند حالاتو ته په کتو سره ويلای سو: وخت بايد په دريو برخو سره وويشل سي:-
۱: د وخت يوه برخه د الله سبحانه وتعالی سره په مناجات، د حقيقي خالق، مالک او رازق سره په اړيکه ټينګولو کي بايد تيره کړل سي. ۲: د وخت بله برخه د ژوند د اړتياوو، لکه: خوراک، لباس، مسکن او داسي نور... په پوره کولو او برابرولو کي بايد ولګول سي.
۳: د وخت دريمه برخه په استراحت او د حلالو څخه په خوند اخيستلو باندې بايد تيره سي.

د عقل لرونکي انسان هيڅ کړنه بايد د دغه دريو (۳) برخو څخه بهر نه وي، په عامه توګه انسانان خپل قيمتي وخت تر مال او ثروت قربانوي او هغه د مادي ترقۍ لامل بولي، حال دا چي مال او ثروت بايد د وخت په خدمت کي مصرف کړل سي، هر څوک چي د وخت آرزښت وپيژني، د هغه څخه معقوله او په جديت سره استفاده وکړي، يو ځای ته رسيږي، که څوک خپل وخت بې ګټي او معطل پريږدي، نو خپل ځان د تباهۍ څاه ته غورځوي، ځيني انسانان د ښو فرصتونو نه شتون د خپلي ماتي لامل بولي، حال دا چي لوی خلګ فرصتونه را منځته کوي او د ډيرو کوچنيو پېښو څخه لوی لوی فرصتونه جوړوي، د انسان لپاره تر ټولو لويه تيروتنه دا ده چي د ځان لپاره د فرصت پيدا کولو پر ځای ټول عمر د فرصت راتللو په انتظار کي تير کړي، لويو خلګو هيڅ شی د بخت پريکړو ته نه دی پرې ايښی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسن بصري (رحمة الله علیه) ويلي دي: ته همدغه ورځي یې، نو یوه ورځ چې کمه سي په حقیقت کي ستا یوه برخه کمه سوه او پوهیږئ چي دا په کوم لوري ته ورکمه سوه؟ د آخرت او قبر په طرف!

دکتور وهبت الزحیلي (رحمة الله علیه) وايي: دا چي زما د علمي خدماتو دائره دومره پراخه سوې ده، چي پنځوس (۵۰۰۰۰) زره پاڼي او یوسلو شل (۱۲۰) جلده کیږي، وجه یې دا ده: د وخته څخه مي ښه ګټه اخیستې ده.

امام ابن القیوم الجوزي (رحمة الله علیه) فرمایي: د وخت ضایع کول، د مرګ څخه هم ډیر سخت دي، ځکه د وخت ضایع کول د الله سبحانه وتعالی او د اخرت د کور څخه قطع کول او مرګ دي د دنیا او څه چي په دنیا کي دي، یعني اهل د دنیا څخه قطع کوي.

امام محمد (رحمة الله علیه) به شپه په درو (۳) برخو ته ویشله:ـ ۱: خوب. ۲: عبادت. ۳: تصنیف او لیکني.

بلکي د مادي او معنوي ترقیو تر ټولو لوړو څوکو ته یې د همت او ټینګ هوډ په ملتیا ځانونه رسولي دي، د تیرو ناکامیو په جنازه باندي د ویر او ماتم پر ځای د راتلونکو کامیابیو لپاره باید لاس پر کار سه، تیره سوې زمانه مړه او د ترمیم وړ نه ده، کوم شی چي د ترمیم قابلیت لري هغه موجوده او راتلوونکې زمانه ده، نو پورته سه د همدغو خامو موادو حال او راتلونکو زمانو څخه داسي شکل او صورت جوړ کړه، چي خوښ مو وي، د وخت ضایع کول د مرګه سخت دي، ځکه د وخت ضائع کول تاسي د الله سبحانه وتعالی او آخرت څخه جلا کوي او مرګ تاسي د دنیا او اهل څخه جلا کوي، انسان چي کله مړ سي، د ایمان او نیکو اعمالو خاوند وي، نو د دنیا څخه جلا خو د آخرت د ښکلاوو سره یو ځای کیږي، چي په حقیقت کي تاوان نه، بلکي لویه کامیابي او بریا ده، ځکه هر انسان د فاني دنیا څخه تلوونکی دی، او برعکس که څوک خپل وخت د الله سبحانه وتعالی د عبادت او اطاعت څخه پرته ضائع کړي، نو دا شخص د الله سبحانه وتعالی او آخرت څخه لیري سو، چي دا په حقیقت کي لوی تاوان او نه جبیره کیدونکې ضائعه ده.

وخت سره زر دی، مګر نه، وخت ژوند دی او ژوند د سرو زرو څخه خورا ډیر قیمتي دی، د پیدایښت او مړیني تر منځ چي کومه زمانه ده، همدا د انسان ژوند دی، که یو څوک سره زر نه لري، نو یو ورځ نه یو ورځ به یې تر لاسه کړي، مګر تیر وخت هیڅکله هم بیا انسان نه سي تر لاسه کولای، ډیری داسي ځوانان سته، چي خپل وخت په عجیبه توګه سره تیروي، که شپه باندي اوریده سي، نو په بې ګټو خبرو او یا هم د اوسني ټیکنالوجي سره یې داسي تیروي چي هیڅ ګټه هم نوموړي ته نه ورسوي، او که ورځ باندي اوریده سي، نو بیا یې په خوب تیروي، هو په دې کي هیڅ شک نسته، هر ځوان ځان ته موخي او هیلي لري، موخي او هیلي مو ډیري درنې دي، د پلان او تنظیم لپاره وخت نه لري، مګر دا غلطه ده، ځکه سم پلان او ښه تنظیم د انسان سره د بوختیاوو په ښه تر سره کولو کي مرسته کوي، همدارنګه د ژوند تنظیم د انسان سره د کارونو په ترسره کولو کي مرسته کوي، په کمه هڅه لویه لاسته راوړنه او ډیر فرصتونه پیدا کولای سي. ګران ځوانه ښه پوه سه، وخت دومره آرزښت لري، چي یوه ګړۍ یې هم باید ضایع نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وختونو بې ځایه تیریدل هغه خطرناکه ستونزه ده، چي د نړۍ ډیر ملتونه او وګړي ورسره مخامخ دي، د وخت ضایع د ژوند ضایع ده، هر شی که تیر سي، بیا لاسته راتلای سي، مګر وخت هیڅکله بیا لاسته نه راځي، زیار وباسه چي لاندي کلمات تل یاد ولرې او په لوی خط یې د ځان په وړاندي ولیکې: وخت نه زیږي، نه اوږدیږي، نه دریږي، نه بیرته راګرځي، بلکي تل پرمخ درومي. په دې پوه سه چي په ژوند کي د بریالیتوب لومړی شرط د وخت ښه اداره کول دي. په حقیقت کي د وخت اداره د انسان په وس کي نه ده، ځکه وخت د الله سبحانه وتعالی په امر جریان لري، تل په حرکت کي دی، بلکي انسان کولای سي د کوښښ په پایله کي د وخت څخه ښه استفاده وکړي.

نن چي موږ ځوانان په کومه بې پرواهي سره وخت ضایع کوو او د ژوندي خوږې شپې او ورځي په ډیري بې غمۍ سره سبا کوو، داسي احساس کیږي، چي نه زموږ سره هیڅ غم سته او نه هم هیڅ دوښمن لرو، ناخبره ددې نړۍ د نوښت او ابتکار په ډګرونو کي په څومره تیزۍ سره حرکت کوي، او موږ په ډیر بې پرواهي سره ورته ګورو، نور بس ده، دا د غفلت خوب څخه راویښ سه، د ټولو ځوانانو څخه هیله کوم نور د وخت ضایع کول بس کړي، خپل مسؤلیت او حق کوم چي ټولنه یې پر تاسو لري سرته ورسوئ، نو موږ ته هم اړینه ده، چي د وخته ګټه واخلو، د خپلو اسلافو تګلاره خپله کړو، د هغوی په شان د وخت په قدر ځانونه پوه کړو او خپل وخت په ډیر خوب، خوراک، او خبرو ضایع نه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځواني غنیمت وګڼه ستا ښځه د ځوانۍ په هکله پوښتنه کیږي؟

ځواني غنیمت ګڼل په کار دي، د خپل ځان او نورو په اصلاح کي استعمالول يې په کار دي، ځکه چي د قیامت په ورځ به ستا ښځه ستا د ځوانۍ په هکله پوښتنه کیږي: تا د عمر دغه تر ټولو غوره برخه چیرې او څنګه تیره کړې، د ځوانۍ ښځه دي خپله څومره ګټه تر لاسه کړې وه او نورو ته دي څومره ګټه رسولې وه؟ عمر د الله سبحانه وتعالی ډیر لوی نعمت دی، په دې شرط چي انسان دغه عمر د الله سبحانه وتعالی په عبادت او د الله سبحانه وتعالی د دین په خدمت کي مصرف کړي، په دغه ډول د عمر یوه خاصه برخه ځواني هم د الله سبحانه وتعالی ډیره لویه پیرزوینه ده، او دا دواړه نعمتونه داسي دي چي د تیریدو وروسته بیا نه راګرځي، نه تیر سوی عمر بیا راګرځي او نه تیره سوې ځواني بیا راګرځي، له دې امله په کار ده چي د دغه دواړو نعمتونو د ضائع کولو څخه ځان وساتل سي، او په کار ده چي انسان په خپل ژوند او ځوانۍ کي د الله سبحانه وتعالی رضا تر لاسه کړي.

تر څو که سبا ورځ په قیامت کي د دغه دواړو په هکله پوښتنه ځیني وسي، دی باید سم جواب ورکړي، مګر که انسان خپل عمر او ځواني ضائع کړې وي، د دنیا په ټوکو ټکالو کي يې مصرف کړي وي، د بې دینۍ په کارونو کي يې مصرف کړي وي، د اسلام په دوښمنۍ او د باطل په خدمت کي يې کار ځیني اخیستی وي، نو بیا به دغه انسان پښیمانه وي او د دغه کار پایله به د الله سبحانه وتعالی عذاب وي، ځواني داسي بې ګټي او بې فایدې شی نه دی، چي انسان دي ځواني د الله سبحانه وتعالی په نافرمانۍ او سرغړونه کي تیره کړي، بلکي په کار ده چي ځواني غنیمت وګڼل سي، د خپل ځان او نورو د اصلاح، د خپل ځان او نورو د دنیا او آخرت د سمون لپاره وکارول سي، ژوند د مرګ څخه مخکي، صحت د ناروغي څخه مخکي، بیکاري د روزګاري څخه مخکي، ځواني د سپین ږیروالي څخه مخکي او مالداري د فقر څخه مخکي غنیمت وګڼه.

ځواني د سپین ږیروالي څخه مخکي غنیمت ګڼل او هغه کارونه کول چي بیا يې انسان په سپین ږیروالي کي نه سي کولای، د فکر څخه نیولې تر عمل پوري، د لمونځ څخه نیولې تر حج پوري، کوم شی چي د ځوانۍ په حالت کي څه ډول کیږي په سپین ږیروالي کي هغه رقم نه ترسره کیږي، نن که الله سبحانه وتعالی تا ته ښایسته ځواني درکړې ده، ټول قوتونه او صلاحیتونه په تا کي پوره دي، ته دغه قوت او صلاحیت په ټوکو ټکالو، نشو او تماشو کي مه تیره وه، کله چي سبا ته سپین ږیری سې، ستا قوتونه او صلاحیتونه کمزوري سي، په ځوانۍ کي عبادت وکړه، په کار ده چي یو ځوان خپله ځواني په بې ګټو شیانو باندي د تیرولو پر ځای په هغه شیانو تیره کړي، کوم چي د ځوان ژوند د تاوان څخه ساتي، که د ځوان څخه پوښتنه وسي: تا خپله ځواني څنګه تیره کړه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو ځوان به په جواب کي ووايي: په کومو شيانو چي د انسان ژوند د تاوان څخه ساتل کيدی، په هغو شيانو ما خپله ځواني مصرف کړې ده. په دې جواب سره به انسان کامياب سي، او که جواب يې بل څه وو، نو دی به هلاک سي. د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د حکمت څخه ډک وصيتونه عقل مند انسان متوجه کوي، چي خپل ځان د راتلوونکي لپاره وساتي، او د الله سبحانه وتعالی د ورکړل سويو نعمتونو څخه پوره ګټه واخلي، په ځانګړي ډول د الله سبحانه وتعالی طرف ته د دعوت په ميدان کي، او د الله سبحانه وتعالی د رضا لپاره په کار کولو کي، ځکه چي د دعوت لار د مشکلاتو او ستختيو څخه ډکه لار ده، دا آسانه او تياره لاره نه ده، بلکي د سربښندني، صبر، او شهادت لاره ده، ځوانان ددې کارونو د سر ته رسولو طاقت درلودلای سي، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) به هم د دعوت د کار لپاره اکثر ځوانان انتخابول، ځوک چي د خپلي ځوانۍ ساتنه وکړي، د هغه اثر به په سپين ږيروالي کي ويني او بدله به يې په آخرت کي د الله سبحانه وتعالی څخه تر لاسه کړي.

امام رازي (رحمة الله عليه) د يو عالم قول رانقل کړی دی، وايي: ما د سورة عصر مطلب د يو يخي خرڅوونکي څخه زده کړ، هغه په بازار کي نارې وهلې: پر هغه چا رحم وکړی، چي د هغه سرمايه ويلي کيږي. کله چي ما د هغه دا آواز واوريدی، نو ما په زړه کي وويل: همدا د سورة العصر مطلب دی. د ژوند کوم فرصت چي الله سبحانه وتعالی انسان ته ورکړی دی، هغه د يخي د ويلي کيدو په شان په ډير سرعت سره تيريږي، که دغه ژوند ضايع کړي، يا يې په ناروا کارونو کي تير کړي، نو همدغه د انسان تاوان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه د ژوند آرزښت په هدف ټاکلو کې دی

عاقل او هوښيار انسان د خپل عقل او فطرت پواسطه دا احساس کولای سي، چي الله سبحانه وتعالی ددې نړۍ دومره لوی نظام په ښه صورت کي د انسان تخليق هرومرو د غټ هدف او مقصد لپاره پيدا کړی دی، نو له همدې امله انسان ته نه ښائي چي د خپل ژوند يوه شيبه هم بې هدفه ضائع او بې ځايه تيره کړي، بايد د خپل وخت د هر ګړي لپاره موخه، او د هر کار لپاره هدف ولري، او په همدې ډول د خپل ژوند لپاره پروګرام تنظيم کړي، که چيري د بريمنو او پرمختللو انسانانو ژوند ته ځير سو، دا به څرګنده سي چي د هغوی بريالیتوب او پرمختګ د ژوند د چارو د ښه تنظيم او هدفمن پلان نتيجه وه. د ژوند هدفونه پر دوه (٢) ډوله دي:- ١: د اوږدې مودې هدفونه. ٢: د لنډې مودې هدفونه. جُزي هدفونه بايد د لوی هدفونو د تحقيق او لاسته راوړني لپاره وکارول سي، د مسلمان لپاره په خپل ژوند کي ستر او اصلي هدف د الله سبحانه وتعالی چي خالق، رازق او پالونکي يې دی، رضا لاسته راوړل دي.

د ژوند د مختليفو اړخونو لپاره د هدفونو ټاکني: ځوانه پام کوه، چي ځان په بې هدفه کارونو روږد نه کړې، ځکه ځان د ماشوم خاصيت لري، په څه چي دي روږد کړ، بيا يې نه سې پريښولای، هر کار کول چي غواړې بايد څه موخي ورته وټاکې، د هغو د تحقق لپاره مهال ويش جوړ کړې، او بيا وګوره چي څومره اهداف دي لاسته راوړي دي، کله چي ځان په داسي ډول منظم ژوند روږد کړې، پخپله د ګډوډۍ مخه نيول کيږي، او د ژوند هره شيبه ګټوره تيريږي. د هدفونو د ټاکني په وخت کي بايد موجوده او راتلوونکي وسائل په نظر کي ونيول سي، او د هغو په اندول پلان جوړ سي، هسي نه چي اهداف ستر او وسائل يې په پرتله ډير لږ وي، د وسائلو او امکاناتو د ضايع او عبث پاتي کيدو څخه به هم ډډه وسي، او د هغه په پرتله د کوچنيو هدفونو لپاره کار کول هم مناسب نه دی، په هر وخت کي د وسائلو او هدفونو تر منځ ښه پرتله اړينه ده.

د هدف د لاسته راوړني لپاره کافي وخت درلودل په کار دی، ځکه د وخت کموالی هم د هدف تحقق ناشونی کوي، همدارنګه د اړتيا څخه ډير وخت يو کار ته ورکول سره له دې چي د هغه څخه په لږ وخت کي يې کول ممکن وي، د وخت آرزښت او آهميت پيژندل د بريالیتوب په لاره کي لومړی ستر قدم شميرل کيږي، او په دې سره کولای سو د تيرو ضايع سويو وختونو تاوان يې کم کړو، د وخت زيان د پيسو او مال د زيان څخه ډير دی، چي جبر کول يې ناشونی دی، د کوم هدف لپاره چي کار کوې، بايد مشروع او روا وي، مشروع هدفونه ډير دي، هيڅکله بايد د ناروا هدف لپاره کار ونه کړو، کيدای سي داسي هدفونه هم وي چي انسان ځان ته ظاهري ګټه په کښي ويني، مګر د الله سبحانه وتعالی په وړاندي ناروا او باطل وي، انسان چي کله د الله سبحانه وتعالی د دين په سوري او د وحيي په رڼا کي ژوند تير کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه کولای سي د مځکي د آبادۍ، د ځان او بشریت د نیکمرغۍ او سوکالۍ لپاره کار وکړي، او د الله سبحانه وتعالی رضا لاسته راوړي، مګر هغه زړه چي د محمدي رسالت په رڼا نه وي روښانه سوی، تل په دنیا کي د ورانکارۍ فساد او ځوروني کارونه کوي، هدف باید څرګند او ټاکل سوی وي، نامعلوم هدف ته رسیدل ناممکن دي، هدف باید داسي څرګند وي، لکه لاسته راوړل سوی چي وي، ددې لپاره یې هر اړخیز فکر کړی وي، او پلان یې سنجول سوی وي، د هدف د لاسته راوړني لپاره باید عملي پلان جوړ سي، که هدف هر څومره ستر، سپیڅلی، ممکن او ټاکل سوی وي، مګر تر څو چي منظم پلان نه وي ورته جوړ سوی، یوازي هڅي، افکار او هیلي به پاته وي، همدا راز د زیارکښو انسانانو او هغو کسانو چي هر څه ورته سر سري او بې ځایه ښکاري لوی توپیر دی، د تصمیم او پیاوړي ارادې په پایله کي د هدف د تحقق په لاره کي ټول خنډونه له منځه تلای سي.

هغه څوک چي نن او سبا کوي تصمیم نه لري، هدفونه یې تل خیالونه وي او د ثمر مرحلي ته نه رسیږي، ځکه دوی ددې لپاره یو قدم هم پر مخ نه ځي، د پلان جوړوني د اړتیاوو پوره کوني او د وخت د ټاکني څخه وروسته د نوموړي پلان د پلي کولو لوري او د څارني د لوري ټاکنه هدف ته د رسیدو لپاره اړینه ده، کیدای سي دواړه کارونه تنفیذ او څارنه یو جهت په غاړه واخلي، کیدای سي انسان د عملي کار په پایله کي د ډیرو ستونزو او لاینحل مشکلاتو سره مخامخ سي، مګر په پلان کي د جُزي بدلون راوستولو سره کار پر مخ تلای سي، او اساسي هدف ته مو رسوي، نو باید له مخکي څخه ددې لپاره تیاري ولرې، هدف ته د رسیدني لپاره باید کلک هوډ ولرې، او د کار د شروع څخه وروسته هیڅ ډول مایوسۍ ته په زړه کي ځای ورنه کړې، ډیر سخت کارونه د پیاوړي هوډ په پایله کي آسانه او سرته رسیږي، او آسانه کارونه د تردد او زړه نا زړه توب د امله ناشوني کیږي.

هغه هدف چي د لاسته راوړني کوښښ یې کیږي، باید اړین، د نورو څخه ښه او د لومړیتوب وړ وي، کله چي یو سړی یو هدف ته د رسیدو لپاره ټول شرائط برابر کړي، مګر دا هدف د یو بل هدف په مقابل کي اړین او د لومړیتوب وړ نه وي، د هدفونو په روڼولو کي ګډوډي د انسان ژوند په کوچنیو او نااړینو چارو کي اخته کوي، هغه کارونه چي ده او نورو ته یې په دنیا او اخرت کي ډیره ګټه رسیږي، د پاته کیدو او وروسته والي قرباني کیږي، انسان باید د موخو په ټاکنه کي د لوړ مورال او لوی هوډ څښتن وي، ځکه ژوند شمیرلي ورځي دی او فرصتونه هم نه تکراریږي، په کوچنیو او بې ګټي هدفونو خپل ژوند تیرونه انسان زیانمن، د لوړتیا او ترقۍ هسکو څوکو ته د رسیدني څخه پاته کوي، همدارنګه یو انسان خپل ژوند په لوبو او بیکارۍ کي تیروي، که چیري یې همدا وخت د الله سبحانه وتعالی په عبادت، ذکر، د کسب یادونه او بیوزلو سره په مرسته کي تیر کړ، ددې څخه به ګټور ورته تمام سي، مګر بې همتۍ، په لږ شي او وروسته پاته ژوند قناعت دې ته چمتو کړ، کله چي دي خپل لوی هدف

(c) ketabton.com: The Digital Library

وټاکئ او ټول شرائط ورته برابر سول، نو باید نوموړی هدف په څو کوچنیو برخو وویشې او د عملي پلان په پایله کي قدم په قدم په تدریجي ډول پر مخ ولاړ سې.

امام حسن بصري (رحمة الله علیه) وایي: زه ګمان نه کوم چي عمر بن عبدالعزیز (رحمة الله علیه) به خپل یو قدم هم بې هدفه او بې تصمیمه نه ایښوی.

سلمان فارسي (رحمة الله علیه) وایي: زه د خپلو کړو په څیر د خوب أجر هم د الله سبحانه وتعالی څخه غواړم، دا ځکه چي خوب کله هدفمن سي اجر لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه د بریالیتوب لومړی شرط د ځان اداره کول او پر ځان باور درلودل دي

ځیني هغه قواعد او ضوابط که انسان یې په خپل ژوند کې عملي کړي، واقعاً هغه د ځان قابو کولای سي. د الله سبحانه وتعالی د حقونو ورکړه او د الله سبحانه وتعالی څخه په هر څه کي مرسته وغواړه، که انسان خپل پالونکی د راحت په وخت کي وپیژني، پالونکی به یې د سختۍ په وخت کي مرسته وکړي. د الله سبحانه وتعالی اطاعت او بنده ګي په صداقت او ایمانداریَ سره وکړه، الله سبحانه وتعالی به دي د هري ستونزي په وخت کي مرسته وکړي. ځوانه ته د الله سبحانه وتعالی سره اوسه، الله سبحانه وتعالی به ستا سره وي، او هیڅکله به دي هڅي بې ځایه نه کړي، إن شاء الله. خپل فکر په هیله ډک کړه او د الله سبحانه وتعالی په امر د بریالیتوب هیله ولره، تل د خوشحالۍ زیرۍ پر خپل فکر او حس مسلط ساته، ځان په دې روږد کړه، چي د هر کار هدفونه او موخي دي عالي او روښانه وي، خپل ځان د ژوند د هر کار لپاره په منظم پلان جوړولو مکلف کړه، او کوښښ وکړه چي په چارو کي د ګډوډۍ او بې نظمۍ مخه ونیسي، زیار دي منظم کړه، د څرګند هدف لور ته پام واړوه او هدف ته د رسیدو په لاره کي د بې نظمۍ څخه ځان وژغوره، هدف ته د رسیدو پروګرام دي په عملي ډګر کي شروع کړه.

د بې کارۍ او سستۍ څخه ډډه وکړه، د خپل وخت د بې ځایه کیدو څخه ځان وساته، د وخت ضایع د ژوند ضایع ده، کوښښ وکړه چي هره ورځ د خپل هدف لور ته قدم واخلې، څوک چي په لاره ځي هرومرو رسیږي، خپل عقاید او ایډیالوژي د هر څه څخه آرزښتناکه او هر کار د هغې پر محور وڅرخوه، او که داسي دي ونه کړل، نور ژر ده چي ځان سپک او بې معنا درته ښکاره سي، که څه هم نور خلګ دي درناوۍ او ستاینه هم وکړي، د منافقت څخه په هر څه کي ځان وساته، په صداقت او ادب سره د حق ویلو زیار وباسه، په دوو لارو کي د حق او باطل تر منځ د پریکړي کولو ځواک په ځان کي پیدا کړه، د خپلو چارو پایلي په میړانه، صبر، ثبات، حوصله او مسؤلیت سره قبولي کړه، د مصیبت اجر د الله سبحانه وتعالی څخه وغواړه، په دې پوه سه چي هر څه د الله سبحانه وتعالی له طرفه دي.

برخلیکونه لیکل سوي دي، د ډیر شکایت او غصې څخه ځان وژغوره، ځکه دا د کمزورو خلګو صفات دي، صابرانو ته الله سبحانه وتعالی بې حسابه اجر ورکوي، خپل شخصیت دي د هینداري په څیر مه روښانه کوه، چي دننه هر څه هر چا ته ځیني ښکاره وي، په ژوند کي ډیر بې کاره او مضر خلګ سته، خپل ځان د اسرارو په ساتنه روږد کړه، هر چا ته د خپلو افکارو او اسرارو د ښکاره کولو څخه ډډه وکړه، په سختو حالاتو کي پر خپل ځان قابو ولره، خبري په احتیاط وکړه، هر څه ته ښه فکر او سوچ وکړه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څوک چي په بشري ټولنه کي تر ټولو د لوړ مقام څښتن دی، سیرت یې د خپلي لاري مشال وګرځوه، د ژوند په هر اړخ کي چي اړتیا وي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د پاک سیرت په چوکاټ کي حل ورته سته، نو ددې لپاره تل د نبوي سیرت مطالعه او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د ژوند د طریقو لټون وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غيري ضروري شيانو څخه ځان وساته، خپلو هدفونو ته د رسيدو لپاره اړين شيان واخله، اوړي دي مه درنوه، ځوک چي د خپلو خواهشاتو غلامي کوي، هغه ته يې پريښوول مشکل وي او تل د کمزوري ارادې او ټيټې همت څښتن وي. په هر انسان کي د ځواکمنتيا او کمزورۍ صفات سته، ته پخپله د نورو څخه خپل ځان ښه پيژنې، که د عناد، کبر او ناپوهۍ څخه کار وانه خلې، عاقل هغه دی چي د ځواک په صفاتو ترکيز وکړي او د کمزورۍ د صفاتو څخه ځان ليري کړي. خپل کارونه دي د ژمنو په ليکلو او پر هغوی باندي په پابندۍ منظم کړه او د مراعات هڅه يې وکړه، همدارنګه په خپل کور، کتابتون او لار کي دي ټول شيان داسي ترتيب او تنظيم کړه، چي استعمال يې درته آسان وي، د مهمو چارو څخه د ساتيري او لوبو لور ته د خپل ځان د تيښتي واګي راټينګي کړه، په ياد ولره کارونه د وختونو څخه ډير دي، زيار وباسه چي په کوچنيو او بې آرزښته کارونو کي يې تير نه کړې، بلکي هر وخت سترو او آرزښتناکو کارونو ته لومړيتوب ورکوه.

د خير په چارو کي بيړه او هڅه خپل شعار وګرځوه، څه چي تير سوه بيرته نه راګرځي، په ژوند کي انتظار او لټی ته ځای نسته، که په خپلو عادتونو کي دي د خپل پرمختګ خنډ وليد هغه له منځه يو سه، عادتونو ته پر ځان قابو مه ورکوه، يوازي د ګټور شي او حق پلوي کوه، روږدوالی دې ته وايي چي انسان يې بې فکره او بې تکليفه هر وخت تکراروي، عادتونه لاسته راوړل کيږي، نو ددې لپاره يې بدلون د اړتيا پر مهال شونی دی، د ټينګ تصميم په توسط ډير ژر کيدای سي، انسان کولای سي په ښو او ګټورو چارو او يا هم په فساد، بې کارۍ او لټی خپل ځان روږد کړي، او خپل عادت يې وګرځوي، په دې کي شک نسته چي انسان د خپل ژوند په اوږدو کي د خوښو او ناخوښو دريځونو، موافقو او مخالفو خلګو سره مخامخ کيږي، نيوکه د موخو د اختلاف له امله مختلفي بڼې لري، چي د ملګري، دوښمن، نږدې او ليري وګړو څخه صادريږي، انسان ته په کار دي چي خپل ځان په زغم، لويه سينه، صبر او په کوچنيو خبرو غصه نه کولو روږد کړي، کله چي په غصه کيږي، نو خپل ځان دي قابو کړي، که داسي ونه کړي د بل څخه به مخکي ځان ته زيان ورسوي.

د خلګو په زړونو کي به د ځان سره کرکه پيدا کړې، د نورو د فکر د آزادۍ د مخنيوي د امله به لوی ټولنيز زيان رامنځته کړي، په ژوند کي د برياليتوب لومړی شرط د ځان اداره او د خپل نفس سره په ښه توګه چلند کول دي، هغه ځوک چي د ځان په قابو او اداره کي ناکام سي، هغه غالباً د دنيوي او أخروي ناکامۍ سره مخامخ کيږي، دا بدلون کله ښه اړخ ته او کله هم ناوړه اړخ ته وي، کله موږ ته داسي ښکاري چي ځيني خلګ د ځان په قابو کولو کي د ناکامۍ سره سره برياليي دي، مګر دا يو وهم او غلطه خبره ده، ښکاره يو څه او د پردې تر شا بل څه دي، د لږ ټکان په پايله کي بيا حقيقت ښکاره سي او د برياليتوب هيڅ نښه نه وي، بلکي بدمرغي، پريشاني او ذلت ورسره مل وي، که څه هم لږ موده د زړه وړونکو منصبونو، عليشانو وسايلو او د لوی دولت څښتنان وي. خپل ځان څنګه قابو کولای سو؟ انسان ته ډير سخت کار د خپل نفس سره مبارزه، ناوړه عادتونه بدلول او پر ځای يې ښه اخلاق، نيک

(c) ketabton.com: The Digital Library

عادتونه او ښه صفتونه پیدا کول دي، د انسان هر شخصي سلوک او اخلاقي وضعیت هرومرو نفسي انګیزه لري، ددې لپاره چي انسان خپل سلوک، اخلاق او کړني قابو کړي، باید لومړی نفسي انګیزو ته پام واړوي او د سمون کوښښ یې وکړي، او که غواړی چي د ښو اخلاقو او نیکو صفاتو څښتن سی، نو باید خپلي نفسي غوښتني او انګیزې اصلاح او د خپلو هدفونو خوا ته یې وهڅوی، دا په ریښتیا یو سخت او درونډ کار دی، ځکه چي دا خپل نفسي، سلوکي او اخلاقي جوړښتونه بدلول دي، نفس تل د واقعیت د بدلون سره مقابله کوي، او کله چي دا واقعیت د عقیدې، فکر، قلبي او بدني لذت او یا منل سوي عادتونو سره تړاو ولري، نو ددې لپاره باید هغه بنسټونه چي دغه اخلاق، سلوک او عادتونه پر ولاړ وي بدل سي، په کوښښ، ټینګار او د عقلي قناعتونو په بدلون او پرله پسې کار کولو سره کولای سو، چي د خپل نفس واک په لاس کي واخلو، او کوم پلو ته چي غواړو هماغسي یې په آسانۍ سره سوق او توجیه کړو، پر خپل ځان دي خپله داخلي څارنه وګوماره، چي د اخلاقو سلوکیاتو او عادتونو څارنه دي وکړي، د خپلو ځانونو سره حساب وکړئ، مخکي له دې چي حساب در سره وسي او خپل عملونه وتلئ، مخکي له دې چي هغه وتلل سي.

ځیني هغه حالات چي انسان د خپل ځان قابو کول په کښي د لاسه ورکوي، د انسان لپاره په ژوند کي ډېره ستره ستونزه خپل ځان د قابو څخه وتل دي، په نفسي غوښتنو او خواهشاتو پسي تلل او عقل د هغوی تابع کول دي، خپل ایماني ځواک ته وده ورکړه، د ایمان پواسطه انسان کولای سي چي د ژوند سفر په سلامتیا سره ترسره کړي، ایمان په اطاعت سره ډېرېږي او په ګناه سره کمزوری کیږي، پر ځان د وس څخه ډېر بار مه اچوه، د پروګرام لپاره دي خپل وخت، وسائل او حالات په نظر کي هرومرو ونیسه، که داسي دي ونه کړل په خپل کار دي د ناکامی او پر ځان دي د بدمرغی پریکړه وکړه، زیار وباسه چي خپل پروګرام د آرزښت پر بنسټ ترتیب کړې، داسي ونه سي چي غیري ضروري مخکي کړې، په نني متمدن ژوند کي د چارو ډېروالی انسان حیرانوي، چي په کوم یو پیل وکړي، مګر که مهم یا هغه کار چي په وروسته کیدو د لاسه وځي مخته سي، هیڅکله به د ګډوډۍ سره مخامخ نه سې، د ځینو لوړ همتو په څیر یوازي ناکامیو ته مه ګوره.

بلکي د بریالیتوبونو اړخ ته ډېر پاملرنه وکړه او د الله سبحانه وتعالی شکر پر ځای کړه، ځکه بیله دې انسان د مایوسۍ او ناهیلۍ سره مخامخ کیږي او دا لویه ګناه ګڼل کیږي، کوښښ وکړه چي ځان ته دي هم حق ورکړه، د ځان حق هیر نه کړې، بلکي دا د خپل پروګرام یوه برخه وشمیره، هیڅکله یې د پریښوولو فکر ونه کړې، پر ځان باور لرل په ژوند کي د بریالیتوب لار ده، خپل ځان کمزوری ګڼل، خپل وسائل کم ګڼل، په کار کي د ډاډ نشتوالی او ناهیلي د ناکامۍ څخه بله پایله نه لري، د همدې منفي فکر له امله ډېر استعدادونه او وسائل چي ډېر څه کولای سي بې ګټي د لاسه وتلي دي، په ژوند کي منفي فکرونه افکار په اخلاقو، سلوک، عادت، دود او خبرو کي څرګندیږي، په خپل ژوند کي ټول منفي افکار او صفات په نښه کړه، هر منفي فکر او صفت جلا کړه، د هر یوه په هکله ژور فکر وکړه لامل او حقیقت یې وګوره.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل فکر دي په ژور انداز سره په يوې مثبتې پيښې پورې وتړه، غور په کښې وکړه، انسان بايد په خپل ژوند کې کار وکړي، ژوند د لنډوالي سره سره د وګړو او ملتونو تر منځ د سيالۍ ډګر دی، هوښيار هغه څوک دی چې دا حقيقت يې درک کړی وي، خپل ځواک او صلاحيت يې په ښه طريقه د ښه توليد او ورکړې لپاره په کار اچولی وي، کيدای سي چې کار ماموريت، کسب، سوداګري او داسي نور... وي، د هر يوه لپاره د برياليتوب ځانګړي شرطونه دي، د الله سبحانه وتعالی څخه وبيريږه، حلال وخوره، او په ياد ولره هره غوښنه چې په حرامه رازرغونه سي په اور به خامخا سوځي، کار دي بايد روا وي، په صداقت او امانتدارۍ سره يې د ترسره کولو کوښښ وکړه، د وخت د عبث کيدو څخه ډډه وکړه، ځکه دا په هر کار کې د ناکامی لامل ګرځي، د علمي او تخنيکي وسايلو د پرمختګ څخه د استفادې پواسطه د خپل استعداد، صلاحيت او توليدي قدرت زياتوالی او ښه والی مه هيروه، د لټۍ او د کارونو د وروسته کولو څخه ډډه وکړه، هر کار په خپل وخت کې سرته ورسوه، خپلي دندي او مسؤليتونه بيله بيري او تشويش اجراء کوه، دا په هر کار کې چې کول يې غواړې د برياليتوب لومړی شرط دی.

په ژوند کې د منفي اړخونو او د چارو د ځنډ مخه نيول: په کافي اندازه خوب کول، چې اسراف په کښې نه وي، سهار وختي کار شروع کول. د سهار لمونځ په خپل وخت په جماعت سره ادا کول. سهار وختي ذکر کول، ځکه دا ستا د ورځې د نيکمرغۍ کيلي ده. خپل ورځني پروګرامونه په آرامو اعصابو جوړول، کوښښ کول تر څو پروګرام د په زړه پوري شيانو په کښې ځای پر ځای کول، د کور څخه د وتلو پر مهال دعاء کول، د ورځې پروګرام د ورځې تر پای پورې سرته رسول، تر څو سبا ته پاته نه سي، کور ته د بيرته راستنيدو پر مهال د خپل فاميل د حال او احوالو اخيستل، که څه سوغاتونه وي، دا بيا يو په زړه پوري کار دی، که چا په دې ورځ کې څه برياليتوب لاسته راوړی وي، هغه ته مکافات ورکول، په خپل پروګرام کې د استراحت او سياحت لپاره وخت ورکول، که څه هم لږ وي، خپلو خپلوانو، ملګرو سره په ټولنيزو مناسباتو کې په مناسبه طريقه ګډون کول.

په ژوند کې د ګډوډۍ مخنيوی کول: ژوند ته ښه په ځير د زړه په سترګو وګوره او دا يقين ولره چې په دنيا کې کمال نسته، مګر هغه څه چې ښه والی يې په نيمګړتيا پورته وي د ژوند هدف دی او د لاسته راوړلو هڅه يې کيږي، دا تل په ياد ولره ستا مسؤليت او ستا څخه غوښتنه يوازې د کار او د موجوده وسائلو په کار اچول دي او پايلي يې د الله سبحانه وتعالی په بيلاکيفه لاس کې دي، د مشرانو تاريخ مطالعه کړه، د هغوی پر ژوند ځيرنه وکړه، دا به درته معلومه سي، چې ټول برياليتوبونه نه، بلکي ناکامی او نيمګرتياوي هم ورسره مل دي، په خپل ځان کې د ځواک او کمال صفتونه په نښه کړه، څو د الله سبحانه وتعالی ځيني نعمتونه درته معلوم سي، چې په تا کې د کمزورۍ او نيمګړتيا پرته ښه صفات هم سته، هغه فعاليتونه در په ياد کړه، چې ښه برياليتوب دي لاسته په کښې راوړی وي، هر کله چې د ناهيلۍ او کمزورۍ احساس درته کيدی هغه برياليتوبونه در په يادوه، که چيري لوړ مقام ته ځان رسول غواړې کار وکړه، او زيار وباسه، دريدل او انتظار هدف ته د رسيدو لاره نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل عقل په کار واچوه، په دې کې فکر وکړه چې یا به کار کوې، هر کار چې وې او یا به هیڅ نه کوې، نو بیا وګوره چې په دواړو کې به کومه لاره ښه وي؟ دریمه لاره دې مخکې نسته، که کله هم په ځیني چارو کې د ناکامۍ سره مخامخ سوې، د هر مصیبت اجر د الله سبحانه وتعالی څخه وغواړه، او د خپلو ګناهونو د بخښني غوښتنه ځیني وکړه، بیا په ډېر ډاډ او آرامۍ سره د ناکامۍ په لاملونو کې غور وکړه، که چیري دې د بل کار د پیل عزم ونه کړی، بیا د هماغه کار د کولو کوښښ وکړه، ذهني ګډوډۍ سره ډېر خلګ مخامخ دي، د عمر د ډیریدو او د ژوند د ستونزو د زیاتیدو له امله دا مسئاله نوره هم ډیریدای سي، دا ستونزه انساني ځواک چې عقل او فکر دي له منځه وړي، ددې ستونزي د حل لپاره باید لومړی ددې د لاملونو لټون وسي، ځیني هغه افکار او لاري چې د ذهني ګډوډۍ په مخنیوي، او په خپل ځان کي د ذهني ترکیز لپاره مرسته کولای سي، هر هغه څه چې ذهن ګډوډوي او پر فکر ناوړه اغیزه کوي د ځانه لیري کړه.

کوښښ وکړه چي د ژوند په موجوده شیبو کي ژوند وکړي، تیر او راتلوونکې هیر کړې، څه چي تیر سول، هغه هیر سول، راتلوونکې نامعلومه دی تا ته یوازې همدا شیبې دي چي په کښي اوسیږې، که د لټۍ احساس دي وکړ ځای بدل کړه، لږ حرکت وکړه، مخکي له دې چي فکر او کار پیل کړې، ځان ته مناسب آرام او استراحت ورکړه، انسان د محدود او ټاکلي ځواک څښتن دی، نه سي کولای چي د هغه څخه ډېر ځواک په کار واچوي او یا د هغه څخه ډېر څه په غاړه واخلي، مګر ځیني خلګ د فرصت څخه د استفادې په نامه او یا د ډیري لوړ همتۍ له امله دومره کارونو ته اوږه ورکوي، چي د وس او ځواک څخه یې بهر وي، نو له دې امله په خفګان، ګډوډۍ، ستړیا او بې حوصله توب اخته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه ځانګړتیاوي دي وپيژنه

مسلمان ځوان بايد تل په خپل اسلامي هويت وویاړي او ددې هڅه وکړي، تر څو ریښتینی مسلمان سي، د زړه له تله د قرآن کريم تلاوت وکړي، په لوړو معناګانو کي يې فکر وکړي، تر څو قرآني حکمتونه تر لاسه کړي، زړه راکښوونکي وعظونه او پندونه يې عملي کړي، مسلمان ځوان يوازي بايد پر الله سبحانه وتعالى ايمان ولري، د شرک او شرک ته ورته کارونو څخه ځان وژغوري، د زړه له تله د الله سبحانه وتعالى په يووالي باور ولري، او ووايي: يوازي همدغه الله (جل جلاله) د نړۍ واکداره دی، پرته د الله (جل جلاله) څخه بل هيڅوک ګټه او تاوان رسوونکی نسته، او په همدې پياوړي عقيدې سره ځان د ناسمو خيالونو څخه راوباسي. د ستونزو په وړاندي بې پروا مخته ولاړ سي، د خپلي مبارزي تګلاري خطرات زغملای سي، دعوت او مبارزې ته په مينه ورودانګي، مسلمان ځوان د نبوي سپيڅلي سيرت زده کړي بايد وکړي، په دې لاره کي خپل وروستۍ کوښښ دي نه دريغوي، تر څو د نبوي ژوند ريښتيني بڼه خپله کړي، نبوي سيرت د خپل ژوند تګلاره وګرځوي.

په حکمتونو يې ځان وپوهوي، د نبوي کړنو وروستۍ پايلي وڅيړي، د هر ګام او اقدام کلکو موخو ته يې متوجه سي، تر څو وپوهيږي چي دا کړني پرته د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) څخه د بل چا څخه نه څرګنديږي، که څه هم بل څوک د لوړ عقل، تيزي پوهي او لوړي ځيرکتيا څخه برخمن وي، او کلونو کلونه يې ددې لپاره نه ستړي کيدونکي هڅي کړي وي، مسلمان ځوان بايد د الله سبحانه وتعالى هر امر ته په ورين تندي ښه راغلاست ووايي، د الله سبحانه وتعالى عبادت ته په هر ځای او هر وخت کي ژمن وي، پنځه (۵) وخته لمونځ په ويښ زړه سره اداء کړي، د بې باکه ځوانانو تر اغيزي لاندي هيڅ کله را نه سي، د هغوی تمسخر او خندا ته هيڅ آرزښت ورنه کړي، دا خو د ضعيف ايمانه ځوانانو کار دی چي تل د نورو تر اغيزي لاندي راځي، مسلمان ځوان بايد په خپل دين وویاړي، د خپل دين څخه دفاع وکړي، په منطقي او د حکمت څخه په ډکو دلايلو د دين د دوښمنانو جواب ووايي.

مسلمان ځوان هر کله د خير ښيګڼي عمر غواړي، د بدمرغۍ لوري ته په تلو د خپل ژوند د پای غوښتنه کوي، تل په دې هڅه کي وي تر څو د ژوند يوه ګړۍ يې هم بې ځايه او بې ګټي تير نه سي، علم او پوهه تر لاسه کړي او صالح عملونه ترسره کړي، مسلمان ځوان ته چي کله کوم کار ورسپارل کيږي، نو په پوره امانتدارۍ يې سرته رسوي، ځکه دی په دې پوهيږي چي خلګ د کار په ښه ترسره کولو سره عزت تر لاسه کوي، مسلمان ځوان خپل مسؤليت په ښه توګه پيژني او ددې احساس کوي چي ورته سپارل سوی امانت د هغه چا په وړاندي ترسره کوي چي پر مځکه او آسمان که هيڅ شی د ده د علم څخه نه سي پټيدای، مسلمان ځوان بايد د الهي نور په وړانګو مخ په وړاندي ولاړ سي، د دوښمنانو د تقليد هڅه ونه کړي، خپل اسلامي لباس، عادات رواجونه ورته محترم واوسي، د نورو عادات او رواجونه پرته له کوم مصلحت څخه پلي نه کړي، مسلمان ځوان بايد د شريعت احکام د خپلي خوښي سره سم تعبيروي نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شریعت د ځان تابع ونه ګرځوي، بلکي دا عقیده ولري چي دی د شریعت تابع دی، مسلمان ځوان د ملحدینو مجلسونو ته ورنه سي، د بې باکه غیرو مسلمانو په ناستو کي ګډون ونه کړي، ځکه د ده زړه په ایمان سره ژوندی دی، د دین په وړاندي هره خبره یې ځوروي، او دا خو د تاریخ په اوږدو کي څرګنده ده چي کفار او مشرکین ددې کوښښ کوي، تر څو مسلمانان په خپلو ناستو کي وځوروي، که په صراحت سره نه وي نو رمزونه او کنایې خو خامخا وایي چي منل یې سخت دي، مسلمان ځوان د اسلام په رڼا کي د بخښني لوی لاس لري، د خلګو په اصلاح کي پوره هڅه کوي، د ښکلو اسلامي اخلاقو نمونه وي، کله چي د کومي علمي راکړي ورکړي خبره یادیږي د خپل دین په ریښتینو حقایقو بسنه کوي، او د دین په ښکاره دلایلو سره پر هغو دلیل راوړي، د سختو او بې معنا خبرو څخه په کلکه ځان ژغوري، تر څو د قهر او غوصې سره مخ نه سي، ځکه ډیري نرمي خبري د حق د منلو لامل ګرځي، منکر لوري ته د تدبیر او فکر وخت ورکوي، او را غواړي یې، تر څو دلایل د سره یو ځل بیا وڅیړي، کله نا کله د مصلحت له مخي کیدای سي مسلمان ځوان چوپتیا غوره کړي.

که څه هم خبره یې حق وي، مګر که چیري څه وایي باید حق ووایي، ریښتني خبري تل د راتلوونکي لپاره په انسانانو کي روحي ځواک رامنځته کوي، مسلمان ځوان باید خلګو ته د مال او منصب له مخي قدر او عزت ورنه کړي، هغه خلګ غوره دي چي د سالم عقل څښتنان وي، پاکه ماضي ولري، د علم او پوهي څښتنان وي، مسلمان ځوان باید د خپلو دنیوي ستونزو د حل لپاره د حلال مال د پیدا کولو لپاره هڅه وکړي، ځان هیڅکله هم د نورو پر اوږو بار نه کړي، په کار باندي ونه شرمیږي، مسلمان ځوان نه غواړي د الله سبحانه وتعالی ورکړی وقار یې بل ته په احتیاج کي له منځه ولاړ سي، پر الله سبحانه وتعالی توکل ولري، خپل عزت ته درناوی کوي او دا عزت پر ټوله دنیا نه ورکوي، بالاخره مسلمان ځوان باید کله چي د شریعت خلاف کار وویني مخنیوی یې وکړي، کله چي د شریعت سره سم د خیر ښیګڼي کار ووینې درناوی یې وکړي او تایید یې کړي، د اسلام د دین د امر بالمعروف او نهی عن المنکر کار تر یوه ځانګړي ټولۍ پوري خاص نه دی، بلکي هر هغه څوک چي د خیر کار پیژني نورو ته یې ښوول شرعاً واجب دي، او هر هغه څوک چي ناروا کار پیژني مخنیوی یې پرې واجب دی، خپل ځان او نور باید ځیني منع کړي، مسلمانان دا مسؤلیت لري تر څو خپل مسلمان ورور د جهنم د اور څخه وژغوري.

۱:ـ د عبادت فضیلت: په ځوانۍ کي عبادت کول او ځواني په عبادت کي تیرول د پیغمبرانو (علهیم السلام) عادت وو، په ځوانۍ کي د عبادت ثواب او اجر ډیر دی، تر دې پوري چي په ځوانۍ کي عبادت کوونکي به د قیامت په ورځ د الله سبحانه وتعالی د عرش د سیوري لاندي ناست وي. هغه حال لږ در په یاد کړه، کله چي ټول انسانان لڅ د الله سبحانه وتعالی د فیصلې په انتظار وي، او الله سبحانه وتعالی د خپل شان موافق پر عرش باندي وي، هیچا ته د خپل ځای څخه د حرکت اجازه نه وي، ټول د حساب کتاب په انتظار کي وي، د ګرمو سکروټو په شان پر ګرمه مځکه ولاړ وي، نه به ابادي وي نه ونه، نه به سیوری وي، په همدې حالت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي به ځيني نيکبخته کسان د الله سبحانه وتعالی د عرش تر سيوري لاندي په ډير ښه حال کي ناست وي، نه به ګرمي وي نه به لمر، بلکي پټ او ښکاره دواړه به په اطمينان کي وي، دا خلګ به ځومره خوشحاله وي، په دې خلګو کي به هغه ځوان هم وي، چا چي د خپل نفس غوښتني تر پښو لاندي کړي وي او خپله ځواني يې د خپل رب په عبادت کي تيره کړې وي، خپل عمر او ځواني يې د خپلو نفسي غوښتنو په منلو کي نه وي برباد کړې، بلکي د الله سبحانه وتعالی په خوشحالولو کي يې تيره کړې وي. ځوانه د قيامت نه ختميدونکې ژوند د دنيا له منځه تلوونکي ژوند په بدله کي مه ضايع کوه، نن دا لږ ژوند د الله سبحانه وتعالی د حکمونو موافق تير کړه، تر څو چي سبا دي په نه ختميدونکي ژوند کي نعمتونه او راحتونه په برخه سي.

امام ابن حجر (رحمة الله عليه) وايي: ځوان يې ځکه په ځانګړي ډول ذکر کړ، په ځوانۍ کي د شهوت غلبه ډيره وي، د نفسي غوښتنو قوت زورور وي، چي له امله يې عبادت ګران کار وي، نو په ځوانۍ کي عبادت کول ددې نښه ده، چي ددې انسان تقوا پر خواهشاتو برلاسي ده.

۲:ـ د الله سبحانه وتعالی د رحمت څخه نه نااُميده کيدل: ايمان د اُميد او بيري تر منځ ساتل کيږي، بيره د الله سبحانه وتعالی د عذاب څخه او اُميد د الله سبحانه وتعالی د رحمت او بخشش څخه، که انسان يوازي بيره کوونکی سي او د الله سبحانه وتعالی د رحمت او مغفرت هيڅ اُميد ورسره نه وي، نو له دې امله انسان ګمراه کيدای سي، او فکر به کوي هسي هم د بخښني څه اُميد نسته، نو څه چي دي خوښه وي هغه کوه، که بې بيري سي او فقط اُميد کوونکی سي، نو دا هم د خطر څخه ډک کار دی، چي څه کوې هغه کوه، الله سبحانه وتعالی غفور او رحيم ذات دی، الله سبحانه وتعالی به بخښنه وکړي، بيره به هم کوې او نااُميد کيږه به هم نه، بيره به دي د ګناهونو څخه وساتي، او اُميد به دي د الله سبحانه وتعالی د رحمت او مغفرت طلب کوونکی کړي.

د کوم ځوان په زړه کي چي اُميد او بيره دواړه يو ځای سوی وو، معلومه خبره ده چي اُميد خو د عبادت پرته نه رامنځته کيږي، خامخا هغه به يو عبادت کوونکی ځوان وي، او د خپل عبادت په وجه به يې دا اُميد لري، چي الله سبحانه وتعالی به په خپل رحمت کي ځای ورکړي، مګر ددې سره بې بيري هم نه وي، چي خامخا به د هغه عبادت قبليږي او نه به دغه ځوان خپل ځان د ګناه څخه پاک ګڼي، له همدې امله د هغه په زړه کي به بيره وي، هسي نه چي د ګناه په وجه هغه ونه نيول سي، مرګ خامخا راځي، مګر وخت يې معلوم نه دی، ماشوم، لوی، ځوان، سپين ږيری، سړی، ښځه، مالدار، غريب بلکي ټول مري، نو آيا د دغه ناڅاپي راتلوونکي شي لپاره تياری نه دی په کار؟ آيا کوم ځوان اُميد او بيره د مرګ لپاره د توبې په ډول تياروي؟ په کار ده چي ځوان هغه عبادت د ځان لپاره توښه وګرځوي، د کوم په نتيجه کي چي اُميد او بيره پيدا کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳:ـ د مشرانو عزت کول: په اسلام کي د ټولني د بيلا بيلو مرحلو خلګ د يو بل سره د اړيکو ساتلو لپاره لارښووني سوي دي، کشرانو ته د لويانو د عزت کولو حکم سوی دی، او لويانو ته پر کشرانو د شفقت او مهربانۍ آمر سوی دی، د علماؤو احترام کول، پر يو بل سلام کول، د خبرو اترو د ادابو لحاظ ساتل، او د غلطۍ په وخت کي د معافۍ کولو لارښووني سوي دي، په دغه ډول په قرآن کريم او سنت کي د ټولو هغه کارونو څخه د ډډي کولو حکم سوی دی، کوم چي په ټولنه کي د فساد او اختلاف لامل کيږي، د يوې مسلماني ټولني د پر ځای ساتلو لپاره پر دې عمل کول ضروري دي، نن ورځ د دغه اسلامي لارښوونو څخه د سر غړوني له امله په اسلامي ټولنو کي بيلا بيل فسادونه خپاره سوي دي، د بې اتفاقۍ، بدګمانۍ او بې امنيتۍ لامل هم دغه دي.

د ټولني د بيلا بيلو مرحلو په لحاظ ساتلو سره په ځوانانو باندي د خپلو مشرانو احترام لازمي سوی دی، او د هغه ځوانانو فضيلت بيان سوی دی، څوک چي د مشرانو احترام او عزت کوي، که يو ځوان له دې امله د يو مشر عزت وکړي، چي د ده څخه په عمر کي لوی دی، نو يوه ورځ به خامخا داسي راسي چي دی به اړتيا لري او الله سبحانه وتعالی به د يو ځوان په ذريعه د ده عزت او خدمت وکړي، ځکه چي تا د چا سره څه رقم سلوک وکړ، هغه شان ستا سره کيږي، که چا د مشر بې عزتي وکړه، نو يو ورځ به د ده بې عزتي کيږي، او که چا د مشر عزت او احترام وکړ، نو د ده به هم عزت او احترام وکړل سي، که چا د خپل پلار سره بد چلند وکړی، نو سبا به د ده سره د ده زوی بد چلند وکړي، که چا د خپلي مور او پلار خيال ونه سانۍ، نو سبا به د ده زوی او لور د ده خيال ونه ساتي.

۴: د شکمن يعني د ګناه د ځای څخه ليري اوسيدل: د ګناه څخه ځان ساتل او تقوا اختيارول د هر مسلمان مسؤليت دی، مګر پر ځوانانو باندي دا مسؤليت د نور څخه ډير دی، ځکه چي د هغوی استعدادونه ډير دي، او د ګناه له امله د هغه صلاحيتونه ختميږي، صلاحيتونه د انسان سره د الله سبحانه وتعالی امانت دی او د ګناهونو له امله په دغه امانت کي خيانت کيږي، اسلام غواړي چي ځوانان خپل صلاحيتونه پر خپل ځان او د نورو په ګټه راولي، او د هر هغه شي څخه ځان وژغوري، چي د ده صلاحيتونو ته تاوان رسوي، چي په هغه کي ګناه هم شامله ده. اسلام د يوې ځانګړي ګناه يعني زنا د منع کولو پر ځای د هغې خوا ته د ورتګ څخه هم منع کړې ده، زنا نه کول او د زنا خوا ته نه نږدې کيدل، په دواړو کي لوی توپير دی. زنا ته د نږدې نه ورتللو مقصد دا دی: د هغه شي څخه هم ځان وساته کوم چي د زنا باعث کيږي، لکه: پردۍ ښځي ته کتل، مخلوط مجلسونه کول او داسي نور... ځکه چي دا زنا ته د نږدې کيدلو لاري دي، که دا لاري بندي سي، نو زنا په خپله له منځه ځي، مګر که دا لاري خلاصي وي، نو بيا په زنا کي واقع کيدل ګران کار نه دی. د ګناهونو وسيلې او لاري بندول ضروري دي، او دا ويل نه دي په کار چي په دې باندي هيڅ نه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه زموږ مخته د رسول الله (صلي الله عليه وسلم) او د صحابه کرامو (رضي الله عنهم) ژوند پروت دی، سره له دې چې هغوی د ټولو څخه غوره مخلوق وه، مګر بيا يې هم احتياط کوی، که د يو صحابي او صحابيې په زړه کي شيطان وسوسه اچولای سي، او د اسلام د پيغمبر دا بيره وي، چي کيدای سي ددې ځوان او پيغلي په زړه کي شيطان د ګناه وسوسه واچوي، نو د نن سبا په ځوانانو او پيغلو باندي څه باور کيږي. ځيني خلګ وايي: د ناوړه اړيکو د مخنيوي لپاره د نارينه وو او ښځو تر منځ د حجاب لازمول او په ټولنه کي د هغوی په ګډ ژوند باندي بنديز لګول په حقيقت کي د دوی په اخلاقو او سيرت باندي حمله کول دي، ځکه چي ددې څخه خو دا معلوميږي چي د ټولني ټول وګړي بد کاره دي او څوک يې دا رقم پابنديانی لګول غواړي، په حقيقت کي د هغوی په خپلو نارينه وو او ښځو باندي يقين نسته.

دا خبره خو په ښکاره معقوله ښکاري، مګر هر قلف چي دروازې ته لګول کيږي، ګويا دا ددې خبري اعلان دی، چي ددې دکان يا د کور څښتن ټولو خلګو ته غله وايي. کوم تدبيرونه چي د جُرم د مخنيوي لپاره کيږي، په هغو کي دا خبره شامله ده: ټول هغه خلګ په امکاني ډول مجُرمان ګڼل کيږي، پر چا چي د دغه تدبير اغيزه کيږي، ددې دليل په رڼا کي خو دغه دليل ويوونکو خلګو ته د غلو، خيانتګرو او بدمعاشانو په نظر ګوري، مګر د خپل عزت په معامله کي يې هيڅ پروا نسته، نو بيا ولي فقط په دغه يوه معامله کي احساسات دومره نازک سوي دي.

۵:ـ د پاک لمنۍ په خاطر واده کول: الله سبحانه وتعالی د واده پر کولو تاکيد کړی دی، او د ټولو هغه نارينه او ښځينه د واده حکم يې کړی دی، چي واده ته اړتيا لري، د واده چي کومي ګټي دي ټول قوم دي د هغه څخه برخمن سي، او د واده د نه کولو چي کوم نقصانونه دي ټول قوم دي د هغو څخه وساتل سي، ځکه هيڅ يو عقلمند انسان ددې څخه انکار نه سي کولای چي که چيري د جائز واده دروازه وتړل سي، نو د ټول قوم اخلاقي حالت خرابيږي. واده کول د هر اړخ څخه يو غوره کار دی، ځکه چي واده د انساني او حيواني فطرتونو غوښتني او د الله سبحانه وتعالی د قانون هدف پوره کوي، ددې امله ځوانانو ته په کار دي چي د خپل پيغمبر په نصيحت عمل وکړي، د خپلي پاک لمنۍ لپاره واده وکړي او خپل صلاحيتونه د ذهني کشمکش پر ځای د ټولني د سمون او جوړښت لپاره په کار واچوي، الله سبحانه وتعالی دي موږ او زموږ ځوانانو ورونو ته د اسلام ددې پيغام د پوهي او پرې د عمل کولو توفيق راکړي.

مولانا ظفر الدين وايي: واده کول د ټولني د سمون لامل کيږي، او د واده څخه سرغړونه، يا په هغه کي ورسته والی، يا د رسمونو او رواجونو له امله واده ګرانول په ټولنه کي د فساد لامل کيږي، ځکه خو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ځوانانو ته د واده کولو حکم کړی دی، تر څو د هغوی فطري غوښتني په سمه او شريعي توګه پوره سي. د واده له امله ځوان پاک لمنۍ کيږي او انسان د حرامو څخه ساتل کيږي، د نکاح دا تاکيدي حکم په مصلحت او حکمت باندي ايښوول سوی دی، ځکه چي د انسان په خټه کي جنسي ميلان پروت دی، چي د ځوانۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رسيدو وروسته د هغه نښاني ښکاره کيږي او کرار کرار ډيريږي، چي د غوښتني رنګ غوره کوي، په خوب او ويښه، ګرځيدو او راګرځيدو، ناسته او ولاړه، هر وخت کي همدغه يو احساس پر ځوان باندي غالبه او برلاسی وي، د زړه او عقل تر منځ هر وخت جنګ وي، د طبيعي بريدونو د مراعاتولو پرته خپله غوښتنه پوره کول غواړي، مګر عقل هغه سمبالوي، د عقل او طبيعت په دې جنګ کي کله عقل غالب وي او کله طبيعت برلاسی سي، د بې واده توب په زمانه کي په خاص ډول د ځوانی په ورځو او شپو کي همدا کشمکش جاري وي، مګر کله چي انسان واده وکړي او د نفسي غوښتنو د پوره کولو جائز لاره ورته پيدا سي، نو انسان د دغه کشمکش څخه خلاص سي، د دغه بې فائدې خيالونو څخه نجات ومومي، په ګټورو کارونو کي د وخت د لګولو موقع په لاس ورسي، آرام او اطمينان ور په برخه سي، او دا يو حقيقت دی کوم کار چي په سکون او اطمينان ترسره سي، هغه کار ګټور او د ښو پايلو لرونکی وي.

ددې حکمونو او لارښوونو څخه د اسلامي شريعت هدف دا دی: د جنسي پراګندګی ټولي لاري دي وتړل سي، نفسي غوښتني دي د واده په دائره کي بندي کړل سي، د دغه دائرې څخه دباندي چي څومره ممکن وي، جنسي فعاليتونه دي له منځه يوړل سي، او کومي غوښتني چي طبيعي دي د هغو د پوره کولو لپاره يو مرکز جوړ کړل سي، چي هغه مرکز د سړي لپاره خپله ښځه او د ښځي لپاره خپل خاوند دی، تر څو انسان د ټولو غيري طبيعي او په خپل لاس جوړي سوي ذهني پراګندګی او د کار د انتشار څخه وژغورل سي، په خپل ټول طاقت سره د ټولني خدمت وکړي، د صنفي محبت او جذابيت کومه ماده چي الله سبحانه وتعالی ددې کارخانې د چلولو لپاره په سړي او ښځي کي پيدا کړې ده، هغه د يوې کورنی په جوړښت کي مصرف کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه ستا څخه اسلام څه غواړي؟

اسلام ځوانانو ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، څرګنده ده چې اسلام د ټولو خلکو دين دی، پرته له دې څخه چې د چا قوم، جنس او عمر په نظر کې ونيسي، مګر ددې سره سره د اسلام سپيڅلي دين د ځوانانو دواړو جنسونو يعني نارينه او ښځې ته خاصه پاملرنه کړې ده، ځکه د ځوانۍ دور هغه وخت دی چې انسان يې په رارسيدو پياوړی کيږي، لوړ جسمي قوت تر لاسه کوي، شهوت او دنيا غوښتنه يې را برسيره کيږي، د دنيا سره يې زړه مښلي او د فاني دنيا غولوونکې څهره يې په همدې وخت کې خطاء باسي، حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) په ډيرو حديثونو کې د دغه شيطاني دور په اړه څرګندوني کړي دي، ځوانانو ته يې د لوړو اجرونو او ثوابونو ژمنه ورکړې ده، که چيري دوی د الله سبحانه وتعالى پر مستقيمه لار برابر د الله سبحانه وتعالى د دين خدمت وکړي، حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) د انسانانو د اوو (۷) غوره او بريالیو ټوليو په يادونه کې يو هم د ځوانانو ټولی يادوي، کوم چې د الله سبحانه وتعالى د عرش تر سيوري لاندې به په هغه ورځ ناست وي، چې پرته د عرش د سيوري څخه به بل هيڅ سيوری نه وي.

اسلام د ځوانانو څه غوښتنه لري؟ اسلام په ډير ښکاره ډول د ځوانانو څخه غواړي تر څو غښتلي واوسي، نو پياوړتيا او غښتلتيا د شخصيت جوړولو او ژوند تيرولو په هر پړاو کې ډير اړين او غوښتل سوی شی دی، چې ځوانان بايد په کلکه ځانونه پرې روږد کړي، غښتلتيا او پياوړتيا تر لاسه کول د الله سبحانه وتعالى د لوري يو لازمي شی دی، قرآن کريم په هر څه کې په عامه توګه د ځواک غوښتنه کوي، انسان بايد د ژوند په هر پړاو کې او د پيښو په هر بهير کې ځواکمن او غښتلی وي، له دې څخه په ډاګه څرګنديږي چې اسلام ډير لوړ دين دی، انسان ته يې ډير لوی عزت وربخښلی دی، د ژوند لاري چاري يې ورته ښوولي دي، ځکه اسلام غواړي چې اُمت يې تر ټولو ډير غښتلی، عزتمند او سرلوړی اُمت وي.

غښتلتيا په څه کې؟ ځوانان بايد د حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم)، د صحابو (رضي الله عنهم) او اسلامي اُمت د تيرو سويو صالحو علماؤو په پله پل کښيږدي، او د هغو زده کړي چې د ژوند په کومو اړخونو کې څومره پياوړي وې، څومره ځوانان يې درلودې، چې په خدايي ځواک سره غښتلي وه:

۱:ـ د ايمان پياوړتيا: مسلمان ځوان بايد قوي ايمان ولري، په خپل عبادت کې ډير غښتلی وي، د الله سبحانه وتعالى سره په مينه او محبت کې پياوړی وي، لکه څنګه چې معاذ بن جبل، ربيعة بن کعب، علي بن ابي طالب، انس بن مالک، عائشة (رضي الله عنهم) د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) عفيفه ميرمن او فاطمة د رسول الله (صلى الله عليه وسلم) لور، رسول الله (صلى الله عليه وسلم) نور په سلګونو ځوان ملګري صحابه چې په دې اړه پياوړي او غښتلي وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲:ـ په اسلامي دعوت او سياسي فکر کي پياوړتيا: په ټولنيزو اسلامي کارونو کي غښتلتيا، ځوان بايد د اسلامي دعوت په لمړيو صفونو کي د اسلام د دين د لوړولو لپاره کار وکړي، پټي سترګي مخ پر وړاندي ولاړ نه سي، وګوري چي زما ټولنه، ملت، خلګ او زما هيواد د چا سره په کومو کړکيچنو پيښو کي راګير دی، د حل لاره يې څه ده او زه د يوه مسلمان ځوان په حيث څه مسؤليت لرم، لکه زموږ تکړه او غښتلی ځوان حسن البناء چي د خپل عمر په دوويشت (۲۲) کلنی کي يې خپل ځان د اسلام د خدمت لپاره پوره چمتو کړ، د مصر په ښارونو کي کلي په کلي وګرځيدی او خلګ يې په خپل اسلامي شان او شوکت وپوهول، په روښانه ټکو يې ورته وويل: تاسو لره پرته د اسلامه هيڅ عزت او نصرت نسته او ستاسو ځواک په اسلام کي نغښتی دی. د اسلامي دعوت يوه نمونه بلل کيږي، د اسلام په برخه کي يې پياوړې څېړنه کړې ده، او د اسلامي نړۍ په سياسي برخه کي پوره ځيرکتيا لري، د سکولريزم په وړاندي په کلکه مبارزه کوي، په غربي او مادي فرهنګونو نيوکي کوي.

۳:ـ علمي پياوړتيا: ځوانان بايد په علمي ساحه کي هم تر نورو ډېر غښتلي او ځواکمن وي، لکه علامة امام شهاب الدين قرافي لوی عالم او مخترع چي په لومړي ځل يې ويوونکی ساعت جوړ کړی. همدارنګه علامة ډاکټر ابن نفيس چي د ويني د جريان په اړه يې په لومړي ځل څېړني او اکتشافات کړي، هغه نه يوازي يو طبيب وو، بلکي د ديني علومو أُستاذ هم وو، چي د فقهي درس به يې په قاهره کي د المسرورية په مدرسه کي ورکوی، ډېر کتابونه يې په فقه او حديثو کي ليکلي دي، سره له دې چي په طبي برخه کي يې څېړني او ليکني نړيوال شهرت لري. امام نووي چي د دين لوی عالم وو، هغه د خپل عمر تر څلويښت (۴۰) کلنی ونه رسيدی، مګر يو لوی او معتبر کتاب يې په اسلامي فقه کي (المجموع شرح المهذب) په نامه وليکی. أبو ريحان البيروني کوم چي يو د مستشرقينو څخه يې په اړه وايي: هغه د تاريخ په اوږدو کي د يو لوی عقل څښتن وو، په ادب، تاريخ، جغرافيه او ژبپوهنه کي يې لوی لاس درلودی، په پنځو (۵) ژبو په روانه توګه ږغيدی. په نننی عصر کي موږ داسي عالمو پوهانو ځوانانو ته سخته اړتيا لرو، چي د خپل ديني علم تر څنګ په نورو علمي ډګرو کي تخصص ولري او غښتلي متخصصين وي، ځکه زموږ عصر د علم او تيکنالوژۍ وخت دی، ملتونه د علم په ميدان کي سره پرتله کيږي، اسلام خو بايد تر ټولو مخکي وي، نو مسلمان ځوان بايد دا ننګونه ومني، د علم په برخه کي ځان ورسوي، تر څو د خپلو ملتونو په پرمختګ او هوساينه کي يې لويه ونډه اخيستې وي.

۴:ـ د جسم پياوړتيا: مسلمان ځوان بايد خپل جسم ته هم ځانګړې توجه وکړي، ځکه اسلام لکه څنګه چي په روحي پياوړتيا امر کوي او خلګ د الله سبحانه وتعالی عبادت، علم او اسلامي دعوت ته رابولي، همدارنګه په جسمي غښتلتيا هم امر کوي، په بستره کي پروت ځوان عالم به اسلام ته څه ګټه ورسوي، هغه ځوان چي خپلي بدني روزني ته پاملرنه نه کوي، په حقيقت کي يې د اسلام يو حکم تر پښو لاندي کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵:ـ په اسلام باندي ویاړ: مسلمان ځوان باید په خپل دین باندي وویاړي او د خپل دین د ویاړونو په بیان کي پیاوړی وي، لکه څنګه چي جعفر د حبشې د پاچا سره په خبرو کي په خپل دین ویاړي، لکه څنګه چي ربعي بن عامر د وخت د لوی طاغوت رستم فارسي په مخکي دریږي او په ډیر جرأت سره د الله سبحانه وتعالی د دین عزت ورته ښیي، همدارنګه غښتلی ځوان امام نووي چي د بیبرس سره مناظره کوي، سلطان العلماء چي د مصر د پاچا ایوب په مخکي خپل سر نه ټیټوي، همداسي په نني عصر کي هم موږ ځیني ځوان پیاوړي علماء لرو، چي د لویو قدرتو په مخکي په ډیر ځواک سره خپله خبره بیانوي.

۶:ـ د اخلاقو پیاوړتیا: ځوانان باید په عالی اخلاقو ملبس وي، صبر او حوصله ولري، د خپل عفت او عزت په ساتلو کي غښتلی وي، د امانت په ساتلو کي ریښتنی وي، د خپلو مؤمنو ملګرو په وړاندي ډیر متواضع وي، هغوی ته بخښنه وکړي، پر هغوی رحم وکړي، مرسته او ملاتړ یې وکړي او د کافرانو په وړاندي خپل سر ټیټ نه کړي.

نو اې ځوانانو**!** ستاسو ځخه د اسلام غوښتنه همدا ده، چي د خپل دین چوپړ ته ور ودانګئ، په خپل دین وویاړی، د دین ګټي په پام کي ونیسئ، خپلي روحي او جسمي پیاوړتیا ته په کلکه پاملرنه وکړئ، کمزوري ټکي له منځه یوسئ، د وخت ځخه سالمه ګټه پورته کړئ، وخت بې ځایه مه تیروئ، ځکه ستاسو پالونکی ستاسو د ځوانی پوښتنه کوي، او د هغه حساب په ریښتني توګه ډیر سخت دی، مسلمان ځوانه ستا دم او قدم دواړه په حساب کي دي، مسلمان ځوان باید د خپل ژوند د هري شیبې په اړه له مخکي چمتو وي، چي څه به کوي، بیا د هري شیبې په تیریدو باید د ځان سره حساب وکړي، چي ټاکلي کارونه یې ترسره کړي او که یا، ژوند د الله (جل جلاله) له طرفه پر موږ مسلمانانو ستره پیرزوینه ده، د هري لحظې ځخه یې باید ممکنه ګټه واخیستل سي، په ژوند کي یوه مرحله داسي ده چي د بل هر وخته ډیره د آرزښت وړ ده، په دې مرحله کي د انسان جسم د لویو کارونو د ترسره کولو جوګه کیږي.

عقل یې پخیږي او په ماغزو کي یې ستر سوچونه ګرځي راګرځي، نوي هیلي او آرمانونه یې په زړه کي راټو کیږي، د مسلمان ځوان آرمانونه باید الهي رضا وي، د ځوانانو او مسلمانو ځوانانو تر منځ ډیر لوی توپیر تر سترګو کیږي، د نورو ځوانانو آرمانونه ډیری دنیوي او مادي وي، مګر ددې پر ضد د مسلمان ځوان آرمانونه الهي او اخروي وي، هغه په دنیا کي ددې آرمان د پوره کولو لپاره شپې سبا کوي چي د آخرت د تلپاته ژوند لپاره غوره او نیکه توښه برابره کړي، په ژوند کي د ځوانی آرزښت ته په پام سره باید هر مسلمان ځوان د ټول ژوند او په تیره بیا د ځوانی لپاره ټاکلی او څرګند پلان ولري، د ځوانی ځخه مخکي د کوچینوالي پر مهال انسان هیڅ ډول دیني مسؤلیت نه لري او کله چي د سپین ږیرتوب پړاو ته رسیږي، نو بیا د عبادت کولو وس بیا ورسره نه وي، مسلمان ځوان د یوه اغیزمن مدیر په توګه باید د خپل ژوند د هري شیبې په اړه له مخکي ځخه چمتو وي، مسلمان ځوان باید د یوه اغیزمن مدیر په څیر په لږ وخت کي د کم شمیر منابعو په لګښت ډیره ګټه لاسته راوړي او په پای کي د ژوند دا ستره او آرزښتناکه پروژه په بریالیتوب عملي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلامي اُمت اوسني ځوانان په ژوند کي د کومو آرمانونو د پوره کيدو په لټه کي دي، د هغو په څرګندولو انسان ته د غم او اندیښني څخه پرته نور هيڅ په لاس نه ورځي، د یوه مسلمان ځوان آرمانونه باید اسلامي وي، د ده سره باید د هر څه څخه ډیر د اسلام فکر او غم وي او دا ددې لپاره نه چي ګټي اسلام ورته اړ دی، بلکي ددې لپاره چي همدا اسلام يې د سرلوړۍ او پرمختګ یوازینی لاره ده، د اسلام کره پوهه باندي باید مسلمان ځوان وپوهيږي چي دا دين د کومو کارونو د ترسره کولو غوښتنه ځيني کوي او د کومو څخه يې منع کوي، په خپل شخصي او ټولينز ژوند کي د اسلام ټول احکام پلي کول، اسلام د یوه کامل ټولنيز نظام په توګه غواړي چي د مځکي پر سر هر وګړي ته د اسلام ښيګڼه ورسيږي، ځکه نو خپلو ټولو پيروانو ته حکم کوي: د دين د پوهي او د عمل وروسته نورو ته ددې خير په رسولو کي هڅاند واوسئ. آن تر دې پوري چي دا کار يې په هر یوه مسلمان فرض ګرځولی دی.

د نفس او شيطان د شر څخه ځانه وساته: نفس یوازي په هغه علم سره د جهالت څخه سالم پاته کيدای سي، کوم چي شريعت راوړی دی، او په نيک عمل سره د ظلمه ساتل کيږي، مسلمان باید تل الله سبحانه وتعالی ته زارۍ وکړي، د الله سبحانه وتعالی څخه وغواړي، چي نفس او ځان يې ور اصلاح کړي، کله چي نفس په شريعي علم او نيک عمل سره پاک نه سي، پر هغه جهل او ظلم واکمن کيږي، د هوا او خواهشاتو تابع ګرځي، په دې وخت کي ددې نفس خاوند د الله سبحانه وتعالی ژمني او وعدې نه مني، د شهوتونو تابعداري کوي، چي بالآخره د زيان، عذاب او مصيبت په کنده کي لويږي، دنيا او آخرت يې بربادیږي، مګر کله چي نفس په ګټور علم او نيک عمل سره پاک کړل سي، هغه بيا د الله سبحانه وتعالی هره وعده او ژمنه ريښتيا بولي، د خپل رب وخوا ته مطمئن او آرام وي، او د مرګ پر وخت هغه ته زيري ورکول کيږي، ترټلی، ناپاک او د انسان دوښمن شيطان چي د خير د لارو پرې کوونکی، د بديو او ګناهونو لاري ته بلوونکی دی.

الله سبحانه وتعالی دي موږ ځيني وساتي، الله سبحانه وتعالی د انسانانو لپاره فتنه او امتحان ګرځولی، چا چي يې اطاعت وکړ، د هغه ځای ډیر بد دی، او چا چي يې نافرماني وکړه، هغه به په غوره ځای کي وي، د هغه خوند او خوشحالي د انسانانو په ګمراه کولو او خرابولو کي ده، شيطان انسان د الله سبحانه وتعالی د ثواب او عذاب د وعدو درواغ ګڼلو ته دعوتوي، هغه ته ګناهونه ښکلي کوي، د فرضونو او مستحباتو څخه يې راګرځوي، د انسان سره درواغجني ژمني کوي، په خبيثو او ناوړو وسوسو يې خطاء باسي، شيطان لومړی مسلمان کفر ته رابولي، که چيري يې انسان خبره ومنله، نو شيطان خپل هدف ته ورسيدی، او انسان يې د خپلي زيانمني ډلي سره یو ځای کړی، که يې انسان د کفر دعوت ونه مني، بدعت ته يې رابولي. که چيري د قرآن کريم او سنتو د متابعت په وجه د بدعت څخه وژغورل سي، وروسته يې لويو ګناهونو ته رابولي، ورته ښايسته کوي يې، او ورته وايي: وروسته به توبه وکاږې. کله چي انسان په لويو ګناهونو اخته سي، نو هلاک سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چيري په کبيره ګناهونو کي د شيطان خبره ونه منې، کوچنيو ګناهونو ته دي رابولي، هغه کوچني درته ښکاره کوي، کله چي انسان پر کوچنيو ګناهونو همیشه توب وکړي، او کوچني ګناهونه يې ډېر سي، نو په همدې همیشه توب سره دغه کوچني ګناهونه په لويو ګناهونو بدليږي، او که توبه ونه باسي، نو دغه انسان هلاک کيږي، او که چيري يې انسان په کوچنيو ګناهونو کي هم دعوت او بلنه ونه مني، نو بيا يې د ډېرو عبادتونو پر ځای د مباح او روا کارونو کولو ته رابولي، الله سبحانه وتعالی دي موږ ځيني وساتي، په همدې سره يې د آخرت لپاره د ډېري توښې برابرولو څخه اخته کوي، او که يې په دې کي هم خبره ونه مني، بيا يې هغه عملونو ته رابولي، چي هغه غوره او افضل نه دي، ددې لپاره چي په آخرت کي يې ثواب او اجر لږ سي، ځکه نيک عملونه هم په خپل ځان کي لوړي او ښكته درجې لري، او که چيري شيطان په دې کارونو کي هيڅ هم ونه سوای کولای، بيا نو خپل لښکر او خپل تابعداران پر هغه مسلطوي، تر څو هغه ته دنيوي ضرر او زيان ورسوي، انسان يوازي هغه وخت د شيطان د شره خلاصيدای سي.

چي همیشه په الله سبحانه وتعالی پناه وغواړي د شيطان څخه، تل د الله سبحانه وتعالی ذکر وکړي، د جماعت پر لمونځونو همیشه توب وکړي، پر الله سبحانه وتعالی توکل وکړي، تل د شيطان سره مقابله وکړي، او پر بندګانو د ظلم کولو څخه ځان وساتي، ځکه دا ټول د انسان لپاره د کلا، پناه او نجات په ډول دي، په دنيوي ژوند غافله کيدل او بل هغه شی چي انسان د حق، استقامت او غوره لاري څخه راګرځوي، د دنيا سره مينه، دنيا پر آخرت غوره کول، دنيا ته زړه ښه کول، د دنيا حلال او حرام را ټولول او د آخرت هيرول دي، دنيا د انسان دوښمنه ده، کله چي د انسان پر زړه واکمنه سي، دی پرې مشغوله سي، او د آخرت د اعمالو څخه مخ واړوي، هلاک کيږي، د مځکي اکثره خلګو دنيا غوره کړې ده، د دنيا د شره امان د دنيا د شر، زيان او بدئ څخه څوک هغه وخت په آمن کي کيږي او ساتل کيږي، چي دنيا او مال په روا او مشروع لارو لاسته راوړي، او الله سبحانه وتعالی چي څه ورته روا کړي دي، بيله اسراف او زياتوالي، خوشحالئ او تکبر، او پر خلګو د لوړوالي پرته د هغو څخه ګټه واخلي.

همدارنګه بايد په زور سره د بندګانو حقوق لاندي نه کړي، انسان بايد خامخا د دنيا حقيقت وپيژني، او بايد پوه سي چي دنيا د خطاء ايستلو شی دی، ژر له منځه ځي، کله لږ وي، کله ډيره، او بايد دا حقيقت همیشه په ياد وساتي، په دې سره به يې زړه سالم پاته سي، انسان بايد همیشه د دنيا د شر او عاقبت څخه په بيره کي وي، همیشه بايد له دې څخه وبيريږي، چي شيطان به ورته ووايي: دا دنيا الله سبحانه وتعالی تا ته ستا د غوره والي او ستا د علم او پوهي په خاطر درکړې ده. لکه څنګه چي يې قارون همداسي خطاء باسی، د هغه عاقبت يې ور خراب کړی. د دنيا په هکله يوه مهمه خبره دا ده، په دې دنيا او مال کي انسان د الله سبحانه وتعالی او د بندګانو واجب حقوق اداء کړي، لکه: زکات، د کورنۍ او اولادونو نفقه، د ميلمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقوق، د اړمنو مرسته، د هر خير په لار کي نفقه او خرڅ، دا هر څه بايد د رياء، ستايني او ځان خوښوني څخه ليري په پوره اخلاص سره وسي، ځکه رياء او ځان خوښونه د انسان عملونه بربادوي، ډيرو لويو اصحابو کرامو مالونه درلودل، مګر بيا هم دوی تر ټولو د دنيا څخه ليري وه. امام ابن القيم (رحمة الله عليه) وايي: څوک چي د خپل ځان او نفس حقيقت او خويونه وپيژني، پوه به سي چي دا نفس د هر شر او بدۍ سرچينه ده، او په دې نفس کي چي کوم خير او ښه والی سته، هغه يوازي او يوازي د الله سبحانه وتعالی مهرباني او فضل دی.

ځوانه اسلامي عقائد زده کړه، د اهل السنة والجماعة عقائد معلوم کړه او هغه خپله عقيده وګرځوه، د ټولو بې لارو ډلو لکه: قادياني، آغاخاني، او داسي نورو... ډلو څخه ليري اوسه او د بدعتونو څخه ځان وساته. پر هر عاقل، بالغ مسلمان پنځه (۵) وختـه د سهار، ماسپښين، مازديګر، ماښام او ماسختن لمونځونه فرض دي، دا به په کور، سفر، ناروغي، تجارت، کار او هر حالت کي اداء کول فرض دي، هيڅ وخت به يې نه قضاء کوې، ځوانه په مسجد کي په جماعت سره لمونځ اداء کړه، په جماعت سره د يوه لمونځ ثواب اووه ويشت (۲۷) درجې دی. نفل لمونځونه هم د ډير آهميت څخه برخمن دي، چي تحية الوضوء، تحية المسجد، اشراق، ځاښت، تهجد او د ماښام د لمانځه وروسته نفل په کښي شامل دي، د نوافلو ذخيره هم بايد د ځانه سره ولرو. د قرآن کريم تلاوت وکړه، هره ورځ يوه يا دوه سپارې تلاوت وکړه، د قرآن کريم د هر توري په ويلو يوه نيکي ورکول کيږي، چي د لسو (۱۰) نيکيو سره برابره وي. ځوانه د حقوق العباد يا د بنده د حقوقو د اداء کولو په فکر کي اوسه، بايد ښه فکر وکړې، چي د چا حق را باندي سته، که يا؟ که د چا مالي حق دي په غاړه وي، لکه پور، يا د هغه په مال کي دي خيانت کړی وي او يا دي د مالک د اجازې پرته اخيستی وي.

نو که يې مالک او څښتن معلوم وي او هير کړی يې نه وي، خپله ورسه او د هغه حق اداء کړي، که حق غيري مالي وو، لکه د هغه غيبت يا دي کړی وي، يا دي اوريدلی وي، يا دي پر هغه ناحقه تور يعني بهتان پوري کړی وي، بايد بخښنه ځيني وغواړې، کنه نو هغه بيا به دومره استغفار او دعا وغواړې، تر څو زړه دي اقرار وکړي، چي حق يې اداء سو، د حقوق العباد معامله ډيره ستونزمنه ده، په آخرت کي به هر شخص خپل حقدار ته د حق په بدل کي خپله نيکي ورکوي او که نيکۍ يې پوره نه سوې، نو د هغو ګناهونه به پر خپله غاړه اخلي او په دې ترتيب سره به جهنم ته ځي، اړتيا ده چي په دې تړاو ډير فکر وسي، په ځانګړي ډول هغوی ډير فکر وکړي. زړه دي د شرکي او کفري عقائدو، د رياء کارۍ د جذبو، د ناروا دوښمنۍ، حسد، بغض، کينه، تکبر اوغرور، دماغ دي د بدو فکرونو، لاسونه دي د حرام کسب څخه، لاسونه دي په ترازو کي د کمي کولو، سترګي دي غلطو ځايونو ته د کتلو څخه، شرمګاه يا ځانګړي غړي دي د بدکارۍ څخه، غوږونه دي د سندرو، غيبت او هر ډول بدو خبرو د اوريدلو څخه، ژبه دي د تهمت او غيبت کولو، د درواغو ويلو، ښکنځل کولو، درواغ او ناحق

(c) ketabton.com: The Digital Library

قسم خوړلو او بې ځایه خبرو څخه، نس دي د حرام خوړلو او ټول بدن دي د هر ډول ګناه څخه وساته، یعني د ټولو یاد سویو بدو اعمالو څخه ځان وژغوره، او یاد سوي غړي دي ددې کارونو د سر ته رسولو څخه وژغوره، حلال وګڼه او حلال وخوره، د خپلو مالي سرچینو په اړه د علماؤو څخه پوښتنه وکړه: حلالي دي او که یا؟ رشوت مه اخله او د سودي معاملو څخه په کلکه ډډه وکړه، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پیروي وکړه، خپل شکل او صورت د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په څیر جوړ کړه. د علماء کرامو مجلسونو ته ولاړ سه، د نیکو او دینداره خلګو سره اړیکي ولره، د هغو سره ناسته ولاړه وکړه، د اهل سنت والجماعت د علماؤو کتابونه مطالعه کړه، چي په زړه کي دي د دنیا محبت کم او د آخرت محبت مستحکم سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه د غرور ځخه ځانه وساته غرور جهالت دی

کله کله انسان د ځواک، ځوانی، مال، دولت او حیثیت له امله د مخلوق او خالق په وړاندي خپل وظیفه او مسؤلیت هیروي، د الله سبحانه وتعالی د نعمتونو او عظمت څخه په افسوس سره سترګي پټوي او د غرور په لومه کي لویږي، ځوانه څنګه د خپل هغه رب په اړه اشتباه کوې، چي تا ته یې سم او سالم، روغ او رمټ ذهن، فکر، استعداد، بښکلا، بقاء او سلامتیا درکړې ده، نه دي په جوړښت کي کوم عیب او نقص سته او نه دي په ښایست کي، متوازن او متعادل یې جوړ کړی یې، کمال ته یې رسولای، د ژوند لازم شرائط یې درته برابر کړي دي، رزق، روزي او ستا ټول ضروریات یې تأمین کړي دي، ځوانه ددې مادي او معنوي نعمتونو د برابرولو او د خپل واک نه لرلو په شتون کي د غرور هیڅ ځای نه پاته کیږي، کله چي انسان وغواړي د ځواني، مال، دولت، حیثیت او نور د احساس له امله غرور او تکبُر وکړي او د الهي نعمتونو د ورکړي سترګي پټي کړي، الله (جل جلاله) بیا پوښتنه ځیني کوي.

غرور او تکبُر د متکبر انسان د غفلت او ناپوهۍ پایله ده، د ده جهالت او غفلت دی، تیاره او ظلمت دی، بي عقلي او ناداني ده، د ځان خطاء ایستل دي، فریب او غولیدنه ده، چي انسان وغولوي، بې عقله یې کړي او الله (جل جلاله) ځیني هیر کړي، که انسان ددې غولوني او فریب تر اغیز لاندي رانه سي، الله (جل جلاله) به په خپلو ټولو حواسو سره درک کړي، د ده خپل وجود، هغه تعادل او توازن چي د ده په جوړښت کي مراعات سوی دی، هغه ښایست او ښکلا، هغه بې شمیره پیرزویني چي د ده رب پر کړي دي، دا ټول به د ده زړه او دماغ، عقل او شعور د الله (جل جلاله) په شته والي ډاډه کړي، د خپل خالق د نعمتونو شکر به وباسي، قدر به یې وکړي، په هر حالت کي به مطع او راضي واوسي د زړه د تله به ووایي: څه شي د خپل رب په اړه غولولی یې، څه شي دې ته هڅولی یې، چي خپل رب هیر کړې او د اوامرو څخه یې سرغړنه وکړې.

ابلیس علیه لعنه روحي او جسمي شیطان نه درلود، مګر بیا یې هم د خپل رب هغه امر چي ویې فرمایل: (فسجدو) څخه سرکښي وکړه او کبر یې وکړ، چي زه د اوره پیدا او حضرت آدم (علیه السلام) د خټو څخه جوړ دی، ولي به سجده وکړم! همدا کبر او مغروري وه چي شیطان وکړه او د الله (جل جلاله) د لوري ورټل سو. دا کبر او غرور د څه له کبله وو؟ آیا شیطان هم زموږ غوندي یو ابلیس په جسم کي درلودی، چي دی وهمدې سرکښۍ ته وهڅوي؟ نه! بلکي د ده علیه لعنه خپل نفس وو، همدا نفس که زموږ سره وو، موږ به هیمشه د بدو لارو ته تمایل کوي، زموږ ساتنه په فرمانبردارۍ او ایماندارۍ پوري اړه لري. شیطان صرف یو وسوسه د یو کار درته پیدا کوي او نور پر تاسو جبري ګناه نه سي کولای، نو دا باید په یاد ولرو که چیري انسان شیطان نه درلودای، بیا هم د بدیو لارو ته د نفس د لوري مایل کیدی، مګر ساتنه به یې په شخصیت پوري اړوند وه، له بده مرغه نن ورځ لیدل کیږي، چي په عامه مجلسونو، فردي ځایونو، ټولنیزو شبکو او نورو کي هڅه کیږي چي غرور او تکبُر د عزت او عظمت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړتیا او پوهي په توګه وښيي، عامه ذهنیت دې ته چمتو کړي چي دا یو منلی حقیقت دی، او په مټ یې انسان کولای سي، چي لوړ مقام، ځای او شخصیت تر لاسه کړي، په داسي حال کي چي دا تیروتنه او غولونه ده، د عزت او عظمت، لوړتیا او پوهه نه، بلکي جاهلیت، ناپوهي، ناداني، اخلاقي خرابي او د انساني کرامت ځوړتیا ده. مغرور انسان تل د اخلاقي او ټولنیزو دیني معیارونو خلاف فکر کوي، چي د هر چا او هر څه څخه لوړ دی، هغه دا په بشپړه توګه هیروي چي هغه د نورو الهي مخلوقاتو په څېر د یو واحد خالق تخلیق دی، د هغو نعمتونو هیڅ خپلواکي نه لري چي د الله سبحانه وتعالی له خوا ورته ورکړل سوي دي او په هر وخت کي هغه کولای سي، دغه الهي نعمتونه چي واک او اختیار یې د الله (جل جلاله) سره دی د لاسه ورکړي، د ده د کبر، غرور او ناشکری کاسه نسکوره کړي.

که په انساني خلقت کي فکر وکړو نو راته معلومه به سي چي انسان د بیلا بیلو مثبتو او منفي پدیدو څخه جوړ دی، دغه پدیدې په ټولنه کي د انسان د چال چلن څخه د ورایه معلومیږي او د انسان د همدغه چلن له مخي خلګ د هغه په اړه د ښه او بد قضاوت کوي، یو انسان چي په خپل شخصیت کي څومره ډیري مثبتي پدیدې ولري، همدومره یې په ټولنه کي ځای او مقام لوړیږي، خلګ په درنه سترګه ورته ګوري، یو ښه الهام ځیني اخلي، او څومره چي انسان په ټولنیز ژوند کي د منفي پدیدو څرګندونه وکړي، همدومره په خلګو کي په بد او سپک نامه یادیږي، د انساني شخصیت د دغو منفي پدیدو څخه یو هم تکبُر دی، کبر د نفس هغه حالت ته ویل کیږي چي انسان خپل ځان درونه، لوړ او لوی وګڼي، بل انسان بیا د ځان په پرتله حقیر، سپک او کم وبولي، تکبُر یوه لویه اخلاقي ناروغي ده، ځکه یې پایلي د مسلمان لپاره نه یوازي دا چي په نړۍ کي رسوا کوونکي او سپکوونکي دي، په آخرت کي هم انسان د همدې ناروغۍ له امله د دردونکي عذاب سره مخامخ کیږي، تکبُر که د یوه پلوه په خپله ستره اخلاقي ناروغي ده، نو له بله پلوه دا د نورو ناوړو ناروغیو لکه: حسد، کرکي او ناپوهۍ زیږوونکې هم ده، لویي هغه ناوړه رنځ دی چي د کبرجن پر عقل او فکر باندي د جهالت او ناپوهي پرده غوړوي.

ناقصي ویناوي یې تر پام ښې، جالبي او باطل دلایل یې په فکر کي د حق په ښه ځای نیسي او په دې توګه ټولي شیطاني کړني ده ته ډیري ښایسته معلومیږي، اسلام د یوه فطري دین په توګه تل په خپلو تعلیماتو کي د فرد او ټولني د حالت پر اصلاح ټینګار کړی دی، ښکاره خبره ده چي سالمه ټولنه د سالمو افرادو څخه جوړیږي او سالم افراد هغه دي چي د هر ډول اخلاقي، نفسیاتي او باطني ناروغیو څخه پاک وي، څنګه چي لویي او تکبُر د ګڼو نورو ناروغیو زیږوونکې پدیده ده، ځکه نو د اسلام مبارک دین هم په خپلو تعلیماتو او نصوصو کي د هغې درملني ته ځانګړې پاملرنه کړې ده، کبرجن تل بیریږي که څه هم خلګ یې عزت او درناوی وکړي، کبرجن د خپل ګومان سره سم په کبر کي د ځان لپاره عزت ویني، حال دا چي که نوموړی حق ته سر ټیټ کړي، لویي، کینه، کرکه، حسد او داسي نور... د زړه څخه وباسي او عاجزي غوره کړي، نو په خلګو کي به یې عزت یو په سله ډیر سي، تاسي خو لږ د صحابه کرامو او په ځانګړي ډول د حضرت عمر (رضي الله عنه) حالت ته ځیر سئ، کله چي یې حق

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته غاړه کښېښوول، عاجزي يې غوره کړه او ايمان يې راوړ، نو د کفر او لويي تر مهال يې د اسلام او عاجزي پر مهال په عزت کي يو په سله زياتوالى راغلى، هغه داسي چي ټول مسلمانان حضرت عمر (رضي الله عنه) ته درناوی کول د خپل ايمان د بشپړتيا يوه اړينه برخه بولي.

د کبرجن نښي نښاني: که څه هم د کبر يا لويي نښي او ډولونه په خلګو کي دومره ډېر دي چي شمېرل يې ګران دی، بله دا چي دغه نښي په هر چا کي د خوی، وخت او چاپيريال د پلوه مختلفي وي، چي په دې ډول دي:- ۱: کبرجن انسان پر مځکه باندي په ناز او نخرو روان وي. ۲: د چا سره د خبرو کولو پر مهال د سر په اشارو خبري کوي. ۳: د خپل ځان په اړه د مبالغې ډکي خبري کوي. ۴: د نورو د خبرو په منځ کي ورلوېږي، د چا خبرو ته غوږ نه نيسي. ۵: د نورو څخه يې دا تمه وي چي تل دي ده ته غوږ ونيسي او د ده صفتونه دي بيانوي. ۶: چا ته په سلام اچولو شروع نه کوي، ډېر مهال د بل سلام ته جواب هم نه ورکوي. ۷: د شاوخوا ناستو کسانو څخه بل خوا ته مخ اړوي. ۸: په مجلسو کي د مخ په صفونو کي د ناستي هڅه کوي. ۹: د نورو کسانو څخه خپل درناوی غواړي، مګر د هغوی درناوی نه کوي. ۱۰: کبرجن تل دا ګومان کوي چي دی الله (جل جلاله) ته نږدې کس دی، ځکه نو ځان تر نورو لوړ او ښه ګڼي. ۱۱: د کبرجن پايڅې تل تر بيجلکو کښته وي. ۱۲: په لويو مجلسونو او د عزت په ځايونو کي نور کسان سپکوي. ۱۳: خپله خبره ډېره معقوله او قاطعه ورته معلومېږي، مګر بل څوک چي د ده په خبره کي رايه ورکړي، هغه سپک کړي اختلاف ورسره کوي. ۱۴: کبرجن سړی تل تر ځان لوړو کسانو ته چاپلوسي کوي او تر ځان د ټيټو کسانو څخه د چاپلوسي غوښتنه کوي. ۱۵: کبرجن سړی هيڅکله هم دا ونه وايي چي ده ته دغه شتمني الله (جل جلاله) ورکړې ده، دا چي الله (جل جلاله) يې ځيني غصب کولای هم سي، بلکي دی به تل دا ګومان کوي او وايي به دا خو ما د خپل عقل او متو په زور ګټلې ده. ۱۷: کبرجن سړی د تکبُر له امله تل د ما او زه کلمه کاروي، ما داسي ورته وويل، ما دا وکړل، ما هاغه وکړل، ته ما نه پيژنې؟ زه به داسي وکړم، زه به هاغسي وکړم، تا لا زه نه يم پيژندلی، زه يې اوس درته ښيم چي زه څوک يم او داسي نور... متکبرانه کلمات.

د کبراو لويي لاملونه:- ۱: څنګه چي کبرجن انسان ځان په هر څه پوه او د هري خوا پوره بولي، نو د لويي سبب يې کله دنيوي لامل وي، لکه ښه نسب يعني غټ قوم او لويه کورنی، کله د اولادونو او ملګرو زياتوالی، کله ښايست او ښه بدني جوړښت، کله شتمني، کله بدني ځواک، کله سياسي يا ټولنيز نفوذ او داسي نور... او کله بيا د لويي لامل ديني وي، لکه يو څوک ځان ښه عالم، زاهد، متقي او پرهيزګاره بولي، نور خلګ ناپوهان، بې دينه او بدعمله ورته معلومېږي، په اړه يې دا ګومان وي چي دی خو د دين په ښنسټونو هم نه پوهېږي، نو په خپل علم او عبادت لويي او تکبُر وکړي، نور ورته حقيران او ذليل معلومېږي. ۲: ناپوهي او کم عقلي هم د کبر لاملونه دي: ډېری وخت انسان د ناخبرۍ او غفلت له امله انسان د ټولو نعمتونو نسبت ځان ته کوي، هر نعمت د خپلو متو زور او د خپلو هلو ځلو لاسته راوړنه بولي، نو په دې ډول دی په لويي اخته کيږي، دا فکر کول په کار دي چي که الله (جل جلاله) چا ته د لويي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجازه ورکولای، نو خپلو نبیانو ته به يې ورکړې وای، حال دا چې الله (جل جلاله) خپل ټول پیغمبران د لويي پرېښوولو او د عاجزي خپلولو ته رابللي دي. ۳: د هیچا په وړاندي هم عاجزي نه کول: ځنګه چې ځیني کبرجنان د هیچا په وړاندي هم د عاجزي کولو سره مینه نه لري ځکه نو ډیری مهال دوی د الله (جل جلاله) د اطاعته هم سرغړونه کوي، د پالونکي څښتن د لوی ذات په وړاندي هم د سرکښي څخه کار اخلي، او آمر يې نه مني، د نواهیو يې ځان نه ژغوري په دې ډول دوی ځانونه د دوږخ کندي ته سپاري. ۴: په نورو باندي ځان لوړ او غوره ګڼل: هغه کسان چې په ځاني لويي اخته وي د ټولني هیله من وي چې ده ته په ځانګړي امتیاز قائله سي، کله چې ټولنه ده ته دغه حق ورنه کړي، نو دی د ټولني سره کینه واخلي او په پایله کي يې عجیب او غریب خندونکي کارونه ځیني ترسره کیږي. ۵: ځان ښوونه: د چا سره حسد کول او کرکه درلودل هم د لويي د اسبابو او لاملونو څخه ګڼل سوي دي.

د کبر یا لويي درملنه: الله (جل جلاله) د مرګه پرته هیڅ داسي بدني، روحاني، رواني او قلبي ناروغۍ نه ده پیدا کړې چې هغه دي درملنه ونه لري، نو کبر او لويي یوه قلبي ناروغي ده چې درملنه يې شوني ده، انسان ته نه ښایي چې د یوه ګړي لپاره هم ددې ناروغۍ د درملني څخه بې غوره سي، بلکي اړینه ده چې په درملنه کي يې هڅه وکړي او وخت ضایع نه کړي، کله چې انسان د لويي د درملني هوډ وکړي نو ده ته په کار ده چې د غفلت د خوبه نور راویښ سي، خپل زړه د پښیمانۍ په اوبو باندي پاک کړي، دا به د زړه څخه ددې رذیل خوی د ایستلو په لور لومړی ګام وي، کبرجن انسان دي لومړی پخپل ځان، د لويي په مفاسدو، د کبر په ناوړو، منفي اغیزو باندي ژور او هر اړخیز فکر وکړي، لومړی دي د خپل ځان سره داسي فکر وکړي چې زه څومره عاجزه انسان یم، زه د یوې څومره ناپاکي نطفې څخه چې د ټولو خلګو په آند نجسه ده، زیږیدلی یم، بیا ماشوم وم، کمزورۍ او ناتوانه وم، تر دې پوري چې لوی او بالغ سوم، بیا مي هم ځواک، ځواني، روغتیا، د ناروغیو او مصیبتونو خلاصون په خپل واک کي نه دی.

آن تر دې پوري چې سپین ږیری به سم بیا به کمزورۍ او ناتوانه، عاجز به سم، د بل د لاس محتاجه به سم، یو ګام به پخپله نه سم پورته کولای، تر دې پوري چې مړ به سم، یوه څه وخت وروسته به د ډیري بد بویي په خاطر خپلوانو به مي سرمې پټي کړي وي او قبر ته به مي کښته کړي، که زه ځان د لويي او کبر څخه ونه ساتم، نو د مهلکو اغیزو څخه به يې هلته هم ونه ساتل سم او په داسي ډول ډول عذابونو به اخته یم چې بیانول يې ناشوني دي، کله چې انسان د علمي درملني پر مهال د لويي ناوړه اغیزې په خپل ایمان او په برزخي ژوند کي پر خپل ځان باندي د دردناکو عذابونو په بڼه متصوري کړي، مګر بیا يې هم د لويي او کبر د ناولي عادت څخه خلاص نه سي، بیا نو د ده لپاره دا اړینه ده چې ددې بې کاره خویه څخه د ځان خلاصولو په موخه په عملي ډګر کي هم ګامونه پورته کړي، د لويي د ورکولو لپاره تر ټولو غوره لاره د نفساني غوښتنو پر ضد دي عمل وسي، معنا دا چې کله نفس وغواړي چې د یو چا سره لويي وکړه، نو هلته دي د نفس حکم نه مني، لويي دي نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکي د نفسي غوښتني په مخالفت کي دي د نوموړي سره ښه عاجزي وکړي، د کبرجنانو خويونه دي نه کوي، بلکي ځان دي د عاجزانو په څير کړي، ژوند پر ځان باندي لږ تنګ کړي، د خپل ژوند ښه دي ډيره عادي کړي، د اسرافه دي لاس واخلي، عادي خوراک، څښناک دي پيل کړي، د فقيرانو او عاجزانو سره دي ناسته ولاړه شروع کړي، د هغو مجلسونو ته دي ورځي او د هغوی سره دي مرسته کوي، که يې چيري د قوم مشري ته زړه کيدی نو قوم دي تر ځان مخکي کړي، که يې د چا سپکولو ته ليواله وو، يا يې هم د چا د حق خوړلو ته تلوسه سوه، نو پر دې مهال دي د الله (جل جلاله) هغه عذابونه ورياد کړي کوم چي د کبرجنو او ظالمانو لپاره تيار سوي دي، د کبر په درملنه کي تر ټولو مهمه مسئله د علماؤو کرامو، مشايخو، مصلحينو او داعيونو په اصلاحي مجالسو کي ناسته ده، د نفساني ناروغيو د درملني او دين ته د رجوع، تقرب الی الله تر ټولو اغيزمنه لاره ده، د پنځه (۵) وخته لمانځه اداء کول او د قرآن کريم تلاوت خو داسي څه دي چي هر سړی يې کولای سي، د قرآن د نص له مخي لمونځ سړی د فحشاء او بدو کارونو څخه چي يو يې هم تکبُر دی راګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه سيرت النبي (صلی الله علیه وسلم) د ځان د اصلاح لپاره غوره کړه

ځوانان بايد د ځانونو اصلاح وکړي او په خپل هغه آرزښت باندي ځان پوه کړي، کوم چي قرآن کريم او حديث ورکړی دی، که چيري يو ځوان په نننی عصر کي د ماديا‌تو او خواهشاتو په دې دور کي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لاره تعقيب کړي او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تعليمات خپل کړي، نو دغه ځوان به د صدق او امانت سمبول وګرځي. په دار ارقم کي سابقون الآولون کي اکثره ځوان صحابه کرام داخل وه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دوی د تربيت، د مسؤليتونو او ديندارۍ اړوند داسي روزنه وکړه، چي دوی د هر ډول ستر مسؤليت اهل او لايق جوړ سول، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د همدې ځانګړي روزني برکت وو، چي نړۍ دا معجزه وليدل، د دغه ځوانانو يعني خلفاء اربعه او صحابه (رضوان الله علیهم اجمعین) تر ربع سکون پوري خپور سو او په دې لړۍ کي د يو اهم امر اړوند د هيڅ يو غيري عرب محتاجه نه سوه. د محمديه سيرت او نبوي تعليماتو څخه معلوميږي، چي د ځوانانو د مسؤليتونو په ضمن کي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ځانګړي درې (۳) اهداف وه: تعليم او تربيت. دعوت او تبليغ. او مبارزه يعني جهاد.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د صحابه کرامو بالخصوص د ځوان صحابه کرامو په تربيت او روزنه کي دې امورو ته خاصه پاملرنه کول: تقوا، د مسؤليت احساس، عمل، عدل او انصاف، تواضع او عاجزي، شرم او حياء، عفت او پاک لمني، سترګي د نامحرماتو څخه ساتل، د مشرانو او والدينو عزت او احترام، پر ماشومانو او کشرانو شفقت، نظافت او روغتيا. که د نن عصر ځوان د ځان اصلاح غواړي، پورته ځانګړني دي خپلي کړي، نو ان شاء الله دغه ځوان به يو متقي، پرهيزګاره، د هيواد او ملت اړين کس، د مور، پلار او قريبانو وياړ، په ظاهري او باطني لحاظ سره د دين او د دين د شعائرو يو محافظ مسلمان وي.

د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سيرت يوه مهمه موضوع ده، د بشريت او خوصوصاً د ځوان نسل د اصلاح لپاره د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د سيرت ډير مهم دی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) درويشت (۲۳) کاله د نبوت او رسالت ژوند کړی دی، متوجه اوسه موږ ټول د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اُمت يو، او غواړو چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پر لار ولاړ سو، بلکي غواړو چي متابعت يې هم وکړو، نو بايد موږ په خپل ژوند کي د دغه هدف او مقصد لپاره کوښښ وکړو، يا د مځکي د اصلاح لپاره يا پر باطلو او شخصي ګټو د حق د کاميابه کولو لپاره، ځکه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) رسالت د ټول بشر لپاره دی، او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ژوند يوه انساني تجربه ده، ما او تا ته يې د کاميابۍ لار را وښوول، تا وليدل چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د رسالت ژوند په څومره ضعف او تنهايي سره شروع سو؟ او په څومره کاميابي سره پای ته ورسيدی، دا ټوله د بشر په کوښښ سره وه او ته هم بشر يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوانه ته به وايې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په ژوند کې وحيي وې او زما په ژوند کې وحيي نسته، وحيي يو قانون دی چې نازليدې او هغه قانون نن ورځ ما او تا ته پروت او موجود دی، چې هغه قرآن مجيد دی، د ټولو مسلمانانو حتی د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) قانون قرآن مجيد دی. تر څو چې زموږ په ژوند کې مهمي مادې چې د سيرت النبي خلاصه او نتيجه ده نه سي پيدا، موږ په خپل ژوند کې تمدن او نهضت، ترقي او کاميابي نه سو را وستلای. ټول عالم او بشريت چې په هر ځای او هر ديانت سره وي و دې ته اړ او محتاجه دی چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه زده کړه او تعليم وکړي، د بشريت او انسانيت قوانين ځيني زده کړي، اداره، پلان جوړول، سياست، حلم، صبر، جنګ، صلحه او د ژوند ټول اخلاق ځيني زده کړي.

ايمان د کاميابۍ سبب دی: که ايمان نه وای صحابهٔ کرامو ولي خندق کندی؟ که ايمان نه وای ولي يې په خندق کې قربانۍ ورکولې؟ که ايمان نه وای ولي يې په اُحُد کې ځانونه و مرګ ته سپارل؟ که ايمان نه وای ولي يې د حديبيې صلحه قبلول؟ که ايمان نه وای داسي نور ډير کارونه دي چې هغه به نه کيدلای، د اسلامي ملکو افراد يا اُمت مسلمه بيله يوې ژبي په بل څه نه پوهيږي، چې هغه د دين او ايمان ژبه ده، هغه مهم او يوازينۍ شئ چې د اسلامي ملکو د افرادو که نارينه دي، که ښځي، که لويان دي، که کوچنيان په وجدان او ضمير کې ښخ او پروت دی د هغه نوم ايمان دی. موږ داسي يو قوم يو چې الله (جل جلاله) په ايمان سره معززه کړي يو، که موږ نُهضت او ترقي بيله اسلامه او ايمانه په بل شي کې وغواړو، الله (جل جلاله) به مو ذليله کړي، دا زما قول نه دی دا د حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) قول دی، که څوک د هغه له نظره څخه مخالف نظر لري هغه سهوه او خطاء دی، دين زموږ د الله (جل جلاله) د طرفه زموږ ساتونکۍ او زموږ کاميابه کوونکی دی.

پنځه (۵) اساسي اخلاق: د نُهضت او ترقی لپاره موږ هم بايد هغه اخلاق په خپلو ځانو او خپل ژوند کې پيدا کړو، هغه اخلاق څه شي وه؟ الف:- صدق: يا ريښتيا ويل، په ټولو کارو کې بايد صادقه واوسو. باء:- امانت: په هر کار کې بايد امانت کاره يو، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) لقب صادق الامين وو. جيم:- وفاء: د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره په ټول ژوند کې وفاء ملګرې وه. دال:- اتقان: يعني هر کار په صحي ډول سره کول او پای ته رسول، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ټول پلان جوړول او عمل، په سل کې سل صحي او پر ځای وو. هاء:- اُميد: دغه خوی هم بايد حتماً په موږ مسلمانانو کې موجود وي، د خپل صحي عمل د نتيجې څخه بايد نااُميده نه سو، تاسي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څنګه او څه ډول د خپلو اصحابو معنويات د اُميد په خوی سره ور لوړول، مسلمانان هيڅ وخت د خپل کار او عمل د نتيجې څخه نه نااُميده کيدل. پسله هغه څخه چې کفارو و حضرت خُبيب (رضي الله عنه) ته په اور او سرو سوو ډيرو آزارونه ورکړه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څه ورته وويل؟ ټول د کاميابۍ اُميدونه او زيري وه، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په ټول ژوند کې نااُميدي نه وه. اوس هم په ځوانانو کې هغه څوک و رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته حبيب دی، چې نااُميده کيږي نه، نور خلګ هم نه نااُميده کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

صبر او قرباني: د ترقۍ لپاره به دي قرباني د ويني او روح تر حده پوري وي، حضرت حمزه (رضي الله عنه) دي په ياد دی؟ د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د مبارک مخ څخه دي د وينو بهيدل په ياد دي؟ ترقي او نُهضت بيله وينو نسته، هر هغه څوک چي د روح او وينو وقربانۍ ته آمادګي نه لري، هغه دي په کور کي کښيني د ترقۍ او کاميابۍ نوم دي نه يادوي.

خپل منځي اتحاد: د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) سياست د خلګو جمعه کول، يو ځای کول او متفق کول وه، نه د خلګو پاشل او متفرق کيدل، مګر بدبختانه موږ اوس خلګ د ژبي او منطقې پر اساس يې سره جلا کوو، نو ځکه اسلامي اُمت مو ټوک ټوک او پاشلی دی، مګر د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) منهج او طريقه تجميع وه نه تفريق، يو ځای کول وه نه پاشل، نو هر څومره چي مو په وسه پوره وي خلګ سره متفق کوی، تاسي په ټول سيرت کي وګورئ، چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) خلګ څنګه سره متفق کول، حبشي او رومي، عربي او فارسي ټولو د يوه هدف لپاره ژوند کوی.

فن او ثقافت: که تاسو د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) پر سيرت يو دقيق نظر واچوی، و به وينی چي ټول عالم و دغه مبارک سيرت ته اړ او محتاجه دی، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د سيرت څخه زده کړه د هري زمانې او هر ځای ضرورت دی، دغه سيرت يوازي په هغه وخت او زمان پوري تعلق نه درلودی، بلکي د هر وخت او هر ځای د واقعاتو او حادثاتو لپاره درس ځيني اخستل کيدلای سي، نو فن او ثقافت هغه شئ دی چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د خپلو اصحابو د معنوياتو د لوړولو لپاره استعمالاوه، ستاسي په ياد دي کوم وخت چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) مدينې منورې ته داخليدی، انجونو او کوچنيانو ترانې ويلې، د مسجد قُباء او مسجد نبوي د جوړولو په وخت کي شعرونه ويل کيدل، د خندق د کندلو په وخت کي اصحاب کرامو اشعار ويل، رسول الله (صلی الله عليه وسلم) خطيب او شاعر درلودی، نو د نُهضت او ترقۍ لپاره فن او ثقافت مهم دي.

فعال او مناسب پلان: د يوه شي يا يوه کار لپاره صحي نقشه جوړول او بيا د هغې نقشې جدي عملي کول، نو که ته اوس د دوهم وار لپاره سير النبي (صلی الله عليه وسلم) ووايې يا واورې ته به ووينې چي هلته څنګه پلان او نقشه جوړيدل، هغه پلان او نقشه بيا څنګه په جدي ډول سره عملي کيدل، نو پلان د نُهضت او ترقۍ مقصد ته د رسيدلو لپاره د مهمو شرطو څخه دي، بيله پلان هيڅکله نُهضت، ترقي او کاميابي په وجود نه سي را تلای، زموږ او ستاسي څخه هر يو په خپل ژوند او د خپل مسؤليت په اندازه بايد خامخا پلان او نقشه ولرو او دا مو بايد عقيده وي چي زه د دغه پلان د عملي کولو مسؤله يم، يو مسلمان د اسلامي رسالت مسؤله دی، نو هر سړی بايد د کار په شروع کي يوه صحي نقشه او پلان ولري، ځکه بيله پلان نُهضت او ترقي په وجود نه سي را تلای او بيا د هغه پلان لپاره صحي او جدي کار او عمل وکړي، يوازي د خولې په خبرو يې هم سر نه سره ورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مخالفینو سره چلند: د مخالفینو سره په ښه نیت او پراخه زړه ژوند کول دي، ستاسي په یاد دي؟ چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مدیني منورې و مختلفو طوائفو ته چي د مختلفو دیانتو تابع وه، یو قانون جوړ کړی. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مځکي و پاچهانو ته لیکونه لیږل. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د حدیبیې صلحه یې ولیکل. دا ټوله د مخالفینو سره ژوند کول وه، مګر دا دا معنا نه لري چي زه به تر خپل حق تیریږم، هو! د مخالفینو سره ژوند کوم، خو خپل حق هم حتماً غواړم او په خپل دین سره قوي او محترم یم، اې هغو مسلمانانو چي په غرب کي اوسیږی هلته واوسیږی، مګر دا هم په یاد ولرئ چي په خپل دین سره ونه شرمیږئ، پام کوئ هغه عزت چي تاسي یې په خپل دین سره لری د لاسه ورنه کړئ، په خپل دین معززه اوسئ، په خپل دین سره فخر کوئ او خپل لاسونه په خپل حق پوري ټینګ ونیسئ، تا ولیدل چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) که په زور وو، که په رضاء خپل حق خامخا اخستی، و قریشو ته یې ویل: ما او خلګ سره پریږدئ، د دعوت د کاره څخه یې په هیڅ طریقه سره لاس نه اخستی.

د حالاتو سره سم وعظ او نصیحت: د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دیني خطاب! رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د هر وخت سره مناسبي دیني بیانیې دایرولې، کوم وخت چي د مسلمانانو په منځ کي ورورګلوي او محبت ته ضرورت وو، هلته د اُخوة آیاتونه او احادیث نازلیدل، نو زموږ په ټولنه کي باید دیني خطاب د هغو حالاتو سره موافق او مناسب وي چي موږ ژوند په کښي کوو، نو نُهضت او ترقي بیله دې څخه نسته چي دیني خطاب به مو د وخت د حالاتو سره موافق وي او د ژوند و نوي مرحلې ته به مو ور داخلوي.

د ملت او رعیت رایه او نظر اوریدل: د ملت او رعیت د رأیي او نظر احترام، د خلګو د رأیي قبلول، خلګ په آزاده سره خبرو ته پریښوول، دا هغه طریقه ده چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خپل ژوند کي عملي کول، تاسي ونه لیدل؟ د خندق په غزاء کي یې د سلمان فارسي (رضي الله عنه) په رأیه سره په جنګ کي یوه نوې طریقه اختیار کړه، که څه هم سلمان فارسي (رضي الله عنه) یو آزاد سوی مریی بلل کیدی، نو د ملت او خلګو د فکر او نظر احترام کول، او د هغو وخبرو ته غوږ نیول په خلګو کي نژدې والی راولي، تر څو چي د خلګو د رأیي احترام ونه سي، نو نُهضت او ترقي په وجود نه سي راتلای، د نهضت او ترقي فکر کول بې معنا دی په داسي حال کي.

صلحه: اصل په اسلام کي صلحه ده، نه جنګ، جنګ هغه وخت منځته راتلای سي، چي مسلمانان ور ته مجبوره سي، مثلاً: غدر او خیانت ور سره وسي، یا د رسالت د رسولو څخه چي دعوت، امر بالمعروف او نهي عن المنکر دی منع کړل سي، ستاسي د بدر، اُحُد، خندق، غزاوي په یاد دي؟ د ټولو سبب دا وو، چي قریشو مسلمانان و تبلیغ او دعوت ته نه پریښوول، خو چي بیا قریشو په حدیبیه کي صلحه وغوښتل صلحه ور سره وسوه، د خیبر جنګ هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلحي لپاره وو، نو اصل په اسلام کي صلحه او امان دی، نه د وينو د تويولو شوق، که د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د وينو بهولو اراده وای، د مکې مکرمې په فتحه کي به يې د وينو ويالې بهولي وای، او دا کار يې ونه کړی، ځکه صلحه او امان يې غوښتل.

تدريب او تعليم: چي موږ يې د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د سيرت څخه را ايستلای سو، ستاسي په ياد دي چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د أرقم بن ابي الأرقم (رضي الله عنه) په کور کي خپلو اصحابو کرامو ته فکري، روحاني، اخلاقي، سياسي، ايماني، تدريب او تعليم ورکوی؟ او د هغه ځايه څخه دغه عالي او ممتاز نسل راووتی چي دنيا يې په نور ډکه کړه، که نن ورځ موږ خپلو ځوانانو ته فکري، سياسي، روحي، ايماني، اخلاقي، تعليم ورنه کړو، نو د نُهضت او ترقئ أُميد هيڅکله مه کوی. اې ځوانانو! که څوک تاسي ته ايماني او اخلاقي تعليم نه درکوي تاسي په خپله بايد په تعليم پسې سئ، ځکه تعليم د ترقئ لار ده، لهو او لعب، عبث ژوند، د وخت ضائع کول او بې ځايه خواهشات پريږدئ.

د سيرت النبي (صلی الله عليه وسلم) تر مطالعه کولو وروسته د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) سره ډير زيات او شديد محبت، داسي محبت چي ستا زړه او وجود ټول په ډک وي، داسي محبت چي ستا د وينو په رګو کي بهيږي، موږ مسلمانان بايد خامخا رسول الله (صلی الله عليه وسلم) خوښ ولرو، ځوانه د دغه محبت لپاره ستا مرسته کوونکی په دقت سره د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د سيرت مطالعه کول دي، ځوانه ته بايد په دې فکر کي سې چي زه بايد په مځکه کي اصلاحات راولم، ځکه ته د رسالت خاوند يې، ته د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) أُمتي يې او دغه رسالت ستا پر غاړه امانت دی، وګوره په هر شي کي چي ته مهارت لرې په هغه شي کي د مځکي او انسانانو په اصلاح پسې سه، د مسلمانانو څخه هر يو بايد په خپل قدرت او خپل مهارت کي جدي عمل وکړي، هو د دينه څخه بايد دومره زده کړه وسي چي خپل دين وپيژني او خپل اعمال د شريعت سره موافق اجراء کړې، حق او باطل سره وپيژني.

مګر تعليم، صحت، زراعت، تخنيک او داسي نور... علوم هم بايد ولرې، چي اسلامي أُمت پر خپلو پښو و دروې او د مځکي په اصلاح کولو سره د خپل رب عزوجل عبادت وکړې، ځوانه که ته د رسالت د رسولو په نيت سره ژوند وکړې، ان شاءالله په جنت کي به د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ملګری يې، هو! هغه څوک چي د رسالت د رسولو لپاره ژوند کوي يقيناً به هغه کسان په جنت کي د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ملګري وي، دا معلومه ده چي ټول أُمت لمنځونه کوي، روژې نيسي، حج کوي، د قرآن مجيد تلاوت کوي، ژړلي يې دي او دعاوي يې کړي دي، مګر په جنت الفردوس کي به څوک د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ملګری وي؟ هغه څوک چي د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) سره ډير محبت لري او هغه څوک چي د رسالت په رسولو کي ډير زيار او زحمت باسي، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) تر رحلت وروسته د رسالت رسول او تبليغول، امر بالمعروف او نهي عن المنکر، د رسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

(صلی الله علیه وسلم) د اُمت پر غاړه امانت دی، څوانه ته باید رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په داسي اندازه سره خوښ ولرې چي په هر قیمت او هره ممکنه وسیله سره چي وي د اسلامي اُمت د اصلاح لپاره حرکت در په کښي موجود کړې، ځان د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اُمتي و بوله او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پر لار رهي سه. مګر متأسفانه څنګه چي موږ مسلمانان د اسلام په اساساتو او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په لارښوونو پوره نه یو خبر، نو د پردیو د قانون صفت کوو او ښه یې وایو، حال دا چي د هغو د قانون د صفت وړ مادې، هغه مادې چي د انسانیت او بشریت په نفعه دي او ته یې خوښي لرې، هغه د مسلمانانو د دین او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د لارښوونو څخه اخستل سوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه کبیره او صغیره ګناهونه وپیژنه او ځان ځیني وساته

د کبیره او صغیره ګناه تعریف او تشریح: د علماؤو د یوې ډلې قول دا دی: هره ګناه کبیره ده، هیڅ صغیره ګناه وجود نه لري، ځکه چي په هره ګناه کي د الله سحانه وتعالی او د الله سحانه وتعالی د رسول (صلی الله علیه وسلم) د ارشاد مخالفت دی. د الله سبحانه وتعالی او د الله سبحانه وتعالی د رسول (صلی الله علیه وسلم) مخالفت چي څومره لږ وي، بیا هم غټه ګناه ده، ددې امله صغیره ګناه نه سي ورته ویل کیدلای. بیا چي د صغیره او کبیره ګناهونو کوم تقسیم مشهور دی هغه فقط اضافي او نسبتي دی، یعني ځیني ګناوي د نورو ګناهونو په مقابل کي صغیره دي. د شیخ ابو اسحاق اسفرائني، قاضي ابوبکر باقلاني، امام الحرمین تقي الدین سبکي او د عامه اشاعره علماؤو (رحمة الله علیهم) همدا قول دی.

د جمهورو علماؤو مذهب: ګناهونه ځیني کبیره او ځیني صغیره دي ځکه چي پر دې خبره د ټولو اتفاق دی، ځیني ګناوي داسي دي چي د هغه کوونکی فاسق او مردود الشادة ګڼل کیږي، او بعضي بیا داسي دي چي د هغه کوونکي ته فاسق نه ویل کیږي او د هغه شهادت نه ردیږي. لومړی قسم ګناه ته په اصطلاح کي کبیره ګناه او دوهم قسم ته یې صغیره ګناه ویل کیږي.

امام غزالي (رحمة الله علیه) فرمایي: کومه ګناه چي انسان په بې باکي سره کوي، هغه کبیره ګناه ده که څه هم صغیره وي، او کومه ګناه چي ناڅاپه وسي او په زړه کي د الله سبحانه وتعالی څخه بیره، پښیماني او تاسف ورسره وي، هغه صغیره ده که څه هم غټه ګناه وي. والله اعلم

د کبیره او صغیره ګناه په تعریف کي د علماؤو اقوال مختلف دي: علامه ابن نجیم (رحمة الله علیه) په خپله رساله کي تقریباً څلویښت (۴۰) قولونه نقل کړي دي. همداسي علامه ابن حجر هیثمي (رحمة الله علیه) هم ډېر بیلا بیل قولونه را نقل کړي دي، مګر په ټولو کي ډېر جامع قول د اصحابو، تابیعنو او علماء کرامو څخه نقل سوی دی. هغه دا دی: پر کومه ګناه باندي چي په قرآن کریم یا حدیث کي د اور او دوږخ سزا راغلې وي هغه کبیره ګناه ده، او پر کومه ګناه باندي چي د اور او دوږخ سزا په ښکاره سره نه وي راغلې هغه صغیره ګناه ده.

پر صغیره ګناه باندي همیشه توب یا تکرارن کول امام رافعي (رحمة الله علیه) فرمایي: کومي ګناه ته چي صغیره ګناه ویل کیږي، دا تر هغه وخته صغیره ګناه ده، تر څو چي دوام او همیشه توب پر ونه سي، کله کله وسي څوک چي پر صغیره ګناه باندي دوام وکړي، هغه د کبیره ګناه کوونکی سو، همداسي که څوک په ډیرو صغیره ګناهونو کي بوخت سي، تر داسي حالته پوري چي د هغه پر اطاعاتو باندي غالب سي هغه هم فاسق او مردود الشهادة دی. کتاب زواجر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لوی ګناهونه یعني کبیره ګناهونه:-** ۱: د الله (جل جلاله) سره شریک نیول.۲: بې ګناه قتل کول. ۳ جادوګري کول. ۴: لمونځ نه کول. ۵: زکات نه ورکول. ۶: بیله عذره روژه نه نیول. ۷: د وس سره سم حج نه کول. ۸: د مور او پلار امر نه منل. ۹: د خپلوانو سره ناوړه چلند کول. ۱۰: د ښځي سره بدکاري (زنا) کول. ۱۱: لواطت کول. ۱۲: سود خوړل او کاروبار یې کول. ۱۳: په ظلم د یتیم مال خوړل. ۱۴: په الله (جل جلاله) او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پوري دروغ تړل. ۱۵: د جهاد د میدان څخه تښتیدل. ۱۶: پر اولس د چارواکو ظلم. ۱۷: تکبُر کول. ۱۸: د دروغو شاهدي ورکول. ۱۹: شراب څیښل او نشیي مواد څکول. ۲۰: خُمار کول. ۲۱: پر پاک لمنو ښځو د زنا تهمت لګول. ۲۲: د غنیمت په مال کي خیانت کول. ۲۳: غلا کول. ۲۴: لار وهل. ۲۵: په دروغو قسم اخیستل. ۲۶: ظلم کول. ۲۷: ناجایزه محصول اخیستل. ۲۸: حرام خوړل. ۲۹: ځان وژنه.۳۰: دروغ ویل.۳۱: غلطي فیصلې کول. ۳۲: رشوت اخیستل. ۳۳: د یو بل سره د ښځي او نارینه ورته والی (مشابهت). ۳۴: د میرمني په زنا کولو نه خپه کیدل. ۳۵: پر کمزور زیاتي کول. ۳۶: د بولو د څاڅکو څخه ځان نه ساتل. ۳۷: ریاء کاري کول. ۳۸: د دنیا لپاره دیني علم زده کول او پټول. ۳۹: په امانت کي خیانت کول. ۴۰: احسان اچول. ۴۱: تقدیر دروغ ګڼل. ۴۲: د نورو عیبونه پلټل. ۴۳: شیطانت یا چغلي کول. ۴۴: لعنت ویل. ۴۵: وعده خلافي کول. ۴۶: د کاهن او نجومګر تصدیق کول. ۴۷: د میړه یعني خاوند امر نه منل. ۴۸: پر مړي باندي بې اندازې ډیر فریاد او چغي کول. ۴۹: بغاوت او سرکښي کول.

**کوچني ګناهونه یعني صغیره ګناهونونه:-** ۱: نامحرمه ښځي ته قصدًا کتل. ۲: د پردۍ ښځي سره په یوازي ځای کي کښینستل یا لاس ور وړل. ۳: پر انسان یا څاروي باندي لعنت ویل. ۴: هغه دروغ چي په هغه کي چا ته کوم تاوان ونه رسیږي. ۵: د یو مسلمان بد ویل، که څه هم په اشاره او کنایه سره وي او خبره هم رښتیني وي. ۶: بام او لوړ ځای ته ختل، چي د خلکو کورونه ځیني ښکاره سي. ۷: د یو مسلمان سره پرته له کومه عذره تر درو (۳) ورځو ډیر اړیکي ختمول. ۸: پرته له علم او تحقیق د یو چا له طرفه جنګ کول، د علم او تحقیق څخه وروسته د حق خلاف جنګ کول. ۹: په لمانځه کي په اختیار سره خندل یا د یو غم له کبله ژړل.۱۰: د نارینه لپاره د ښځي جامې اغوستل. ۱۱: په تکبُر او غرور سره تګ کول. ۱۲: د فاسق سره ناسته او ولاړه کول. ۱۳: په مکروه وختونو یعني لمر خاته، لمر لویده او زوال کي لمونځ کول. ۱۴: په منع سویو ورځو کي یعني اخترونو او د تشریق په ورځو کي روژه نیول. ۱۵: مسجد ته ناپاکي وړل. ۱۶: مسجد ته لیونۍ یا دومره کوچني ماشومان وروستل چي د مسجد د ککړتوب خطره ځیني وي. ۱۷: د قضاء حاجت پر مهال قبلې ته مخ یا شا ګرځول. ۱۸: په حمام کي بالکل ځان لوڅول که څه هم د خلکو په مخ کي نه وي. ۱۹: په داسي ډول روژې نیول چي په منځ کي یې هیڅ روژه مات ونه کړي. ۲۰: د کومي ښځي سره چي یې ظِهار کړی وي د ظِهار د کفارې د ادا کولو څخه مخکي جماع ورسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کول. ۲۱: د ښځي لپاره پرته له محرمه سفر کول، د ضرورت حالت ځيني مستثنی دی. ۲۲: د خوراک او څښناک اړين شيان د ګرانۍ لپاره جمع کول. ۲۳: کله چي د دوو کسانو تر منځ معامله کيږي، د هغه تر جواب مخکي د هغه په خريدارۍ يا پيغام کي خنډ اچول. ۲۴: د صحرا خلګ چي کوم مال ښار ته د خرڅولو لپاره راوړي، هغه په کميشن او دلالۍ سره خرڅول. ۲۵: ښار ته د راتلوونکي مال بازار ته د رسيدلو مخکي د ښار څخه دباندي رانيول. ۲۶: د جمعې د آذان وروسته شی خرڅول او رانيول. ۲۷: د سودا عيب د خرڅولو په وخت کي پټول. ۲۸: سپی ساتل، د مجبورۍ حالت مستثنی دی، لکه: د کور د ساتني يا ښکار لپاره. ۲۸: د شطرنج لوبه کول. ۲۹: د ښځي يا مينځي سره په داسي حالت کي جماع کول منع دي، چي يو بالغ هلک يا ښځه ورسره بيده وي، کوچنی ماشوم باک نه لري. ۳۰: بيله ضرورته په ولاړي بولي کول. ۳۱: په غسل خانه يا په وياله کي د اوبو څښلو پر ځای بولي کول. ۳۲: په لمانځه کي سدل کول يعني جامې پر اوږه يا سر ځړول. ۳۳: د جنابت په حالت کي آذان کول. ۳۴: په لمانځه کي پر تشي لاس ايښوول. ۳۵: په لمانځه کي غټ پټو داسي پر ځان اچول چي لاسونه ځيني ايستل مشکل وي.

۳۶: په لمانځه کي په جامو يا بدن لوبي کول يعني پرته له ضرورته يو اندام ته حرکت ورکول يا جامې سره اړول. ۳۷: د لمونځ کوونکي په مخ کي د هغه و خواته کښينستل يا دريدل. ۳۸: په لمانځه کي راسته او چپه طرف يا آسمان ته کتل. ۳۹: په مسجد کي د دنيا خبري کول.۴۰: په مسجد کي داسي کار کول، کوم چي د عبادت وړ نه وي. ۴۱: د روژې په حالت کي د خپلي ښځي سره ساتيرول. ۴۲: په روژه کي د خپلي ښځي څخه مچه اخيستل کله چي تر حد د زياتيدو انديښنه وي. ۴۳: د بې کاره مال څخه زکات ورکول. ۴۴: څارویٰ يا حيوان د څټ له خوا حلالول. ۴۵: د حلال او ذبح سوي څاروي مخصوص اعضاء خوړل. ۴۶: د حکومت له طرفه پرته له ضرورته د شيانو نرخ ټاکل. ۴۷: د عاقلي بالغي انجلۍ نکاح د ولي د اجازې پرته تړل. ۴۸: نکاح الشغار يعني يوه ښځه د بلي ښځي په مهر کي ورکول. زموږ په اصطلاح کي موخۍ ورته وايي. ۴۹: ښځي ته په يوه وخت کي تر يوه ډير طلاقونه ورکول. ۵۰: ښځي ته پرته د ضرورته بائن طلاق ورکول، ځکه چي په رجعي طلاق سره هم جلاوالی کيدلی سي.

۵۱: د حيض په حالت کي طلاق ورکول. ۵۲: په کوم طهر کي يې چي جماع کړې وي، په هغه کي طلاق ورکول. ۵۳: طلاقه سوي ښځي ته د جماع په ذريعه رجوع کول، ځکه لومړی رجوع په خبرو سره په کار ده. ۵۴: ښځي ته د تکليف رسولو او عدې اوږدولو لپاره رجوع کول. ۵۵: ښځي ته د تکليف رسولو لپاره ايلاء کول، ايلاء يعني د جماع کولو څخه قسم اخيستل. ۵۶: په اولادونو کي د شيانو په ورکولو کي برابري نه کول. ۵۷: د قرآن کريم تلاوت کوونکی د خپل پلار يا اُستاد څخه ماسيوا د تعظيم لپاره يو چا ته دريدل. ۵۸: فقط د لاس په اشارې سره سلام کول. ۵۹: د کوم چا چي حرام ډير وي، حلال يې لږ وي، د هغه ډالۍ يا دعوت پرته له عذره بيله تحقيقه قبلول. ۶۰: په زوره د قبضه سوي ځمکي د ګټي څخه خوراک کول. ۶۱: په زوره د قبضه سوي ځمکي ته ننوتل که څه هم د لمانځه لپاره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶۲: د بل چا په مځکه کي د هغه د اجازې پرته تګ کول. ۶۳: د حیوان مُثله کول یعني په ژوندوني یې پزه، غوږونه او نور څه پرې کول. ۶۴: یو حربي کافر یا مرتد تر درو (۳) ورځو پوري د توبې کولو او دعوت ورکولو څخه مخکي وژل. ۶۵: مرتده ښځه وژل. ۶۶: د لمانځه لپاره د یو خاص سورت ټاکل. ۶۷: په لمانځه کي چي کوم د تلاوت سجده واجبه وي هغه ځنډول یا پریښوول. ۶۸: د عالم، بزرګ، مور، پلار او مشرانو څخه پرته د یو چا لاس مچول. ۶۹: پرته له ضرورته دوه (۲) نفره په یوه قبر کي ښخول. ۷۰: بیله ضرورته د جنازې لمونځ دننه په مسجد کي کول. ۷۱: د تصویر په وړاندي یا که تصویر راسته او چپه طرفته وي لمونځ کول یا سجده ورباندي کول. ۷۲: د سرو او سپینو زرو لوښي استعمال. ۷۳: پرته له ضرورته کافر ته په سلام سره پیل کول که هغه سلام ادا کړ، نو په جواب کي و علیک یا هداک الله ویل په کار دي. ۷۴: د آذان تر اوریدلو وروسته په کور کي کښینستل او د اقامت انتظار کول. ۷۶: د خلګو لاره بندول، په ولاړي سره یا په لاره کي کښینستل. ۷۷: د خپل زړه د ساتیري لپاره غزلي ویل یعني د ځان سره زمزمه کول. ۷۸: بې غیرتي کول، یعني د خپلو دوستانو او خپلوانو د قدرت سره سره د ظلمه څخه نه ژغورل. ۷۹: عبادت تر شروع کولو وروسته باطلول.

دا هغه صغیره ګناوي دي چي علامه ابن نجیم (رحمة الله علیه) ذکر کړي دي، مګر علامه ابن حجر (رحمة الله علیه) بیا په ډیر شمیر سره ذکر کړي دي، بیا چي کومي ګناوي ابن نجیم (رحمة الله علیه) په صغائرو کي راوړي هغه ګناوي ابن حجر (رحمة الله علیه) په زواجر کي په کبائرو کي راوړي دي، دا ځکه چي ځیني علماء بیخي ګناهونه کبیره او صغیره ته نه تقسیموي، ځکه دوی وایي: ټول ګناهونه کبیره دي، د الله (جل جلاله) د نافرماني له حیثیته هره ګناه سخته او غټ مصیبت دی. کوم چي صغیره او کبیره ګناوي بلل سوي دي دا یو نسبتي او اضافي فرق دی، یعني ځیني ګناوي د نورو ګناوو په نسبت صغیره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه تقوا اختيار کړه تر څو ژوند دي د نيکمرغيو څخه ډک سي

د امام صادق (رحمة الله عليه) څخه روايت سوی دی: تقوا درې (۳) درجې لري:ـ ۱: تقوا بالله، د خلافو پريښوول، چي د شبهاتو د پريښوولو څخه لوړه ده او دا خاص الخاص تقوا ده. ۲: د الله سبحانه وتعالی تقوا ده، د شبهاتو پريښوول چي د حرامو د پريښوولو څخه لوړه ده، او دا خاصه تقوا ده. ۳: د عذاب د بيري څخه تقوا ده، د حرامو پريښوول دي او دا د عامو تقوا ده. تقوا په يو ښار کي د بهيدلو اوبو په څير ده او دا درې (۳) درجې د هغو ونو په څير دي، چي د ويالي پر غاړه راشنې کيږي. هر ونه د خپلي ريښې او اصل له مخي د ويالې څخه ځانګړې اندازه اوبه ځان ته جذبوي. ځکه نو تقوا د اطاعاتو لپاره داسي ده، لکه اوبه چي ونو ته وي، د ونو او ميوو طبيعت د رنګ او خوند له اړخ د ايمان د اندازو سره ورته دی.

يو ډول دنننی ساتونکی د تقوا لنډه معنا ده. که يو انسان ددې دننني ساتونکي درلودونکی نه وي، يو دباندينی ساتونکی به ورته ګټور نه وي. ټولي موعظې، يادوني، امر او نهي هغه وخت ګټور کيږي، چي انسان دننه آمر کوونکی يا نهي کوونکی ولري، د تقوا اغيزې ډيري او درجې يې بيلا بيلي دي، د تقوا مراتب پر الهي احکامو د عملي کولو څخه شروع کيږي، او تر وروستي پړاوه پوري، چي په حقيقت کي الهي قرب دی، د الهي تقوا د حق پوره کول، د تقوا وروستی مرتبه ده او تر خپل وس پوري تقوا خپلول لومړی مرتبه ده، او د دواړو تر منځ ډيري مرتبې او منزلونه دي.

په شريعت کي د تقوا آهميت: د الله سبحانه وتعالی په وړاندي د انسان عزتمنيدل د تقوا په مرتبې پوري يې اړه لري. په اسلامي شريعت کي د نارينه او ښځي، کوچني او غټ، ناروغ او روغ تر منځ په حقوقو يا مکلفيتونو کي چي کوم توپير سته، د الله سبحانه وتعالی په وړاندي په عزتمنيدو او آرزښتمنيدو کي د تبعيض په معنا نه دی. کوم کړه وړه چي د ښځي څخه يې غوښتي دي، د ښځي د تقرب او ورنژديوالي لامل دی، او کومي کړني چي يې د نارينه څخه غوښتي دي، د نارينه د ورنژديوالي لامل دی. څوک چي ډيره تقوا لري، الله سبحانه وتعالی ته ښه او ګران دی او څوک چي ښه بې تقوا وي، ښه خوار دی. د الله سبحانه وتعالی په وړاندي انسان، د تقوا په تله تلل کيږي، نه په انساني جوړ کړل سوې کچه.

د انسان په ژوند کي د تقوا ونډه: تقوا، انسان ته بصيرت يعني ليدنه، مړانه او هميشنی حقپالي ورکوي. متقي انسان هغه دی چي هم د مصايبو او کړاوونو په وړاندي ثابت او زغم ناک وي، او هم د شکونو او شبهاتو په وړاندي زغم ناک وي، ځان د ژوند په ستونزو کي نه بايلي او په پوره مړانه ورسره مخامخ کيږي. د باطلو د تپو تيارو د وسوسو په وړاندي يې يوه رڼا، لاري ورته سموي. دا دنيوي ليدنه يې په آخرت کي هم ورسره مل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تقوا معنا او حقیقت: دیني تقوا یعني د ګناهونو څخه ځان ساتل، دین چي ژوند ته کوم قانون ټاکلی دی، هماغه په پام کي نیول، د قانون د پولو څخه اوښتل، او د ښکاره بدیو څخه ځان ساتل همدې ته تقوا ویل کیږي. تر ایمان مخکي او وروسته تقوا تر منځ توپیر:- تقوا دوه (۲) پړاوونه لري:- ۱: تر دیني ایمان مخکي تقوا او وروسته تقوا. ۲: تر ایمان مخکي تقوا، د ضمیر پاکي او صفایي ده، داسي چي انسان د حق پیغام منلو ته چمتو کوي او تر ایمان راوروسته تقوا، پر الهي شرایعو د عمل بیره او محصول دی. د الله سبحانه وتعالی او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د خبرو اغیزمنیدو ته، لوموړی باید حق پیژندونکی او حق منوونکی زړه ولرو.

حضرت علي (کرم الله وجه) وایي: د الله سبحانه وتعالی تقوا، د الله سبحانه وتعالی دوستان تر خپل ملاتړ لاندي راولي، د الهي چاپیریال پر پولو د تیري څخه یې ساتي او د الله سبحانه وتعالی بیره یې د زړونو مل کړي، تر دې پوري چي د شپې یې ویښ ساتي او د ورځي تږي وي، لکه د روژې تنده. تقوا په نړۍ کي انسان ته د یو کلا او د یو ډال په شان ده او په اخرت کي به یې د جنت لار وي. حضرت علي (کرم الله وجه) دواړو ته اشاره کړې، وایي: تقوا وساتئ او هم ځان په وساتئ. حضرت علي (کرم الله وجه) وایي: تاسي ته د الهي تقوا سپارښتنه کوم، تقوا مو پر اوږو الهي حق دی او د هغه حق د ثبوت لامل دی، چي تاسي یې پر الله سبحانه وتعالی لری، تقوا ته په رسیدو کي د الله سبحانه وتعالی څخه مرسته وغواړئ او په تقوا سره الله سبحانه وتعالی ته نژدې سئ. په هر حال هغو خطرونو ته باید پاملرنه وکړو، چي د تقوا بنسټونه څپڅپانده کوي، په دیني لارښوونو کي هم ګورو، چي تقوا د ډیرو ګناهونو ضامنه پیژندل سوې ده، مګر د ځینو نورو ګناهونو په وړاندي خورا پیاوړې اغیز او جاذبه لري.

تقوا او روغتیا: حضرت علي (کرم الله وجه) وایي: تقوا مو د بدن د ناروغیو شفاء ده. البته تقوا څه درمل نه دی، مګر که تقوا نه وي، نو انسان نه سي کولای ان د خپل بدن روغتیا هم وساتي. متقي انسان چي پر خپل حق، پولو قانع او خوښ دی، نو ډاډمنه اروا، آرام ماغزه او روغ زړه لري، د بدن روغتیا، د اروا روغتیا او د ټولني روغتیا ټول په تقوا پوري اړه لري.

د تقوا آرزښت او اغیز: سره له دې چي تقوا د بشر په اخروي ژوند کي څرګندي اغیزې لري، او د ابدي پریشانۍ څخه د ژغورني څخه یوازنۍ لار ده، د انسان په دنیوي ژوند کي هم آرزښت او خورا ډیري اغیزې لري. حضرت علي (کرم الله وجه) د بشر ټول دردونه یو ځای ته راټولوي او ټولو ته تقوا ګټوره ګڼي. الله سبحانه وتعالی د انسانیت د اصلاح او کامیابۍ لپاره په پرهیزګارۍ او تقوا امر کړی دی او د هغه څه یې منعه فرمایلې ده چي د دنیا او آخرت د هلاکت سبب ګرځي، نو هوښیار او عاقل انسان د تل لپاره د تقوا په لټه کي وي، د الله سبحانه وتعالی د اوامرو اطاعت کوي او د منهیاتو څخه یې اجتناب کوي، اوس نو تقوا څه ته وایي، کومي نښانې او څه فائدې لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقوا په لغت کي بيري، وقايې او ځان ساتني ته وايي، په اصطلاح کي د الله سبحانه وتعالی د ټولو احکامو عملي کولو او د ټولو منهياتو څخه يې ځان ساتلو ته تقوا ويل کيږي. تقوا د خوف الهي څخه عبارت ده، خوف او بيره د زړه عبادت دی، له همدې وجهي د تقوا محل زړه دی.

د حضرت ابو هريره (رضي الله عنه) څخه د تقوا په هکله پوښتنه وسو؟ حضرت ابو هريره (رضي الله عنه) د هغه کس څخه پوښتنه وکړه: آيا ته پر داسي لاره تير سوی يې، چي هلته ازغي وي؟ هغه کس جواب ورکړ: هو! زه پر داسي لار تير سوی يم. حضرت ابو هريره (رضي الله عنه) بيا ځيني وپوښتل: تا په هغو ازغيو څه وکړل؟ هغه کس جواب ورکړ: هغه مي د لاري يوې خوا ته کړل، تر څو يې ضرر نورو ته ونه رسيږي. حضرت ابو هريره (رضي الله عنه) جواب ورکړ: همدې ته تقوا ويل کيږي.

د تقوا اړوند ځيني نښي چي متقي انسان باندي پيژندل کيږي:- ۱: د الله سبحانه وتعالی د شعائرو تعظيم کول. ۲: د الله سبحانه وتعالی په لاره کي خپل مال مصرفول. ۳: د الله سبحانه وتعالی ذکر هميشه کول. ۴: منکرات پريښوول او ليريوالی ځيني اختيارول. ۵: عاجزي کول او د الله سبحانه وتعالی په مخلوقاتو کي د تفکر له امله يوازيوالی خوښول. ۶: د بې لاری څخه ځان ساتل. ۷: د الله سبحانه وتعالی حدود او عدل قائمول او د ظلم څخه ځان ژغورل. ۸: په نيکو آمر کول او د بديو ځان ساتل. ۹ په غيب پر الله سبحانه وتعالی باندي ايمان راوړل. ۱۰: لمونځ قائمول. ۱۱: د اخرت پر ورځ ايمان او يقين ساتلو ته تقوا ويل کيږي.

۱: تقوا د الله سبحانه وتعالی د رضامندۍ سبب ګرځي. ۲: متقي انسان به د شيطان د وسوسو څخه په امان وي. ۳: د متقي انسان ټول کارونه الله سبحانه وتعالی آسانه کوي. ۴: تقوا کولای سي د انسان سره د حق او باطل په جلاوالي کي مرسته وکړي. ۵: په تقوا سره جلب د برکاتو کيږي. ۶: تقوا انسان د ولايت مقام ته نږدې کوي. ۷: متقي انسان ته کافران ضرر نه سي رسولای او د هغوی د مکر څخه به په امان وي. ۸: د سختۍ په وخت کي به الله سبحانه وتعالی د تقوا کوونکي انسان سره مرسته کوي. ۹: متقي انسان به د الله سبحانه وتعالی په نزد ډير عزتمند وي. ۱۰: متقي انسان به د قيامت په ورځ د الله سبحانه وتعالی د عذابه په امان وي. ۱۱: د متقي انسان دعاء الله سبحانه وتعالی نه ردوي او تقوا د ګناهونو لپاره کفاره هم ګرځي، چي دا ټولي فايدې د انسانانو لپاره خورا ستر آهميت لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه د دعوت او تبليغ آرزښت دي پيژندلی دی؟

دعوت الی الله ډيره ستره او مهمه دنده ده، همدغه دعوت دی چي د خلګو د لارښووني او سعادت لامل ګرځي، ددې آهميت او سترتوب له دې څخه څرګنديږي، چي دا د ټولو پيغمبرانو (عليهم السلام)، په هغو کي د خاتم الانبياء حضرت محمد مصطفی (صلی الله عليه وسلم) سپيڅلې دنده وه، او بيا همدغه دنده د حضرت محمد مصطفی (صلی الله عليه وسلم) د لاري لارويانو تر نن مهاله پر مخ بيولې ده او تر الی ماشاء الله پوري به يې بيا هم پر مخ بيايي، البته په دې کي هم شک نسته چي په اوس مهال کي اسلامي دعوت او تبليغ ته تر پخوا ډيره اړتيا ده، ځينو کسانو ددې ډيري مهمي اسلامي فريضې تر سره کولو ته ملا هم تړلې ده، الله سبحانه وتعالی چي هر څومره پيغمبران (عليهم السلام) انسانانو ته راستولي دي، د هغو ټولو موخه همدغه بلنه او تبليغ وو، تر کومه مهاله چي په نړۍ کي د انبياؤو (عليهم السلام) د راتلو لړۍ روانه وه، الله سبحانه وتعالی دا کار پيغمبران (عليهم السلام) ته سپارلی وو.

بيا دې نړۍ ته زموږ وياړلی پيغمبر حضرت محمد مصطفی (صلی الله عليه وسلم) د خاتم النبين په توګه تشريف راوړ او د خپل نبوت په درويشت (۲۳) کلن دور کي يې دا کار په بشپړه توګه ترسره کړ، ددې نړۍ څخه د حضرت محمد مصطفی (صلی الله عليه وسلم) تر رخصتيدو وروسته دا کار مسلمان اُمت ته د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د اُمتي توب د برکته سپارل سوی دی، صحابهٔ کرامو او ديني عالمانو دغه دنده په ډيره ښه توګه سرته ورسول، مګر څنګه چي وروسته په مسلمانانو کي کمزوري رامنځته سوه، نو د مسلمانانو د ژوندانه څخه دا کار کرار کرار مخ پر له منځه تلو سو، که څه هم الحمدلله په هر دور کي يوې ډلي دغه دنده پرمخ بيول، مګر د مسلمانانو د شمير په پرتله د دغو بلونکو او تبليغ کوونکو شمير لږ وو، په دې ډول د مسلمانانو په ټولنيز ژوند کي ددې کار د کمښت له امله هغوی کمزوري سول او کفارو پر مسلمانانو باندي داسي ولکه او غلبه تر لاسه کړه، چي د دوی څخه يې خپل هويت او پيژندګلوي هم هيره کړه.

اوس دا دی داسي يو حالت رامنځته سوی دی، چي ډيری يوازي په نامه مسلمانان پاته سوي دي، اوس نه دا چي عام مسلمانان په فرايضو او واجباتو عمل نه کوي، بلکي پر دې چارو عمل کول د خاصو مسلمانانو څخه هم مخ پر پاته کيدو روان دی، لمونځ او روژه پريښوول خو لا څه کوې، نن ورځ په لکونو انسانان په ښکاره په کفر او شرک بوخت دي، بده يې لا دا چي دوی هغه کفر او شرک هم نه ګڼي، دا چي د محرماتو، فسق او فساد خپريدل په څومره څرګند ډول روان دي؟ او د دين سره بې پرواهي، بلکي د هغه سپکاوی او ملنډي په وهل څومره عاميږي؟ دا هر چا ته څرګند دي، دغه لامل دی چي د خاصو، بلکي د عامو علماؤو د خلګو څخه ګوښه والی او کرکه ډيريږي، ددې ناوړه حالت څرګنده اغيزه دا ده چي د دين او ديني چارو څخه پرديتوب ورځ تر بلې ډيريږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

عوام خپل ځانونه په دې معذوره ګڼي، وايي داسي څوک نسته چي دوی ته ديني لارښووني وکړي، او عالمان بيا په دې خپل ځانونه معذور ګڼي، چي د دوی د خبرو اوريدونکي نسته، مګر د الله سبحانه وتعالی په وړاندي به د عوامو دا عذر پر ځای نه وي، چي ووايي: چا د دين په هکله څه نه وه راته ويلي. ځکه چي د ديني امورو په هکله معلومات تر لاسه کول او د هغو په هکله څيړنه د هر وګړي لپاره فرض بلل کيږي، د قانون څخه د بې خبرۍ عذر په هيڅ حکومت کي د منلو وړ نه دی. نو د احکم الحاکمين الله سبحانه وتعالی په وړاندي به دا ناقيصه عذر څنګه د منلو وړ وي؟ دا خو عذر بد تر از ګناه سو. همدا راز دا جواب د علماؤو لپاره هم مناسب نه دی، چي ووايي: زموږ د خبرو اوريدونکي نه وه. د کومو اولنيو اسلافو د نيابت او ځای ناستي توب دعوه چي تاسي ښاغلي کوئ، نو آيا هغو د تبليغ لپاره څه شي نه وه، چي ويې نه زغمل؟ آيا د ډېرو وارونه نه دي پر سوي؟ ښکنځل او بد رد يې نه دي اوريدلي؟ ډول ډول کړاوونه او ستونزي يې پر ځانونو نه وې ګاللي؟ مګر ددې ټولو سره سره يې خپلي تبليغي دندي پر مخ بيولې او د اسلام سپيڅلی دين يې تر خلګو پوري ورسوی، د هر ډول سختو مزاحمتونو باوجود يې په ډېره مهربانی او لورئيني سره اسلام او د اسلام احکام خپاره کړي دي.

حضرت مولانا محمد زکريا (رحمة الله عليه) ليکلي: په عامه توګه مسلمانان د تبليغ چاري د علماؤو پر غاړه فرض ګڼي، يعني دعوت او تبليغ د علماؤو کار ګڼي او په دې ګومان دي چي تل بايد عالمان تبليغ وکړي، په داسي حال کي چي دا خبره سمه نه ده، د هر چا په مخکي چي کوم ناوړه او منکر کار تر سره کيږي او هغه يې د مخنيوي وس ولري، يا د هغه د مخنيوي اسباب پيدا کولای سي، نو په دې صورت کي پر هغه واجب ده، چي د هغه ناوړه کار مخه ونيسي، او که فرضاً دا د عالمانو کار وبلل سي، نو که عالمان د سُستی يا کومي مجبوری له امله ددې چاري حق پوره نه ادا کوي، يا يې نه سي ادا کولای، نو پر هر وګړي باندي لازمه ده چي دا کار د ځان فرض وګڼي.

په قرآن کريم او نبوي احاديثو کي چي په څومره پام او اهتمام سره د تبليغ، امر بالمعروف او نهی عن المنکر په هکله ارشادات فرمايل سوي دي، په داسي حالت کي يوازي د عالمانو پر غاړه ددې کار په اچولو سره يا د هغو د کمزورۍ په وړاندي کولو سره هيڅوک د مسؤليته نه سي ژغورل کيدلای، له دې امله هر مسلمان دي په دې نازک وخت کي په اسلامي بلنه او تبليغ کي برخه واخلي او هر څومره وخت چي د دين په تبليغ او ساتنه کي تيرولای سي، بايد تير يې کړي، په دې باندي هم بايد پوه سئ چي د تبليغ کولو لپاره يا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر لپاره بشپړ عالم کيدل اړين نه بلل کيږي، بلکي هر څوک چي په کومه مسئله باندي پوهيږي، هغه بايد تر نورو پوري ورسوي او کله چي د ده په مخ کي کوم ناجايز کار ترسره کيږي، دی د هغه کار پر منع کولو او بدلون ورکولو باندي قادر وي، نو د هغه کار مخنيوی پر ده باندي واجب دی، الله سبحانه وتعالی دي موږ ټولو ته پر دې چارو باندي د عمل کولو توفيق راکړي، خپل ځان د اور څخه ژغورل پخپله اطاعت کول دي، او خپله کورنۍ د اور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځخه ژغورل، هغو ته د الله سبحانه وتعالی احکام ور زده کول دي او هغوی پر هغو باندي د عمل کولو په هکله د امکان په کچه په ژبه یا په لاس پوهول دي، له دې ځخه دا ځرګندیږي چي خپلي کورنۍ ته تبلیغ کول او د ګناهونو ځخه د هغو ژغورل لازمي دي، د قرآن کریم د آیتونو او حدیثونو ځخه دا خبره په بشپړه توګه واضح ده، چي د خپلي کورنۍ غړو او تر لاس لاندي کسانو ته تبلیغ فرض عین، او عامو مسلمانانو ته تبلیغ کول، یعني امر بالمعروف او نهی المنکر فرض کفایي دی. ځکه نو هر نارینه او ښځینه مسلمان ته ښایي چي په دې هکله فکر وکړي، په کور کي خپلي میرمني، کوچنیانو او داسي نورو... ته د لمانځه، روژې او د نورو فرایضو د ادا کولو حکم وکړي، د الله سبحانه وتعالی د نافرمانۍ او سرغړوني ځخه ځانونه وژغوري. همدا راز د کور ځخه دباندي خپلو ملګرو او هغو کسانو ته چي ناسته ولاړه ورسره لري، هم دیني بلنه او تبلیغ وکړئ او تل په دې هکله فکر وکړي، چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اُمت ځنګه د اسلام پر دین باندي عمل وکړي، ښځي دي په کور دننه کي خپلو ملګرو، همسایګانو او خپلوانو ته د دین، دیني او اسلامي اوامرو د سم او ښه ترسره کولو دعوت وکړي، او هڅه دي وکړي خپل اولاد داسي وروزي، چي په راتلوونکي کي د الله سبحانه وتعالی د دین داعي سي، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په اُمت کي د یوه نیک او پرهیزګار انسان په څېر ځرګند سي، اُمت ته یو صحیح لارښود او قاید جوړ سي.

**د دعوت پرېښوولو عذاب:** ځنګه چي دعوت او تبلیغ ډېر ستر ارزښت او آهمیت لري، ځکه نو د دعوت پرېښوولو او نه کولو باندي ډېر ستر عذابونه وارد سوي دي، په آخرت کي خو الله سبحانه وتعالی هرومرو په دې هکله پوښتنه کوي، په دې دنیا کي هم د اسلام سپیڅلي دین ته د دعوت او د هغه د تبلیغ پر پرېښوولو باندي د الله سبحانه وتعالی د لوري ډول ډول عذابونه نازلیږي، انسانان په ډول ډول لالهاندیو، سرګردانیو او جنجالونو باندي اخته کیږي، د مثال په توګه:

۱: که یو څوک ګناه کوي او نور یېویني، د واک او وس سره سره یې د ګناه ځخه نه راګرځوي، نو په دې صورت کي ټول قوم په عذاب اخته کیږي.

۲: پر داسي قوم باندي په دې نړۍ کي عذاب نازلیږي او هغه څوک چي یې یوازي خپله ښه سړی وي او نیک عملونه ترسره کوي، د دنیوي عذاب ځخه نه خوندي کیږي، نو هغه ښاغلي دي چي په خپله دینداري باندي ډاډه دي، بې غمه نه اوسي، ځکه که چیري الله سبحانه وتعالی مکړه د منکراتو د عامیدو د امله کوم عذاب نازل سي، نو هغوی هم په کښي ځپل کیږي.

**۳: د امر بالمعروف او نهی المنکر په نه کولو سره پر ډېر شدید عذاب سربېره د دعا د نه قبلیدو بیره هم سته.**

**۴: که عام مسلمانان د ګناه او نافرمانۍ د غرقیدو ځخه ونه ژغورئ، نو خپل غرقیده هم یقیني وبولئ.**

**۵: د واک او وس سره سره د تبلیغ د پرېښوولو په صورت کي کلمه طیبه ویل ستاسي عذاب نه دفع کوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ دا د الله (جل جلاله) قانون دی، تر څو نور د ظلم څخه منع نه سي، نجات موندل ستونزمن کار دی، وروسته رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په ډیر ټینګار سره حکم وکړ: امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوئ. ظالم د ظلم څخه منع کوئ او د حق لور ته یې بولئ.

لنډه دا چي د دعوت او تبلیغ پرېښوول زموږ د اوسنیو خواریو او پریشانیو لامل بلل کیدای سي، نن مهال د مسلمان اُمت حالت تر بدو بدتر سوی دی او هره ورځ مسلمانان په نویو نویو پریشانیو او لالهاندیو اخته کیږي، چي ددې لامل د مسلمانانو له خوا ډول ډول ناوړې چارې ترسره کول، د هغو پر ضد اقدام او هلې ځلې نه کول، د دعوت او تبلیغ پرېښوول دي، که اوس هم مسلمانان د غفلت د خوبه راویښ نه سي او دا کار چي د نبوت موخه او مقصد بلل کیږي، پر نبوي طریقه پیل نه کړي، نو به د بربادۍ او تباهۍ څخه ځان ساتل او ژغورل ډیر ستونزمن کار وي.

**د دعوت ښیګڼې او فضایل:** د دعوت او تبلیغ په پرېښوولو سره د الله سبحانه تعالی د لوري عذاب نازلیږي، په همدې ډول ددې کار ترسره کول هم ډیري ښیګڼي او فضیلتونه لري، چي د هغو په هکله الله سبحانه تعالی په قرآن کریم او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په خپلو احادیثو کي ارشادات فرمایلي دي. الله (جل جلاله) د مسلمانو نارینه وو او مسلمانو ښځو سره د داسي باغونو ژمنه کړې ده، چي د هغو تر ونو لاندي به ولې بهیږي او دوی به تل په هغه ځای کي اوسیږي، د ښکلو کورونو ژمنه یې ورسره کړې ده، چي هغه به په دې باغونو کي وي، او ددې نعمتونو تر څنګ بل ستر نعمت د الله سبحانه تعالی رضا ده، چي د تل لپاره به د جنتیانو په برخه وي، چي دا د انسان لپاره ستر بریالیتوب دی، که چیري یو سړی د یو چا د زیار او هڅوني د امله پر لمانځه باندي ټینګ سي، نو هر څومره ثواب چي هغه لمونځ کوونکي ته رسیږي، هغومره ثواب به هره ورځ هغه هڅوونکي ته هم رسیږي، همداسي نور نیک عملونه هم قیاس کړئ. سبحان الله! د الله سبحانه تعالی څومره ستر فضل دی، چي په یوه لږ شان زیار ایستلو باندي دومره لوی اجر ورکوي، که وروسته دغه زیار ایستونکی خپله موجود هم نه وي، بیا هم ثواب ورته رسیږي.

پر دې سربیره په دیني چارو کي خپله زیار ایستونکي انسان ته د الله سبحانه وتعالی د لوري رزق ورکول کیږي، د هغه له برکته د هغه خپلوانو ته هم رزق پیدا کیږي، ځکه نو که څوک شتمني ولري، دوستان او خپلوان یې د دین په چارو اخته وي، باید د داسي دوستانو او خپلوانو د خدمت او د هغوی د اهل او عیال د اړتیاوو لیري کولو ته پام واړوي، ځکه د ده ددې نعمت شکر په همدې ډول سره ادا کیږي، د خپلو شتمنیو او نعمتونو پراخي دي د خپلو داسي عزیزانو په طفیل وبولي، مګر له بده مرغه نن مهال موږ د بې خبرۍ له امله پر داسي دین پالو، د اسلام او مسلمانانو د خدمت او پوهوني په چارو اخته خلګو باندي نیوکي او اعتراضونه کوو او ملامت یې ګڼو، دا زموږ ډیره ستره غلطي ده، له دې ستري ښیګڼې څخه بې برخي کیدل د لوی سعادت څخه بې برخي کیدل دي، دا د الله سبحانه وتعالی څومره ستر انعام دی، چي څوک دومره پیسې ونه لري، چي حج یا عمره په وکړي، نو هغه دا مرتبه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعوت او تبلیغ د لاري تر لاسه کولای سي، دا ځومره لوی فضل دی. د الله سبحانه وتعالی ځومره ستر احسان دی چي په دې لار کي د یوې پیسې لګښت په سلو نه، بلکي په اووه سوه (۷۰۰) بدلوي، موږ ته ښایي چي ددې بشارت په پام کي نیولو سره وګورو چي موږ د الله سبحانه وتعالی د رضا او خوښی لپاره د خپلي ګټي څخه ځومره برخه د الله سبحانه وتعالی په لار کي خرځوو، که مو تر اوسه پوري دا کار نه وي کړی، نو په راتلوونکي کي یې باید هرو مرو خپل معمول وګرځوو. علماوو کرامو لیکلي دي: د دیني ښوونی او روزني، دعوت او تبلیغ او د کوم محتاج سره د مرستي کولو لپاره تلل، ټول د الله سبحانه وتعالی په لار کي هلي ځلي بلل کیږي.

**د دعوت او تبلیغ آداب:** تبلیغ د الله سبحانه وتعالی یو ډیر مهم عبادت او ستره نیکمرغي ده، د انبیاء کرامو (علیهم السلام) ځای ناستي توب او نیابت دی، کار چي هر ځومره ستر وي، په هماغه کچه آدابو ته اړتیا لري، چي باید هغو ته ډیره پاملرنه وسي، ځکه هر کار چي د هغه د آدابو او اصولو سره سم تر سره سي، د هغه ګټه هم ژر تر لاسه کیږي او تر ډیره وخته وي. بیا څنګه چي دا کار د انبیاء کرامو (علیهم السلام) دی، نو د هغه آداب هم هغه دي، چي انبیاؤو (علیهم السلام) غوره کړي دي، یا یې د غوره کولو حکم ورته سوی دی.

۱: تر ټولو لومړی او مهمه خبره دا ده هر مسلمان دي د ټولو نا اړینو دنیوي اغراضو او مقاصدو سره پریکون وکړي، او اعلاء کلمة الله یعني د الله سبحانه وتعالی د دین سرلوړي، د اسلام خپریدل، پوهاوي او د الله سبحانه وتعالی د احکامو پلي کیده دي خپل نصب العین وګرځوي، او ټینګه ژمنه دي وکړي چي د الله سبحانه وتعالی هر حکم منم، پر هغه باندي د عمل کولو هڅه کوم، هیڅ وخت د الله سبحانه وتعالی نافرماني نه کوم او ددې نصب العین لپاره همدغه کړنلار په مخ کي نیسم.

۲: خپل ټول کارونه او خبري په اخلاص او ښه نیت سره ښکلي کړئ، ځکه چي په اخلاص سره ډیر لږ عمل هم د خیر او برکت موجب ګرځي او ښه میوه ورکوي. په کوم کار کي چي اخلاص نه وي، نه په دې نړۍ کي کومه ثمره ورکوي او نه په آخرت کي کوم اجر او ثواب لري. کله چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) حضرت معاذ (رضي الله عنه) یمن ته د حاکم په توګه استوي، نو هغه هیله ځیني وکړه: ما ته نصیحت وکړه. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ورته وفرمایل: د دین په کارونو کي د اخلاص څخه کار اخله، ځکه چي د اخلاص سره لږ عمل هم کفایت کوي. نو تر ټولو مهمه او اصله خبره دا ده: تبلیغ باید په ډیر اخلاص سره تر سره سي. په دې کار کي باید ریا ونه سي. په کار کي چي هر ځومره اخلاص وي هغومره پرمختګ کوي.

۳: تر دعوت، تبلیغ او نصیحت له مخه مو باید په دې چارو باندي ښه ځان پوه کړی وي. البته په دې چارو باندي د پوهیدو ډیره ښه او آسانه ذریعه د محققو علماء کرامو کتابونه یا د هغو څخه پوښتني دي، که نه نو د ناسمي خبري د خپریدو د ګناه بیره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴: د الله سبحانه وتعالی لوري ته بلوونکي سئ، د دعوت او تبليغ دنده سرته ورسوئ، يعني يوازي د الله سبحانه وتعالی لوري ته د خلکو بلوونکي سئ، د الله سبحانه وتعالی بنده ګان د الله سبحانه وتعالی پرته بل هيڅ لوري ته مه بولئ، مه يې وطنيت او قوميت ته وربولئ، مه يې ژبني تعصب ته دعوتوئ او مه يې کومي ځانګړي ډلي ته ورجذبوئ، د مومن اصلي موخه نصب العين يوازي د الله سبحانه وتعالی رضا ده. دغه هدف يعني نصب العين ته خلک وبولئ او دا باور ولرئ، چي د بنده کار يوازي دا دی چي د خپل خالق او مالک بنده ګي وکړي، هم په خپل انفرادي ژوند کي، هم په کورني ژوند کي، هم په ټولنيز ژوند او هيوادنيو چارو کي، ټول ژوند د خپل څښتن او پروردګار د لارښوونو په پلي کولو کي تير کړي، او په اخلاص سره د هغه د قانون پيروي وکړي، له دې پرته بل هيڅ داسي شی نسته چي مسلمان دي هغه خپل نصب العين وټاکي او هغه ته خلک وبولي، کله چي يو مومن د الله سبحانه وتعالی د لارښووني څخه سر وغړوي او د الله سبحانه وتعالی د رضا پرته بل شی خپل نصب العين وټاکي، نو په دواړو جهانونو کي به ناکامه او نامراده پاته وي.

۵: په هر حال کي خلکو ته د بشپړ دين دعوت ورکړئ او د خپلي پوهي څخه هيڅ شی مه پټوئ، د اسلام دعوت کوونکي ته دا حق نسته چي هغه د خپل مصلحت سره سم د خپلي پوهي څه وړاندي کړي او څه پټ کړي، که حالات او شرايط هر څومره نامساعد هم وي د داعي کار په هر صورت کي دا دی چي دين په بشپړه توګه، په خپله اصلي څهره او حالت کي خلکو ته وړاندي کړي او د الله سبحانه وتعالی په دين کي لږوالی، ډيروالی او د حالاتو د تقاضا سره سم په هغه کي تغير او تبديل راوستل لوی ظلم دی، که څوک داسي کار وکړي، دنيا يې هم خرابيږي او آخرت به يې هم خراب وي، اسلام د هغه الله سبحانه وتعالی را استول سوی دين دی، چي علم يې ټول کائينات احاطه کړي دي، د ازله تر ابده يقيني پوهه لري، لارښوونه يې د هر ډول نيمګړتيا او تيروتني څخه پاکه ده، د انساني ژوند د پيل او پای څخه خبر دی، د الله سبحانه وتعالی په اراده په انساني معلوماتو کي ورځ په ورځ حيرانوونکي پراختيا رامنځته کيږي او په انساني ژوندانه کي حيرانوونکي پرمختګونه څرګنديږي.

۶: په دعوت او تبليغ کي د حکمت او سليقي څخه په بشپړه توګه کار واخلئ، او د کار داسي طريقه غوره کړئ، چي د هره پلوه ډيره اغيزمنه، د دعوت د مقصد سره هم غاړي وي او په مخاطب کي ليوالتيا او ولوله پيدا کړي. د قرآن کريم څخه درې (۳) اصولي لارښووني څرګنديږي:-
۱: بلنه او دعوت بايد په پوهه، حکمت او پر ځای او ښو خبرو سره وي. ۲: نصيحت او پوهونه بايد په ښه طريقه سره وسي. ۳: خبري او مباحثه دي په ډيره ښه او غوره طريقه سره وسي.
په حکمت سره د دعوت ورکولو مطلب دا دی: خپله دعوت کوونکي ته بايد د خپل دعوت د سپيڅلتوب او سترتوب په هکله بشپړ معلومات وي، دعوت کوونکی دي دغه آرزښتناک مقصد په ناپوهي سره بې ځايه نه وړاندي کوي، بلکي موقع او محل ته دي ګوري او د مخاطب

(c) ketabton.com: The Digital Library

استعداد دي په بشپړه توګه په پام کې نيسي، د هري طبقې، ډلي او هر چا سره دي د هغه د فکري کچي، استعداد، صلاحيت، ذهني کيفيت او ټولنيز موقف سره سمي خبري کوي، او هغه غوره آرزښتونه دي د دعوت، افهام او تفهيم د بنسټ په توګه په کار واچوي چي ټول اتفاق پر لري او د نژديکت لپاره لار هواره کړي.

په ښه طريقه د نصيحت کولو مطلب دا دی: تبليغ کوونکی په داسي اغيزناکي، خيرغوښتنه او خلوص سره تبليغ وکړي، چي نيکي ولولې او جذبي را وپاروي د مخاطب زړه د شوق او رغبت د ولولو څخه ډک سي او د دين سره يې اړيکي يوازي د ذهني اطمينان تر پولي پاته نه سي، بلکي دين يې د زړه آواز، د روح غذا او د جذباتو تسکين جوړ سي. په نيوکه او مباحثه کي د ډيري ښې طريقې غوره کولو مطلب دا دی: د تبليغ کوونکي نيوکه بايد تعميري بڼه ولري، د زړه سوي، لورييني او اخلاص ښکارندويه وي، د خبرو انداز بايد دومره په زړه پوري او ساده وي چي په مخاطب کي د ضد، کرکي، تعصب او د جاهليت ولولې را ونه پاروي، بلکي ريښتينی فکر ته يې اړ کړي او د حق د پلوی جذبه په کښي پيدا کړي.

۷: نرمي غوره کول د تبليغ د آدابو څخه ګڼل کيږي، تبليغ کوونکي بايد په دعوت او د مسائلو په پوهولو کي نرمي غوره کړي، سختي ښه نه ده، ځکه کيدای سي له دې امله په خلګو کي کرکه رامنځته سي، خو دې ته هم بايد متوجه وي، داسي نرمي هم جواز نه لري، چي له امله يې د شريعت سپکاوی وسي يا بدعت دود سي.

۸: دين په داسي حکمت او په داسي فطري انداز وړاندي کړئ، چي مخاطب هغه يو غيري فطري بار محسوس نه کړي، خلګ د بد وړلو او کرکي پر ځای هغه د زړه د کومي ومني، د قبلولو څخه يې سکون او راحت احساس کړي او د دعوت کوونکي د نرمی، ژبني خوږوالي او حکيمانه رويې له امله د دين ريښتنی خوند او کشش ومومي.

۹: داعي دي تل په خپلو ليکنو، ويناوو او خبرو اترو کي داسي منځ لاري يعني اعتدال غوره کړي، چي د اوريدونکو سره هم د هيلي او اُميد کيفيت پيدا سي او هم بيره پر غالبه سي، نه دي د بيري په هکله داسي د مبالغې څخه ډکي خبري کوي، چي اوريدونکی د الله سبحانه وتعالی د رحمت څخه ناهيلي سي، د ځان اصلاح او ژغورل ورته ستونزمن او ناشونی ښکاره سي، او نه دي د الله سبحانه وتعالی د رحمت او بخښني داسي تصور وړاندي کوي، چي هغه بيخي بې باک او بې پروا سي او د الله سبحانه وتعالی د بې پايه رحمت او بخشش په هيله ګناهونو ته ملا وتړي. حضرت علي (کرم الله وجه) فرمايلي دي: ډير ښه عالم هغه دی، چي خلګ د الله سبحانه وتعالی لوري ته په داسي توګه دعوتوي، چي نه يې د الله سبحانه وتعالی څخه مايوسه کړي، نه يې د الله سبحانه وتعالی د نافرمانی لپاره لار هواره کړي، او نه يې د الله سبحانه وتعالی د عذاب څخه بې غمه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰: د دعوت او تبليغ په هلو ځلو کي دوام او تسلسل رامنځته کړئ، لږ کار وکړئ، خو په پرله پسې توګه يې وکړئ، تر پوهولو او تبليغ وروسته، سمدستي پر هغه باندي د عمل کولو هيله مه لرئ، د تبليغ يا د دين د خدمت اصلي ثمره، په آخرت کي ژغورنه او د الله سبحانه وتعالی رضا تر لاسه کول وګڼئ، خپله موخه د هغه اغيزه او ګټه مه ګڼئ، که ستاسي د هلو ځلو ظاهري ګټه محسوسه نه وي، يا لږ وي، نو په دې صورت کي مه خوابدي کيږئ، ځکه چي ستاسي کار دنده، هڅه او کوښښ دی او د نورو خلګو منل ستاسي د واکه وتلی کار دی. په هغو خبرو پسي تلل چي په واک کي نه وي، خپل ځان بې ځايه په تشويش کي اچول وي. اجر او ثواب يوازي پر هغه هڅه او کوښښ باندي دی، چي په اخلاص سره وي، په دې چارو کي چي هر څومره بوختيا او تينګار وي، هغومره په هڅو او کوښښونو کي تينګښت او دوام وي.

۱۱: په تبليغ کي نزاعي مسايل يا فرعي خبري مه څيړئ، بلکي يوازي د اصلي توحيد لوري ته خلګ وربولئ او د اسلام ارکان ورته تبليغ کوئ، د تبليغ حدود، فرض، واجب، مستحب او ممنوع په زده کړه او د کتابونو په مطالعه يا د ماهرو علماء کرامو څخه په پوښتنه کولو سره معلوم کړئ، څو په تبليغ کي د حدودو څخه تجاوز ونه سي، د تبليغ، وعظ او نصيحت پر مهال او د هغه څخه د مخه او وروسته داسي دعا کوئ: ای لويه خدايه! په دې وعظ، نصيحت او تبليغ کي د ريا، لويي، کبر او هر ډول شر څخه ما او اوريدونکي وساتې او له دې تبليغ څخه ما او اوريدونکو ته ګټه ورسوې.

۱۲: که چيري پر خلګو باندي ستاسي خبري کومه اغيزه ونه کړي، نو په دې صورت کي مه خوابدي کيږئ، ځکه چي دا د نصيحت د پريښوولو او ناهيلی لامل ګرځي، د دعوت او تبليغ په لار کي رامنځته کيدونکو ستونزو، تکليفونو او آزميښتونو ته په ورين تندي هرکلی وواياست. په هکله يې صبر او استقامت څرګند کړئ، د حق په لار کي ستونزي او مشکلات هرومرو را منځته کيږي، د انسان ايمان هغه وخت قوي کيږي، په اخلاقو او کړنه کي يې هغه وخت ښه والی او پياوړتيا راځي، چي د آزميښت د پړاوونو څخه تير سي. دغه دليل دی چي الله سبحانه وتعالی خپل هغه بنده ګان هرومرو امتحانوي چي د ايمان دعوه کوي، او څوک چي پر خپل دين او ايمان هر څومره ټينګ وي، د هغه آزمايښت هم ډير سخت وي. آزمايښتونه او کوښښونه دواړه د دعوت د چارو د پياوړي کولو او پرمختګ لپاره اړين وسايل دي، هيڅ دعوت د آزمايښتونو د ډول ډول پړاوونو څخه بيله تيريدو نه سي بريالی کيدلای، په تيره بيا هغه دعوت چي په انساني ټولنه کي يو نړيوال او هر اړخيز اوښتون يعني انقلاب رامنځته کوي او پر نويو بنسټونو باندي د ټول انساني ژوندانه د ودانولو پلان لري.

هغه مهال چي د مکې مکرمې ظالمو مشرکينو پر رسول الله (صلی الله عليه وسلم) او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) پر اصحابو کرامو باندي ډول ډول ظلمونه کول، د هغو ورځو يوه واقعه حضرت خبيب (رضي الله عنه) داسي بيانوي: رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د بيت الله شريفي تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سايې لاندي خپل پټو تر سر لاندي کړی وو او آرام يې کوی، موږ رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ته په شکايت ورغلو او ورته ومو ويل: ای رسول الله! ته ولي د الله سبحانه وتعالی څخه زموږ لپاره د مرستي غوښتنه نه کوې؟ او ولي ددې ظلم د پای ته رسيدو لپاره دعا نه کوې؟ آخير به دا لړۍ تر څو پوري دوام مومي او کله به ددې مصايبو دوره ختميږي؟ رسول الله (صلی الله عليه وسلم) ورته وفرمايل: تر تاسي دمخه داسي څوک هم تير سوي دي، چي څاه به يې ورته وکيندۍ او هغه به يې په کښي دراوه، بيا به يې په اره د هغه بدن اره کړ، مګر سره له دې به هم هغه د خپل دين څخه نه اوښتی. همدا راز به يې د هغه په بدن د اوسپني ږمونځي ننه ايستلې چي دغه ږمونځي به د هغه تر غوښو ووتلې، تر هډوکو او پلو پوري به يې ورسيدلې، مګر بيا به همدغه د الله سبحانه وتعالی بنده د حق څخه نه پر شا کيدی. په الله سبحانه وتعالی قسم کوم چي دا دين به تر دې کچي غالب کيږي، چي سپور مسافر به د يمن د پلازميني صنعاء څخه تر حضرموت پوري سفر کوي او پر لاري به پرته د الله سبحانه وتعالی څخه د بل هيچا بيره نه وي ورسره. البته چوپانانو ته به يوازي د خپلو پسونو په هکله انديښنه وي چي شرمښان يې ځيني ونه خوري، مګر افسوس چي تاسي تلوار کوئ. (بخاري)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه پوهیږي د امر بالمعروف او نهي عن المنکر مفهوم څه دی؟

الله سبحانه وتعالی فرمايي: (وَلْتَكُنْ مِنْكُمْ أُمَّةٌ يَّدْعُوْنَ اِلَى الْخَيْرِ وَيَأْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ ط وَأُوْلَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ (۱۰۴) وَلَا تَكُوْنُوْا كَالَّذِيْنَ تَفَرَّقُوْا وَاخْتَلَفُوْا مِنْ بَعْدِ مَا جَآءَهُمُ الْبَيِّنٰتُ ط وَأُوْلَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ عَظِيْمٌ). ژباړه: او وي دي (تل) له تاسي یوه ډله چي بولي (خلګ) په طرف د خیر او امر (حکم) کوي (خلګو ته) په معروف (نیکۍ) سره او منع کوي (خلګ) له منکر (بدۍ) څخه او دغه (کسان) هم دوی دي په مراد رسیدلي او مه کیږئ په شان د هغو کسانو چي جلا (جدا) سول او اختلاف يې وکړی د دین په اصولو کښي وروسته له هغه چي راغلي ؤ دوی ته دلائل ښکاره او دا کسان دوی ته عذاب دی ډیر لوی. (سورت العمران ـ آیت ۱۰۴-۱۰۵)

الله سبحانه وتعالی مسلمانان منع کړي دي، چي د هغو کسانو په څیر باید نه وي، چي د حق د راتګ او څرګندیدو څخه وروسته په تفرقې او اختلاف لاس پوري کوي، یعني هغوی يې د معروف د پرېښوولو او د هغو کسانو د تقلید څخه منع کړي دي، چي معروف يې پرې ایښی دی. په حقیقت کي دا یهودیان، مسیحیان او ټول هغه کسان دي چي د ځان سره نوی شی راوړي، داسي چي هغه د الله سبحانه وتعالی په دین کي نه وي او یا هم یوه داسي شي ته دعوت وکړي، چي د الله سبحانه وتعالی د دین څخه نه وي. الله سبحانه وتعالی په آیت شریف کي هغو کسانو ته د لوی عذاب خبرداری ورکوي، چي د حق څخه لیري سوي وي، امر بالمعروف او نهي عن المنکر يې پرې ایښی وي. د داسي ډلي جوړول فرض کفایي دي، چي خیر یعني امر بالمعروف او نهي عن المنکر ته دعوت کوي، امر بالمعروف او نهي عن المنکر په مطلق ډول پر هر مسلمان فرض عین دی، هغه که په ډله ییز ډول وي او یا هم په فردي ډول.

که چیري معروف نه ترسره کیږي او ځای يې منکر نیولی وي، د اسلامي اُمت ټول افراد مکلف دي چي د منکر د له منځه وړلو او د معروف د پر ځای کولو لپاره لاس په کار سي، په دې برخه کي د هیچا عذر نه منل کیږي، امر بالمعروف او نهي عن المنکر د هر هغه معروف په معنا دی چي باید آمر پرې وسي او د هر هغه منکر په معنا دی، چي باید مخنیوی يې وسي، د منکر څخه منع واجب ده، حتا پر هغه کس هم واجب ده چي هغه منکر عمل يې پخپله ترسره کړی وي، ځکه نوموړی د هغه منکر په ترسره کولو سره یوازي په یوه ګناه مرتکب سوی او که چیري د هغه عمل څخه د نورو کسانو مخه ونه نیسي او د هغه په وړاندي چوپتیا غوره کړي، پر همدې دلیل په یوې بلي ګناه هم مرتکب کیږي، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر لپاره دا اړینه ده، چي پخپله فرد باید د هماغه معروف او منکر په اړه پوهاوی ولري او له دې پرته ښایي د خپلي ناپوهی په سبب پر منکر آمر وکړي، منکر هغه څه دي چي حرام وي او حرام بیا هغه څه دي چي په قرآن کریم یا سنتو کي حرام سوي وي، ټول مسلمانان پر امر بالمعروف او نهي عن المنکر مکلف دي، هغه که خاص مسلمانان دي او که عام مسلمانان دي، داسي هیڅ دلیل نسته، چي د دغه حکم خلاف آمر ثابت کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اصحابو کرامو په ډله کې ټول هغه کسان موجود وه، چې ایمان یې راوړی وو او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره یې خبري کړي وې، په دوی کې داسې کسان هم وه، چې ځانګړې مهارت یې درلود، لکه: علماء کرام، لیکوالان، شاعران او داسې نور... کسان هم وه، چې د عامو وګړو، خدمتګارانو او داسې نورو په ډله کې راتلل، دوی ټول د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اصحاب وه، پر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) پر رسالت باندې راټول سوي وه، د دوی همدغه راټولیدل ددې لامل سوی وو، چې دوی ته یې دا ځانګړتیا ورکړې وه او یو لوړ مقام یې تر لاسه کړی وو، په همدې اساس خیر ته دعوت د ټولو خلګو دعوت ګڼل کیږي، او تر ټولو مهم کس چې لومړی باید امر بالمعروف او نهي عن المنکر سي، هغه ځوک دی چې د خلګو چاري په لاس کې لري، د دغه کس په اصلاح کیدو سره د هغه پیروان هم اصلاح کیږي او په فاسد کیدو سره یې پیروان هم فاسدیږي، د اسلامي نظام لپاره کار کول تر ټولو لوی امر بالمعروف او نهي عن المنکر دی، اسلام باید خپل ژوند ته راوګرځوو او احکام یې پر ځان او ټولنه کې پلي کړو.

اسلام د خپلو عملونو، ګټو او اړیکو په برخه کې د ځان او نورو اُمتونو تر منځ معیار وټاکو، لکه ځنګه چې الله سبحانه وتعالی موږ ته آمر پرې کړی دی، که همدا خپل مکفلیت وبولو، یعني د معروف د ترسره کولو او د منکر د له منځه وړلو او خیر ته د دعوت کولو په لټه کې واوسو، نو په دې حالت کې یوازینۍ لاره د اسلام عقیده باید حمل سي، داسې چې اسلام په عملي ډول زموږ د ټولو عملونو معیار سي او د خپل ژوند د ستونزو د حل په موخه باید د اسلام پرته هیڅ بلې سرچینې ته مراجعه ونه کړو، همدارنګه د خلګو تر منځ د اړیکو د تنظیم او د هغوی د ستونزو د حل په برخه کې باید د اسلام قدرت ځرګند کړو، پر دې سربیره د دغو اړیکو د تنظیم ځرنګوالی او د اسلام پواسطه د ستونزو حل باید د خلګو لپاره بیان کړو، هر کله چې مو اسلام په دې ډول حمل کړ، هغه مهال بیا دغه ادعا کولای سو چې هم مو د عقیدې پر اساس او هم مو د نظام پر اساس پر اسلام عمل کړی دی.

اسلام باید داسې حمل سي، چې عقیده یعني د ژوند لیدلورۍ، د ستونزو او اړیکو لپاره حللاري یې باید په واضح ډول بیان سي، داسې چې هر ډول ګرد باید ځیني پاک سي، تر ځو د کفر سره ګډ نه سي، د اسلام همدغه عقیدوي حمل ددې لامل کیږي، چې د افرادو او ټولنو چلند بدل کړي، اسلام یوه خیالي مفکوره او یا فلسفي فرضیه نه ده، بلکې هغه مفکوره ده چې محسوس واقعیت او واضح تګلاره لري، مګر د بشر اوسنۍ بدمرغي ده چې له امله یې د بشر په ژوند کې نه تطبیقیږي، خیر ته دعوت کول باید داسې وي چې خیر واضح کړي او په اړه یې خلګو ته معلومات ورکړي، تر ځو خلګ پوه سي، یعني هغه څه چې آمر پرې کیږي، یو معروف دی او همدارنګه منکر هم باید بیان سي او بدي یې خلګو ته ښکاره سي، تر ځو خلګ پوه سي، یعني هغه څه چې مخنیوی یې کیږي، یو منکر عمل دی، ددې تر ځنګ اړیني حللاري باید واضح او ځرګندې سي، تر ځو د معروف اصلاح او د منکر فساد خلګو ته ښکاره سي، په پوره پوهې، بشپړې لیوالتیا او احسان سره د معروف ځخه پیروي وکړي او د منکر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څخه ځانونه وساتي، که چیري د اسلام تاریخ ته وګورو، نو وینو چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دعوت هغه مهال د خلکو ډیر ملاتړ خپل کړ، چي خلکو ته د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د نظام ښیګڼي څرګندي سوې او خلکو د هغه حللاري د خپل ژوند لپاره په عملي ډول احساس کړې، په پایله کي خلک ډلي ډلي اسلام ته داخل سول او ډیری اُمتونه بیا داسي وه، کله چي یې د اسلام عدل او نظم لیدلی وو، په هماغه وخت یې منلی وو، کله چي به رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خلک د خیر لوري ته رابلل، امر بالمعروف او نهي عن المنکر به یې کوی، نو معروف به یې ښه واضح کړی او ښیګڼي به یې بیان کړلې، همدارنګه کله چي به یې منکر رد کړی، نو د هغه فساد به یې هم خلکو ته په هر اړخیز ډول بیان کړی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به خلک یوازي د بُتانو د عبادت څخه نه منع کول.

بلکي د هغوی څخه به یې غوښتل چي پر ځای یې د واحد الله عبادت وکړي، ددې تر څنګ خلک به یې د طاغوت د حاکمیت څخه منع کول او دا یې ورته واضح کړې وه، چي د الهي حاکمیت پرته بل هیڅ حاکمیت نسته، خلک به یې د منکر څخه منعه کول او آمر به یې ورته کوی: پر معروف منګولي ټینګي کړئ. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یوازي پر دې بسنه ونه کړه، چي خلک دي د بُتانو عبادت پریږدي او هغوی دي یوازي د لمانځه او روژې په برخه کي د الله سبحانه وتعالی عبادت وکړي، بلکي خلکو ته یې آمر وکړ: په لمانځه، روژه، زکات، جهاد، پیر او پلور، د حدودو په تطبیق، د مالونو په ویش، د مالونو په پراختیا او لاسته راوړلو کي باید د اسلام سره سم عمل وکړی، د الله سبحانه وتعالی عبادت ته یې د ژوند د ټولو چارو سره ټینګ تړاو ورکړ، داسي یې نه کول چي د ځینو اعمالو سره اړیکه ورکړي او ځیني نور بیا پر خپل حال پریږدي.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هر شي ته خپل حق ورکړ، پرته له دې چي د کوم قدرت او حاکمیت څخه وبیریږي او پرته له دې چي د چا سره په دې اړه جوړجاړی وکړي، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ټوله هڅه خپل مسؤلیت د حق په اظهار او د باطل په له منځه وړلو کي په ښه ډول ادا کړی، په همدې اساس امر بالمعروف او نهي عن المنکر باید داسي وي، لکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چي ترسره کړی دی، که چیري امر بالمعروف او نهي عن المنکر له دې پرته په بل هر ډول ترسره سي، دا په حقیقت کي د منکر د تائید او د معروف د پریښوولو په معنا دی، معروف د اسلام د ټولو احکامو څخه پیروی ته ویل کیږي، داسي نه چي پر ځینو یې عمل وسي او ځیني نور یې بیا پریښوول سي، اسلام باید لومړی په واضح او څرګند ډول درک کړو او وروسته یې د اسلامي اُمت لپاره وړاندي کړو، تر څو په ښه ډول د هغه سره بلد سي او په سمه لاره حرکت وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه خپل د بې لاریتوب اسباب وپېژنه

د الله سبحانه وتعالی د بې شمیره نعمتونو څخه یو نعمت ځواني ده، په ځوانۍ کي د انسان اعضاء فطرتاً قوي او پنځه خواص یې سالم وي، لکه څه ډول چي ځوان انسان د خپل عمر د نورو مرحلو په پرتله په دغه مرحله کي پر ځان بشپړ تسلط لري، همداسي د عمر د نورو مرحلو په پرتله په دغه مرحله کي هم په دنیاوي او هم په اخروي لحاظ ډېر مسؤلیتونه پر غاړه لري، ځواني د انسان هغه عمر دی چي د قیامت په ورځ به ددې په باره کي خصوصي پوښتنه ځیني کیږي، لکه په ګڼو احادیثو کي چي همدا خبره ذکر سوې ده، ځواني د انسان د قوت مرحله ده، انسان کولای سي د دغه مرحلې څخه سمه ګټه پورته کړي، او د هري ممکني لاري خپل رب عزوجل راضي کړي، مګر له بله پلوه د عمر دغه پړاو د انساني خواهشاتو د اوج ته رسیدو پړاو هم دی، ځکه چي په دې مرحله کي انسان تازه د بلوغ د مرحلې څخه تیر سوی وي، نو همدا لامل دی چي د انسان بې لاري کیدل هم له دغه ځایه شروع کیږي، نو که چیري په دغه وخت کي ځوان ته سمه دیني پوهه نه وي، او یا دا چي ځوان د نیکو اعمالو پابند نه وي، نو لیري نه ده چي د بیلا بیلو اسبابو د لاري انسان کرار کرار د بې لارۍ کندي ته ولویږي، د ځواني په څیر د یو لوی نعمت ناشکري ځیني وسي او هغه ضایع کړي.

هغه اسباب او عوامل چي د ځوانانو د بې لاریتوب سبب ګرځي، په اوسني عصر کي د ټکنالوژۍ عصر هم ورته وایي، د ځوانانو د بې لاریتوب لپاره بیلا بیل اسباب او عوامل شتون لري:- ۱: د الهي بیري نشتون: الهي بیره هغه څه دي چي انسان تل د ناوړه اعمالو څخه راګرځوي، نو کله چي الهي بیره شتون ونه لري، څه ډول به یو ځوان د بې لاریتوب څخه ځان وساتي؟ ۲: د الهي احکامو څخه د ځوانانو ناخبري، په خپل زمان او مکان کي د الهي احکامو نه تطبیقول. ۳: بد او ناوړه ملګري، ځکه انسان تل په خپلو ملګرو پیژندل کیږي او تل هغه اعمال خوښوي چي د ده ملګري یې کوي. ۴: په پراخه کچه ټولنیزو رسنیو ته د ځوانانو آسانه لاسرسی، چي ددې په مرسته بیا ځوانان کولای سي هر ډول فلمونه، ډرامې، عکسونه، موسیقي، د نامحرمو سره اړیکي نیول او بلأخره هر هغه څه چي زړه یې وغواړي لیدلای او اوریدلای سي، په ډېر کم وخت کي یې تر لاسه کولای سي، تر څو د ځانه سره یې وساتي، او بیا ناوړه ګټه ځیني پورته کړي. ۶: د والدینو او یا د کورنۍ د نورو مشرانو له خوا د خپل ځوان نسل نه تعقیبول بله هغه ستونزه ده چي د ځوانانو په بې لاریتوب کي لوی لاس لري. دا او دې ته ورته نور ډېر اسباب او عوامل شتون لري، چي د ځوانانو بې لاریتوب ته یې لار خلاصه کړې، او د ځوانۍ په څیر د لوی نعمت څخه ورځ تر بلې غلطه استفاده ډیریږي.

د ځوانانو د بې لاریتوب د اسبابو مخنیوی: د ځوانانو راګرځول د بدي لاري څخه سمي لاري ته دومره هم ګران کار نه دی، څومره چي فکر کیږي، ځکه هغه اسباب چي د ځوانانو د بې لاریتوب سبب ګرځي باید له منځه یوړل سي، دا دومره ډېر ګران کار نه دی، تر څو ځوانان مو د تل لپاره د بدو لارو راګرځیدلي وي، لکه:ـ ۱: الهي بیره: د هر مسلمان ځوان په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي باید الهي بیره موجوده وي، ځکه دا الهي بیره ده، چي بیا موږ هیڅ وخت بدو اعمالو ته نه پرېږدي. ۲: د الهي احکامو څخه ځان خبرول: هر مسلمان ځوان الهي احکام، اوامر او نواهي په سم ډول وپیژني او دوامداره یې عملي کړي، د الهي احکامو پیژندل او د هغوی عملي کول انسان د ناوړه اعمالو ترسره کولو ته نه پرېږدي. ۳: د بدو ملګرو د ملګرتیا څخه ځان ساتل: ځکه بد ملګري تل د بدو چارو په ترسره کولو آمر کوي، او پر ځای یې د ځان لپاره نیک ملګري پیدا سي. ۴: د ټولنیزو رسنیو د ډیري کاروني څخه باید جداً منع وسي، مګر کوم وخت چي موږ ټولنیزي رسنۍ استعمالوو باید په سالم ډول یې استعمال کړو، او هغه چینلونه تعقیب کړو چي بیلا بیل دیني، سیاسي، علمي، او ټولنیز معلومات خپروي، تر څو د یوې خوا مو پیسې او د بلې خوا مو دا قیمتي وخت بې ځایه نه وي مصرف سوی. ۵: په خپله ځوانانو ته په کار ده چي د ټولو هغه کړنو څخه ځانونه وساتي، کوم چي په اسلامي شریعت او زموږ په ټولنه کي ناجایزي کړني دي، هغه که په هر نوم باندي وي، تر څو په خپل راتلوونکي عمر کي د ځوانۍ پر کړنو د شرم احساس ونه کړي. ۶: پر دې ټولو سربیره ځوانانو ته په کار ده داسي کتابونه باید مطالعه کړي، چي د ځوانۍ د آهمیت او د ځوانۍ څخه د سالمي ګټي اخیستني اړوند لیکل سوي وي، تر څو یې د خپلي ځوانۍ څخه سالمه ګټه پورته کړې وي او هم یې د مطالعې د ذوق احساس په ځان کي پیاوړی کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه د ټولنيزو رسنيو په استعمالولو کي د ډېر احتياط څخه کار اخله

ټولنيزي رسنۍ د خلکو د روږدولو يا د هغوی د پاملرني راجذبول د هر ډول چلونو څخه کار اخلي، د نړۍ ډېرو ذهنو انسانان خپل ژوند دې ته وقف کړی دی، چي په ټولنيزو رسنۍ خلک معتاد کړي، د ګوګل نړيوال شرکت يو پخوانۍ مشر دا مني چي انټرنيټي شرکتونه په دې هڅه کي دي تر څو خلک د خپلو پر ليکه سويو اپليکيشنونو په وسيله روږد او معتاد کړي او خپل کارونکي د شونتيا تر حده مصروف وساتي. دا څرګنده خبره ده چي ځيني اپليکيشنونه دا ډول طرحه کيږي تر څو کارونکي زښت ډېر جذب کړي او ورځيني ډېر اړين کارونه شاته پريږدي، ټيکنالوژي او په ځانګړې توګه انټرنيټ روږدونکی دی، که تاسو د يو څه په اړه په يوټيوب کي ګرځی، د خپلي خوښۍ سره سم يو څه ګورۍ، نو يوټيوب تاسو ته اړوند ډېر نور څه را غونډوي، تر څو تاسو د هم هغه څه سره مصروف وساتي او جالبه لا دا ده چي په کوم شي پسي چي تاسو په يو ټيوب کي څيړنه کړې وي هم هغه او يا نور اړوند شيان ستاسو پر فيسبوک، جي ميل، ټويټر، ټيليګرام او نورو اړوند شبکو په وار وار ستاسو مخته راځي.

کوم منفي تاثرات چي د ټيکنالوژۍ يا په ځانګړې توګه د انټرنيټي شبکو د ډېري کاروني څخه زموږ پر روغتيا، ټولنيز ژوند او اقتصاد لوېږي د حسابه وتلي دي، ټولنيزو شبکې تر ډېره حده په دې کار بريالۍ سوي دي چي د نړۍ د اوسيدونکو ماغزه، انرژي او وخت په خپله ګټه وکاروي، په داسي حال کي چي دا خپل استعداد او ځيرکتيا ښيي، مګر دا چي د نوموړو شبکو په ډېره کارونه پر چاپيريال، روغتيا، ټولنيز ژوند او اقتصاد څومره ناوړه اغيزې پريوځي يو ډېر اوږد او علمي بحث دی، موږ د ټيکنالوژۍ پر مټ ډېر څه تر لاسه کړه او ډېر څه مو د لاسه ورکړه، انټرنيټ ټوله نړۍ د يو کلي په اندازه را کوچنۍ کړه او ورسره ټولنيزو شبکو مرسته وکړه چي د نړۍ ټول انسانان تر ډېره حده سره نژدې کړي، مګر که حقيقت ته ځير سو موږ يې په خپلو شيانو داسي روږد او معتاد هم کړو چي اکثره وختونه ډېر اړين کارونه د همدغو شبکو په خاطر راڅخه پاته وي.

د ټولنيزو رسنيو څخه د ژغورني څو لاري: خپل کور يا دفتر او کار ځای کي بايد حتماً يو ګټور اسلامي يا د عامه معلوماتو کتاب درسره پروت وي، لکه نبوي سيرت، د خلفاؤو تاريخ، او داسي نور... د کتاب په شتون کي مطالعې ته شوق پيدا کيږي، هغه ټولنيزي رسنۍ فعاله کړئ چي د هغو څخه بيخي چاره نه وي، غيري ضروري رسنۍ بندي کړئ، د سيمي د معتبرو علماء کرامو سره ناسته ولاړه شروع کړئ، مسلمان ځوان د غيري مسلم ځوان سره په فکر، عقيده، ايډيالوژي، د ژوند په هدف، د ژوند کولو په طريقه او نورو کي توپير لري، ځکه مسلمان ځوان د يو ځانګړي رسالت درلودونکی دی چي هغه د الله سبحانه وتعالی د دين د رسولو او پر نړۍ باندي د حاکم کولو څخه عبارت دی. مسلمان ځوان په دې نړۍ کي د ژوند کولو په هدف پوهيږي او په دې عقيده دی چي دا موقت ژوند، د آخرت د دايمي ژوند لپاره د ګټي کولو يو ښه فرصت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه نو په دې دنیا کې ژوند په خپله خوښه نه، بلکې د الله سبحانه وتعالی د رضایت او د هغه د رالیږل سوي قانون مطابق کوي، مسلمان ځوان په دې نړۍ کې د الله سبحانه تعالی د ټولو نعمتونو څخه د الله سبحانه وتعالی د لارښوونو مطابق ګټه اخلي او د ټولو مشروع وسایلو څخه د دین او دنیا په ګټه استفاده کوي، چې نوې ټیکنالوژي د همدې وسایلو د موثرو وسایلو څخه شمیرل کیږي چې د انسان په ژوند کې نن ورځ خورا ډیره اغیزه لري، ټیکنالوژي په اصل کې د ټولو انسانانو د ګډو هڅو پایله او انسان ته د الله سبحانه وتعالی د ورکړې فکر او استعداد محصول دی، نن ورځ انسانان د ټیکنالوژي پواسطه پر نورو انسانانو حاکمیت کوي، غربي نړۍ د ټیکنالوژي په مټ د نړۍ پر نورو انسانانو خپل فکر او فرهنګ تحمیلوي او تر څنګ یې د عقیدې او اخلاقو تخریب هم کوي، ځکه ټیکنالوژي په کار کوونکي پوري اړه لري چې څه ډول یې د خپلې عقیدې مطابق وکاروي، مګر دا چې متأسفانه نن ورځ د ټیکنالوژۍ واګې تر ډیره حده د غربي نړۍ په لاس کې دي، نو هغوی هڅه کوي دغه آله داسي ډیزاین کړي تر څو نورو خلګو ته اختیار او انتخاب پرې نږدي، چې همدغه اړخ یې جانبي عوارض دی.

مګر ددې سره سره بیا هم مسلمان ځوان کولای سي چې ټیکنالوژي د خپل دین د دعوت او خپلې دنیا په ګټه ښه استعمال کړي، د مسلمان ځوان لپاره اړینه ده چې په دغه ډګر کې دومره کار وکړي، تر څو په دغه برخه کې د دین او دنیا په ګټه نوښتونه رامنځته کړي او ټیکنالوژي غربي نړۍ د انحصار او بدي استفادي څخه وباسي، چې همدا د دین او واقعیت غوښتنه ده، انټرنیټ او سوشل میډیا هم د ټیکنالوژۍ یو کوچنی برخه ده، دلته هم باید مسلمان ځوان خپل رسالت او فکر هیر نه کړي او ټولنیزي رسنۍ داسي وکاروي چې د اسلام او مسلمانانو د دین او دنیا ګټه په کښي نغښتي وي، مسلمان ځوان باید انټرنیټ د خپلو لوړو مادي او معنوي اهدافو د تحقق لپاره استعمال کړي او د ټولنیزو رسنیو څخه د خپلې اسلامي عقیدې، اخلاقو، آدابو، د نشر او په مجموع کي یې د شمولي اسلام د دعوت په ممبر بدله کړي، که داسي ونه کړي بې هدفه او بې مهاره یې استعمال کړي.

نو هر څه به یې بایللي وي، هر کله چې تاسو لوړ دیني فکر او اعلی سپیڅلي هدف ولرئ، نو د ټولو مشروع وسایلو څخه په د ټول بشریت د ګټې لپاره سمه کارونه وکړی، مګر که مو فکر کوچنی او اصلاً مو هدف نه درلود، نو هر څه به د وخت ضایع کولو لپاره وکاروئ، او بل ستر تاوان به مو دا هم کړی وي، خپل دین، اخلاق، کلتور، آرزښتونه او معنویات به هم د لاسه ورکړئ او د غربي انسان ړانده مقلدین، د هغوی د لاس آله او ذهني غلامان به یاست. رسنۍ د هري ټولني د دیني او اخلاقي آرزښتونو یو کامیابه وسیله او د دعوت په ډګر کي یوه بې ساري ذریعه ده، چې کولای سي هره ټولنه د کامیابیو و لوړو پوړو ته ورسوي، لکه څنګه چې هر انسان د تجسس ماده لري او مجبور دی چې باید د خپل ماحول شاوخوا حالاتو باندي ځان خبر کړي نو ددې لپاره رسنیو ته ضرورت دی چې وخت پر وخت د ټولني آرزښتونو ته په نظر کي نیولو سره معلومات د ټولني نورو غړو ته ورسوي او شریک یې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسنۍ هغه قوه ده چې په اوس وخت کې د يوې ټولنې لاس او پښې بلل کيږي، د پوهانو په نظر رسنۍ د يو حکومت د درو (۳) قوو تر څنګ څلورمه (۴) هغه قوه ده چې تر ټولو ډيره تيزه او واک يې هم ډير دی، کومې ټولنې چې رسنۍ نه لري او يا يې هم رسنۍ د بل تر تأثير لاندې راغلې وي، نو هغه ټولنه به داسې وي لکه يو فلج انسان چې هيڅکله هم د پورته کيدو جرأت نه سې کولای او نه هم ځان ته د پرمختګ هيله لري. رسنۍ د مځکې پر مخ يوه داسې قوه ده چې کولای سي مُجرم کس بې ګناه او ګناه کاره شخص مُجرم ثابت کړي، او دا واقعي قدرت ځکه دی چې د خلګو ذهنونه يې په واک کې دي، غرب چې کله د مسلمانانو سره په نظامي ډګر کې سخته ماتې وخوړه، نو بيا يې فکري ډګر ته مخه کړه، په دې برخه کې کاميابۍ ته ورسيدی، د نظامي جنګ لپاره دوی د نظامي اسلحو څخه کار اخيستی، مګر د فکري مقاومت او د خپلو افکارو د انتقال لپاره دوی د کتاب، علمي تحقيقاتو، کتابخانې، اخبارونو، مجلې، رسنۍ، انټرنيټ، سينما، سياست او داسې نورو... چې په اصل کې ځوانان زيات متأثره کوي، کومو ټولنو چې پخپلو رسنيو کې اخلاقي آرزښتونه تر پښو لاندې کړي دي، نو و يوه داسې کرغيړن ډنډ ته لويدلي دي، چې د راوتلو لپاره يې هيڅ لار او ګودر نه لري.

په نړۍ کې هر هيواد دا کوښښ کوي چې د نورو هيوادونو رسنۍ تر واک لاندې ونيسي او له دې لارې هغوی کولای سي چې د خلګو پر ذهنونو باندې واک تر لاسه کړي، په اوس وخت کې هم داسې بې لارې رسنۍ وجود لري چې غواړي اسلامي ټولنه او د اسلامي ټولنې آرزښتونه تر پښو لاندې کړي او د بل چا د کلتور تقليد وکړي، دا ډول رسنۍ د همدې ټولنې د پرمختګ نه، بلکې ددې ټولنې د زوال لامل ګرځي، هره اسلامي رسنۍ بايد اخلاقي آرزښتونه لکه: شرم، حياء، ورورولي، انصاف، شرافت، دين، قانون، اداب، عاطفه، ايثار، حسنه اخلاق، د ناموس ساتنه، د انسان احترام، ميانه روي، ريښتينولي، اتحاد او د يو بل سره د همدردۍ او د بيوزلو لاس نيوۍ د مظلوم لاس نيوۍ او د ظالم مخنيوۍ بايد خپلې دندې وبولي، همدارنګه د رسنيو پر چلوونکو او ليکوالانو فرض ده چې دا پورته ياد آرزښتونه په پام کې ولري، پر تبليغ او رسولو کې يې برخه واخلي، پخپلو ورځنيو، اوونيزو، مياشتينو او مهالنيو خپروونو کې يې پايمال نه کړي.

د هرې رسنۍ کار کوونکي بايد په خپل اسلامي او ملي آرزښتونو وويا ړي او که چيرې دوی په خپلو اسلامي او يا ملي آرزښتونو باندې شرميږي او د بل چا د اقدارو پيروي کوي، نو دا به لويه بدمرغي وي، په اسلامي ټولنه کې بايد رسنۍ د اسلام په چوکاټ کې خپل نشريات ترسره کړي او د اسلام د حريم څخه دفاع يو وکړي، په امر بالمعروف او نهي عن المنکر باندې عمل وکړي، رسنۍ د يوې ټولنې عکاسي کوي او د هغې ټولنې حالات وخت پر وخت د خلګو سره شريکوي، د بلې خوا رسنۍ د خبرونو د رسولو تر څنګ د يوې ټولنې فکري لار هم مشخصوي او د خلګو د افکارو په اړولو او را اړولو کې خورا مهم رول لري، نو بايد رسنۍ د خلګو افکار پر مثبت او سم طرف سوق کړي، نه بايد د خلګو فکرونه پر منفي او شيطاني خوا کاږه کړي، ځکه پوهان وايي: رسنۍ مثبت او منفي دواړه خواوې لري چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیر لپاره هم کار ځیني اخیستل کیدای سي او د شر کار هم ځیني اخیستل کیدای سي، یو قوم ته عزم، حوصله او باور هم ورکولای سي، د ذهني غلامۍ، پوځي برترۍ او کلتوري غلبې ډار هم وربخښلای سي، اسلامي رسنۍ باید د کفري او غربي رسنیو ټولي شیطاني او مکاري کړني وخت پر وخت رسوا او ذلیله کړي، نن زموږ او تاسي په ټولنه کي په رسنیو کي څه خپریږي؟ کوم بې لاري فلمونه، هندي او ترکي سریالونه او دننني او خارجي بیلا بیل ناقص پروګرامونه چي نن زموږ د رسنیو پر پردو خپریږي، آیا دا به اسلامي ټولني ته کومه بریا او پرمختګ ورکړي؟ هیڅکله نه! حقیت دا دی نن سبا چي پر اسلامي نړۍ د رسنیو کوم حال دی کوم چي د پردیو په تیره بیا د یهود او هنود تر تأثیر لاندي سوي دي، دا به هیڅکله زموږ ټولنه هوسا نه کړي، دا ډول خپروني به داسي منفي اغیز او تأثیر ولري لکه څنګه چي یې د کمال اتاترک په وخت کي د ترکیې پر مسلمان ولس اغیز وکړ چي خپل اسلامیت او اخلاقیت یې ځیني ورک کړ، مسلمانان نویو تحقیقاتي، معلوماتي او دیني نشریاتو ته ضرورت لري، د ډاکټرانو، انجنیرانو، علماؤو او پوهانو تجربو ته اړتیا لري، دا ډول خپرووںو ته اړتیا نه لري، او نه هم اسلامي ټولني ته دا ډول خپروني پرمختګ ورکولای سي، کوم چي فساد او منفي کردارونو ته نور هم رشد ورکوي.

په نړۍ کي رسنۍ پر دوه (۲) ډوله دي:- ۱: چاپي رسنۍ. ۲: برېښنايي رسنۍ. چاپي رسنۍ لکه: ورځپاڼه، مجله، جریده او داسي نور... برېښنايي رسنۍ لکه: راډیو، ټلویزیون، انټرنیټ او نوري ټولنیزي رسنۍ چي خواله رسنۍ هم ورته ویل کیږي، لکه: فیسبوک، یوټیوب، واتساپ، ټیلیګرام او داسي نور... لکه څنګه چي د خبر په رسولو کي برېښنايي رسنۍ ډېري مؤثري واقع کیدای سي او خبر ډېر ژر د ټولني نورو غړو ته رسوي، مثبت اړخونه یې هم تر چاپي رسنیو ډېر دي، همدا راز یې منفي اړخونه هم ډېر دي، مثلاً د برېښنايي رسنیو له خوا الحاد، بې لاري، لوڅ توب، د فحش مواد او داسي نور خپریږي، مګر موږ د مسلمانانو په حیث باید دواړي ډول رسنۍ د دین او ټولني په ګټه وکاروو، نه د شر او فساد په ګټه. صلیبیان او یهودان غواړي د رسنیو د لاري د اسلام مبارکه څېره بده ښکاره کړي او غربي ملتونه ځیني کرکجن کړي.

ځکه نو بیا اکثریت وخت صلیبیان د اسلام څخه کرکه کوي او نه غواړي اسلام قبول کړي، همدارنګه غربیان د رسنیو د لاري فحشاء، غرب ګرایي او الحاد د ځوانانو و ذهنونو ته ترزیقوي او د اسلام ځلانده څېره هم د اسلامي اُمت د بچیانو لپاره شکمنه ښکاري، مسلمانان پر خپل تاریخ او د اسلامي نړۍ پر سترو فاتحانو باندي شکمن کوي، رسنۍ ځکه ډېري خطرناکي ثابتي سوي دي چي د ټولني ټول قشرونه هغه که سواد لرونکي، بې سواده، زده کوونکي، بیوزلي، فقیر، فرهنګي او غیري فرهنګي کسان ټولو ته یې خطاب متوجه دی، ځینو علماؤو هم د غربي رسنیو د خپرونو په مقابل کي خپل مسئولیت نه دی اداء کړی، چوپ دي او په اړه یې هیڅ نه وايي، بلکي د دوی په چوپوالي باندي هغوی ته نور جرأت هم پیدا کیږي، چي تر دې هم غیري اخلاقي خپروني پیل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د علماؤو همدا چوپوالی ددې لامل سو چي ټول ځوانان يې راښخه پردي کړل او ټولو ته يې د غرب مفکورې انتقال کړې، چي بيرته مستقيم مسير ته يې برابرول ډير وخت غواړي، که چيري مسلمانانو په رسنيز ډګر کي په پراخه اندازه فعاليت درلوداى، نن به داسي نه کيدلاى، که وي هم نو ډيرى يې کوم داسي فکري خپروني نه لري چي مسلمانانو ته د غرب د دسيسو په اړه بيداري ورکړي، رسنيز خدمتونه بايد د اسلام په چوکاټ کي وي او د امر بالمعروف او نهي عن المنكر وظيفه ترسره کړي، کوم څوک چي په دې اړخ کي وخت مصرفوي او ستړيا ګالي خپله ستړيا او وخت دي بې ځايه نه ګڼي، ځکه په اوس وخت کي چي مطبوعاتو ډير پرمختګ کړى نو يو هيواد چي غواړي پر بل هيواد يرغل وکړي، لومړى د هيواد دننه ميډيا تر لاس لاندي راولي او د هغې لاري د خلګو ذهنونو ته لار پيدا کوي، هغه تر کنترول لاندي کوي، چي بيا په آسانۍ سره کولاى سي پر هغو هيوادونو خپل واک وچلوي، ځکه دا خبره ثابته سوې ده چي د مځکو او هيوادونو بيا نيول زور او قوت ته اړتيا لري او لږ وخت نيسي، مګر د ذهنونو بيا کنترول او پر مستقيم مسير سيده کول بيا پيړۍ پيړۍ وخت ته ضرورت لري.

دوکتور الياس وايي: رسنۍ بايد د اسلامي اُمت استازيتوب او وياندويي وکړي او د اسلامي اُمت د بيدارۍ په لاره کي ګټه ځيني پورته سي، اسلامي اُمت د مکرونو او دسيسو څخه وژغوري، دا ډول رسنۍ په اسلامي هيوادونو کي ډيره کمزوري او ضعيفه وي، له همدې امله دا ډول رسنۍ شديد کوښښ، نه ستړي کيدونکو هلو ځلو او د ټول اسلامي اُمت تحريک ته اړتيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه زموږ د عظیم تاریخ کارنامې دي لوستلي دي؟

په هسپانیا کي د اسلامي تمدن پرمختګ: د عبدالرحمن اول د وخت څخه چي په اندلس کي د ختیځ د واک ګډۍ نسکوره سوه او د قرطبې خلافت رامنځته سو، په ۷۵۶ م کال کي د عربو مسلمانانو پرمختګ اوج ته رسیدلی وو، چي تر درې سوه (۳۰۰) کاله پوري د علم او پوهي د ویاړ تاج د قرطبې پر سر وو، د اسلامي تمدن ځانګړنه یوه دا وه: په هره سیمه کي یې مدرسې، کتابخانې، بانکونه، علمي او ادبي غونډې جوړي کړې، د نورو مختلفو ژبو کتابونه یې را وژباړل، هندسه، طبعیات او طب ته یې ډیره ګټه ورسوله چي د دوی څېړني په پرمختللو علومو کي د نویو انکشافاتو سبب سوې، تجارت په پراخه پیمانه وده وکړه، معادن او د سلاح جوړوني کارخانې جوړي سوې.

وریښم، یخ سوي پوستونه او شکري په ډیره پیمانه موندل کیدل او یهودو چي د هغه وخت شتمن سوداګر وه، د افریقا شمالي برخو ته وړل، مسلمانانو په ټولو علومو کي خپله پوهه په کار واچوله، په عام المنفعه، بیا جوړوني او د اندلس په شاوخوا ښارونو کي یې څلور لاري، پلونه، روغتونونه، هوټلونه او مسجدونه په ډیر شمیر جوړ کړل، تر څه وخته ټول منځنی بحر یعني مدیترانه د مسلمانانو په لاس کي وه، مسلمانانو د خپل واک پر مهال د اندلس هیواد د علمي او اقتصادي پلوه داسي پرمختګ وکړ چي د ټولي اروپا د ویاړ تاج یې ګڼلی وو، دا پرمختګ یوازي په مالي برخه کي نه وو، بلکي اخلاق هم ورسره همداسي ښه سول چي د ډیرو هیوادو اوسیدونکو به د ښو اخلاقو مثال د اندلس په خلګو کوی.

د هغو تاریخ پوهانو څخه یو میسو سندیلو دی چي لیکي: مسلمانانو په هغه وخت کي د اخلاقي پلوه پر مسیحیانو برتري درلوده او په ډیرو وجوهاتو مسلمانان پر مسیحیانو ښه وه، د مسلمانانو سخاء، عدل، قرباني او ځان تیریدنه دومره ډیره وه چي په نورو قومونو کي یې مثال نه درلودی او دوی انساني نوعي ته ډیر د قدر په سترګه کتل، مسیحي پاچاهانو دومره د مسلمانانو پر میلمه پالني باور درلود چي د قسطلې او ناور څخه به د درملني لپاره د مسلمانانو ښارونو ته راتلل.

فرانسوی تاریخ پوه ګوستالوبون په خپل اثر تاریخ تمدن اسلامي کي لیکي: مسلمانان چي د سیسل پر جزیره لاس بري سول د هغه وخت څخه علم او پوهي د ترقی لور ته وده وکړه، کرنه او تجارت پر مخ ولاړل، دباندنیو هیوادونو څخه یې د زیتون، پنبه، شکر بوټي او درختي راوړلې او په سیسل کي یې وکرلې، ویالې او نهرونه یې جوړ کړل چي تر اوسه لا پاتي دي د هیواد ذخایر او کانونه لکه: د مسو کان، د اوسپني کان، سنګ مرمر په ډیره ښه طریقه کشف او را وایستل سول، د وریښمو څخه یې جامې او توشکي جوړي دې، د مسلمانانو یادګارونه په اندلس کي لکه: په طلیطله کي ښکلي ښارونو، د الحمراء مشهوره مانۍ، د بنګلو، مسجدونو جوړول، لکه: د قرطبې لرغوني جامع جومات او اشبیلې د ښار جوړونه چي ډیر مالي لګښتونه پرې وه سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه وخت مشهور علماء د علم او هنر سرچينې وې، د نړۍ ټول پاچهان او سلاطين بايد د دوی د اخلاقو، علم پالنې او تمدن څخه درس واخلي، چې يوازې يې شپږ سوه (۶۰۰) کتابونه درلودل، مګر په عيني همدا وخت کې يوازې د اندلس د قرطبې په کتابتون کې څلور (۴) لکه کتابونه موجود وه، ابوالقاسم الزهراوي القرطبي الأندلسي ۹۳۶م کال کې د جراحت د علم مؤسس دی، چې د تاليفاتو او اختراعاتو څخه يې پيړۍ پيړۍ په اروپا او نړۍ کې کار اخيستل کيدی، مسلمانانو په اندلس کې د قرطبې ښار يوازې په اوو سوو (۷۰۰) تنو مجاهدينو فتحه کړی، چې تقريبا پنځه سوه شپږويشت (۵۲۶) کاله يې د يو اسلامي ښار په توګه پايښت وکړ، د علم يوه داسې زانګو وه، چې تر اوويا (۷۰) ډير کتابتونونه او لسګونه داسې علمي مراکز په کښې موجود وه، چې د نورې اروپا څخه به اروپايان د زده کړې لپاره ورته راتلل، غربيانو يعني اروپايانو به خپل اولادونه اندلس ته د علم تر لاسه کولو لپاره استول، کله چې به هغوی بيرته ستانه کيدل، نو د خپلو خبرو سره به يې قصداً عربي ژبه ګډول، تر څو ځانونه باکلتوره او پرمختللي معرفي کړي، ځکه چې عربي ژبه د علم ژبه وه او ده.

مسلمانانو د روم سره په ۸۴۶ م کال کې غزا وکړل، پاپ يې مجبوره کړ، چې جزيه ورکړي، د جزيې قيمت پنځويشت (۲۵) زره مثقاله سره زر وو، د همدې غزا له غمه نوموړی پاپ په واتيکان کې مړ سو. مسلمانان د اروپا څخه د غربي برخې اندلس يا اوسنۍ هسپانيا د لارې وايستل سول، مګر پر همدې مهال د اروپا د شرقي برخې څخه محمد الفاتح د روم (۱۰۰۰) زر کلنه واکمني ړنګه کړه او په فتحو يې شروع وکړله! اسلام نه مري، بلکې ساحل ته د بيړۍ رسولو واک الله (جل جلاله) کله يوه قوم او کله بيا بل قوم ته ورکوي. سلطان محمد الفاتح د خپل امر د مخالفت له امله د يوه نصراني د لاس پرې کولو حکم وکړ، نوموړی نصراني د قاضي په وړاندې پر سلطان باندې دعوه اقامه کړل او قاضي د سلطان د لاس پرې کولو حکم وکړ، مګر هغه کس له دې څخه تير سو او مادي عوض يې قبول کړی.

سلطان محمد عثماني په ۱۴۵۳م کال کې داسې توپ جوړ کړ، چې ټوله اروپا ځيني بيريدله، په همدې توپ يې د قسطنطنيې يعني اوسني استانبول چې د روميانو (۱۰۰۰) زر کلن راج په کښې روان وو، فتحه ترسره کړله، عثماني لښکر په يو سلو اته ويشت (۱۲۸) ورځو کې (۱۰۰۰) زر کيلومتره مسافهددې لپاره طی کړل، چې د هغه اروپايي لښکر سره وجنګيږي، چې شمير يې تر دوی دوه (۲) چنده وو. د مامون الرشيد عباسي د خلافت په زمانه کې به هر ژباړن عربي ژبې ته د کتابونو ژباړونکي ته پنځه سوه (۵۰۰) د سروزرو ديناره مياشتنۍ تنخوا ورکول کيدله، کوم چې د اوس وخت د زرونو ډالرو سره برابريږي. د اندلس فاتح موسی بن نصير ګوډ يعني معيوبه وو، د لښکر او جنګ قيادت يې تر اتيا (۸۰) کلنۍ پورې خپله ترسره کوی، لښکر يې هيڅکله مات نه سو، د اندلس فاتح موسی بن به ويل: که مې خلک اطاعت وکړي، نو روم به فتح کړم. يوسف بن تاشفين د مرابطينو مسلمان امير وروسته تر هغه د هسپانوي نصاراوو د سرونو کوپړۍ تر پښو لاندې کړې او د الله اکبر تکبير يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

روايه، چي د اندلس د ژغورني په نيت يې په ۱۰۸۶م کال کي د زلاقه په جګړه کي پر نصرانيانو خپل لوی بری تر لاسه کړ. د سلطان صلاح الدين ايوبي يوه وزير د هغه د اوسيدو لپاره په دمشق کي يوه ماڼۍ جوړه کړه، کله چي سلطان خبر سو، نو هغه يې عزل کړ او ورته ويې ويل: الله سبحانه وتعالی موږ په قصرونو کي د اوسيدو لپاره نه يو پيدا کړي، بلکي ددې لپاره يې پيدا کړي يو، چي د الله سبحانه وتعالی عبادت او د الله سبحانه وتعالی په لاره کي جهاد وکړو. محمد بن عروه چي کله يمن ته د والي په حيث واستول سو، نو خلګو ته يې وويل: اې د يمن اوسيدونکو! دا زما سپرلۍ اوښه ده، که مي تر دې ډير څه يووړل، نو زه غل يم. محمد ادريسي يوازينۍ مسلمان عالم، لوی جغرافيه پوه او لومړنی کس دی، په ۱۱۴۵م د نړۍ نقشه رسم کړل. ثابت ابن قرة په نړۍ کي لومړنی انسان وو، د شمسي کال د ورځو شمير يې په دونه دقت سره محاسبه کړی، چي اوس هم د ناساء پوهان ورته حيران دي. د جذام ناروغۍ لپاره لومړنی روغتون مسلمانانو جوړ کړ، په داسي حال کي چي اروپايانو به د همدې ناروغۍ مصاب شخص ژوندۍ په اور سوځۍ.

د عثماني خليفه ګانو لسم (۱۰) خليفه سلطان سليمان القانوني شپږ څلويښت (۴۶) کاله واکمني وکړه، اته (۸) ځله يې قرآن کريم په لاس ليکلی دی، لس (۱۰) ځله د اروپايانو او درې (۱۰) ځله د صفويانو سره جنګيدلی دی، غربيان يې د سليمان العظيم او شرقيان يې د سليمان القانوني په نومونو يادوي، د ده په زمانه کي عثماني خلافت د نړۍ تر ټولو قدرتمند اسلامي حکومت وو، نوموړي د هغو پوځونو مشري کوله، چي د بلګراد او رودوس په لور د مسيحي کليساوو د نيولو په نيت تللي وه. په څلورو ژبو لکه: عربي، فارسي، ترکي او صربيايي يې خبري کولای سوای، په ۱۵۶۶م کال کي په داسي حال کي وفات سو، چي د سيکتوار ښار يې محاصره کړی وو. عرب او بربري مسلمانان په ۹۲ هـ ق کال کي د ستر غازي او تکړه مجاهد طارق بن زياد چي دی خپله هم بربري وو او د موسی بن نصير د وتلو افريقايي قوماندانانو څخه وو، د دولسو (۱۲۰۰۰) زرو مجاهدينو سره د هغه تنګي څخه تير سول چي د هسپانيې او مراکش تر منځ پروت دی، اوس يې جبل طارق بولي، په کم او لږ وخت کي يې ټوله هسپانيه او اوسنی پرتګال فتحه کړل.

په هسپانيا کي د اسلامي تمدن مثال: مسلمانو او اروپايي تاريخ پوهانو چي د مسلمانانو برياوي څيړلې په دې سره متحد دي، چي د اسلامي تمدن پرمختګ په هسپانيا کي د غربي ملتونو او مسيحي اروپا د علمي او صنعتي انقلاب باعث سو، دا يو ښکاره حقيقت دی چي فلسفه، ادبيات، جغرافيه، رياضي، نجوم، ټولي علمي او فني څانګي د هسپانيې او فرانسې د جنوبي برخو، د سويس او د ايټاليا په مسلمانانو پوري تړلي وې، اروپا د غفلت او بې خبرۍ په خوب بيده وه.

يوه فرانسوي تاريخ پوه ليکلي دي: د اروپا هر راز تمدن او پرمختګ د مسلمانانو د راتګ سره سم پيدا سو، ليکوال زياتوي: د مسلمانانو چال چلند د هغو سيمو د اوسيدونکو سره داسي وو چي ساری يې نه موندل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فليب حتی په خپل کتاب تاریخ تمدن اسلام و عرب کي ليکي: د مسلمانانو د فاتح لښکر لاره د جنوب لویدیځ لور ته د ايبري جزيرې ته وه، په همدې جزیره کي د مسلمانانو اتل ځواک آخرینی پریکنده جګړه وکړه چي پایله یې په آسیا کي د مسلمانانو پرمختګ او ترکستان ونیول سو.

ډاکټر ګوستالوبون فرانسوي په اروپا کي د مسلمانانو عظمت ته داسي کتنه کړې ده: د اندلس آبادي او تمدن د ویزیګوتیانو په دوره کي داسي وو، لکه د يو وحشي قوم تمدن، مسلمانانو د خپلو بریاوو په پای کي آبادی ته داسي وده ورکړه، چي د ځو کلونو په موده کي یې ټولي ښارې مځکي آبادي کړې، لوړي بنګلې او عمارتونه یې جوړ کړل، د نورو شاوخوا قومونو سره یې تجارتي اړیکي پیل کړې او وروسته یې د علم پراخوالي او تمدن ته مخه کړه، لاتيني او یوناني کتابونه یې وژباړل علمي او ادبي غونډې یې جوړي کړې، چي بیا تر ډېره اروپایانو ګټه ځيني اخیستله.

ډاکټر ګوستالوبون فرانسوي په خپل کتاب تاریخ تمدن اسلام کي لیکلي: د مسلمانانو د بریو په وخت کي د ګت او لاتین قبیلو په حکومت کي ډیر رول درلود، کله چي اسلامي مجاهدينو همدا ملک ونیوی، د دوی تر منځ قبیلوي شخړي دې اندازې ته رسیدلي وې، چي د اندلس د سردارانو څخه دوو (۲) تنو د حملې پر مهال د مجاهدينو ننګه وکړه، يو کنت ژولیین او بل اسقف اعظم اشبیلیه وو، د مجاهدينو فتوحات په چټکۍ پر مخ تلل د لويو ښارونو ټولي دروازې ددې فاتح لښکر په وړاندي خلاصي سوي وې، بلکي قرطبه، غرناطه او طليطله چي د مسیحیانو پاخه مرکزونه وه، د مجاهدينو په لاس فتحه سول، پنځه ویشت (۲۵) ايالتونه مجاهدينو ونیول، مسلمانانو د اندلس د اوسیدونکو سره د شام او مصر په څیر چلند کوی، د خپلو مالونو او عبادت ځایونو واک دوی ته ورکړل سوی وو، همدا راز په قضایي امورو کي دوی خپلو کشیشانو ته مراجعه کوله، خپل مشکلات به یې د خپل مذهب سره سم حلول او کلنی جزیه یې مجاهدينو ته ورکول، چي د شتمنو لپاره پنځلس (۱۵) فرانک يو دينار او د بیوزلو لپاره نیم دينار وو، جزیه ډېره کمه وه چي دوی هم د کوم تحدید څخه پرته ومنله.

په اسلامي نړۍ کي د عصري علومو بيارغونه او راټولیدنه هغه مهال پیل سوه، کله چي اروپا د روم امپراتورۍ د ړنګیدونو وروسته په هر ډګر کي د ستر رکود سره مخامخ سوه، د اموي خلافت مسلمانو لښکرو نه یوازي په ختيځ کي، بلکي د منځنۍ آسیا د ترکستان، ایران او افغانستان په لور حرکت وکړ، په لویدیځ کي د مسلمانانو لښکرو د ايبريا ټاپو وزمه ننۍ پروتګال او هسپانيې سيمي فتحه کړې او ان د فرانسې تر زړه د پاريس تر یو سلو شپېته (۱۶۰) کیلو متره پوري پراخي سيمي لاندي کړې، په ۷۱۱ م کال کي د اپریل په ۲۸ تاریخ په لویدیځ کي د مسلمانو لښکرو لومړنی برید د عرب جنرال طارق ابن زیاد په مشرۍ د اووه (۷۰۰۰) زره جنګیالیو په مټ د شمالي افريقا له طرفه ترسره سو، په همدې کال مسلمانانو د ایبریا ټوله ټاپووزمه ونیول، اسلام په چټکۍ سره په دغه ټاپو کي ډیر ژر خپور سو، په يو زرم کال کي د الأندلس روڼاندو اووه (۷) میلیونو اوسیدونکو څخه پنځه (۵) میلیونه عیسویان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اسلام په مبارک دین مشرف سول، تر ۱۴۹۲م کلونو پوري اندلس یا اسلامي هسپانیه د اسلامي تمدن د کلتوري زعم تر چطر لاندي ستر نړیوال علمي مرکز وو، مسلمانانو نه یوازي ستر فتوحات وکړل، بلکي په بیساري توګه په علمي ډګر کي پراخ پرمختګونه وکړل، د پیړیو راهیسي اسلامي نړۍ د خپلو پوهو عالمانو، پوهانو او د هوښیارو مشرانو حاکمانو سیاستونو له کبله په علمي، کلتوري او ټیکنالوژي لحاظه د اروپا د فکري نړۍ څخه په لوړه کچه پرمختللي وه، د اتمي (۸) او دیارلسمي (۱۳) پیړیو تر منځ د عربي تمدن په زرین دور کي مسلمانانو د نړۍ د ګوټ ګوټ څخه پوهه راټوله او یو ځای کړه، د اسلام بریاوي، د مسلمانانو د عصري علومو عروج د نړۍ او د بشریت تاریخ ته ژور بدلون ورکړ، بغداد او دمشق د اسلامي نړۍ د علمي څیړنو مهم مرکزونه وه، دوی لوی لوی کتابتونونه جوړ کړل، ډیر علمي متتونه وژباړل، په اسلامي نړۍ کي هر اړخیزه علمي بحثونه ترسره کیدل، عربي ددې زمانې علمي ژبه وه، مسلمانانو ریاضیات، کسرونو، اعشارې، مثلثاتو، الجبر او نورو مظامینو ته هم وده ورکړه، همدارنګه نور عصري علوم لکه: طب، فزیک، فلسفه، بوټانیک یا کرهڼه، او ستورپوهني ته هم وده ورکړه.

اسلامي نړیوالو پوهانو لکه: ابن سینا او البیروني په اروپایي تفکر باندي د پام وړ اغیز درلود، د مثال په ډول: بغداد او قرطبې ښارونو کي د روغتونونو او کتابتونونو شتون په اړه اروپایان هک پک حیران پاته سړل، حتی د صلیبي جګړو پر مهال اکثریت اروپایان سخت وحشیان، بې تمدنه او بې کلتوره ثابت سول، کله چي دوی د اسلامي پرمختللي تمدن سره مخامخ سول، دا مهال مسلمانان او اسلامي نړۍ په پوځي لحاظ هم د اروپایانو څخه ډیره پرمختللې ثابته سوي ده. کله چي عیسوي لویدیځه نړۍ د منځنۍ پیړیو په تیارو او جهالت کي ډوبه پرته وه، په اسلامي نړۍ کي ریاضیات، د نجوم علم، طبابت او نور ساینسي علوم په بیساری ډول خپل ورستي اوج ته رسیدلي وه، د مسلمانانو متفکرو پوهانو ساینسي کشفیات او اختراعات ډیر ژر د اروپایانو د ریسانس دورې لامل وګرځیدل، الکیمیا، الجبر، اعداد پوهنه، تعرفه، الکهول او الکالین دا هغه عربي ساینسي نومونه یا کلیمي دي، چي اروپایي ژبو ته یې لاره موندلي ده او د اروپایانو په ساینسي علومو کي تر ننه پوري کار ځیني اخیستل کیږي.

مسلمانان نه یوازي په پوځي ډګر کي، بلکي په پوهنیزو علمي او اقتصادي برخو کي تر اروپایانو ډیر پرمختللي وه، دا مسلمانانو وه چي عیسوي اروپایانو ته یې د ساینسي علومو په برخه کي مهمه پوهه په لاس ورکړه، په دې توګه په اروپا کي د اروپایانو د ریسانس دوره رامنځته سوې ده، نن د مسلمانانو دغه د ساینسي علومو نومونه د اسلامي نړۍ زریني دورې ته اشاره کوي، ځکه پخوا اسلامي نړۍ د ساینسي علومو مرکزونه وه، د اروپا په څیړنیزو انستیټونو او پوهنتونونو کي نن هم د اسلامي نړۍ طلایي دورې په اړه څیړني ترسره کیږي، په بنسټیزه توګه د ساینسي علومو، ظهور او اوج د ساینس ترویجولو او د ساینسي عصري علومو ملاتړ پوري اړه لري، د اسلامي نړۍ ساینسي علومو زرین عصر، په نهمه (۹) پیړۍ کي په اسلامي نړۍ کي علمي ساینسي پرمختګونه پیل سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نهمي (۹) پیړۍ څخه تر دیارلسمي (۱۳) پیړۍ پورې اسلامي پوهان د نړۍ تر ټولو عالي مخکښو پوهانو څخه ګڼل کیدل، د عباسي بریالۍ دورې یا د اسلامي زریني دورې راز په دې کې نغښتی وو، عباسیانو د علم او پوهې اړوند اصول تعقیبول، دا کومه تصادفي پیښه نه وه، چې فاتحیونو عباسیانو د بغداد څخه د خلیفه ګانو په توګه په ختیځ کې واکمن وه، دوی د ساینسي علومو په اړه داسي یو نظر درلود، په ۷۴۹ ـ ۱۲۵۸ کلونو کې د عباسیانو د واکمنۍ پر مهال د لرغوني انتیکي دورې لیکني په بغداد کې وژباړل سوې او وده ورکړل سوه، په لویدیځ کې تر نن ورځې پورې د ختیځ ساینس پوهانو د لاسته راوړنو او د مخکښو پوهانو د روح څخه ګټه اخیستل کیږي، د نړۍ د ساینسي علومو مرکز بغداد وو، په هغه وخت کې بغداد د ساینس، کلتور، هنر او سوداګرۍ له پلوه د نړۍ یو ستر علمي مرکز پیژندل کیدی، په ختیځ کې خلګو د لرغونو آثارو د پوهیدني او زده کړې په اړه ډیره لیوالتیا درلوده، د پوهې تږو ځوانانو پلټني او څیړني پیل کړې، دوی طب، فلسفه، ریاضي، کیمیا او ستور پوهنه مطامین مطالعه کول، د حکمت په کور کې مهمو ریاضي پوهانو لکه: محمد بن موسی الخوارزمي څیړني ترسره کړې او د نن ورځې ریاضي پوهنه د هغه د څیړنو پرته د تصور وړ نه ده، نوموړې د الجبر په نامه یو کتاب ولیکی.

جغرافیه پوه الادریس د نړۍ نقشه جوړه او انځور کړه، د هغه نقشه د څو پیړیو لپاره کارول کیده، فزیک پوه آلهیثم د اوپتیک کتاب ولیکی، په دې توګه په دیارلسمه (۱۳) پیړۍ کې انګلیسي فیلسوف راجربیکن سره د عینکو یا سترګیو په جوړولو کې مرسته وکړه، په دې موده کې د طب په برخه کې هم ډیر پرمختګونه رامنځته وسول، د اتمي (۸) پیړۍ تر پایه په بغداد کې په سلګونه روغتونونو شتون درلود، نه هیریدونکي ابن سینا خپل ټول تعلیمات د علمي لارښونو پر بنسټ ترسره کول، د نوموړې تر اوسه په ختیځ او لویدیځ کې درناوۍ کیږي، ابن سینا د طب، ریاضي، فزیک او اخلاقو په برخه کې تر څلور سوو (۴۰۰) ډیر آثارو ولیکل، په دې زرین عصر کې اسلامي علماء کرام یا پوهان وه، چې د هسپانیې کوردوبا، الکساندریا او بغداد ښارونو کې د یونان او روم انتیکي زمانې علمي آثار د راتلوونکو نسلونو لپاره وژباړل او وساتل، د عصري طبابت او متیماتیک لپاره بنسټیز تهداب کښیښود.

د زریني دورې پیل او د ساینسي علومو سره لیوالتیا عباسي دورې پورې تړاو لري، دا په اسلامي نړۍ کې د اسلامي خلافت دوهمه واکمني وه، چې د اتلسمي (۱۸) میلادي پیړۍ په نیمایي کې پیل سوه، مسلمانانو د هغو علومو سره کوم چې په اسلامي نړۍ کې شتون درلود، په بیساري ډول لیوالتیا درلودوله، د عباسي دورې په لومړیو کې ساینسي علوم خپل ورستي اوج ته رسیدلي وه، په اسلامي نړۍ کې د ساینسي علومو پرمختګ په بیلا بیلو وختونو کې په ځینو سیمو کې لا نور پرمختګ کړی وو، په اسلامي نړۍ کې د ساینسي علومو پرمختګ تر هغه مهاله په ښه توګه دوام وکړ، مګر په یوویشتمه (۲۱) پیړۍ کې مسلمانان د ساینسي علومو د ننګوني سره مخامخ سوي دي، ځکه مسلمانانو او اسلامي نړۍ د ساینسي علومو سره اړیکي پرې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس مهال د (۱,۳) میلیارده ډېر مسلمانان د نړۍ په اووه پنځوس (۵۷) زیات و کم هیوادونو کې ژوند کوي، د مراکشه څخه نیولې تر تورکیې، ایران، افغانستان او مالیزیا پوري پر بیلا بیلو ملتونو ویشلي سوي دي، ځیني هیوادونه ډېر بیوزلي او ځیني ډېر شتمن هیوادونه دي، لکه: سعودي عربستان، کویټ او عربي امارات. دوی د تیلو د شتمنیو له امله هیڅ ډول اقتصادي ستونزي نه لري، مګر کله چي د ساینسي علومو څېړني خبره رامنځته کېږي، د ټولي نړۍ په پرتله ډېري کمي ترسره کېږي، په اسلامي هیوادونو کي د مسلمانانو له خوا د ثبت سويو اختراعاتو شمير ته په کتو سره علمي څېړني ډېري کمي کېږي، په ټولیزه توګه په عربي هیوادونو کي د مخترعینو له خوا ثبت سوي اختراعاتو شمیر درې سوه اوویا (۳۷۰) ښوول سوی دی، ډېری مسلمانان په دې نه پوهیږي، چي ولي د اسلامي نړۍ ستر عظمت او پراخوالی مخ پر ځوړند د ناکامی په لور روان سوی دی، دا څنګه شونې ده، چي اسلامي نړۍ د دومره لوړوالي څخه کښته خوا ته روانه وي، نن په اسلامي نړۍ کي مسلمانان لږ کتاب لولي، ځیني کسان پوښتنه کوي، ولي اکثریت اسلامي هیوادونه د نړۍ هیوادونو په پرتله په اوسط ډول په لوړه کچه د ټولنیز اقتصادي پرمختګ په برخه تر ټولو ټیټه کچه لري؟

د نهمي (۹) او دولسمي (۱۲) پیړۍ تر منځ مسلمانان په فلسفي، اقتصادي، عصري علومو او په ټولنیزه برخه کي د لویدیځو اروپایانو په پرتله ډېر پرمختللي وه، د اسلامي نړۍ تمدن په خپل لومړني زرین عصر کي اغیزمن اسلامي علماء، پوهان، متفکرین او لوی سوداګر درلودل او په پوځي ډګر کي هم برلاسي وه. لویدیځ د اسلامي هیوادونو ټولي سیاسي، اقتصادي او ټولنیزي منابع غلا او چور کړي دي، تر اوسه اسلامي نړۍ په دې نه ده توانیدلې، چي ځان بیا سمبال کړي، په اروپا کي ډېری اروپایان د اسلام د پراخیدو په اړه خبري کوي او د عیسوي مذهب له منځه تللو څخه بیره څرګندوي، په اسلامي نړۍ کي تل داسي نه وه، په اصل کي اسلام د سولي او پرمختګ دین دی، د لویدیځي نړۍ سیاستوال، د عیسوي، یهودي او د نورو بې کتابه دینونو عالمان او پوهان پوښتنه کوي، د اسلام آسماني دین به مسلمانان څنګه له دې بحراني حالت او خونړۍ کړکیچ څخه راوباسي؟

په نړۍ کي لومړنۍ پوهنتون په اسلامي نړۍ کي تاسیس سوی دی، اسلامي نړۍ په سختۍ سره نوي علمي څېړنیز نوښتونه خپروي یا تولیدوي، په داسي حال کي چي سوریه، یمن او لیبیا د ویجاړونکي خونړیو جګړو له امله لسیزي شاته پاته سول، په ۹۷۲م کال کي د الازهر پوهنتون بنسټ ایښوول سوی دی، الازهر پوهنتون په قاهره کي د نړۍ د پخوانیو پوهنتونونو څخه دی. مصري عرب کیمیا پوه احمد زیویل په ۱۹۹۹م کال کي فزیک، کیمیا، طب او اقتصاد په برخه کي د نوبل جایزه تر لاسه کړې ده. په عربي ژبه کي لږ کتابونه خپریدل او لږ علمي آثار د نورو ژبو څخه ژباړل کیدل، د مطالعې کمیدل، کورنیو جګړو او اقتصادي بحرانونو په اسلامي ادبیاتو کي ستر زیانونه اړولي دي، همدارنګه لږ کتابونه عربي ته ژباړل سوي دي، د اوو (۷) پیړیو راهیسي اسلام د نړۍ ټولو انسانانو ته علم، پوهه او حکمت ډالۍ کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اسلامي نړۍ کي يو داسي نړيوال سياسي مديريت ته اړتيا ده چي د ټولي اسلامي نړۍ د مشرتابه وړتيا ولري، د اسلام سپيڅلی دين تر ټولو زيات ټينګار د علم او پوهي په زده کړي، تفکر او استدلال باندي کړی دی. د علم خزانې په نړۍ کي پټي پرتې دي، دا پر انسان لازم دي چي د پرمختللي علم په رڼا کي خپله ټولنه په رڼا کړي، عصري تمدن د اسلامي ختيځ څخه د عربي هسپانيې د لاري اروپا ته رسيدلی دی، اروپا ته اسلامي علوم د تخنيکي، تجربوي ميتودلوجي سره رسيدلی دی، کوم چا چي اسلامي تاريخ کتلی زموږ سره به په دې خبره توافق ولري. روبليس په خپل تاريخ کي ليکلي: د اندلس تر سقوط وروسته کليسا د هغه ځای د مسلمانانو څخه يو (۱) ميليون او پنځه (۵) زره کتابونه راجمع کړل او د ښار په منځ کي يې په عامه وسوځول، هغه جنايات چي د تاريخه پاته دي، تر دې ډير دي. کله چي زيمنس غرناطه د مسلمانانو څخه ونيول، د مسلمانانو ټول کتابونه يې وسوځول. زيمنس ډير متعصب شخص وو، د فرديناند په وخت کي يې په طليطله کي د اسقف اعظم ځای درلود. د مسلمانانو اتيا (۸۰۰۰۰) زره جلده کتابونه يې اور ته واچول، ده فکر کوی چي د مسلمانانو آثار مي د وخت د صفحې څخه نيستي کړل، مګر دی بې خبره وو چي د مسلمانانو نور يادګارونه هم سته چي د تجارت وده د آسيا او افريقا سره او د حکومتي نظام چلول وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه ته د اسلامي نړۍ سربښندونکي آتلان پيژنې؟

الله سبحانه وتعالی چي ځوان ته کوم د ځوانۍ عمر او طاقت ورکړی دی، هغه دي غنيمت وګڼي، د قيامت په ورځ د صحيح جواب ويلو او د الله سبحانه وتعالی عرش د سيوري لاندي د ځاي پيدا کولو لپاره دي د الله سبحانه وتعالی د دين خدمت وکړي او د الله سبحانه وتعالی په لاره کي دي خپل ځان مخکي کړي، په دې کار کي دي صحابه کرام (رضي الله عنهم آجمعين) د خپل ځان لپاره نمونه وګرځوي، چي څنګه ځوان صحابه د الله سبحانه وتعالی په لاره کي مخکي کيدل، او په هر هغه ميدان کي يې خپل طاقت ښکاره کوی، په کوم ميدان کي چي د حق او باطل مقابله روانه وه، که د علم او عمل ميدان وو، که د دعوت او تبليغ، که د خلګو د خدمت ميدان وو، په هر ځای کي ټول صحابه کرام، خو خاصتاً ځوانان صحابه مخکي وه، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) سره په هره غزا کي د ځوانانو صحابه کرامو کړنه ښکاره وه، مګر د اسلام او کفر په اولنۍ جګړه کي چي څنګه ځوانانو صحابه کرامو د خپل لښکر په مقابل کي د کفارو د درې (۳) چنده ډير لښکر مقابله کړي وه او هغه يې د ماتي سره مخ کړي وه.

د هغه مثال نسته، دا د ځوانانو صحابه کرامو عمل وو، چي د مقابلي د بلني په وخت کي د انتظار پرته په خپله خوښه ميدان ته کښته کيدل، او د هغوی سره د خپل ځان کوم فکر نه وو، نن هم زموږ ځوانان مخکي کيږي، مګر سينماوو، کلبونو، د سيال او تفريح ځايونو ته، نن هم ځوانان د خپل ځان لپاره يوه نمونه ګوري، مګر په صحابه کرامو کي نه، نه په خپلو مشرانو کي، بلکي په فلمي ستوري، د هاليوډ او باليوډ، هنرمندانو او ډمانو کي، په سندر غاړو کي، په لوبغاړو کي، تعجب دی په دې مسلمان او د هغه مسلمانی ته، او تعجب دی داسي ځوان او د هغه ځوانۍ ته چي خپل ټول قيمتي وخت په بې ځايه کارونو کي تيروي، چي له امله يې په ډيرو جسماني او ذهني ناروغيو اخته کيږي، څومره به ښه وي چي زموږ ځوانان صحابه کرام د خپل ځان لپاره نمونه وګرځوي، د هغوی په نقش قدم باندي روان سي، د الله سبحانه وتعالی په لار کي سيالي وکړي، د دنيا د غمونو څخه بې غمه د اسلام په فکر کي سي، د دنيا څخه ډير د آخرت په فکر کي سي.

نو الله سبحانه وتعالی به يې دنيا هم ښايسته کړي، نن موږ د دنيا د آبادولو لپاره خپل آخرت بربادوو، نو نه دنيا په لاس راغله او آخرت مو هم خراب سو، ددې لامل دا نه دی چي زموږ په ځوانانو کي صلاحيت نسته، صلاحيت سته، مګر د هغه څخه کار نه دی اخيستل سوی، جذبه سته، مګر هغه ورکه کړل سوې ده، فکر سته، خو د هغه مخ غلط طرف ته اړول سوی دی، کوښښ کيږي، مګر په غلطه لار کي، ځوانانو ته په کار دي، چي خپل صلاحيتونه، جذبه او کوښښ په سمه لار کي تير کړي، د بې فائدې او بې ګټي شيانو څخه دي ځانونه وساتي، خپل صلاحيتونه دي د خپل رب (جل جلاله) د خوشحالولو لپاره په کار راولي، ځوانان صحابه کرام دي د خپل ځان لپاره نمونه وګرځوي، دا د کاميابۍ او نيکمرغۍ لاره ده، تر څو چي په ځوانانو کي د قربانۍ او سربښندني جذبه نه وي پيدا سوې، د هغوی صلاحيتونو ته سمه لار نه وې ورکړل سوې، نو تر هغو پوري د مسلمانانو تير برم او عزت نه راګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱: په قرآن کريم کي د ځوانانو په اړه ډير څه ويل سوي دي، چي د فضايلو او پاکۍ ځليدونکي نموني دي، سربښندونکې حضرت اسماعيل (عليه السلام) قرآن کريم موږ ته د حضرت اسماعيل (عليه السلام) په اړوند خبر راکوي، د هغه فدا کاري، اخلاصمندي او د الله سبحانه وتعالی آمر ته تسليم ځوان بيان داسي کوي: حضرت اسماعيل (عليه السلام) تنکۍ او مبارک ځوان د خپل ګران پلار سره کعبې شريفي ته نژدې د (سعی) نومي ځای ته ورسيدل، حضرت ابراهيم (عليه السلام) د الله سبحانه وتعالی په آمر حضرت اسماعيل (عليه السلام) ته د هغه د ذبح کولو وړانديز کوي، حضرت اسماعيل (عليه السلام) په خپله اراده او اختيار د الله سبحانه وتعالی آمر ته غاړه ږدي او خوشحاله کيږي، چي د الله (جل جلاله) د آمر او فرمان د تر سره کيدو لپاره خپل سر قربانوي، ډيره جالبه دا ده، حضرت اسماعيل (عليه السلام) داسي ووايل: زما په اړه چي هر دستور د ځانه سره لرې، ترسره يې کړه. بلکي داسي يې ووايل: د الله (جل جلاله) فرمان ترسره کړه. په دې معنا چي خپل ځان يې ياد نه کړ، بلکي خپل ژوند او وجود يې د الله (جل جلاله) د فرمان په مقابل کي هيڅ وباله، هغه وخت يې خپل پلار ته داسي ووايل: هر دستور چي د الله (جل جلاله) د لوري لرې، هغه ترسره کړه او په دې اړه زما څخه پوښتنه مه کوه.

۲: پاک لمني، د حياء څښتن او صديق حضرت يوسف (عليه السلام) قرآن کريم موږ ته د حضرت يوسف (عليه السلام) په نوم د يو بل ځوان خبر راکوي: دا هغه ځوان دی چي جنسي شهوت او لذت په خپل ټول قوت او جاذبې سره هغه ته وړاندي سو، مګر حضرت يوسف (عليه السلام) په ډيره ميړانه او پوره ايمانداری سره د هغه څخه انکار وکړ، دا په داسي حال کي چي د قبول ټول اسباب ورته مهيا وه او هغه ځای د ټولي نړۍ د انسانانو د سترګو څخه پټ او پناه وو، مګر حضرت يوسف (عليه السلام) په دې خبره پوره ايمان درلودی، چي قادر، عالم او بصير الله (جل جلاله) په هر ځای کي ليدونکۍ دی. ښکلې او ښائسته ځوان د ځوانۍ د قدرت او تازګۍ په مرحله کي، غريب ځوان چي هيڅوک نه پيژني، تر څو د خپلو کارونو په خاطر تر ملامتيا لاندي ونيول سي، مجرد دی واده هم نه لري، تر څو د ده پاک لمني د واده او زوجې پواسطه وساتل سي، حضرت يوسف (عليه السلام) د نورو ښځو څخه بې نيازه کړي، او هغه ښځه چي حضرت يوسف (عليه السلام) يې ځان ته رابللی وو، فاسده، عادي او بازارۍ ښځه نه وه، بلکي د لوړ مقام او عزت څښتنه وه، هغه د پاچا ميرمن وه، او حضرت يوسف (عليه السلام) د دوی په کور کي دننه خدمتګار وو، په کوم امتحان کي چي حضرت يوسف (عليه السلام) رابښکيل سوی وو، عارضي، د يوې لحظې آزموينه او فتنه نه وه، بلکي حضرت يوسف (عليه السلام) سهار او ماښام وخت او ناوخته په کښي راګير وو، علاوه پر دې هغه د پاچا ميرمن وه، چي حضرت يوسف (عليه السلام) يې ځان ته رابللی وو، خپله غوښتنه يې په اشاره او کنايه هم نه وه ځيني مطرح کړې، بلکي د شروع څخه يې ښکاره ورته ويلي وه: را وړاندي سه! مګر حضرت يوسف (عليه السلام) په ډير ښکاره او صريح ډول ددې کار څخه ډډه او بيزاري وښوول، حضرت يوسف (عليه السلام) د دوو ستونزو له منځه د يوه مشکل د اختيار چانس

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلود، هغه دا چې یا به یې په دین کې مصیبت منی، چې عبارت د ناوړه عمل څخه وو، او یا به یې د دنیا مصیبت ګالی، چې هغه زندان وو، مګر دغه ایماندار ځوان د دنیا زندان پر ځان ومنی، تر څو دین ته یې نقصان او زیان ونه رسیږي، نو داسې یې وویل: اې ربه زما! بندې خانه ډیره خوښه ده زما له هغه کاره چې بولي دا ښځې ما هغه ته.

۳: حضرت حمزه بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) رضايي ورور، ملګری او اکا وو، د اُحد په غزا کې شهید سو، لقبونه یې اسدالله، اسدالجنه وو او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د سید الشهداء لقب ورکړ، حمزه بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) په ۶۱۲ م کال کې اسلام قبول کړی، د حمزه بن عبدالمطلب (رضي الله عنه) په مسلمانیدو د مسلمانانو قوت لا ډیر سو، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د حضرت حمزه (رضي الله عنه) په مشری پر قریشو لومړی برید تنظیم کړ، په دغه برید کې دیرش (۳۰) سپاره مهاجرین ورسره وه، نوموړی العیس سیمې ته نږدې ساحل کې د ابو جهل ابن هشام او د هغه د درې سوه (۳۰۰) سپرو کسانو سره مخ سو، جګړه شروع کیده، چې مجدي ابن امر الجوهاني مداخله وکړه، خلګ تیت او پرک سول او جګړه ونه سوه. حضرت حمزه (رضي الله عنه) د بدر په غزا کې هم وو، تل به یې پر سینه یوه بنګه وه، چې د جګړې په میدان کې ښه پیژندل کیدی، په مخامخ جګړه کې یې اوتبه ابن ربیعه وواژه، وروسته بیا حضرت حمزه (رضي الله عنه) د بنو قینوقه پر وړاندې لښکر کښی کې د اسلام بیرغ لیږدوی.

۴: حضرت ارقم ابن الارقم (رضي الله عنه) هغه ځوان صحابي دی، چې کور یې د اسلام د دعوت لومړی مرکز بلل کیږي، دې ځوان د شپاړس (۱۶) کلونو په عمر اسلام ومنی او د هغه وروسته یې خپل کور دیارلس (۱۳) کاله د اسلامي دعوت مرکز وګرځوی، د لومړنیو مسلمانانو څخه شمیرل کیږي، د ده کور په مکه مکرمه کې د صفا غونډۍ خوا ته وو، هلته به رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نوي مسلمان سوي کسان را جمعه کول، د قرآن کریم نازل سوي آیاتونه به یې ورښوول او د همده په کور کې لوی او مخکیني مسلمانان په اسلام مشرفه سول، د حضرت ارقم (رضي الله عنه) کور ځکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د اسلامي دعوت مرکز ټاکلی وو، ځکه چې د حضرت ارقم (رضي الله عنه) په اسلام خلګ نه وه خبر، قریشو فکر نه کوی، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به دلته د خپلو ملګرو سره یو ځای کیږي، نو خلګو فکر نه کوی، چې د ده کور ته دې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) راځي، حضرت ارقم (رضي الله عنه) د شپاړسو (۱۶) کلونو ځوان وو، نو دا فکر نه کیدی چې د دومره کشر ځوان په کور کې دې دومره مهم مجلسونه جوړیږي او د مسلمانانو د تجمع ځای دې وي.

۵: حضرت سعد ابن وقاص (رضي الله عنه) اوولس (۱۷) کلن ځوان وو، چې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې لومړی غشی ویشتوونکی بلل کیږي، یعني د جهاد د شروع پر مهال په لومړی غزا کې د الله سبحانه وتعالی په لاره کې لومړی غشی ویشتوونکی حضرت سعد (رضي الله عنه) دی، او حضرت سعد (رضي الله عنه) هغه کس دی چې د عربو د وتلو میړنیو سپرو څخه بلل

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوی دی، حضرت سعد (رضي الله عنه) هم د لومړنیو مسلمانانو څخه دی، پر حضرت سعد (رضي الله عنه) باندي خپله مور سخته ګرانه وه او د هغې به يې ډېر خدمت کوی، کله چي دی مسلمان سو، مور يې سخته ورته په غوسه سوه او ورته ويې ويل: که ته اسلام پرې نږدې زه به خوراک او څيښاک ونه کړم او د خوراکه منع سوه. ده ډېر کوښښ وکړ چي قانع يې کړي، مګر هغې نه منله اخير يې ورته وويل: موري! زه ستا سره ډيره مينه لرم، مګر ستا څخه د الله سبحانه وتعالی او د الله سبحانه وتعالی د رسول (صلی الله علیه وسلم) سره ډيره مينه لرم، په خدای قسم که ستا زر ساوي او نفسه هم سي او يو په بل پسي دي د بدنه وځي، بيا به هم زه خپل دين پرې نږدم، په دې سره هغه پوه سوه، چي دی اسلام نه پرې ږدي، نو د خپله هوډه واوښتله.

۶: حضرت خالد ابن وليد (رضي الله عنه) د اسلامي خلافت د بهترينو قومندانانو څخه وو، دا چي ډېر زړور وو او د اسلام دوښمنان ځيني بيريدل، لقب يې سيف الله سو، حضرت خالد ابن وليد (رضي الله عنه) په ټول ژوند کي يوه جګړه هم نه وه بايللې، حضرت خالد (رضي الله عنه) د درواغجنو پيغمبرانو پر وړاندي جګړه، د عراق، سوريې يوې برخي يمامې په فتحو او تر سلو (۱۰۰) ډيرو نورو جګړو کي بريالی سوی وو، حضرت خالد ابن وليد (رضي الله عنه) يو تکړه پوځي ستراتيجيست هم وو، تکتيکونه يې ان اوس هم کارول کيږي، حضرت خالد ابن وليد (رضي الله عنه) د ځنکدن په وخت کي وويل: ما د شهادت لاسته راوړلو لپاره په ډيرو جګړو کي ګډون وکړ، په بدن کي مي هيڅ ځای داسي نه دی پاته چي ټپي نه وي، مګر اوس په خپله بستره کي مړ کيږم. حضرت خالد ابن وليد (رضي الله عنه) داسي يو پوځي وو چي د سيف الله يعني د الله توره لقب ښه ورسره ښايي، داسي توره چي د اسلام او مسلمانانو د دوښمنانو يعني کفارو پر وړاندي پورته سوه.

۷: حضرت ابو عبيده ابن جراح (رضي الله عنه) په اتلس (۱۸) کلنۍ کي مسلمان سو، حضرت ابو عبيده (رضي الله عنه) د پوځي بريالیتوبونو څخه د دمشق فتحه، د مديترانې د ختيځو سيمو هيوادونو فتحه، د سپيځلي ښار بيت المقدس يادونه کولای سو، همدا راز ارمنستان او اناتوليا ته په لښکرکښيو کي هم ونډه اخيستې وه، حضرت ابو عبيده ابن جراح (رضي الله عنه) هغه کس دی چي د په احد غزا کي يې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په دفاع کي غاښ مات سو، حضرت ابو عبيده ابن جراح (رضي الله عنه) ډېر نيکمرغه دی، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د اُمت ساتونکی بللی دی.

۸: حضرت طلحة (رضي الله عنه) په شپاړس (۱۶) کلنۍ کي اسلام منلی دی، د احد په غزا کي يې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره بيعت وکړ: تر مرګه به جګړه کوم. حضرت طلحة (رضي الله عنه) په احد کي د ماتي پر مهال رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د مشرکينو وساته او هغه داسي چي د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) سره ولاړ وو، د دوښمن غشيو ته به يې ځان ورمخته کوی او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به يې ساتی، آن چي د يوه لاس ګوتي يې هم شلې سوې، او خورا ډېر ټپونه يې وخوړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹: حضرت زبیر بن عوام (رضي الله عنه) په پنځلس (۱۵) کلنۍ کي اسلام منلی دی او دی هم د مخکینیو مسلمانانو څخه شمیرل کیږي، دی د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خاص ملګری او مشاور وو، دی هم د حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) زوم دی او هغه خپله لور آسماء (رضي الله عنها) ده ته په نکاح کړې وه، همدا راز د عربو مشهور حضرت عبدالله (رضي الله عنه) د ده زوی وو، حضرت زبیر بن عوام (رضي الله عنه) هغه ځوان دی چي په اسلام کي د الله سبحانه وتعالی په لاره کي لومړی توره ایستوونکی مجاهد شمیرل کیږي، دې پنځلس (۱۵) کلن تنکي ځوان د الله سبحانه وتعالی په لاره کي خورا ډیري سختۍ ګاللي دي، او جهادي کیسو ته یې یوه ځانګړې رساله په کار ده.

۱۰: حضرت زید بن ثابت (رضي الله عنه) په دیارلس (۱۳) کلنۍ کي د اسلام خدمت ته وړاندي سو او ځیني روایات وایي: په یولس (۱۱) کلنۍ کي حضرت زید بن ثابت (رضي الله عنه) هغه هوښیار او پوه ځوان وو، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په آمر یې سریاني او یهودي ژبي زده کړې او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ترجمان وګرځیدی، پر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) به چي وحي نازلیدله هغه به یې حضرت زید (رضي الله عنه) ته سپارله او هغه به لیکله همدا راز زید (رضي الله عنه) د قرآن کریم حافظ او خورا ښه عالم وو، په صحابه کرامو کي شپږ (۶) کسان په فتوا ورکولو سره مشهور وه او په هغو کي یو حضرت زید (رضي الله عنه) هم وو، په ځانګړې توګه په علم المیراث کي حضرت زید (رضي الله عنه) ډیر زیات مهارت درلودی، او په ټولیزه توګه د ده پوهه او هوښیاري ټولو صحابه کرامو ته معلومه وه، حضرت عمر (رضي الله عنه) به کله چي حج ته تلی، په مدینه منوره کي به یې حضرت زید (رضي الله عنه) خپل ځای ناستی وټاکه، او د زید (رضي الله عنه) تر ټولو لوی کار د قرآن کریم جمعه کول دي، د قرآن کریم د جمعه کولو لپاره د صحابه کرامو یوه ډله وټاکل سوه او د هغې مشري حضرت زید (رضي الله عنه) کوله.

۱۱: حضرت معاذ او معوذ (رضي الله عنهم) دواړه د دولسو (۱۲) او څوارلسو (۱۴) کلونو په عمر تنکي ځوانان د بدر د غزا اتلان دي او دا دواړه هغه ځوانان دي چي د بدر په تاریخي معرکه کي یې د کفر او شرک سرخیل ابوجهل وژلی دی. امام بخاري او امام مسلم (رحمة الله علیهم) د دوی کیسه د مشهور صحابي عبدالرحمن بن عوف (رضي الله عنه) څخه روایت کړې ده، عبدالرحمن (رضي الله عنه) وایي: زه د بدر په غزا کي د مجاهدینو په صف کي ولاړ وم، د انصارو دوه ځوانان مي ولیدل په عمر کشران وه، د دوولسو (۱۲) او څوارلسو (۱۴) کلونو تر منځ یې عمرونه وه، دی وایي: د دوی دواړو څخه یو راغلی ما ته یې اشاره وکړه او را ته ویې ویل: ای اکا! ته ابوجهل پیژنې؟ ما ورته وویل: وراره! ته هغه څه کوې؟ هغه وویل: زه خبر سوی یم چي هغه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته ښکنځل کوي په هغه ذات مي قسم چي زما روح یې په واک کي دی، که زه او دی سره یو ځای سو، زه به دی پرې نږدم، څو په ما او ده کي یو مړه سوي نه یو. عبدالرحمن وایي: هغه بل ځوان هم دا خبره راته وکړه. لږ وروسته دواړو ابوجهل ته ځانونه ورسول، پر هغه یې د تورو ګذارونه پیل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۲: حضرت اسامه بن زید اسامه او پلار یې زید (رضي الله عنهم) دواړه صحابه دي، دوی د بنو قضاعه د قبیلې څخه دي او هغه مخکې چې موږ کوم زید یاد کړ هغه انصاري دی دا زید بن حارثه او هغه زید بن ثابت (رضي الله عنهم) دی. ده په اتلس (۱۸) کلنۍ کې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ملګرتیا پیل کړې ده، دی او پلار یې دواړه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) مریان وه او د ده مور ام ایمن د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) روزونکې وه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د خپل ژوند په وروستیو شپو کې شام ته د مجاهدینو ستر لښکر تیار کړ چې په هغه کې د حضرت ابوبکر او حضرت عمر (رضي الله عنهم) په څیر مشران صحابه هم وه او ددې لښکر مشر یې اتلس (۱۸) کلن اسامه وټاکۍ، که څه هم خلګ زړه نا زړه وه، مګر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هغوی پوه کړل چې دا ځوان د مشرتابه او قیادت وړتیا لري، دا لښکر لا تر خپله هدفه نه وو رسیدلی چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دنیا څخه رحلت وکړی، دوی بیرته را وګرځیدل، کله چې حضرت ابوبکر (رضي الله عنه) خلیفه سو، همدا لښکر یې د ډیرو مخالفتونو سره د اسامه په مشري کې بیا تیار کړ، دوی چې د مدینې منورې څخه ووتل انصارو مجاهدینو حضرت عمر (رضي الله عنه) ته وویل: ته خلیفه ته ورسه ورته ووایه د اسامه پر ځای بل مشر امیر وټاکۍ. حضرت عمر (رضي الله عنه) ورغلی او حضرت ابوبکر (رضي الله عنه) ته یې د انصارو خبره وکړه، حضرت ابوبکر (رضي الله عنه) دومره په غوسه سو، چې حضرت عمر (رضي الله عنه) ته یې وویل: مور دې دربانديي بوره سي زه څنګه هغه امیر لري کړم چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ټاکلۍ وو.

۱۳: عمر بن عبدالعزیز (رحمة الله علیه) په اسلام کې د عمر بن عبد العزیز بن مروان بن الحکم (رحمة الله علیه) مقام دومره لوړ دی، چې پنځم (۵) راشد خلیفه بلل کیږي، ده دوه (۲) کاله او پنځه (۵) میاشتې خلافت کړی دی. د اهل السنة لوی امام احمد بن حنبل (رحمة الله علیه) وایي: څوک چې د عمر بن عبدالعزیز (رحمة الله علیه) د ژوند د حالاتو خلګ خبروي پوه سئ چې په ده کې خیر دی. ځکه خو د ده پر ژوند ګڼ شمیر کتابونه لیکل سوي دي، لکه: د امام مالک د شاګرد عبدالله بن الحکم (رحمة الله علیهم) کتاب: سیرة عمر بن عبدالعزیز. د ابن الجوزي (رحمة الله علیه) کتاب: سیرة عمر بن عبدالعزیز. علامه عبدالرؤف المناوي (رحمة الله علیه) کتاب: سیرة عمر بن عبدالعزیز. د احمد زکي صفوت کتاب: عمر بن عبدالعزیز. د عبدالعزیز سید الاهل کتاب: الخلیفة الزاهد او داسي نور... په اموي خلفاؤو کې دی یوازینۍ خلیفه وو چې آن عباسي خلفاؤو یې هم احترام کوی، همدا راز اهل تشیع هم هغه ته احترام لري، پر دې علاوه عیسایانو او نورو کفارو ته هم د احترام وړ دی.

د محمد بن معبد په نوم یو کس وایي: زه د روم واکمن ته ورغلم، هغه پر ځمکه ناست وو او سخت خپه وو، ورته ومې ویل: څه کیسه ده ولې دومره خپه یې؟ ویل یې: ته نه یې خبر خورا لویه پیښه رامنځته سوې ده؟ ما وویل: څه پیښه؟ د شام پاچا را ته وویل: د مسلمانانو خلیفه عمر بن عبدالعزیز (رحمة الله علیه) وفات سوی دی. هغه زیاته کړه: زما یقین دی که د عیسی (علیه السلام) وروسته بل چا مړي را ژوندي کولای، نو هغه به عمر وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عمر بن عبدالعزيز (رحمة الله عليه) د مړيني شپو ورځو كي چا يو عيسايي راهب وليدی ژړل يې، كله چي يې د ژړا د سبب پوښتنه وسوه؟ هغه ورته وويل: ځكه ژاړم چي د ځمكي پر مخ يو نور وو او د نن وروسته به هغه نور نه وي. دا به كوم عمل وو چي عمر بن عبدالعزيز (رحمة الله عليه) يې دې لوړ مقام ته رسولی وو؟ د نورو ګڼ شمير اسبابو سره دوه (۲) يې دا دي: د الله سبحانه وتعالی څخه بيره او د مسلمانانو سره مينه. د مرګ وروسته څو كسان د ده ښځي فاطمه بنت عبدالملک ته ورغلل او د هغه د ځانګړي عمل پوښتنه يې وكړه؟ هغې ورته وويل: په الله قسم هغه ستاسو څخه په لمانځه او روژه كي زيات نه وو، مګر په الله قسم ما د ځمكي پر مخ داسي انسان نه دی ليدلی چي د عمر په څير دي د الله سبحانه وتعالی څخه بيريږي.

۱۴: حضرت عمير بن مسيب (رضي الله عنه)، امير المؤمنين حضرت عمر (رضي الله عنه) په مسجد نبوي كي ناست وو، د مسلمانانو په ورځنيو چارو بوخت وو، يو دنګ ځوان چي سپيره ورېښتان او سپيره مخ يې وو، خيرن كالي يې اغوستي او تنې يې هم څو ځايه شكيدلي وې، يوه اوږده لكړه يې په لاس كي وه، څو لوښي، لرګي يې په پټو كي تړلي په شا كړي وه، جومات ته راننوتی، اميرالمؤمنين او ناستو كسانو ته يې سلام ادا كړی او په يوه طرف كي غلی كښينستی، امير المؤمنين او ناستو كسانو د مسافر ګومان پرې وكړ، سلام يې ورجواب كړ او په خپلو كارونو بوخت سول، ځوان هم ناست وو، چي ګڼه ګونه كمه سي او ده ته د امير المؤمنين سره د خبرو چانس پيدا سي، د خلافت په دربار كي خلک يو څه كم سول، حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) مسافر او وهلی ځوان ځان ته راوغوښت، د حاجت پوښتنه يې ځيني وكړ؟ ځوان ورته وويل: امير المؤمنينه! زه تاسو راغوښتی وم، څو ورځي مخكي ستاسي ليک راغلی او دا دی زه د فرمان سره سم حاضر سوم. امير المؤمنين حضرت عمر (رضي الله عنه) ډير فكر وكړ، مګر داسي څه يې په ياد نه سول، چي دغه ځوان ته يې ليک استولی وي، نو په خورا تعجب سره يې ځيني وپوښتل: ځوانه! ومي نه پيژندلې! زما نه دي په ياد چي تا ته مي كوم بلنليک در استولی وي.

په دوړو او خاورو ككړ ځوان خپل شكيدلی ګريوان سره را ټول كړ، په ډيره عاجزۍ، او حياء سره يې د الله سبحانه وتعالی د رسول (صلی الله عليه وسلم) وفادار ملګري ته وويل: امير المؤمنينه! زما نوم عمير بن مسيب دی، او زه تير كال ستاسي د لوري د حمص والي ټاكل سوی وم، تيره اونۍ د كلني حساب په اړه ستاسو فرمان را ورسيد، او دا دی زه د هغه سره سم د خپل مال، اسباب او هر څه سره يو ځای حاضر سوم. حضرت عمر (رضي الله عنه) ددې خبرو په اوريدو سره سترګي د ځوان په سترګو كي ښخي كړې، ګوته په غاښ پاته سو، څو شيبې يې په ځير ځير د هغه حالت ته كتل، امير المؤمنين ته ورپه ياد سول چي تير كال يې دغه ځوان د مسلمانانو په مشوره د شام د ښيرازه ولايت حمص والي ټاكلی وو. هغه مهال چي دغه ځوان شام ته روانيدی، نو د ښكلا، خوښۍ او شتمنۍ نښي يې په تنده كي د ورايه معلوميدې، د عمير (رضي الله عنه) د اغوستلو كالي پر څو اوښانو بار وه، د تورو، زغرو او ډاليو حساب يې نه كيدی، مګر نن په داسي حال كي د مسلمانانو د امير په وړاندي ناست دی، چي د فقر، غربت او بې چارګۍ د املې د پيژندلو وتلی وو، تنې او كالي يې شكيدلي وه، څهره يې د بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوبې، او نه خوراک له امله تکه ژړه سوې وه، د اسلام خلیفه ورته وفرمایل: الله اکبر! عمیره! ته چي مي تیر کال استولې، خورا پنډ، ترو تازه وې، د مال او اسبابو حساب دي نه کیدی، مګر اوس دي په داسي حالت کي وینم چي درته کتلای هم نه سم، خیر خو به وي؟ ولې پر داسي حال یې؟ عمیر (رضي الله عنه) ورته وویل: امیر المؤمنینه! د دندي مخکي ما سوداګري کول او کله نا کله به ستاسي سره د الله سبحانه وتعالی په لاره کي جهاد ته تللم، ما ته الله سبحانه وتعالی ښې ډیري پیسې او شتمني راکړه، مګر کله چي مو د مسلمانانو په دنده وټاکلم، نو د مسلمانانو د ښیګڼي په لاره کي مي ځان هیر کړ. امیر المومنینه! د حمص خلګ زکات او جزیه په مینه ورکوي، تیر کال مو په ملینونو درهمه بیت المال ته تحویل کړل، د محاصلو او نورو عوایدو لاسته راغلي پیسې مو د هیواد او مسلمانانو په ښیرازۍ کي لګولي، په حمص کي مو لاري، کاروان سرایونه، ښارونه، بازارونه، کلاوي، حمامونه، مدرسې او جوماتونه جوړ کړي دي، حمص ستاسو د خلافت تر ټولو ودان، ښیرازه او ښایه ولایت دی.

امیر المؤمنین ځیني وپوښتل: د ځان لپاره دي د بیت المال څخه بندوبست کړی دی؟ عمیر (رضي الله عنه) جواب ورکړ: امیر المؤمنینه! د ورځي روژه یم، د شپې په اوبو روژه ماتوم، څو خرما او یا هم نیمه د جوارو ډوډۍ خورم. دغه په پټو کي غوټه لوټه او کنډولی مي د کور اثاثه دي، یو دغه پټو لرم، چي عورت په پټوم او یوه دغه لکړه، چي ځان په ساتم. حضرت عمر (رضي الله عنه) ددې خبرو په اوریدو ژړغونی سو. د عمیر پر حال یې غبطه راغله خورا په زوره یې په ژړا پیل وکړ، او لاس یې په داسي دعا کولو سره پورته کړ: ای الله! زه شاهدي ورکوم عمیر پاک دی. یا الله! ما په جنت کي د عمیر سره یو ځای کړې، د عمیر سر یې ښکل کړ او د راتلوونکي کال لپاره یې بیا حمص ته واستوی.

۱۴: سلطان نورالدین زنګي (رحمة الله علیه) ته د رومیانو څخه یو ځوان راغلی اسلام یې قبول کړی، د سلطان نورالدین زنګي (رحمة الله علیه) څخه یې وغوښتل: د مسلمانانو په خاوره کي ژوند وکړي. سلطان نورالدین (رحمة الله علیه) ورته وویل: کسب او هنر دي څه شي دی؟ هغه ورته وویل: طبیب یم، د زخمیانو علاج کولای سم. نورالدین ورته وویل: آیا خوښه دي نه ده چي زموږ د لښکر د زخمیانو د علاج دنده پر غاړه واخلې؟ هغه ورته وویل: د همدې لپاره راغلی یم، ای امیره! هغه ګناه چي د کفارو د زخمیانو علاج مي کوی، د هغې جبیره اوس غواړم په دې وکړم چي د مسلمانانو د لښکر د زخمیانو علاج وکړم. نورالدین (رحمة الله علیه) ورته وویل: ای ځوانه! اسلام مخکني ګناهونه ټول محوه کوي، اوس دا را ته ووایه: د علاج دوا د کوم ځایه څخه راوړې؟ ځوان ورته وویل: بعضي دواوي سته فقط هغه د شین ګیاوو او نباتاتو څخه جوړیږي، هغه د رومیانو په مځکه پیدا کیږي. نورالدین (رحمة الله علیه) ورته وویل: ځوانه! دا ما ته مناسب نه ښکاري چي زموږ د زخمیانو علاج دي زموږ د دوښمنانو د خاوري څخه راځي. بیا یي ورته وویل: یو څو عسکر د ځان سره بوځه، بغیر د عسکري لباسه ولاړ سئ، د رومیانو ومځکي ته، کوم بوټې چي ضرورت ورته وي، دلته نه وي هغه راوړه پر دې مځکه یې وکره، تر څو زموږ پر مځکه هم دغه بوټی پیدا سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوان ولاړی ټول هغه نباتات يې راوړه چي ضرورت ورته وو. نورالدين زنګي (رحمة الله عليه) يوه لويه ټوټه مځکه او مزدوران ورکړه، د ضرورت په خاطر يې د هغه وخت مروجي پيسي هم ورکړې او ورته ويې ويل: کله چي حاصل ته ورسيدل، بيا موږ ته خبر راکړه. هغه ځوان په ديانتدارۍ سره خپل مسؤليت اداء کړی او هغه نباتات يې حاصل ته ورسول، بيا نورالدين زنګي (رحمة الله عليه) يو روغتون ډوله ځای ورته ورکړ او يو ټولۍ د ځوانانو يې ورسره شاګردان وګومارل، که فرضاً هغه ځوان باندي يو څه وسي، ځای به يې خالي نه پاته کيږي، څه وخت وروسته هغه ځوان سلطان نورالدين زنګي (رحمة الله عليه) ته راغلی او ورته ويې ويل: ای زما اميره! نور زما هنر او کسب دغه ځوانانو په ښه توګه زده کړی، ما ته ضرورت نسته، نور زه غواړم د اسلام په لښکر کي وجنګيږم او شهيد سم. نورالدين زنګي (رحمة الله عليه) چي د ځوان جديت وليدی، د ډير سوچ وروسته يې ورته وويل: خپله وصيت نامه وليکه او خپل ځان ته خپله سلاح رانيسه، زه يې نه درکوم.

ځوان هم ورته وويل: خوښه مي ده. ځوان د مسلمانانو په لښکر کي داخل سو او داسي د شهامته ډکه غزاء يې وکړه، چي روميان يې مختته نه ورتله او د ډيري بيري به يې ويل: د مسلمانانو په لښکر کي پيريان هم جنګ کوي. کله چي جنګ پای ته ورسيدی، نورالدين زنګي (رحمة الله عليه) پر شهيدانو ګرځيدی، تر څو هغه ځوان يې پيدا کړ، شهيد سوی وو، پر تندي يې مچ کړ او په لوړ آواز يې وژړل، شهيد ځوان يې په خپل غيږ کي ونيوی، چي ګوري يو کاغذ يې په جيب کي دی، خپل وصيت يې پر ليکلی وو، او دا وصيت يې کړی وو: څه مال يې د اولاد لپاره دی، نور يې ټول بايد د مسلمانانو پر لښکر او غازيانو مصرف سي. په وصيت نامه کي يې دا هم ليکلي وه: ای زما اميره! تا چي کله ما ته آمر وکړ: سلاح رانيسم، ما ته ستا هغه خبره ياد سوه، چي تا به ويل: د مسلمانانو بيرغ به تر هغه وخته رپاند نه سي، تر څو ډوډۍ يې د خپل لاس نه وي، دواء او سلاح يې خپل ابتکار او جوړښت نه وي. زما أميره الله سبحانه وتعالی دي تا ته ښه بدله درکړي او سوال کوم چي په جنت کي مي ته ملګرۍ واوسي.

۱۵: محمد الفاتح (رحمة الله عليه) چي ترکان يې فاتح سلطان محمد خان ثاني بولي، د عثماني خلفاوو اووم (۷) خليفه وو، د ده د نوم سره د فاتح وروستاړۍ ځکه مښتی دی، ده قسطنطنيه فتحه کړې وه، د بيزنطيانو څخه سلطان محمد فاتح واخيستله، عثماني ترکانو دا ښار په اسلامبول او استانه سره ونوموی، ددې ښار فتحه کومه ساده خبره نه ده، ځکه يو خو دا ښار د پياوړي بيزنطي امپراطوري څه دپاسه يوولس سوه (۱۱۰۰) کلنه پلازمينه وه او په شريعي لحاظ هم دا فتحه خورا لوی آرزښت لري، دا فتحه د دوويشت (۲۲) کلن ځوان سلطان محمد فاتح په لاس رامنځته سوه، يوولس سوه (۱۱۰۰) کلنه بيزنطي امپراطوري يې له منځه يوړه او دا پراخه سيمه يې د اسلامي خلافت تر ولکې لاندي راوستل. دا خبري نسل پر نسل راغلې او د اُمت په تاريخ کي يې انعکاس وکړ، په ځينو لويو رهبرانو، جنګياليو او عالمانو کي د هيلو، انګيزو او مخلصانه هڅو سبب سوی دی، هر مخلص مسلمان غوښتل چي دا بهترين امير او يا په دغه بهترين پوځ کي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوویشت (۲۲) کلن محمد ابن مراد د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دا وړاندوینه پوره کړه. قسطنطینیه دغه ښار یې اسلامبول یعني د اسلام ښار نوم کښیښود، خپلو لښکرکښیو ته یې دوام ورکړ چي دا ښار نور هم پراخ کړي او بالاخره بیزانتین یې لاسته راوړ، د دغه ښار د جوړوني حکم یې وکړ، د ښار اوسیدونکو ته یې د پاکو اوبو سرچیني برابري کړي، د ډیرو جوماتونو او پوهنتونونو د جوړولو آمر یې وکړ، استانبول یې د خپلي حکمرانۍ مرکز کړ، دا فتحه کوم ساده کار نه وو، سخت ژمی یې د ښار د نیولو لپاره په پلان تیر کړی، ددې لپاره یې د وخت تر ټولو نوې ټکنالوژي جوړه کړه او په لوړه کچه لوژیستیکي ځواک یې برابر کړ.

هما خاتون د سلطان محمد الفاتح مور وه، دې خپل کوچنی زوی محمد چي لا فاتح نه وو، هر ورځ سهار د لمانځه وروسته لاس نیولی، د قسطنطنیې تر پولو بیوی او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دا حدیث به یې ورته تکراروی: قسطنطینه به خامخا فتحه کیږي، د هغه لښکر امیر غوره امیر او لښکر یې غوره لښکر دی. دا به یې هم ورته ویل: غواړم دا غوره امیر ته سې، محمده! پر تا مي هم د پیغمبر نوم ایښی دی، ستا څخه غواړم، چي د قسطنطینې پولي فتحه کړې او پر دیوالو یې ور واوړې. مور به یې تل د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د وخت د فتوحاتو، غزاګانو او اسلامپالو مبارزینو د سربښندنو ستاینې ورته کولې، تر څو په اسلامي روزني او روحیي سمبال را لوی او دیني مفاهم یې په زړه کي ځای پیدا کړي، کله چي محمد الفاتح دوویشت (۲۲) کلنی ته ورسیدی، پلار یې وفات سو، مور یې ولیدل، چي محمد ژاړي او اوښکي تویوي، څنګ ته یې ورغله او د پیغور په ډول یې ورته وویل: وژاړه، ژړا ته کښېنه او د قسطنطینې پولي پریږده! ته د ژړا لپاره نه یې پیدا سوی، بچیه! ته مي ددې لپاره نه یې زیږولی، چي پر ملک او شتمني وژاړې، ته مي د قسطنطینې د فتحي لپاره زیږولی یې! محمد اوښکي پاکي کړې او د پلان په جوړولو کي یې پیل وکړ، چي څنګه قسطنطینه فتحه کړي؟ په پایله کي محمد په درویشت (۲۳) کلنۍ قسطنطینه فتح کړه او د (فاتح) لقب یې وګټی. ددې هر څه لامل د نوموړي مور وه، چي محمد ته یې ښوولي وه، د قسطنطینې فتحه سخته، مګر ناشوني نه ده. نننی میندي او د محمد الفاتح میندي څومره توپیر لري؟

۱۶: محمد بن القاسم الثقفي (رحمة الله علیه) د سند فاتح او د اسلام په تاریخ کي تر ټولو ځوان او وتلی قائد دی، د ده پلار قاسم د حجاج بن یوسف د اکا زوی وو، محمد بن قاسم په داسي وخت کي پیدا او رالوی سو چي هغه وخت به هر ځای کي د جهاد او فتوحاتو خبري او مجلسونه کیدل، د واکمنو او امیرانو توجه هم د جهاد د سنګرونو لور ته وه، د دوی په مجلسونو کي هم دا خبري تودې وې، نو په داسي ټولنه او د هغو په واکمنه کورنۍ کي د محمد په څیر ځوان آتلان پیدا کیدل ډیره د تعجب خبره نه ده. د موجوده پاکستان سیند ایالت هغه مهال ډیر مشهور هیواد وو، چي پلازمینه یې موجوده کراچي وو. مؤرخین لیکي: د اموي خلیفه ولید بن عبدالملک په زمانه کي حجاج بن یوسف د څو اسیرو مسلمانو کورنیو د خلاصون لپاره دې هیواد ته شپږ زره (۶۰۰۰) کسیز لښکر تیار کړ او ددې لښکر مشر یې خپل وراره اوولس (۱۷) کلن محمد وټاکه. په ۷۱۱ م کال کي مسلمان سوداګر سیند نومي سیمي ته نږدې د سایلن اوسنی سریلانکا څخه تیریدل چي کښتی یې لوټ سوې او دوی زنداني سول، خبر د خلافت

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکز ته ورسیدی، هغه وخت خلیفه الوحید بن عبدالمالک وو، خلیفه د عراق والي حجاج بن یوسف ته یو لیک واستوی او ځیني ویې غوښتل: د سیند حکام دي د دغه کار لپاره بخښنه وغواړي او همداراز دي نیول سوي مسلمانان آزاد کړي. حجاج د اُمت د یوه بهترین قومندان په مشرۍ هلته لښکر واستوی. د ده نوم د مسلمانانو په ځانګړې توګه د هند نیمي وچي د مسلمانانو په زړه کي ځانګړې ځای لري. ده دا مسؤلیت پر غاړه واخیستی، چي یوه بهرني هیواد ته د خلافت دولت د لښکر مشري وکړي، دا کس محمد بن قاسم نومیږي، محمد بن قاسم د یوې دینداري کورنۍ څخه دی، د (۱۷) کلونو په عمر یې سیند فتحه کړ، په درو (۳) کالو کي ټول سیند او سویلي پنجاب فتحه سول، د هند نیمي وچي د شمال لویدیځي برخي په فتحه کولو اسلامي پوځ د هغې سیمي بت پرستان د تیارې څخه د اسلام رڼا ته راوستل.

۱۷: صلاح الدین ایوبي (رحمة الله علیه) یوه ټوټه سوې اسلامي نړۍ د صلیبیانو پر وړاندي چي د قدس مسجدالاقصی د مسلمانانو دریم تر ټولو سپیڅلي ځای ته نږدې سیمي یې نیولې، کمزوري سوي وه، اسلامي مبارزو ډلو د صلیبیانو هجوم دومره جدي نه ګڼی، تر کابو سل (۱۰۰) کاله استعمار وروسته د امام الدین الخطیب په خبره د نورالدین په وسیله الله سبحانه وتعالی اسلام بیا پیاوړی کړ او بیا صلاح الدین ایوبي (رحمة الله علیه) د اسلام په تاریخ کي شاید تر ټولو مشهور پوځي وي، چي د صلیبیانو لاس یې پرې کړ. دا جګړه لکه د نورو ډیرو جګړو په شان د روژې په مبارکه میاشت کي وسوه. دا د حطین جګړه وه د ډیرو په نظر پر صلیبیانو د لاسبرۍ کیلي ګڼل کیږي، چي بیا د قدس د آزادیدو سبب سوه.

۱۸: طارق ابن زیاد د اتمي (۸) میلادي پیړۍ تر ټولو لوی قومندان او د هسپانیې د فاتح په نوم مشهور دی، کله چي (۴۲-۳۵) کلن وو، د مسلمانانو د خلیفه په آمر د لس زره درې سوه (۱۰۳۰۰) جنګیالیو سره د ویسیګوتیک ظالم پاچا یا کینګ روډیریک چي یو (۱) لک جنګیالي ورسره وه، مقابلې ته واستول سو، زړورتیا یې ټولو ته ښکاره وه، د ګیبرالټر ساحل ته چي ورسید، خپلو ټولو کښتیو ته یې اور ور واچوی، باوري وو چي ماته نه خوري، کینګ روډیریک ماته وخوړه او ووژل سو، د هسپانیې خلګ د ظلم څخه د خلاصیدو او د خپلو نویو حاکمانو په لیدو ډیر خوشاله سول.

۱۹: سیف الدین قطز، د منګولیا څخه خونخواره جنګیالي راغلل، هر هغه ښار یې د خاورو سره یو کوی، چي نه به ورته تسلیمیدی، په ۶۵۶هـ ق کي یې پر بغداد برید وکړ، یوه اونۍ یې غارت او وژني وکړې، ډیر کسان ووژل سول، په ټوله اسلامي نړۍ کي د مغولو بیره خپره وه، دا برید ډیر وحشتناک وو، یو جدي ګواښ وو چي اسلام او مسلمانان یې د نړۍ د ګُرې لیري کولای سوای، په دغه سخت حالت کي الله سبحانه وتعالی د اُمت ساتونکی، سیف الدین قطز د مصر مملوک راپورته کړ، ده مسلمانان یو موټي کړل، جګړې ته یې تیار کړل، د اسلامي مځکو مرستي ورسره وسوې او پوځیان ورسره یو ځای سول، بلاخره د ۶۵۸ هـ ق کال د روژې میاشتي پر ۲۵مه د جمعې په ورځ د عین جلوت جګړه ومښته او مغول مات سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اې د اسلامي نړۍ ځونانو! دا وو د بشريت لپاره د بهترين اُمت مقام او حاكمان، زموږ د غوره تاريخ څخه بايد درسونه زده كړئ، د مسلمانانو قهرمانان بايد د اسلامي نړۍ د ځوانانو لپاره الګو وي، د هغو خلګو د ډلي څخه مه كيږئ چي پردي ځوانان خپله الګو نيسي او د هغوی څخه يې زده كوي، ځوانان بايد زموږ د مخكينيو لكه: حضرت خالد بن وليد، صلاح الدين ايوبي، طارق ابن زياد، سيف الدين قطز او داسي نورو... په شان د اُمت د يووالي لپاره كار وكړي، د الله سبحانه وتعالی په لار كي مستحقم واوسي، هغه عزت چي اوسني ځوانان يې لري، كه داسي وي هيڅكله به خپل اصلي مقام ته ونه رسيږو، موږ بايد د حضرت خالد بن وليد، سلطان صلاح الدين ايوبي، محمد بن قاسم او محمد الفاتح په شان نسل ورزو، دوی د خير په لاسته راوړلو كي مخكښ وه، په جنت كي به هم مخكښ وي او د دونيا عزت يې هم لاسته راوړی وو، دوی ځوانان وه.

رېښتيا مسلمان ځوان بايد همداسي وي، ځوانان تل د قوت سرچينې پاته سوي دي، د رسالتونو او نهضتونو درانه مسؤليتونه هم دوی پورته كوي، همدا ډول زموږ د پيغمبر حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) ملګري اصحاب كرام اكثره ځوانان وه، اولين راشد خليفه حضرت ابوبكر صديق اكبر (رضي الله عنه) چي د عمر د لحاظه پر ډيرو اصحابو كرامو مشر وو، د مسلمانيدو په وخت كي د اته ديرش (۳۸) كالو وو، حضرت عمر فاروق (رضي الله عنه) لس (۱۰) كاله د حضرت ابوبكر صديق (رضي الله عنه) څخه كشر وو، حضرت علي (كرم الله وجه) په كومه ورځ چي يې اسلام راوړ، عمر يې د لسو (۱۰) كلونو څخه كم وو، داسي ډير اصحاب كرام وه، چي د مسلمانيدو په وخت كي د خپل عمر دوهمه (۲) لسيزه كي وه، الله سبحانه وتعالى د دوی ټولو څخه راضي وي، له دې كبله د مسلمان ځوان مسؤليتونه او دندي د خپل دين او اسلامي اُمت په وړاندي ډيري دي، په ځانګړې توګه په اوسني عصر كي، نو ځوانان بايد خپل ځان وپيژني، په دنيا كي خپل رسالت ته اماده او ځيني خبر اوسي.

دغه ځوانان څو څو كلن وه؟ د نمونې په توګه د دوی يادونه، د دوی د لنډ ژوند ليک په ترڅ كي مو وليدل چي د دوی د اړوند كارنامو سره د دوی عمرونه څومره كم وه، مګر كارنامې يې خورا ډيري لوی وې، دغه عمرونه بيخي د تنكۍ ځواني عمرونه دي، دې كرښو ته بايد ددې عمر ځوانان ښه متوجه سي، زموږ په ټولنه كي ددې عمرونو ځوانان څه كوي او په څه بوخت وي، متاسفانه د نن ډيرۍ ځوانانو فلمي ستوري او د لوبو آتلان الګو ګرځولي دي، د كوم اُمت ځوانان چي په خپل تاريخ كي د داسي كسانو په څير رښتيني آتلان لري، هغوی به هيڅ كله داسي الګو ګرځولو سره خپل ځان سپک او ذليل نه كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه خپل دوښمن وپېژنه

کفار تل د اسلامي نړۍ سره د دوستۍ ناړې وهي، مګر وبه ګورو چې په څنګه دوستانه توګه پرې تیرۍ کوي، نسلونه وژني، هیوادونه تر ښکیلاک لاندي راولي او پانګي یې لوټوي، دا هغه کره حقیقت دی چې د تاریخ پاڼو د صلیبي جګړو، اروپایي تیري، کمونیستي ښکیلاک استعمار په ښه ثبت کړی دی، هغه څه چې واضح دي، زموږ تاریخي دوښمن یوه شیبه هم د اسلام او مسلمانانو د له منځه وړلو د سوچه نه دی بې پروا سوی، د ادیانو، سیاسي لارو، هیوادونو، نژادونو او داسي نورو... د جلاوالي سره سره بیا هم ټول د اسلام په وړاندي په ګډ مورچل کي ولاړ دي، په لاندي کرښو کي د اسلام سره د هغوی د دوښمنۍ لاملونه او لاري چاري د هغوی د مشرانو، سیاستمدارنو، او مفکرینو د خولې څخه اورو:

۱:ـ یوازینی دوښمن: شئون الدولیه مجله لندن د ۱۹۹۰م کال جنوري یوه مقاله خپره کړه، چې متن یې دا دی: لویدیځ تل اسلام ته د خپل نوي دوښمن په سترګه ګوري، ځکه دا دین زموږ د تکنالوژۍ په پرمختګ سره سره بیا هم د لویدیځ په مقابل کي لکه سپر ولاړ دی، نن اسلام د سل (۱۰۰) کاله مخکي څخه ډیر پیاوړی دی او اسلامي تمدن د لویدیځوالو په وړاندي یوازینی ګواښ دی. فرانسیس فوکویاما په ۲۰۰۱ م کال کي وویل: زموږ ستونزه یوازي د سیاسي اسلام او بنسټپالو ډلو سره نه ده، بلکي اصلي ستونزه دا ده په وروستیو کلونو کي اسلام د ډیموکراسۍ په وړاندي په متعارض قوت اوښتی دی. البرمشادور وایي: څوک پوهیږي؟ کیدای سي یوه ورځ بیا مسلمانان ټوله نړۍ تر واک لاندي راولي، زه فالبین نه یم، مګر بې شمیره کره نښي ښیي چې دا کار شونی دی، هغه مهال به بیا اتوم د هغوی مخه نه سي نیولای. اشعیابومان وایي: لویدیځ باید د اسلام څخه وبیریږي، ځکه د کومي ورځي څخه چې دې دین د مکې څخه سر راپورته کړی دی، تر اوسه یې لارویان کم سوي نه دي، بلکي ورځ تر بلي په ډیریدو دي، او بله دا چې جهاد د اسلام د ارکانو څخه دی. په ۱۹۵۲م کال کي د فرانسې د بهرنیو چارو وزارت یو مقام وویل: هغه حقیقي ګواښ چې موږ ته متوجه دی او په سخته مو تهدیدوي اسلام دی، له دې امله مسلمانان ځان ته د لویدیځ څخه جلا نړۍ لري، ځکه دوی خپل اصیل تمدن لري او که چیري وسایل په لاس ورسي، نو د خپل بډایه تمدن سره به پر نړۍ واکمن سي او د لویدیځوال تمدن نښي به له منځه یوسي.

۲:ـ د لویدیځ د غوښتنو پر وړاندي فولادي دیوال: کفار خپلو استعماري موخو ته د رسیدو په لار کي یوازینی خنډ اسلام بولي. لورنس براون وایي: د اروپایي ښکیلاک په وړاندي یوازینی دیوال اسلام دی. د انګلستان لوړ پوړی چارواکی ګلادستون وایي: تر هغو چې قرآن کریم د مسلمانانو په لاس کي وي، اروپا به هیڅکله هم پرې بریالۍ نه سي. په الجزایر کي فرانسوي قوماندان ویل: تر هغو چې الجزایریان قرآن کریم لولي او په عربي ژبه خبري کوي، نو موږ هیڅکله نه سو پرې بریالي کیدای، ځکه نو اړینه ده چې قرآن کریم یې د ژوند او عربي ژبه یې د ژبو څخه لیري کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳:ـ ديني انګيزه: جنرال غورو د دمشق د نيولو وروسته د صلاح الدين ايوبي قبر په خپلو ناپاکو پښو په لغت ووهی او ويې ويل: ای صلاح الدينه! موږ بيرته راغلو. په ۱۹۷۶ز کال کې اسرائيلي غاصبو پوځونو بيت المقدس ته د ننوتلو پر مهال دا شعار زمزمه کوی: نن د خيبر د ورځې په غچ کې محمد مړ سو، او تر شا يې انجوني پريښوولې. العياذ بالله. فرانسوی مستشرق کيمون وايي: زه په دې باور يم بايد د مسلمانانو پنځمه (۵) برخه له منځه يوسو او پاته يې په درنو کارونو وګمارو، همدارنګه کعبه او د محمد (صلي الله عليه وسلم) قبر بايد ړنګ سي او د محمد (صلي الله عليه وسلم) جسد په موزيم کي کښيښودل سي. العياذ بالله. ايوجين روستو د امريکا يو لوړ پوړی چاروکی وايي: زموږ او عربو تر منځ کړکيچ د دوو اسلامي او مسيحي تمدنونو جګړه ده، او يوه نيمه پيړی کيږي چي اسلامي تمدن د مسيحيت په وړاندي پر ګونډو سوی دی. وايي اسلام له منځه يوسئ، د پورتنيو دلايلو په رڼا کي، لويديځ د اسلام سره دوښمني او د مسلمانانو له منځه وړل د ځان لپاره يوازينی غوره انتخاب ګڼي.

۴:ـ د مسلمانانو نسل وژنه: تاريخ ګواه دی لويديځ تل په بيلا بيلو څهرو لکه: صليبي لښکري، کمونيزم، صهيونيزم، فرانسوي، ايټاليايي، بريتانوي شکيلاک او داسي نور خونړي استعمار په اسلامي هيوادونو کي په سترو نسل وژنو لاس پوري کړی او ميليونونه مسلمانان يې شهيدان کړي.

۵:ـ د اسلامي حکومت له منځه وړل: د اسلامي خلافت د سقوط او د ترکيې د اشغال وروسته بريتانيې د دغه هيواد د خپلواکی لپاره داسي شرطونه کښيښوول:ـ ۱: د اسلامي خلافت لغوه اعلانول. ۲: د خلافت د بيا راژوندي کولو په موخه د ټولو خوځښتونو له منځه وړل. ۳: د اسلام سره د ترکيې اړيکي پرې کول. ۴: د اسلامي شريعت پر ځای د وضعي قانون نافذول. کله چي د انګلستان پارلمان د ترکيې څخه د پوځونو پر وتلو نيوکه وکړه، نو يو لوړ رتبه شخص وويل: موږ ترکيه داسي له منځه يو وړه، چي هيڅکله بيا پر پښو ونه سي دريدلای، ځکه موږ د هغې قوت چي په دوو اسلام او خلافت کي وو، موږ له منځه يو وړ. په دې سره د پارلمان ټولو غړو لاسونه وپړکول.

۶:ـ د ښوونې او روزنې د نظام بې دينه کول:- The Muslim world مجله ليکي: لويديځ هڅه کوي چي د اسلامي هيوادونو د زده کړو موسسې د کاره وغورځوي، د اسلام او لويديځ په نامه سازمان جوړ کړي، تر څو په مهارت سره د اسلامي هيوادونو د زده کړي نصاب په ځانګړې توګه د تاريخ مضمون بدل کړي. دا سازمان وايي: د ښوونيزو کتابونو مؤلفين او ښوونکي بايد هيڅکله په څرګنده او يا ضمني توګه د اخلاقي اصولو په هکله څه حکم بيان کړي. دوی غواړي جوماتونه تر خپلې ولکې لاندي راولي، تر څو هلته داسي درسونه ورنه کړل سي، چي د غرب او لويديځ د خلګو کينه راوپاروي. تاکلي وايي: بايد په اسلامي هيوادونو کي لويديځوال غيري ديني ښوونځی رواج کړي، ځکه په دې ښوونځيو کي د زده کړي وروسته د ډيرو مسلمانانو ديني عقايد او التزام کمزوري سوي دي. زويمر وايي: که چيري مسلمانان د عيسوي ښوونځيو څخه کرکه لري، نو لازمه ده چي غيري ديني ښوونځی ورته جوړ کړل سي، ځکه د همدې ښوونځيو په مرسته موږ په زده کوونکو کي اسلامي روحيه کمزورې کولای سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷:ـ د مسلمانانو یووالی له منځه وړل:ـ ددې موخي لپاره د نشنلیزم، د اسلامي هیوادونو ویش، د ژبي، قوم، نژاد، سمت او داسي نورو... په نامه د مسلمانانو د خپل منځي جګړو څخه کفار کار اخلي. سیمون وایي: اسلامي یووالی د ټولو مسلمانانو هیلي سره یو ځای کوي او هغوی د اروپایي ښکیلاک د منګولو څخه ژغوري، ځکه نو باید د هغوی د یووالي څخه په کلکه مخنیوی وسي. لورانس براون وایي: باید مسلمانان او عرب په اختلاف که وساتل سي، تر څو قوت لاسته رانه وړي. په ۱۹۰۷م کال کي اروپا په یو میاشتني کنفرانس کي د ډیرو بحثونو او مناقشې وروسته مسلمانان د ځان لپاره تر ټولو ستر ګواښ وباله او هوډ یې وکړ چي د منځني ختیځ د هیوادونو د یو کیدو څخه به په کلکه مخنیوی کوي، بالاخره یې پریکړه وکړه: د سویز کانال ختیځ ته یو پردی او د مسلمانانو دوښمن قوم راولي، تر څو عرب د تل لپاره تیت پاته سي، هماغه وو چي د عربو په زړه کي یې د صهیونستي (اسرائیل) هیواد ډېره کښېښوول.

۸:ـ د قرآن کریم له منځه وړل او سپکاوی:ـ تاکلي تبشیري وایي: موږ باید قرآن کریم چي د اسلام ستره وسله ده، بیرته د اسلام پر ضد وکاروو، تر څو وکولای سو په پوره ډول دا دین له منځه یو سو.

۹:ـ د مسلمانانو اخلاق فاسدول: صموئیل زویمر د تبشیري سازمانونو مشر خپلو افرادو ته وایي: په اسلامي هیوادونو کي ستاسي دنده د اسلام څخه د مسلمانانو لیري کول دي، تر څو داسي مخلوق ځیني جوړ سي، چي د الله سبحانه وتعالی او اخلاقو سره یې اړیکي پرې وي.

۱۰:ـ د اسلام ناوړه څهره معرفي کول: د رسنیو، کتابونو، کنفرانسونو او نورو وسایلو د لاري کفار هڅه کوي چي د اسلام ناسم انځور وړاندي کړي، تر څو له یوې خوا مسلمانان د خپل دین په هکله په شک کي واچوي او د بل لوري د نورو غیري مسلمانانو د مسلمانیدو مخه ونیسي.

۱۱:ـ په اسلامي نړی کي د سیاسي دیکتاتوریو رامنځته کول: مستشرق سمیت وایي: که چیري مسلمانانو ته په خپلو هیوادونو کي آزادي ورکړل سي، نو یقیناً چي هلته اسلام بریالی کیږي، ځکه نو یوازي د دیکتاتوریو د لاري کولای سو، مسلمان ملتونه د خپل دین څخه لیري وساتو.

۱۲: مسلمانان د صنعتي قوت څخه لیري ساتل: د فرانسې لوړ پوړي چارواکي وایي: موږ باید مسلمانانو ته ټول هغه شیان ورکړو چي غواړي یې، تر څو د زړونو څخه یې د تولید هیله لیري کړو، که چیري مسلمانان د فني او صعنتي کمزوری د پنجو څخه خلاص سول، نو بیله شکه چي د لویدیځ څخه به د باداری تاج واخلي.

۱۳:ـ د مسلمانانو د ریښتینو مشرانو د واک ته رسیدو څخه مخنیوی:ـ مستشرق مونتګوري وات وایي: که چیري مسلمانان وړ لارښود بیا مومي، نو کیدای سي یو ځل بیا په نړی کي د ستر سیاسي ځواک په توګه وځلیږي. جب وایي: اسلامي خوځښتونه په بیرونکي چټکتیا رشد کوي، دوی یوازي د قیادت کمښت لري، همدومره کمي ده چي یو بل صلاح الدین را پیدا سي. د اسرائیلو پخوانی صدراعظم بن ګوریون وایي: هغه څه چي زه ډیر ځیني بیریږم په عربي نړی کي کوم بل محمد را پیدا نه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۴:- د ښځي بې لاري کول د جنسي انحرافاتو خپرول:- يو فريميسوني مشر وايي: موږ بايد ښځي په منګولو کي راولو، کله چي ښځه زنا ته چمتو سي، نو د دين پياوړی لښکر له منځه وړي، د شرابو پياله او ښايسته انجلۍ د مسلمانانو د ماتولو لپاره د زرګونو توپخانو ډېر اغيزمن دي.

۱۵: د نوي اسلام رامنځته کول يعني منځلاری اسلام: منځلاری اسلام هغه اسلام دی چي د غرب او لويديځ د آرزښتونو او اصولو سره اړخ ولګوي او د هغوی د واکمنی سره جوړ جاړی وکړي، دوی دا ډول اسلام د معيار په توګه منلی او هڅه کوي چي په ټولو اسلامي هيوادونو کي يې پلي کړي.

۱۶: د ځوان د فکري ځوړتيا لپاره دوښمن تل هڅه کوي، د اسلامي اُمت د خواخوږو، ديني عالمانو او پوهانو ډيري ليکني، بحثونه، سپارښتني او په ټوله کي د دوی ټولي هڅي د ځوان نسل د اصلاح، هغوی ته د مستقيمي لاري ورښوولو او د دوښمن د دام څخه د ژغورلو پر محور را څرخي، همدا راز د اسلام او اسلامي اُمت دوښمنانو همدا ځوان نسل ټارګيټ ګرځولی دی، ددې قشر د بې پروا او بې لاري کولو لپاره يې تل هڅه کړې ده، چي د ځوان نسل څخه اسلامي فکر، فرهنګ، تمدن او آرزښتونه واخلي او په بدل کي يې ځوان نسل ته پردی فکر، فرهنګ، تمدن او آرزښتونه سپيڅلي معرفي کړي، دا ځکه چي ځوان د ټولني لپاره د ملا د تير حيثيت لري، د ټولني نيکمرغي او بدمرغي، عروج او زوال او په ټوله کي د يو فکر او تګلاري ژوند د ځوان قشر د فکري او عملي مسير سره مستقيمه اړيکه لري، که دقت وکړو، د دوښمن اصلي موخه د ځوان نسل فکري بې لاري او د خپل اصلي هدف پر لور د ځوان د ورتګ په لار کي خنډ واقع کيدل دي، چي ځوان بايد د ديني، عقيدوي او فکري لکچرونو پر ځای داسي پردی مفکورې تعقيب کړي، چي تل پردي موضوعات په کښي تر بحث لاندي وي او يا د ديني کتابونو، تفسير، سيرت النبي، اسلامي تاريخ او د اسلافو د کارنامو پر ځای د پردي فرهنګ کتابونه په کښي لوستل کيږي، څو د لوستي ځوان نسل فکر او خيال او خپل هدف ته د رسيدو څخه بې پروا کړي.

د نړۍ هر کونج ته اسلام د ځوانانو په سرښندونو رسيدلی دی، د اسلام ستر ستر فاتحين لکه: خالد بن وليد، علي ابن ابي طالب، امام حسن، امام حسين، زبير بن عوام، طارق ابن زياد، محمد ابن قاسم، قتيبه بن مسلم، يوسف بن تاشفين، موسی بن نصير او داسي نور... ټول ځوانان وه، د اسلام مقدس دين د نفاذ، دفاع، نشر او خدمت لپاره تر ټولو ځواکمنه او وفاداره طبقه ځوانه طبقه ده، ځکه الله سبحانه وتعالی په هره وخت کي د بنده ګانو د هدايت په موخه خپل خاص بندګان يعني پيغمبران (عليه السلام) د ځوانی په عمر مبعوث کړي دي، په همدې اساس کفار تر بل هر چا د ځوان نسل څخه خپل ځان خطر احساسوي، دوی پوه دي چي يوازي دوی کولای سي، د خپل دين د دفاع په خاطر زموږ ملا را ما ته کړي او د دوی په مټ امکان ددې سته چي د اسلام مبين دين دي زموږ تر پولي په چټکۍ سره را ورسيږي، ځکه نو کفارو د ځوانانو بې لاريتوب ته خاصه پاملرنه کړې ده، ددې کار لپاره مليارډونه مصارف کوي، شپه او ورځ د ممکنو او غيري ممکنو لارو څخه کوښښ کوي، چي په څه ډول ځوان نسل بې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاري کړي، د مقاومت روحيه ځيني سلب کړي، د عياشۍ او فحشاء په لومو کي يې ښکيل کړي، په خپل اسلامي تمدن يې بې باوره کړي، د خپل کلتور او تهذيب لارويان يې وګرځوي.

۱۷:ـ مسيحيت ته د دعوت او د خپل دين څخه د انحراف: جون موت مبشر وايي: موږ ته لازمه ده، چي د تبشير په ټولو ډګرونو کي د ماشومانو په اړخ کي په کار کولو کي پوره زيار وباسو او هغوی په اسلامي هيوادونو کي د خپل کار او فعاليت ستني وګرځوو، ځکه چي د اسلام فساد خپرونکي اغيزه د هماغه ماشوموالي څخه پيل کيږي، له دې کبله لازمه ده چي کوچني ماشومان د غټوالي څخه مخکي او مخکي ددې څخه چي طبيعت يې اسلامي څيره خپله کړي د مسيحيت لور ته په راګوځولو اداره کړو.

د فحشا، عرياني، لوبي او فيشن په کولو سره کفار غواړي د اسلامي هيوادونو د ځوانانو په زړونو کي د اسلام روح مړ کړي، د جنسي غريزو او نورو فسادونو په درياب کي ډوب سي، په نتيجه کي د اسلام او د اسلام د شان او دبدبې د را اوچتولو او اسلامي مبارزې څخه مخونه واړوي، ځکه هغه زړونه چي په جنسي غريزو مشغول او د لهو لعب اور لمبې په کښي وهي، هيڅکله ممکنه نه ده چي د اسلامي دعوت او مبارزې سترياوو ته دي تيار سي، دا اور يوازي ځوان طبقه نه سوځوي، بلکي ښځو او انجونو ته يې هم لمبې رسيدلي دي، او په دې برخه کي د ډير وسايلو څخه کار اخيستل کيږي، چي عمده وسايل يې: راډيو، تلويزون، سينما، ورځپاڼي، مجلې او د کيسو کتابونه دي، د سريالونو ستر هدف په خلګو کي خصوصاً په ځوانانو او انجونو کي شهوت خپورول دي، دوی په شهوت پرستۍ باندي روزي، د حياء او غيرت جذبه يې ختموي. د نصرانيت يو مبلغ خپلو ملګرو ته د بيان په يوه برخه کي ووېل: موږ د مسلمانانو داسي نسل چمتو کړی دی، چي استعمار د هغه په انتظار کي دی، داسي نسل چي د سختۍ په وړاندي مقابله نه سي کولای، بې پروا، راحت طلبه او تمبل نسل دی، که چيري کوم لوړ مقام تر لاسه کړي، د عيش او شهوت پرستۍ له کبله کومه د ځوانمردۍ سخا نه لري.

که چيري د ننني اسلامي نړۍ ځوانانو ته فکر وکړو وبه وينو چي د ډيری ځوانانو په ذهنونو کي مو د غربي نوي دين يعني ډيموکراسۍ، معاصر او يا د دوی په اصطلاح د معتدل اسلام او يا په کامله توګه د سيکولريزم ناولي او وژونکي پرده خپره سوې ده، ځوانان مو ورځ تر بلې د فرهنګي او عقيدوي زوال سره مخامخ دي، ځوانان مو هيڅ د مسؤليت احساس نه لري او په داسي يو خطرناک حالت کي قرار لري چي هيڅ اټکل يې نه سي کيدلای، په داسي حال کي چي ټوله اسلامي نړۍ د يو سخت او بحراني حالت سره مخامخ ده، د نړۍ ټول کفار په يو بړغ او ورته متحد دي، هيڅ ډول ظلمونه او وحشتونه يې نه دي ځيني سپمولي، که څوک په مځکه کي د اسلام نعره پورته کوي او د يو واحد الله (جل جلاله) عبادت کوي، نو بيا په مځکه کي د ژوند کولو حق نه لري، د مسلمانانو د خطاء ايستلو لپاره يې د بشري حقونو په نوم شيطاني او غولونکي شعارونه رامنځته کړي دي، تر څو ځانونه بشرپال او خواخوږي باندي معرفي کړي او اسلام خلګو ته نعوذبالله د سخت دريزۍ او د تروريزم دين معرفي کړي، په داسي حال کي چي نن ټول اسلامي اُمت اسير دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن مسلماني او باعفته خويندي بې عفته کيږي، نن مو مساجد ورانيږي، نن مو لومړی قبله اقصی د يهودو د وحشت او بربريت د ناوليو قدمونو لاندي د مظلوميت اهونه کاږي، نن د طارق ابن زياد د لاس يادګار اندلس په هسپانيه بدل سوی ده، نن مو د حلب ښار د بارودو قربان او په کنډوالو بدل سو، نن د ابو غريب او نورو زندانونو کي مظلومي خويندي د کفارو د داسي وحشت ښخه چي ژبه يې د ويلو او قلم يې د ليکلو توان نه لري، د خلاصون لپاره تاسو ته سترګي په لاره او د ورتګ شيې او ورځي شماري، مګر ای ځوانانو تاسو په کوم طرف روان ياست، آيا ستاسو ټول ژوند يوازي همدا سو چي وخوره او وښيښه، تر اوسه ستاسو سره د مسؤليت احساس نه دی پيدا سوی، نو ای د اسلامي اُمت ځوانانو موږ او تاسو ته نور د غفلت د دغه اوږده خوبه د راسخي عقيدې او قوي عزم بخښوونکي آذان په ږغ باندي پاڅيدل او ويښدل په کار دي، تر څو د مظلوم اسلامي اُمت يو ځل بيا راټول او د حاکميت پوړونو ته ورسوو، يو ځل بيا د اسلام سپيځلی بيرغ د نړۍ په ګوټ ګوټ کي ورپيږي، خلګو ته د اسلام د سپيځلي دين عدالت، بشرپالنه، روښانه مسير، د ښځو او نارينه وو حقوق او د اسلام بشپړ ټولنيز نظام ور وپيژنو، او دا کارونه يوازي د اسلامي اُمت ځوان نسل چي ددې ملت د ملا د تير حيثيت لري، تر سره کولای سي.

ځوان تر ټولو او تر هر څه آرزښت درلودونکی دی، ځکه کوچنيان يعني نابالغه د شريعت په احکامو مکلف نه دي او ضعيف العمره په عامه توګه سره د جرأت او اقدام پر ځای مصلحت لټوونکي وي، نو يوازي ځوانان پاته سول، چي د قوم او د ملت رهبران او مقتدايان جوړ سي، هر قوم، تحريک او نظريه ځوانانو ته ځانګړې پاملرنه او آرزښت ورکوي، ځکه دا ټولو ته معلومه ده، چي قومونه او ملتونه پر مخ بيول، پاڅونونه فعال او متحرک ساتل، نظريات د بريا پر لوري او د کاميابۍ سره پر يو ځای کولو تل ځوانانو ښکاره او مؤثر رول لوبولی دی، ځوانان د لوړ عزم او صميمي ارادې خاوندان دي، نه مايوسه کيدونکي او په تسلسل سره زيار ايستونکي دي، د ځوانانو په اسلامي ښه سره روزنه او تربيت کول او همدې لوري ته د دوی رهنمايي کول نه دا چي صرف ددې عصر، بلکي په هر دور کي يو تجديدي کار پاته سوی دی.

مولانا ابوالحسن علي ندوي (رحمة الله عليه) فرمايي: د وخت تجديدي کار د اُمت په ځوانانو او په پوهي سره سنبال طبقه کي د اسلام بنيادونه، ددې نظام حقيقتونه، د محمدي نظام هغه اعتماد او ډاډ بيرته راوستلای سي، د کوم واکي چي ددې طبقې د لاسه وتلي دي.

د ځوانانو په منځ کي د ژوند د مقصد سره ناآشنايي، د تربيت کمزوري، په دوی کي فکري، تعميري او د تخليقي سوچ او فکر نه رامنځته کول ستره فاجعه ده، چي لاندي عوامل لري:-
۱: د اسلام د اساسي تعليماتو څخه ناخبرتيا. ۲: په کور او فاميل کي د اسلامي ماحول نشتون.
۳: د اسلامي اخلاقياتو، شرم او حياء څخه بې برخي کيدل. ۴: د مغربي افکارو او کلتور څخه متأثره کيدل، د جديديت د اثراتو له کبله شهوت پرستي او د جنسي خواهشاتو عادي کيدل.
۵: د نفس اثارة، د ضمير پلورل او د ماده پرستۍ غوندي روحاني او باطني نارو غيو عاميدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه د نشنلیزم یا ملتپالني د ناوړه اعمالو څخه په ټینګه ځان وساته

نن ورځ د اُمت نوی نسل په هره ملي جغرافیه کي په داسي ثقافت تربیه سوی دی او تربیه کیږي چي د نور اُمت سره یې اړیکه پرې سوې ده، د اسلامي اُمت واقعیت یوازي د تاریخ په توګه وریاديږي، همدا وضعیت ددې سبب سوی دی، چي نسل پر نسل د اُمت مفهوم، د اُمت د مرګ او ژوند قضیه، د اُمت بنسټیزه او برخلیک ټاکوونکي ستونزه اصلاً ونه پیژني، خپلي ټولي چاري باید اسلام ته وسپارو، که خپلي ټولي چاري د اسلامي سرچینو پر بنسټ تنظیم کړو، نو ډیر ژر به پیاوړي، ځواکمن او مفکر اُمت سو، د فاسدو او غلطو مفکورو یعني نشنلیزم، ملي فکر، ملي بیرغ او د داسي نورو... له امله به نه بې لاري کیږو، په بدل کي به یې یو ایډیولوژیک بدیل او حل لاره ولرو او له دې لاري به وکولای سو حاکم نظریات، مفکورې، باورونه او نظامونه وننګوو، ځکه اسلام ددې لپاره راغلی دی، چي د نړۍ حالت بدل کړي او پر واکمن سي، نه ددې لپاره چي اسلام بدل سي او محکوم سي، د شریعت له مخي ملي بیرغ او ملي هویت حرام دي او د تاریخ له مخي د استعمار نښي دي.

همدا د دولت ملت مفکورې نتیجه ده چي نن ورځ ټول اسلامي ممالک سره متحد کیدلای نه سي، د یغور مسلمان ته ترکي مسلمان، د فلسطین مسلمان ته مصري مسلمان یعني یو مسلمان بل مسلمان ته لاس نه سي ورکولای، د سلطان عبدالحمید په وخت کي په شرقي روم کي د یوې مسلماني ښځي څخه پوړنۍ کشیږي، د همدې قضیې له امله ټول شرقي روم فتح کیږي، مګر نن ورځ د یوه مسلمان او یوې مسلماني خور په هکله مسلمان دولتونه پوښتنه نه سي کولای، دا ځکه چي په همدغو استعماري هویتونو کي چي ملي بیرغ، ملي ګټي، ملي جغرافیه او داسي نورو... کي راګیر دي، د ملي هویتونو لاندي هره قرباني، هر زحمت او هر کوښښ کول حرام دی، او کبیره ګناه ده. ملتپالنه او قومپالنه د اُمت لپاره خواږه زهر دی، زه ولي تر (زه) یعني خپل وطن، خپل قوم، خپلي ژبې، خپلي خاوري او داسي نور څه پوري محدود یم؟ زما په څیر بل مسلمان هم همدا احساس لري او تر ځانه محدود دی.

ولي هغو سیمو ته چي باید آزادانه ورسو نه سو ورتلای؟ آن هغي خاوري ته چي د مقدس اسلام وړانګي ځیني راپورته سوي دي، هم بې اجازې نه سو ورتلای، مسلمانان ولي په افغاني، ایراني، عربي، پاکستاني، سوریایي، ترکي او داسي نورو... نومونو جلا سوي دي، حال دا چي د وحدت پریمانه ګډ ټکي هم لري؟ د وطن مروج کاذب تعریف د غرب د لوري سوی دی او په اسلامي هیوادونو کي پیچکارۍ سوی دی، چي په بیلا بیلو ټوټو ویشل سوي دي، مګر اسلام یې د دارالسلام د زاویې څخه تشریح کوي، چي سرحدات یې یوازي د کفر او اسلام تر منځ ټاکلي دي، مسلمان ته دوست او دوښمن د ده عقیده ټاکي، ټولنه، رسنۍ، غربي ثقافت او احساسات یې نه ټاکي، عقیدې موږ ته مسلمان دوست او کافر دوښمن معرفي کړی دی، مګر دا نور موږ ته کافر دوست او دوست راته دوښمن معرفي کوي، په همدې خاطر نن ورځ په نړیواله کچه عرب، عجم، عجم، عرب، افغانی او پاکستانی، ایرانی او ترکی بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصرئ د ځان دوښمن بولي، نن چي د اسلامي اُمت يادونه کيږي، په داسي يو حالت کي کيږي چي اصلاً محتوا او واقيعت يې چا ته نه معلوميږي، ځکه د دغه اُمت بچيان په هره ملي جغرافيه کي په يو داسي ثقافت سره تربيه کيږي چي د اسلام سره يو سلو اتيا (۱۸۰) درجي په ټکر کي راځي، موډرنيزم، ليبراليزم او نشنليزم د پرمختګ معيار نه سي کيدلای، ملتپالنه او قومپالنه د هر انسان لپاره زهر دي، کفر تل هڅه کوي چي مسلمانان پخپل منځ کي وجنګوي، د مسلمانانو په زړونو او فکرونو کي د اسلام له منځه وړل غواړي، په همدې خاطر د هر هيواد لپاره يې يو جلا او رقم په رقم بيرغ پالنه، قوم پالنه او ملت پالنه رامنځته کړې ده، تر څو مسلمانان يو د بل څخه ليري اوسي، يو د بل په حال ناخبره اوسي، اسلام د اولي ورځي څخه يوازي نه د عربو وو او نه دی، اسلام زموږ ټولو مشترک دين دی او موږ يو واحد اُمت يو، نشنليزم او ملت ګرايي د اُمت د جلاوالي اساسي عوامل دي، که خبره د وطن، قوم او کورنۍ وای، نو رسول الله (صلی الله عليه وسلم) به هجرت نه کولای، نه به يې مکه فتحه کولای او نه به د ابولهب څخه جلا سوی وای، دا دين د اوله څخه نړيوال وو، نړيوال دی او دوباره به بيا هم نړيوال کيږي. انشاءالله

حضرت بلال (رضي الله عنه) حبشي يو غلام وو، مګر جنتي دی، ابو جهل په عربو کي سردار وو، مګر جهنم ته ځي، مطلب دا چي نسب آهميت نه لري، حضرت خالد (رضي الله عنه) عرب وو، محمد الفاتح (رحمة الله عليه) ترک وو، او صلاح الدين ايوبي (رحمة الله عليه) کُردئ وو، ذکر سوي اشخاص د اُمت د تير برم آتلان او قهرمانان دي، مطلب دا چي اسلام د ټولو مشترک دين دی، امام بخاري د بخارا، امام مسلم د نيشاپور، امام ابن حبان د بوست، ترمذي د ازبکستان او نسايي د ترکمنستان وو، ذکر سوي اشخاص د حديثو د علم متخصيصين او لوی علماء بلل کيږي، مطلب دا چي مسلمانان سرحد نه لري، نشنليزم حرام دی، نشنليزم د پښتون او د تاجک تفرقه نه ده، نشنليزم د اسلامي اُمت تفرقه ده چي په ملتونو او هيوادونو ويشل سوې ده، نشنليزم ملتپالنه ده چي مظاهر يې: ملي دولت، ملي پولي، ملي سرود، ملي منافع او ملي بيرغ دي.

خپل عقل ته مو فيصله پريږدئ، آيا موږ مسلمان اُمت بايد هغه ۱۳۴۰ هـ ق کلونه هير کړو چي په هغه کي موږ يو موټئ او يو متحد ملت وو او په هغو سلو (۱۰۰) کلونو باور وکړو چي د غرب له خوا په خيالي پولو او سرحدونو ويشل سوي يو؟ هو! دا د شعور او عقيدې جګړه ده. دا زموږ عقيده ده چي مسلمانان ټول سره ورونه دي، کله چي ورورګلوي سوه، بيا فرضي او جغرافيوي کرښي يا حدود معيار نه سي ګرځيدای، شرايط پيچلي دي، نړئ او اسلامي هيوادونه ټول يوې خوا ته دي او د نړئ ظالم کفار بلي خوا ته دي، هغوی چي د وطن پالني فکر لري، د مسلمه اُمت د خير تمه نه سي ځيني کيدای، همدوی د مسلمانانو د يووالي لپاره ستر خنډ دي، لطفاً د اُمت په سطحه فکر وکړئ، نه د ملت که د اسلام سياسي ترمينالوژي ته سر ورښکاره کړی، هيڅکله به هم د ملتپالني آرزښتونه په کښي پيدا نه کړی، زموږ هويت اسلام دی، زموږ سرحد يوازي د کفر سره دی، زموږ د وطن پولي او سرحدات د سايکس پيکو پر لاس ترسيم سوي دي، مځکنی پولي او سرحدات نه دي، چيري چي د توحيد کليمه ويل کيږي هغه زموږ وطن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د وطن سرحد زموږ د کلمې طیبې سرحد دی، مګر دا چې نن موږ په ټولو اسلامي خاورو کې بغير د هغه هیواد د ډیموکراتیکو نظامونو د پاسپورټ څخه نه سو ګرځیدلای، دا پر دې دلالت نه کوي چې موږ دي نعوذبالله د (**لااله الاالله محمد رسول الله**) سرحد مات کړو،

بلکې د همدې مبارکې کلمې غوښتنه دا ده چې هلته د ډیموکراسۍ، کفر او شرک نوري حاکمې فتنې باید ماتې سي، مګر کم همته او بې همته خلک تل د نورو باطلو عقایدو او افکارو ته تسلیمیږي، هغوی چې کوم اصول او قواعد ورته وضعه کوي د الله سبحانه وتعالی د لوري ورته د وضعه کړو اصولو او قواعدو خلاف یې پیروي او اطاعت کوي، که وفاداري او دوستي د مځکې او وطن لپاره وای، نو نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) به مکه نه وای پرې ایښې، که د قوم لپاره وای، د قریشو سره به یې جهاد نه وای کړی او که د کورنۍ لپاره وای، نو د ابولهب څخه به بیزاره سوی نه وای، خو ګورئ اسلامي عقیده تر ویني او خاوري ډیر قیمتي ده.

د نیشنلیزم تعریف: خپل قوم پر نورو قومونو غوره بلل او د قیادت حق د خپل ځان لپاره راخپلول.

د نیشنلیزم تاریخ: نیشنلیزم د جاهلیت د وخت په عربو کې موجود وو، مګر د معاصر نیشنلیزم بنسټ د المان نازي حکومت په ۱۹۲۹م کال کې چې مشر یې ادولف هټلر کوله کښیښود، چې تر دوو (۲) لکو پوري یهود یې ووژل.

اسلامي نړۍ ته نیشنلیزم په شلمه (۲۰) مه پیړۍ کې د یو نوي دین په حیث را داخل سو، د اسلامي نړۍ یو لوی مدافع عثماني خلافت یې له منځه یو وړ، نیشنلیزم په افغانستان، پاکستان، عربي هیوادونو او نورو ټولو اسلامي مملکتونو کې په سپیڅلتیا قایل سوو.

د نیشنلیزم اصول یا ارکان:- نیشنلیزم پنځه (۵) بنسټونه لري:- ۱: مشترکه ژبه. ۲: وطن یا خاوره. ۳: مشترک تاریخ. ۴: مشترکي ګټې. ۵: مشترکه وینه. مفصله تشریح یې په لاندي ډول ده:

۱:- مشترکه ژبه: نیشنلیستان په دې باور دي که هر څوک زما په ژبه غږیږي هغه زما دوست او زما ورور دی او د هغه مصلحتونه ما ته تر هر چا مقدم دي، هغه که مسلمان، یهودي، عیسوي یا که هندو وي او په مقابل کې که هر څوک وي چې زموږ په ژبه نه غږیږي د هغوی سره کوم تړاو نه لرو هغه که مسلمانان هم وي.

۲:- وطن یا خاوره: په دې معنا په کومه مځکه کې چې زه اوسیږم که په دې مځکه کې هر څوک اوسیږي هغه که هندو وي، عیسایي یا مجوسي وي، هغه زموږ ورور دی او هغه څوک چې ددې قلمرو څخه بهر وي، هغه که مسلمان ان اهل بیت هم وي هغه زموږ هیڅ نه دی، تر دې پوري چې نیشنلیستان وطن یا خاوري ته د یو معبود او خدای په حیث ګوري او وایي: دا وطن مې لیلا ده، سرحدات یې مقدس شمیرل کیږي او د سرحد هغې خوا ته مسلمانان پردي حسابوي.

۳:- مشترک تاریخ: نیشنلیستان وایي: هغه څوک چې موږ سره یې تاریخ شریک وي، هغه زموږ ورونه دي، خیر دی که اوس په یو او بل نوم یادیږي او یا په بله خاوره کې اوسیږي، دغه مشترک تاریخ که د اسلام له مخه وي یا وروسته دوی ته محترم دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴:- مشترکي ګټې: نیشنلیستان وایي: خیر که یو څوک داسي دی چي ژبه، تاریخ او خاوره یې زموږ سره شریکه نه ده، خو موږ یو د بل سره متبادلي او ستراتیژیکي ګټې لرو، نو هغه زموږ دوستان دي که څه هم هغه پر نورو مسلمانانو د ظلم اور بل کړی وي، ځکه نو اوس د اسلامي نړۍ حاکمان وایي: دا غربي ځواکونه چي زموږ هیوادو ته راغلي دي، دوی زموږ دوستان دي ځکه چي موږ یو د بل سره ستراتیژیکي سیاسي، اجتماعي او اقتصادي ګډي ګټې لرو او هغه څوک چي مبارزه ورسره کوي، دوی پردي، ددې خاوري دوښمنان او خاینین دي، که څه هم دین یې زما سره یو وي.

۵:- مشترکه وینه: دوی وایي: که د یو چا سره د دوی وینه په تاریخي لحاظ ګډه وي هغه دوستان بولي، هغه که د جرمني، یهودي یا شوروي وي، حال دا چي زموږ خوږ نبي حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د اسلام په خاطر د خپلو اکا زامنو او خپلوانو سره جنګیدلی دی.

نتیجه: د نیشنلیزم په دغو اصولو کي دین نه ځاییږي، ځکه که چیري په دې کي دین او عقیده داخل سي، نو دا اصول بیا په خپله له منځه ځي ځکه چي په دین کي مساوات او یووالی دی.

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د حجة الوداع په خطبه کي وفرمایل: هیڅ عرب پر عجم او عجم پر عرب سپین پر تور او تور پر سپین کوم فضیلت او لوړوالی نه لري، مګر په تقوا سره.

نو له همدې امله نیشنلیزم د اسلام سره اړخ نه لګوي دا یوه اسلام ضد مفکوره ده چي دا لوی اُمت یې ټوټه ټوټه کړی دی، که نشنلیزم منې، نو د الله سبحانه وتعالی پر ډیرو حکمونو او د اسلام د ولاء او براء پر عقیده به پښې ایږدې. همدا د استقلال مفهوم وو، چي اُمت یې په سیاسي، جغرافیوي او احساساتي شکل سره وویشه، د دولت ملت هغه مفهوم چي په اروپا کي زیږیدلی وو، هلته یې رشد کړی وو، هماغه یې پر اسلامي خاوره ور وتپې، د اسلامي خاوري هري کوچنۍ ټوټې ته یې ځانګړې جغرافیه، قوانین، افتخارونه، بیرغ او ملي ګټې تعریف کړې، د هماغه له امله یې د نور اُمت څخه جلا او آن پر اسلامي خاوره هر ملي دولت یې د بل ملي دولت سره په ستونزو اخته کړ، همدې ښکلاکګرو کفارو ته ددې زمینه برابره کړه چي د اسلامي خاوري پر هره ټوټه داسي لوبې وکړي، چي زړه یې غواړي.

هره مفکوره او نظم چي د اسلامي اُمت تر منځ د تفرقې سبب کیږي، هغه حرام او مردود دی، چي په اوس وخت کي ملي مفکوره، ملي آرزښتونه او نړیوال دولت یا ملت نظم، واحد اسلامي اُمت یې په سیاسي او جغرافیوي لحاظ ویشلی دی، نو اړینه ده چي اسلامي اُمت او د اُمت د ځواک او زور خاوندان ددې خطرناکي مفکورې او نظم په درک سره په اسلامي خاوره کي موجودي سرطاني کرښي او سرحدونه مات کړي، دا مفکوره رد کړي، د یووالي او د نړۍ د قیادت په طرف ولاړ سي، تر څو یې عملاً پر الهي رسۍ منګولي لګولي وي، پر موږ ټولو لازمه ده تر څو ددې ناوړه چل او پریب څخه ځان وژغورو او د اسلام په پرمختګ کي فعاله ونډه واخلو، همدارنګه اسلام دوه (۲) بیرغه لري چي یو یې تور او بل یې سپین دی، باید ټول مسلمانان له همدې دوو (۲) بیرغونو څخه استفاده وکړي او دا غربي مفکورې د خپل ذهن څخه وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د ملي بيرغونو تاريخچه:** کله چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په څلويښت (۴۰) کلنۍ کي په پيغمبرۍ مبعوث سو، ديارلس (۱۳) کاله يې په مکه مکرمه کي دعوت وکړ، بلاخره په ۶۱۴ م کال کي د مکي معظمي څخه مديني منورې ته هجرت وکړ او هلته يې د اسلامي دولت بنياد کښېښود، د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هجرت د مسلمانانو د تاريخ مبداء وټاکل سو، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د يو لوی اُمت بنسټ کښېښود، داسي چي لومړی پر حجاز باندي مسلط سو، لا يې رحلت نه وو کړی چي سرحدات يې د روم او فارس تر کرښو پوري ورسيدل، مسلمانان د روميانو او فارسيانو سره مخامخ سول، يوه پيړۍ نه وه پوره سوې چي ددې ستر اسلامي اُمت او ستر هيواد سرحدونه په شرق کي تر هند او د چين ترکستان، په غرب کي تر مراکش، په شمال کي تر هسپانيا او په جنوب کي تر يمن پوري ورسيدل، د روم او فارس دوې (۲) امپراطورۍ يې دوه (۲) کوچني ولايتونه سول، دا لوی هيواد چي درې (۳) لويي وچي يعني آسيا، اروپا او افريقا يې په بر کي نيولې وې، د اسلام او مسلمانانو تر بيرغ او تسلط لاندي راغلې.

د نړۍ فکري، علمي، نظامي او سياسي قيادت د مسلمانانو لاسته ورغلی په هيڅ ډګر کي د مسلمانانو په وړاندي سيال، حريف او رقيب پاته نه سو، ددې لوی اسلامي اُمت او ددې ستر او پراخ هيواد په تاريخ کي څوک مثال نه سي وړاندي کولای، اقتصادي وضيعت يې هم دومره ښه وه، چي په مرکزي سيمو کي داسي محتاج کس نه موندل کيدی، چي زکات اخيستلو ته دي چمتو وي، په سلګونو قومونه د زرګونو ژبو سره په داسي ستر او واحد اسلامي اُمت کي مدغم سول، لکه د يوې کورنۍ غړي، چي نه يې يو د بل په نسبت د لوړوالي احساس کوی او نه هم چا د اجنبي توب احساس کوی، ديارلس (۱۳) پيړۍ مو پر څه کم ټوله دنيا حکومت وکړ، تر ټولو ستر هيواد، ستر اُمت او لوړ عالي مدنيت مو درلود، دنيا کي مو نه د سياسي پلوه سيال درلودی، نه د نظامي پلوه او نه د فکري پلوه، دغه اسلامي هيواد او دولت مستقيماً د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په لاس لس (۱۰) کاله رهبري سو، چي د دفتر بيرغ يې تور رنګ او د مجاهدينو بيرغ يې سپين رنګ درلودی.

بلاخره سل (۱۰۰) کاله مخکي په ۱۹۲۴م کال کي د يوې ستري ګډي دسيسې په پايله کي دا لوی او عظيم اسلامي خلافت د انګريزانو په لمسون د صليب تر بيرغ لاندي داخلي او خارجي دوښمنانو دا ستر خلافت نسکور کړ، دوښمن دا ستر اسلامي اُمت په خپل نظامي ځواک نه دی ټوټه کړی، د نفاق داخلي جبهه د هغوی په خدمت کي وه، د مسلمانانو سنګرونه يې ضعيفول، عرب يې د ترکانو په خلاف جنګول، د مصطفی کمال اتاترک له خوا د انګريزانو په لمسون اسلامی دولت ړنګ او پر ځای يې اسلامي خاوره د يو واحدي رهبرۍ څخه تقريباً پر اووه پنځوس (۵۷) ملي دولتونو باندي وويشل سوه، نن هغه ستر اسلامي اُمت پر دومره کوچنيو حکومتونو ويشل سوی دی، چي ځيني يې لويو کليو ته ورته دي، غرب دا ټول هيوادونه په خپلو منځونو کي سره وويشل، هر يو ته يې يو ملي بيرغ او خاص جغرافيوي موقعت په داسي ډول سره ترسيم کړ، چي هر يو يې د اسلامي هويت پر ځای پر ملي هويت

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د اسلامي بيرغ پر ځای په ملي بيرغ فخر کوي او يو بل ووژني، د سايکس پيکو په نوم يو انګريزي سياستمدار د اسلامي خلافت د سقوط وروسته د اکثريت اسلامي ممالکو لپاره ملي بيرغونه ډيزاين کړل، د مثال په ډول: د سوډان پر ملي بيرغ باندي يې عقاب اضافه کړ، د مصر ملي بيرغ ځيني جوړ سو، الله اکبر يې باندي وليکۍ د عراق ملي بيرغ ځيني جوړ سو او بيا يې څو ستورو ته ورته نښانونه پر ولګول د سوريه ملي بيرغ ځيني جوړ سو، په دې کوچني تغير سره انګريز ډيزاينر په اسلامي اُمت کي ژور او خطرناک تغير راوست، د سايکس پيکو په لاس ډيزاين سوي ملي بيرغونو پواسطه اسلامي اُمت د يو بل څخه جلا سو، د مسلمانانو تر منځ د همدې ملي بيرغونو د مقدس ګڼلو په سبب اختلافات دومره ډير سول چي هر يو يې حاضر دی چي د همدې بيرغ لپاره ځان ټوټه ټوټه کړي، افغانان په افغانيت وياړ کوي، تاجيکان په تاجکيت، ترکان په ترکيت، عربان په عربيت او داسي نور... او حاضر دي چي د همدې انګريزانو پواسطه ترسيم سوي جغرافيوي موقعتونو او بيرغونو باندي يو بل ووژني، په داسي حال کي چي اسلام مسلمانانو ته يو واحد اُمت او يو د بل وروڼه وايي، هره وسيله چي د مسلمانانو تر منځ د تفرقې او نفاق سبب ګرځي مردود ده.

په همدې ملي سرحداتو کي غلام چارواکي يې پر مسلمانانو باندي مسلط کړل، کوچنی کوچنی مستعمرې يې ځيني جوړي کړې، نن يې بازارونه د دوی مارکيټونه دي، د مځکي لاندي او د مځکي پر سر ذخاير يې هم د دوی د کمپنيو په واک کي دي، داخلي او بهرني سياستونه هم دوی ورته ټاکي، نن د نړۍ ټول جنګونه په همدې اسلامي هيوادونو کي چي د اُمت پر ځای يې ايمان او باور پر ملت دی روان دي، په دې جنګونو کي که د چا کور ورانيږي مسلمان دی او که څوک هجرت ته مجبوره کيږي مسلمان دی، فساد خواره قومي، مذهبي او ملي اختلافاتو ته لمن وهي، د ځوان نسل په تباه کولو باندي مصروف دي، چي د خپل ديني او اسلامي هويت څخه يې پردۍ کړي، په ځوان نسل باندي د مطبوعاتو د لاري فکري بمبار روان دی، دوی غواړي ځوانان د اخلاقي او معنوي پلوه بې هويته وروزل سي.

ددې لپاره چي د خپل اسلامي اُمت د ځلانده تاريخ څخه بې خبره وي او هم يې د دين سره رابطه د تل لپاره قطع سي، په دې سلو (۱۰۰) کلونو کي هغوی وتوانيدل چي په اسلامي اُمت کي داسي سيکولر ځوانان تربيه کړي، چي په شعوري او غيري شعوري ډول په دې باور وي، چي دين جلا دی او سياست جلا دی، په ژوند کي يې د ټولو ستر آرمان ملي بيرغ او ملي پولي وي، په داسي حال کي چي دين د حکومت کولو لپاره راغلی دی، سل (۱۰۰) کاله مخکي موږ د نړۍ پر يوي لويې برخي باندي د همدې دين پواسطه حکومت کوی، د نړۍ په تاريخ کي هيڅ غيري سياسي پيغمبر نه دی مبعوث سوی، موږ د انسانيت په تاريخ کي غيري سياسي دين نه منو، ددې ټولو اوسنيو بدبختيو څخه د وتلو يوازينۍ لاره دا ده چي يو ځل بيا موږ اسلام ته رجوع وکړو، فرعي اختلافات ليري وغورځوو، ولايتي، سمتي، قومي او ملي تعصبات شاته وغورځوو، يو بل ته لاس ورکړو او په يو واحد اسلامي اُمت کي مدغم سو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه د فکري جګړې خطر دي حس کړی دی؟

د نړۍ د پرمختګ سره جوخت د اسلام دوښمنان د اسلام او مسلمانانو پر ضد د هر وخت او زمان د ایجاباتو سره سم پلانونه جوړوي او په مختلفو لارو چارو سره هڅه کوي تر څو په نړۍ کي د اسلام او مسلمانانو ریښې وباسي، که چیري ددې اړتیا ووینې چي د مسلمانانو مقاومت د وسلې او باروتو په زرو له منځه یو سي، نو د هر ډول پرمختللو وسائلو لکه: توپ، طیارو او ټانګونو څخه کار اخلي او که چیري د وسلې د کارولو پایلي منفي ورته ښکاره سي، نو بیا په ډیر مهارت سره په فکري ډګر کي د اسلامي ملت د فکر، عقیدې، تقالیدو او هویت له منځه وړلو لپاره پلانونونه جوړوي، چي د دغو پلانونو د عملي کولو لپاره بې شمیره لګښتونه، پرسونل، وخت او امکانات په لاره اچوي، تر څو خپلي شومي موخي لاسته راوړي، د حق په وړاندي یې په مختلفو ډګرونو کي جګړې پیل کړي او لاهم رواني دي، چي نن ورځ په عمومي ډول د حق او باطل تر منځ جګړه په دوه ډګرونو کي روانه ده، یو یې جګړه ایزه ډګر یعني وسله واله جګړه ده او دوهم یې فکري یعني ډګر یې فکري جګړه ده، چي دا بیا په خپل وار سره هره جګړه جلا جلا ځانګړتیاوي لري، دغه دواړي جګړې یو د بل څخه په اسلوبو، وسایلو، موخو، شعارونو او اغیزو کي توپیر لري.

که د اسلام او مسلمانانو کابو څوارلس سوه (۱۴۰۰) کلن تاریخ ته نظر وکړو، نو دا به راته څرګنده سي، چي د اسلام دوښمنان د اسلام د پیداښت څخه بیا تر نن ورځي پوري یوه شیبه هم په کراره نه دي پاته سوي، بلکي په هر وخت کي یې د اسلام او مسلمانانو په وړاندي په مختلفو ډګرونو کي وحشیانه او د بربریت څخه ډکي دوښمنۍ او جګړې کړي دي، چي د دغو جګړو په لړ کي یې مسلمانان په مختلفو ډولونو سره کړولي، بې ځایه او شهیدان کړي یې دي، ددې جګړې په لاره اچوونکي څومره توانیدلي دي، چي ددې جګړې د خطرناکو وسایلو په کار اچولو سره خپلي شومي موخي لاسته راوړي، ددې جګړې اغیزې تر یو حده پوري حس کیږي او په خپله مسلمانان ددې جګړې له امله څومره د کړاو او بدبختیو سره مخ سوي دي؟ د لویدځوالو دې فکري جګړې مسلمانان د تاریخ په پرتله تر بل هر وخت د ډیرو بدمرغیو او ناخوالو سره مخامخ کړي دي، د هغوی تاریخي ویاړ او حیثیت ته یې کلکه ضربه رسولې ده، د هغوی یووالی او اتحاد یې له منځه وړی دی، آن تر دې پوري چي نن ورځ د دغه عظیم ملت په نړیوالو چارو کي یو غیري مطرح ملت ګڼل کیږي، هغه اغیزې چي نن ورځ د فکري جګړې له امله په اسلامي نړۍ کي رامنځته سوي دي، په دې ډول دي:

۱: د دین او سیاست یعني جلاوالی سیکولریزم: د سیکولریزم څخه مطلب بې دیني او لامذهبي ده، چي د هغه پر بنسټ دین باید د انسان په ژوندانه کي هیڅ رول ونه لري، سیکولریزم د دین او سیاست د جلاوالي څخه عبارت دی. د سیکولریزم پدیده د اسلامي اُمت په تاریخ کي یوه نوې پدیده ده، د اسلام په دین کي کم اصل او حقیقت نه لري، ځکه د اسلام دین یو کامل دین دی، چي د ژوند ټولو اړخونو او چارو ته لازمي لارښووني او اصول لري، که هغه د ژوند عادي، سیاسي، اقتصادي، فرهنګي، تعلیمي، سوداګریز او یا نور اړخونه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲: په اسلامي هيوادونو کي واک ته د بې دينه مشرانو رسيدل: د فکري جګړې يوه بله لويه او ناوړه پايله او اغيزه په اسلامي هيوادونو کي د بې دينه مشرانو واکمن کيدل دي، په دې معنا چي په ډېرو اسلامي هيودونو کي نن ورځ داسي مشران واکمن دي، چي هغوی پرته ددې څخه چي د خپل دين اسلام لپاره د يو خادم په صفت کار وکړي، هغوی د لويديځ او ختيځ د استازو په توګه په خپله د اسلام د نړولو لپاره هڅي او کوښښ کوي، چي د ننني اسلامي نړۍ په ډيرو هيوادونو کي دغه ډول مشران واکمن دي، په داسي حال کي چي تر اوسه د ډيرو اسلامي هيوادونو يوه اندازه قوانين اسلامي بڼه لري او ملتونه يې هم په کلکه اسلامي روحيې سره سمبال دي، مګر د همدغو بې دينه مشرانو د لاسه دغه اسلامي قوانين د پامه غورځول کيږي نه پلي کيږي، دغه مسلمان ملتونه په ډول ډول بهانو او چلونو سره ځورول کيږي، او د پاڅون قوه يې له منځه وړي.

۳: د ارتداد يا د اسلام څخه د ګرځيدو ناورين: د فکري جګړې دريمه غمونکې پايله د ارتداد يا د اسلام څخه د ګرځيدو ناورين دی، په دې معنا چي صليبيانو او غربيانو وکولای سول ډېر لږ شمير هغه مسلمانان چي د اسلام څخه ناخبره وه، د غربي کار کوونکو له خوا د دوامداره تبليغاتو په پايله کي د نصرانيت لور ته ور وبلل سول، د اسلام څخه وګرځيدل او همدارنګه ځيني هغه مسلمانان وه، مګر د وياړ او خوښۍ خبره دا ده د اسلام مبارک دين د خپل الهي حقانيت له مخي سره ددې چي ټول نړيوال غيري مسلمان خلک د دغه دين له منځه وړلو هڅي کوي، مګر بيا هم د اسلام مبارک دين د هري ورځي په تيريدو سره لکه د لمر د وړانګو په شان د نړۍ په هسکو او ژورو کي د نړۍ په زيات شمير غيري اسلامي هيوادونو کي د خپريدو په حال کي دی او هره ورځ په لسګونو غيري مسلمان خلک په مختلفو غيري اسلامي هيوادونو کي د اسلام په مبارک دين باندي مشرفه کيږي، چي د دغو خلګو د ډلي څخه ډېر عيسويان او هندوان د اسلام مبارک دين ته را اوړي.

د مختلفو احصائيو له مخي د هري ورځي په تيريدو سره د اروپا په لويه وچه کي د اسلام د پيروانو شمير مخ پر ډيريدو دی، د دقيقو اخيستل سوو احصائيو له مخي: په فرانسه کي په ۲۰۰۴م کال کي په مجموعي توګه پنځوس (۵۰) زره خلک مسلمان سوي دي، چي د دغو خلګو څخه ډېر شمير يې مسيحيان وه. په برطانيه کي يوازي د ۲۰۰۴ څخه تر ۲۰۰۵ م کال پوري اوويا (۷۰) زره خلک مسلمانان سوي دي. په روسيه کي د تر ۲۰۰۵م کال پوري په مجموعي توګه څلوېښت (۴۰) زره خلک مسلمانان سوي دي. همدارنګه په جرمني کي تر ۲۰۰۵م کال پوري درويشت (۲۳) زره خلک مسلمانان سوي دي، چي په همدې ډول په نورو اروپايي او غيري اروپايي غيري اسلامي هيوادونو کي هره ورځ ډېر خلک په اسلام مشرفه کيږي، د دغو نويو مسلمانيدونکو خلګو شمير تر هغه څو ځلي ډېر دی، کوم چي مسلمان خلک نورو دينونو ته اوړي يعني قبلوي يې، ددې کار ستر لاملونه د اسلام د مبارک دين حقانيت، د ويښو او بامسؤليته اسلامي علماؤو ديني تبليغات او همدارنګه په خپله د اسلام د پيروانو نيک او انساني اخلاق او کردار دی، چي په ډېرو غيري اسلامي هيوادنو کي غيري مسلمان خلک د مسلمانانو د نيکو اخلاقو څخه په ژوره توګه اغيزمن کيږي او وروسته د اسلام په مبارک دين باندي مشرفه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴: د اسلام د مبارک دین د خپراوي څخه مخنیوی: لکه څنګه چي ستر پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د فاني نړۍ څخه سترګي پټي کړې، نو ددې څخه وروسته ټول بشریت او انساني نړۍ ته د دغه حق دین د خپریدو ستر مسؤلیت درونـد پیټی د هر فرد فرد مسلمان په غاړه واچول سو، د ستر پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د رحلت څخه وروسته د هغه مبارک (صلی الله علیه وسلم) صحابه کرامو (رضوان الله عنهم آجمعین)، تابیعینو او د هغو څخه وروسته نورو مسلمانانو تر پیړیو پیړیو پوري دغه ستر پیټی تر ډیره حده تر منزله ورسوی، د اسلام د مبارک دین نوراني وړانګي یې د نړۍ مختلفو سیمو ته په ډیره میړانه او شهامت سره ورسولې، چي د دغه لړۍ وروستی منبر اسلامي عثماني خلافت وو، د دغه خلافت په وخت کي مسلمانانو وکولای سول، چي د دغه الهي رحمت یعني د اسلام مبارک دین څخه د نړۍ ډیر خلک برخمن کړي.

چي په دې لړ کي ان د عیسوي اروپا تر زړه پوري یې د اسلام وړانګي وغځولې، مګر کله چي په نړۍ کي د سترو بدلونونو په رامنځته کیدو سره د مسلمانانو د هیلو وروستنی تمثیلوونکی اسلامي خلافت هم له منځه ولاړی او مسلمانان نور په نړۍ کي د یو موټي ځواک په توګه د راښکاره کیدو څخه عاجز سول، نو غربي او صلیبي ځواکونو په دې وخت کي خپلي ټولي هڅي د اسلام د مبارک دین د خپریدو د مخنیوي لپاره په کار واچولې، ددې کار لپاره یې په مختلفو فکري او وسله والو ډګرونو کي جګړې او همدارنګه د مختلفو پروګرامونو په ترڅ کي مختلفي پروژې لکه: استشراق، تنصیر، تبشیر او داسي نور... په لاره واچولې، چي په پایله کي د مسلمانانو د بې اتفاقي او غفلت له امله د اسلام دوښمنانو وکولای سول، چي د اسلام د مبارک دین خپریدل د پخوا په پرتله تر یوه حده د خنډونو سره مخامخ کړي او په ځانګړي ډول غربي او اروپایي خلګو ته د اسلام د مبارک دین د خپراوي څخه مخنیوی وکړي.

۵: د اسلامي مقدساتو سپکاوی: د اسلام سپیڅلی دین د الله (جل جلاله) په وړاندي یوازینی منل سوی دین دی، ځکه چي د اسلام د دین ټول اوامراو نواهي د الله (جل جلاله) د پلوه د خپلو بندګانو د نیکمرغي لپاره نازل کړل سوي دي، په دغه دین او د الله (جل جلاله) په شریعت کي د هیڅ یو بنده لپاره د لاسوهني حق نسته، بلکي یوازي او یوازي د واحد او واحد الله تعالی نظام دی، نو اسلام د ټولو آنبیاؤو او رسولانو (علیهم السلام) دین دی، مګر صلیبیان او ټول کفار د دغه حق دین سپکاوی کوي. د مسلمانانو تر منځ خپل مینځي شخړي رامنځته کوي، وروستني اسلامي خلافت یعني عثماني خلافت په نړۍ کي د مسلمانانو د کلک او پیاوړي یووالي استازیتوب کوی، نو صلیبي دوښمنانو دا وپتیل چي دغه اسلامي خلافت د مسلمانانو یووالي ته غوټې ور اچولي دي او مسلمانانو ته د شمعي حیثیت لري، چي د پتنګانو په څیر پر راڅرخي، نو دوی لازمه وګڼله تر څو لومړی د مسلمانانو د کمزوري کولو لپاره د هغوی یووالی له منځه یو سي او هغوی په داسي کوچنیو کوچنیو دولتونو، مذهبونو، ګوندونو او ډلو باندي وویشي، تر څو په راتلوونکي کي د دوی په وړاندي د مقابلې توان ونه لري او په دې کار سره دوی د اسلام دوښمنانو وکولای سول، چي په کراره کراره دغه ویشل سوي مسلمانان کمزوري او بالاخره له منځه یو سي، چي په دغه کار کي تر ډیره حده بریالي هم سول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلګي په توګه: دوی د دغه کار لپاره لومړی عرب ملتونه د عثماني ترکانو پر وړاندي پاڅون ته وهڅول او هغوی ته یې مختلفي تخریبونکي خبري کولې، مثلاً: تاسي عربان د اسلام لومړني قوم یاست او همدا تاسي اسلام نورو ته رسولی دی، ستاسي ژبه پاکه ده او داسي نور... نو باید تاسي د خلافت واکمنان سئ، چي بالاخره د همدې ناوړه هڅونو په پایله کي اسلامي خلافت پر ځای ددې چي د عربو لاسته ولویږي داسي ټوټه ټوټه سو، چي نور نو د دغه اسلامي خلافت نوم هم څوک په خوله نه اخلي. په همدې ډول یې په نورو اسلامي هیوادونو کي مسلمانان د ژبو، مذهبونو، نژادونو او داسي نورو... ځانګړنو په اساس یو د بل سره په جګړه اخته کړي دي.

**فکري جګړه څه شي ده؟** د ملتونو د دایمي تسخیر او اشغال لپاره فکري جګړه د نظامي جګړې څخه ډېره مؤثره او کاریګره ثابته سوې ده، ځکه پوځي جګړه مقاومت، حساسیتونه او بالمثل غبرګونونه راپاروي، چي بیا د جګړې د اوږدیدو، د جنګي مصارفو او تلفاتو د ډیریدو سبب ګرځي، چي دا هر څه بیا وروسته د یرغلګرو په ماتي سره تمامیږي، که څه هم ډیره موده وروسته وي، تاریخ ثابته کړې ده چي پوځي تسلط هیڅکله دائمي نه سي پاته کیدای، تر هغو پوري چي فکري تسلط د پوځي تسلط ځای نه وي نیولی، که چیري استعماري قوت په خپله مستعمره سیمه کي یوازي پوځي جګړه وکړي او فکري جګړه ونه کړي او د هغه سیمي خلګ فکراً خپل تابع نه کړي د پوځي لاري څخه یې هیڅکله هم نه سي تابع کولای، مګر که چیري هغوی فکراً خپل تابع کړي او د دوی فکرونه تر تسلط لاندي راولي، بیا به د لښکرو، نظامي وسایلو، ښه قوي اقتصاد او نورو امکاناتو درلودلو سره به بیا هم د هغوی غلامان وي او د دوی د اهدافو لپاره به کار کوي، لکه نن سبا چي اسلامي هیوادونه د ښه ډیرو عسکرو، نظامي وسایلو او نورو مادي امکاناتو په درلودلو سره بیا هم د کفارو د اهدافو لپاره کار کوي، ځکه چي دوی په فکري جګړه کي ماته خوړلې ده.

ډاکټر جمیل مصري د فکري جګړې په اړه وایي: اروپایانو وروسته د هغه چي د مسلمانانو په مقابل کي ماته وخوړه او د اسلام د آتل مجاهد سلطان صلاح الدین او وروسته د هغه د نورو قومندانانو له خوا ځپوونکي ګذارونه وخوړل، پوه سول چي د مسلمانانو په فرهنګ او فکر باندي یرغل ډیر ضرور او مؤثره دی، له همدې امله اسلامي فکر د دوی د ګذارونو موخه وګرځیدی، په اسلامي هیوادونو کي یې د فرهنګي او سیاسي موخو د ترسره کولو او پر اسلامي نړۍ باندي د خپلي ولکې د راوستلو لپاره اسلامي فکر او فرهنګ یې د څیړني لاندي ونیوی، اسلامي لیکني یې اروپایي ژبو ته وژباړلې، چي همدې طریقي ته فکري جګړه ویلای سو.

د فکري جګړې تعریف:ـ اُستاذ محمد قطب وایي: د فکري جګړې څخه هدف د غیري نظامي وسایلو په کار اچول دي، چي دوښمنانو وروسته د صلیبي جګړو څخه د مسلمانانو د ژوند څخه د نیکو شیانو د ورکولو، د اسلام د لاربښونو څخه د دوی اړول او هغه چي عقیدې ته ارتباط لري، لکه: فکر، لاربښووني او د کړو وړو مختلف اړخونه، په کار واچوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا په بل عبارت فکري جګړه عبارت ده له هغو غيري نظامي وسايلو څخه چې غربي امپرياليزم د مسلمانانو د ژوند څخه د اسلامي آرزښتونو له منځه وړلو، په اسلام باندي عمل کولو، د خپل ديني هويت او فکر څخه د اسلامي اُمت خالي کولو لپاره په کار اچولي ده. د حق او باطل په جګړه کي هم فکري جګړه ډېر مهم رول لري، او باطل هميشه د حق سره په جګړه کي د پوځي جګړې تر څنګ فکري جګړه هم په پراخه پيمانه روانه کړې ده، بلکي تر پوځي جګړې ډيره پراخه ده، وروسته د صليبي جنګونو څخه اروپايانو درک کړه تر هغو چې د مسلمانانو عقيدې او فکر ته ماته ورنه کړل سي، په پوځي ډګر کي د هغو ماته ناممکنه ده، او دا د فکري جګړې د لاري ممکنه ده، ځکه فکر په فکر ماتيږي.

خلاصه دا چې فکري جګړه هغه جګړه ده چې کفار يې د مسلمانانو د تسخيرولو او د هغو د شريعت، عقيدې، فکر، عرفونو او عنعناتو، سلوک، اخلاقو او د ژوند د اسلامي بنې له منځه وړلو لپاره د ناپوځي وسائلو د لاري ددې لپاره پر مخ بيايي، چې مسلمانان د خپل ځانګړي تشخص او پيژندګلوي څخه محروم او په هر څه کي يې د غرب په تقليد اخته کړي، تر څو د خپل دوښمن يعني کفارو په خلاف د جګړې تصور په ذهن کي ونه لري. په فکري جګړه کي د مسلمانانو فزيکي وجود هدف نه ګرځول کيږي، بلکي د هغوی دين، فکر، ټولنيز عنعنات، شخصي او اجتماعي اخلاق او رواني يعني روحي کيفيت د هدف په حيث تر ضربې لاندي نيول کيږي، ځکه دا هغه عوامل دي چې د ټولني افراد د خپل فزيکي او معنوي وجود څخه د دفاع او د يرغلګرو په مقابل کي مقاومت لپاره د جګړې په صف کي دروي، مګر هر کله چي دغه عوامل په تدريج سره په سيستماتيک ډول له منځه يوړل سي، د دوښمن په مقابل کي مقاومت په خپله له منځه ځي، چې په نتيجه کي دوښمن د هر ډول مالي او ځاني تلفاتو څخه خوندي پاته کيږي او هدف پرته د جګړې لاسته ورځي.

د مځکي حاکميت بايد د الله (جل جلاله) د نيکو بنده ګانو سره وي، تر څو د الله (جل جلاله) پر مځکه د الله (جل جلاله) قانون نافذ سي، نو له همدې دندي د ترسره کولو لپاره د الله (جل جلاله) حکمت په دې کي دی چي حق تل د باطل سره په جګړه کي اخته وي، تر څو د مځکي حاکميت د حق سره وي، او د حق ملګري يوه شيبه هم د حق د دفاع او پالني څخه غافله نه سي، څنګه چي د باطل ملګري يوه شيبه هم د حق په مقابل کي د مکر او دوکې څخه نه غافله کيږي او نه درېږي، د حق او باطل تر منځ فکري جګړه تر عسکري جګړې هم اوږد تاريخ لري، د هماغه لومړی ورځي څخه چي د حضرت آدم (عليه السلام) او ابليس دوښمني پيل سوې ده، ابليس چي د باطل ممثل دی د حضرت آدم (عليه السلام) پر خلاف يې د فکري جګړې څخه کار اخيستی، او د حضرت آدم (عليه السلام) د مغلوبولو لپاره يې د فکري وسائلو څخه کار اخيستی دی، ابليس په دې پوه سو چي حضرت آدم (عليه السلام) يې دوښمن دی، او په هغه باندي په زور غلبه نه سي حاصلولای، نو يې د فکري وسائلو لکه: د نصيحت تظاهر، د حضرت آدم (عليه السلام) سره د خواخوږۍ دعوه او بيا د خپلي دعواې د ريښتيني ښکاره کولو لپاره د قسمونو څخه کار اخيستل پيل کړل او په درواغجنو قسمونو يې حضرت آدم (عليه السلام) ته وسوسه ورواچوله، تر دې پوري چي حضرت آدم (عليه السلام) او د ده ښځه يې وښويول او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنت څخه یې را وایستل، شیطان د حضرت آدم (علیه السلام) سره په خپلې دوښمنۍ کې د هرې لارې او وسیلې څخه د کار اخیستلو سخت قسم یادوي، مؤمنانو ته په سمه لاره کې د کمین نیولو خبره کوي، بیا وروسته د حضرت آدم (علیه السلام) د خطاء ایستلو لپاره د قسمونو او د نصیحت کولو د تظاهر څخه کار اخلي او خپله دوښمني د حضرت آدم (علیه السلام) سره د پستې ژبې په کارولو پر مخ بیايي، چې دا ټول فکري وسائل دي. د تاریخ په اوږدو کې د باطل پلویانو ټل د انبیاؤو (علیهم السلام) په خلاف په خپلو مبارزو کې د جنګي وسائلو تر څنګ د فکري وسائلو څخه کار اخیستی دی، کله یې په انبیاؤو (علیهم السلام) پسې پوچ او بې ځایه تبلیغات کړي دي، کله یې هغوی ته لیوني، کم عقله، کوډګر ویلي، کله یې په بیلا بیلو غولوونکو خبرو او وسائلو خلک د انبیاؤو (علیهم السلام) په خلاف د جنګ په صف کې درولي دي، کله یې هم د مؤمنانو پر خپل دین او پیغمبر د شکمن کولو هڅې کړي دي، دغه دسیسه نن هم د اسلام په خلاف په بیلا بیلو شکلونو په کار اچول کیږي، نن هم په اسلامي نړۍ کې د دوښمن فکري جګوه د فیلسوفانو، څیړونکو، لیکوالانو، شاعرانو، هنرمندانو او ژورنالستانو په شکل کې وجود لري، چې د بیلا بیلو لارو، ډولونو او د بیلا بیلو فکري وسائلو په کارولو مسلمانان د اسلام په اړه شکمن کول غواړي، خلګو ته اسلام د ارتجاع، تروریزم، وحشت او د تاوتریخوالي د دین په نامه معرفي کوي، پر اسلامي عقائدو او احکامو یې بې باوري ته هڅوي.

د فکري جګړې یوه بله هڅه د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په وخت کې هغه وه چې نږدې وو د هغې د لارې د مدینې منورې د انصارو تر منځ یوه لویه خونړۍ جګړه رامنځته کړي، یوه ورځ د یهودو یو لوی سپین ږیری مشر شاس بن قیس د اوس او خزرج د قبیلو مسلمانان ولیدل چې په خپلو کې یې په مینه او محبت مجلس کوی، په داسې حال کې چې تر اسلام دمخه همدغه دوې قبیلې په خپلو کې په لسګونو کاله جنګیدلي وې او ښه ډېر یې یو د بل څخه مړه کړي وه، مګر د اسلام په منلو یې پخواني هر څه سره هیر کړل، یوه نوې د ورورولۍ او محبت دوره یې پیل کړه، پر شاس بن قیس دغه حالت ښه ونه لګیدی، عزم یې وکړی چې مسلمانان بیرته په خپلو کې سره وجنګوي، ددې کار لپاره یې یوه خطرناکه فکري وسیله انتخاب کړه.

یو ځوان یهودي هلک یې په مکر د اصحابو کرامو په منځ کې کښینوی او هغه ته یې ویلي وه: د مسلمانانو په مجلس کې د بعاث د جګړې چې د اوس او د خزرج تر منځ ډېره پخوا تیره سوې وه، هغه اشعار ووایه چې دوی په جګړو کې یو د بل په خلاف ویلي وه، په دې سره به د هغوی په ذهنونو کې هماغه پخوانۍ د جنګ خاطرې راتازه سي او یو ځل به بیا د یو بل خلاف جګړې ته وهڅیږي، شاس همدا طرحه عملي کړه او نتائج یې هم هماغه ډول را ووتل لکه ده چې اټکل کړي وه، مګر د الله (جل جلاله) رحمت داسې وسو، چې تورو ته تر لاس کولو دمخه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته خبر ورسید، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د خپلو مهاجرو اصحابو (رضي الله عنهم) سره راغلی، په وعظ او نصیحت سره یې د دوی تر منځ د پیښیدونکې جګړې پر اور اوبه توی کړې او د یهودو دسیسه یې شنډه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا ډول په بیلا بیلو وختونو کي کفارو هڅي کړي دي، چي مسلمانان د عسکري جګړې پر ځای په فکري جګړې مغلوب کړي، صلیبي غرب د مسلمانانو سره په خپلو عسکري جګړو کي د مسلسلو ماتو وروسته د یوې خطرناکي وسیلې په حیث د عسکري جګړو پر ځای د اسلامي اُمت په خلاف وکارولې، د غرب له خوا د مسلمانانو په خلاف معاصره فکري جګړه د پخوانیو ټولو فکري جګړو څخه هم منظمه ده، هم ورته وسائل او امکانات ډیر دي، هم ډیره پراخه او عامه ده، چي د ژوند ټول اړخونه یې تر تاثیر لاندي راوستولي دي، دا معاصره فکري جګړه لومړی ځل د فرانسې باچاه چي مذهبي راهب هم وو، نهم لویس هغه وخت طرحه کړه، چي نوموړي په ۱۲۵۰م کال کي په مصر باندي یرغل وکړ او په نتیجه کي دی د مسلمانانو له خوا بندي سو، ټول لښکر یې تباه سو، دی د مصر په منصوره زندان کي بندي سو، وروسته بیا د ډیري لویي فدیې په بدل کي ایله سو.

نهم لویس د خپل بند په وخت کي پر دې غور وکړی، چي ولي مسلمانان د مادي او پوځي وسائلو کموالي سره سره بیا هم پر کفارو هر وخت غالبیږي؟ نهم لویس د اوږد تفکیر په پای کي دې نتیجې ته ورسیدی، چي د مسلمانانو د قوت سرچینه مادیات نه دي، بلکي د دوی دین، عقیده، اخلاق او معنویات دي، او تر څو چي یې دغه سرچینه تازه او رڼه وي، مسلمانان به تل د دوښمن په وړاندي بریالي وي، نهم لویس د ایله کیدو وروسته بیرته فرانسې ته ولاړ او هلته یې د فرانسې ولسي، پوځي، سیاسي، مذهبي او مخور مشران راټول کړل، د اسلامي اُمت سره یې د جګړې د نوعیت په اړه د خپلي وینا په ترځ کي داسي ورته وویل: که غواړی چي مسلمانانو ته ماته ورکړی، نو یوازي پوځي جګړه مه ورسره کوئ، ځکه چي تاسي په پوځي جګړه کي د هغوی په وړاندي ماته خوړلې ده، تاسي د هغوی د عقیدې په خلاف وجنګیږئ، ځکه چي د هغوی د قوت سرچینه د هغوی په عقیده کي ده.

تر دې وروسته د غرب سیاسي، فکري او پوځي زعامت فیصله وکړه: نور باید د مسلمانانو پر خلاف د پوځي جګړو تر څنګ فکري جګړه هم روانه کړو او ددې جګړې لپاره یې د غرب په کلیساوو، پوهنتونونو، سیاسي او ډیپلوماټیکو مراکزو کي د اسلامي فکر او اسلامي تمدن د زده کړي او څیړني مرکزونه جوړ کړل، دغه مرکزونه وروسته د ختیځ پوهانو او ختیځ پوهني یا استشراق او مسیحي تبلیغ یا تبشیر یعني تنصیر په شکلونو کي راښکاره سول، دغو مراکزو په منظم ډول د اسلامي نړۍ فکري او تمدني وضعیت ته پاملرنه وکړه، او د مسلمانانو په نویو نسلونو کي یې فکري تاثیر ګذاري پیل کړه. دغه فکري تاثیر ګذاري پایله یې د داسي یو نسل په شکل کي راووته چي یوازي نومونه یې د مسلمانانو دي، نور یې د ژوند ټول سیاسي، فکري، اخلاقي، ټولنیز، پوځي، اقتصادي، ذوقي او ادبي اړخونه یې د غربي تصوراتو او آرزښتونو پر بنسټ ولاړ دي، ټوله پاملرنه یې دې ته ده چي څنګه اسلامي نړۍ او اسلامي اُمت د غرب د غوښتنو سره سم عیار کړي، که څه هم چي په دې لاره کي د لکونو مسلمانانو د وینو بهولو ته ضرورت پیښ هم سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# استشراق (ختيځ پيژندنه)

استشراق (ختيځ پوهنه): استشراق عربي کلمه ده چي معنا يې ختيځ پيژندنه يا ختيځ پوهنه ده، او په اصطلاح کي د ختيځي نړۍ د علومو زده کړي ته ويل کيږي، دغه نوم څکه ورته کښيښول سوی دی، چي د اسلامي اُمت اکثريت په شرق کي دی، او د استشراق څخه مطلب همدغه دی، چي د اسلامي اُمت عقائد، افکار او د مختلفو اسلامي ملتونو ژوندود، د هغوی اخلاق، رسمونه او رواجونه، ژبي او ژبدودونه، کلتور او ثقافت او د هر ملت خصوصيات معلوم او زده کړای سي. يا ختيځ پوهنه هغه حرکت دی چي غربي علماء اسلام په ټوله معنا زده کوي، مګر ايمان نه پر راوړي، قرآن کريم، تفسير، حديث، فقه، عقائد، فرهنګ او داسي نور... دا ټول زده کوي، هدف يې د اسلامي علومو د زده کړي څخه دا دی چي د اسلام په اړه شک او شبهې پيدا کړي، تر څو خلګ د اسلام په اړه په شک کي واچوي او د اسلام د قبليدو څخه ډډه وکړي.

د استشراق تعريف: استشراق د شرق څخه اخيستل سوی دی، استشراق په لغت کي ختيځ پيژندني ته وايي، دلته د ختيځ څخه موخه د اروپايانو په فکر هغه سيمي دي چي د مديترانې د سمندرګي ختيځ لوري ته پرتې دي، او که په لنډ ډول ووايو: د اروپايانو په نزد هغه اسلامي هيوادونه چي په ختيځه نړۍ کي پراته دي د ختيځ په نوم ياديږي، او په اصطلاح کي استشراق هغه څېړني او تحقيقات دي چي لويديځوال يې د اسلامي ختيځ د تمدن، فرهنګ، ادابو، ژبو، عاداتو او تقاليدو په هکله تر سره کوي.

اُستاذ علي جريشه په خپل کتاب (الاتجاهات الفکرية المعاصره) کي استشراق داسي تعريفوي: استشراق د ختيځي نړۍ د علومو زده کړي ته ويل کيږي او دغه نوم څکه ورته کښيښول سوی دی، چي د اسلامي اُمت اکثريت په ختيځ کي اوسيږي او د استشراق څخه يې مطلب همدغه دی، چي د اسلامي اُمت عقائد، فکرونه او د مختلفو اسلامي ملتونو ژوند دود، د هغوی اخلاق، رسمونه او رواجونه، ژبي او ژبدودونه، کلتور او ثقافت او د هر ملت ځانګړتياوي معلوم او زده کړای سي.

د استشراق تاريخ: په ځانګړي ډول د ختيځ پيژندني تارخ او د پيل نيټه يې څرګنده نه ده، دې حقيقت ته په کتو سره چي کله غربي نړۍ په صليبي جګړو کي د ماتي سره مخامخ سوه، په همدې وخت کي د اسلامي نړۍ ډير شمير هيوادونه د نړۍ په ختيځ اړخ کي ميشت وه، اسلامي نړۍ د نوري نړۍ په پرتله تر ټولو متمدنه او پرمخ تللې وه، په دې وخت کي غربي نړۍ په دې هڅه کي وه، چي د اسلامي ختيځ تمدن غلا کړي او ګټه ځيني پورته کړي، نو د همدې کبله يې ځيني خلګ ددې لپاره وګمارل، تر څو د اسلامي ختيځ څخه علوم زده کړي، چي دا کار په اوومه (۷) ميلادي پيړۍ کي هغه وخت پيل سو، کله چي صليبيانو خپل بريدونه د مسلمانانو پر خاوره ګړندي کړل په همدې وخت کي فونس دا غوښتنه وکړه: دوی بايد د مسلمانانو علوم زده کړي او د اسلامي تمدن څيرنه بايد وسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شام د اخوان المسلمین پخوانی امیر جنرال ډاکتر مصطفی سباعي په خپل کتاب (الاستشراق والمستشرقون) کي ویلي دي: په دقیقه توګه دا نه ده څرګنده چي لومړنی مستشرق څوک دی، مګر دا خبره په وثوق سره ثابته ده، چي د لویدیځ ځیني مسیحي راهبانو د اسلامي اندلس د اسلامي عظمت او لوړ تمدن په وخت کي هلته د ورتلو اراده کړې وه، تللي وه او د اندلس په مدرسو کي یې د اسلامي علماؤو څخه زده کړي وکړې، مختلف علوم یې ځیني زده کړل، د هغو د ډلي څخه یې فلسفه، طب او ریاضي د خاصي یادوني وړ دي، او بیا کله چي خپلو هیوادونو ته ستانه سول، نو د قرآن کریم او نورو عربي کتابونو ژباړه یې خپلو ژبو ته وکړه، د دغو راهبانو څخه د مسلمانانو لومړنی شاګرد لومړنی مستشرق فرانسوئ راهب جیربرټ دوهم شاګرد پطرس او دریم شاګرد جیرارډ ډي ګریمون وو، په ۱۱۸۷م کال کي تیر سوي دي.

ډاکتر محمد البهي په خپل کتاب (الفکر الاسلامي الحدیث) کي ویلي دي: د لومړي ځل لپاره په ۱۳۱۲م کال کي په اروپا کي د ختیځ پیژندني بنسټ کښیښول سو او په همدغه تاریخ پاپ حکم وکړ: د مسلمانانو او اسلام ژبه یعني عربي باید زده کړل سي، تر څو د هغوی عقائد، دیني اخلاق، عبادات، اقتصادي، سیاسي او اجتماعي قوانین زده کړل سي او بیا د هغه څخه وروسته د اسلامي اُمت په خلاف دیني او معنوي غیري مستقیم جنګ په فاتحانه توګه پیل کړل سي، چي ددې څخه وروسته د اروپا په ټولو مدارسو او پوهنتونو کي د عربي ژبي زده کړه لازمي وګرځول سوه.

په تیرو یو نیم سلو (۱۵۰) کالو کي مستشرقینو په اسلام کي زیات و کم دري شپیته زره (۶۳۰۰۰) کتابونه د اسلام پر بیلا بیلو موضوعاتو لیکلي دي، لکه: قرآن کریم، نبوي احادیث، سیرت، اسلامي فقه، اسلامي تمدن او تهذیب، اسلامي ادب او ثقافت، اسلامي ټولني، اسلامي شخصیتونو، غزواتو، اسلامي فتوحاتو، سیاست، اقتصاد، فقهي مسلکونو، د اسلامي ژوندود، حقوقو، قضاء، تعلیم او تربیه، د اسلامي په ملتونو، عقیدوي، تصوفي او سیاسي فرقو او داسي نورو باندي، دا هر څه یې ددې لپاره کړي دي، چي د اسلام په هکله بشري نړۍ په شک او تردود کي واچوي.

د ختیځ پیژندني اهداف: ختیځ پیژندنه (استشراق) یو لړ مهمي او خطرناکه موخي لري، چي ځیني مهمي او عمده موخي یې په دوه ډوله دي: الف: په کُلي ډول د اسلامي فکر او عقیدې نابودي او له منځه وړل کوم چي د لویدیځوالو او د هغوی د لاس وهل سوو، یعني تحریف سوو دینونو په وړاندي ستر خطر ګڼل کیږي. ب: د اسلام څخه د لویدیځوالو مخ اړونه او د دغه دین د منلو څخه مخنیوئ.

په کُلي ډول د اسلامي فکر او عقیدې له منځه وړل:- ۱: د اسلام د مبارک دین په هکله: لویدیځوال غواړي چي د اسلام د مبارک دین د حقانیت او الهي توب په هکله د بشري نړۍ او بیا په خاصه توګه د مسلمانانو په زړونو کي شک او تردید پیدا کړي. د بیلګي په توګه: ختنځ پیژندونکي خلګو ته داسي وایي: اسلام کوم الهي دین نه دی، بلکي حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د عربي ټولني د پرمختګ او تشخص لپاره جوړ کړی دی، د دغه دین احکام د یهودیت او مسیحیت څخه اخیستل سوي دي او فقهي قوانین یې دروم د پخواني قانون څخه اخیستل سوي دي. (العیاذبالله)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲:ـ د قرآن کریم په هکله: ختیځ پیژندونکي غواړي مسلمانان د قرآن عظیم الشان په هکله په شک او تردید کي واچوي او وایي: قرآن کریم کوم الهي کتاب نه دی او کله چي دوی ته د قرآن کریم هغه تاریخي حقایق مخته راځي چي د پخوانیو اُمتونو په هکله یې کړي دي، نو دوی د مکې د مشرکینو په شان پوچ دلایل وایي: ګویا محمد (صلی الله علیه وسلم) د پخوانیو اُمتونو د احوالو په هکله د چاپیریال د تاریخ پوهانو څخه زده کړه کړې وه. (العیاذبالله)

۳:- د نبوت او نبوي احادیثو په هکله: د یهودي او مسیحي ختیځ پیژندونکو دریمه موخه د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د نبوت په هکله د شک او تردید اچول دي او په ډاګه سره خلګو ته لکه د مدینې منورې د یهودو په څیر داسي خبري کوي: محمد (صلی الله علیه وسلم) د الله (جل جلاله) له خوا مبعوث سوی نه دی، یعني دا هغه نبي نه دی چي الله (جل جلاله) یې په تورات کي یادونه کړې ده. همدارنګه د دوی بله موخه دا ده چي مسلمانان د نبوي احادیثو په هکله شکمن کړي، ځکه دوی پوهیږي چي نبوي احادیث په اسلامي اُمت کي د ټولو قوانینو دوهمه لویه سرچینه ده او کله چي په دې هکله شک او تردید ایجاد کړل سي، نو د احادیثو تشریعي او قانوني حیثیت له منځه ځي، د همدې موخي لپاره ستر یهودي ختیځ پیژندونکي ګولډزیهر دی چي د ټول اسلام دوښمنه ختیځ پیژندونکو رهبر کڼل کیږي، هغه د احادیثو څخه مطلق انکار کړی دی. (العیاذبالله)

۴: د اسلامي اُمت د ائمهُ په هکله: د ختیځ پیژندونکو پنځمه موخه د اسلامي اُمت د ائمهُ د علمي حیثیت او د هغوی د صادقانه دیني خدمتونو په هکله د مسلمانانو شکمن کول دي. د بیلګي په توګه: ګولډزیهر ختیځ پیژندونکي د اسلامي عالم امام زهري په هکله ویلي دي:

هغه بني اُمیه ته او په ځانګړي ډول عبدالملک ته د خپل ځان څخه احادیث جوړول او د هغوی د خوشالتیا لپاره به یې موضوعي احادیث جوړول په داسي حال کي چي د اسلامي اُمت په نزد امام زهري د حدیثو د روایت کوونکو د ډلي څخه د ټولو څخه ډیر ثقه شخصیت دی. همدارنګه همدې ختیځ پیژندونکي ګولډزیهر د امام اعظم ابوحنیفه (رحمة الله علیه) په هکله ویلي دي: امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه) د اسلامي تاریخ څخه دومره ناخبره وو، حتا دا نه وه ورته معلومه چي د بدر غزا لومړی تیره سوې وه او که د احد غزا په داسي حال کي چي د امام صاحب (رحمة الله علیه) شاګردانو امام ابو یوسف او امام محمد شیباني (رحمة الله علیهم) د غزواتو په هکله ستر ستر کتابونه لیکلي دي، نو دا به کوم عقل ومني، چي شاګردان دي پر غزواتو کي دومره ستر ستر کتابونه ولیکي او اُستاذ دي یې د غزواتو څخه نه وي خبر! (العیاذبالله)

د ختیځ پیژندني وسائل: ختیځ پیژندنه ډیر زیات وسایل لري، چي د هغو پواسطه ختیځ پیژندونکي خپلي موخي لاسته راوړي، چي دغه وسایل پر دوه برخو ویشلای سو: **الف:** مستقیم وسایل: دغه وسائل په ښکاره ډول د یوې ځرګندي پدیدې په توګه په لاندي شیانو کي شتون لري:ـ ۱: کتابونه. ۲: نړیوال دایرة المعارفونه او ستر ستر معاجمونه. ۳: ورځپاڼي، مجلې او خپروني. ۴: انجمنونه، لیدنه کتنه او کنفرانسونه. ۵: د اسلام د مبارک دین په هکله د شک او شبهې رامنځته کول. ۶: اسلامي فقهي او عربي ژبي ته بد او رد ویل او د اسلامي فقهاؤو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترور. ۷: د اسلام د تاریخ څخه دمخه د زړو تاریخي آثارو بیارغونه. **با:** غیري مستقیم وسایل: دغه وسایل د مستقیمو وسایلو په پرتله ډیر ژوندي او خطرناکه ګڼل کیږي، دغه وسایل دومره پټ او مرموز دي، چي اغیزې به یې د ډیري مودې د تیریدو څخه وروسته ښکاره سي، دغه وسائل کولای سو په لاندي ټکو کي تر څیړني لاندي ونیسو:

۱: هغه پوهنتونونه چي ختیځ پیژندونکو جوړ کړي دي او یا هغه ځانګي چي د همدې موخي لپاره په غربي پوهنتونونو کي جوړي سوي دي. ۲: د دغو پوهنتونونو هغه شاګردان چي مسلمانان دي، د ختیځ پیژندونکو څخه یې زده کړه کړې ده او ددې پوهنتونونو څخه فارغ سوي دي، د ختیځ پیژندني د افکارو او بنسټونو په خپرولو کي داسي مهم رول لوبولای سي، چي د هغو ختیځ پیژندونکي اُستاذان هم ځیني عاجزه دي، ځکه دوی په اسلامي جامه کي د اسلام د اولادنو په توګه د اسلام او د اسلامي بنسټونو په وړاندي فعالیتونه تر سره کوي، دیني سپیڅلو بنسټونو ته ضربه رسوي، د الله (جل جلاله)، رسول الله (صلی الله علیه وسلم)، قرآن کریم او حدیث، اسلامي فقه او د سترو سترو اسلامي شخصیتونو په هکله شک او تردیدونکي خبري کوي.

د ختیځ پیژندونکو پیژندنه: ختیځ پیژندونکي هغه غربي پوهان دانشمندان دي چي خپلي صلیبي جګړې کینې او تعصب دې ته اړ کړي دي، تر څو د ختیځ اسلامي نړۍ د علومو، عاداتو او فرهنګ په برخه کي څیړنه او تحقیق تر سره کړي، ځکه دوی په دې عقیده دي چي تر څو د دوښمن یعني مسلمانانو علوم، فرهنګ او عاداتو په برخه کي ژوره څیړنه تر سره نه سي، تر هغو پوري موږ نه سو کولای مسلمانان له منځه یو سو، نو ځکه دوی غواړي تر څو د اسلام مبارک دین ته صدمه ورسوي، اسلام له منځه یو سي، د اسلام په هکله حقایق تحریف کړي او پر ځای یې خپل لاس وهل سوي منسوخ دینونه په نړۍ کي حاکم کړي، نو د همدې موخي د لاسته راوړلو لپاره دوی لومړی د اسلام د مبارک دین په هکله څیړنه کوي، اسلامي علوم زده کوي او بیا وروسته د اسلام د مبارک دین او د هغه د مصادرو په هکله مختلفي تردیدونکي لیکني کوي، کتابونه لیکي، د خپرنیزو وسایلو څخه په ګټه اخیستني سره تبلیغات کوي. ختیځ پیژندونکي د مختلفو ډولو او طبقو څخه جوړ سوي دي، همدارنګه د دوی موخي هم یو د بل په پرتله مختلفي دي.

د بیلګي په توګه: نصارا ختیځ پیژندونکي غواړي چي د نصرانیت دین ته او همدارنګه د دغه دین د خپرونکو موخو ته خدمت وکړي، دوهمه ډله یهودي ختیځ پیژندونکي د یهودیت د موخو او اهدافو د لاسته راوړلو په منظور فعالیت کوي، همدارنګه د ملحدو او کمونستو ختیځ پیژندونکو موخي دا دي چي الحاد خپور او د الله (جل جلاله) سره د خلکو هر ډول اړیکي پرې کړي. د دغو ټولو ډلو یعني ختیځ پیژندونکو تر ټولو لویه موخه که هغه مسیحي، یهودي یا ملحد ختیځ پیژندوکي دي، یوازي او یوازي د اسلام د مبارک دین له منځه وړل او په اسلامي عقیده باندي د مسلمانانو د منګولو د لګولو څخه مخنیوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تنصير (تبشير)

تبشير يعني تنصير: تبشير يوه عربي كلمه ده، چي د ښه خبر يا زيري معنا ورکوي، او په اوسني نوي اصطلاح کي دغه لفظ د ديني دعوت لپاره استعمال سوی دی، نو مسيحي استعماري مستشرقينو د خلګو د دوکه کولو په خاطر دغه زړه وړونکې کليمه د خپل ګمراه کوونکي مسيحي دعوت لپاره غلطه استعمال کړې ده، او بي خبره وګړو ته دا په ذهن کي ورکوي، چي دغه تحريک دوی ددې لپاره پيل کړی دی، چي بشريت ته د بدمرغی څخه نجات ورکړي، حق دين او سعادت ته يې ورسوي، نو د خپلو شومو او اسلام دوښمنه اهدافو د ترلاسه کولو په خاطر يې پر خپل دغه اسلام دوښمنه تحريک د تبشير نوم ايښی دی، د تبشير معنا غامضه او د مختلفو معنا لرونکې ده، نو دوی خپل تحريک ته همدغه لفظ او نوم انتخاب کړ، څو په آسانتيا سره په مختلفو تعبيرونو کولو خلګ وغولوي، تنصير نصراني کولو يا عيسوي کولو ته وايي.

د تنصير تعريف: تنصير عبارت د هغه دعوت يعني بلني څخه دی چي صليبيانو د ټولو خلګو په ځانګړي ډول د مسلمانانو په منځ کي ددې لپاره په لاره اچولی دی، تر څو هغوی د نصرانيت دين ته واړوي، نو ځکه يې د حقيقت د پټولو او د عامو خلګو د غولولو لپاره پر دغه دعوت د تبشير نوم ايښی دی، چي د تبشير کلمه په عربي ژبدود کي د زيري ورکولو په معنا ده.

د تنصير تاريخ: د تنصير غورځنګ د صليبي جګړو، ختيځ پيژندني او ښکيلاک څخه وروسته رامنځته سو، دغه غورځنګ د مسلمانانو د عقيدې او فکر له منځه وړلو لپاره خپله وړه په وړه مرسته د ختيځ پيژندني د غورځنګ سره چي هغه هم د همدې موخي لپاره کار کوی، اعلان کړه، همدارنګه د تنصير غورځنګ د ښکيلاک د غورځنګ سره همغږي لري، يعني يو د بل لپاره سريزه ګڼل کيږي. د تنصير مفکوره د ختيځ پيژندني څخه د مخه زيږيدلې ده، ختيځ پيژندنه د صليبي جګړو څخه د مخه د مسلمانو جنګياليو د څيړني لپاره رامنځته سوې وه، مګر تنصير او ختيځ پيژندني يو د بل سره اوږه پر اوږه خوځښت کړی دی، د همدې کبله ويلای سو: تنصير د صليبي جګړو د ناکامی څخه سرچينه اخلي.

په دې هکله يو اسلامي څيړونکي ډاکټر عرفان عبدالمجيد ويلي دي: د تبشير غورځنګ د ختيځ پيژندني د غورځنګ څخه وروسته رامنځته سوی دی، ځکه چي ختيځ پيژندنه د صليبي جګړو څخه دمخه رامنځته سوې ده او د صليبي جګړو په اوږده موده کي يې د مسيحي جنګياليانو سره د اندلس په مستعمره کولو کي په زړه پوري مرسته کړې وه، دغه جګړې ختيځ پيژندونکو رهبري کولې، مګر تنصير د صليبي جګړو د ناکامی څخه وروسته رامنځته سوی دی او د اسلامي اُمت په خلاف دغه نوې حربه د لومړي ځل لپاره د ۱۲٦٦م کال سره سم تبارز کړی دی، په داسي حال کي چي ختيځ پيژندني په منظم ډول د ۱۲۰۲م کال سره سم په فعاليت پيل وکړ او د هغه څخه دمخه کابو دوه سوه (۲۰۰) کاله غيري منظمه روان وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تبشیر بنسټ اینبودونکی او د بنسټ لومړی مرکز یې: د تبشیر د بنسټ کښیښنولو لومړی مرکز د البانې هیواد دی، چې په ۱۸۵۴م کال کې دغه طاغوتي غورځنګ په همدې هیواد کې په منظم ډول پیل کړل سو او د تبشیر لومړنی بنسټ ایښودونکی د البانیه مشهور مسیحي فیلسوف راجر بیکن وو، اګر که د تبشیر لومړنی مفکر د مسیحي کاتولیکانو مشهور پاپ قدیس پطرس دی او هغه په ۱۲۱۳م کال کې د جګړې په بدل کې د اسلامي اُمت د معنوي تباه کولو لپاره د تبشیر د غورځنګ نظریه او اندود ابراز کړې وه، مګر په هغه موده کې د نوموړې دې نظریې ته چا چنداني آرزښت ور نه کړی او په عمومي توګه د مسلمانانو د تباهۍ لپاره جګړه خورا غوره او فیصله کوونکې لاره وګڼل سوه.

د تنصیر موخې او وسائل:- ۱: د تنصیر موخې: د تنصیر موخې ځرګندې او معلومې دي، مسلمانان د اسلام څخه مسیحیت دین ته واړوي ګمراه یې کړي، کله چې د تبشیر دغه موخې په خپله د تبشیر یو مشر اډوین بلس په خپل کتاب (الغارة علي العالم الاسلامي) کې په ځرګندو الفاظو کې بیان کړي دي، داسي یې ویلي دي: زه هڅه کوم او دا زیار باسم چې مسلمان په عقیدوي توګه د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) څخه حضرت عیسی (علیه السلام) ته واړوم.

د تنصیر موخې کولای سو په داسې لنډ ډول سره ذکر کړو:- ۱: د اسلامي عقیدې او فکر له منځه وړل او د تثلیث د عقیدې خپرول. ۲: د اسلام په وړاندې د مسلمانانو په مینځ کې د بې اعتمادي او تزلزل رامنځته کول. ۳: د قرآن کریم تحریفول او د هغه څخه د مسلمانانو لیري کول. ۴: د حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) د نبوت په هکله د شک خپرول. ۵: د حکومتي نظام څخه د اسلامي شریعت له منځه وړل. ۶: د اسلامي ټولنې څخه د اسلامي کړنلارو، اخلاقو او تعالیمو لیرې کول. ۷: نصراني ټولنو ته د اسلام د خپریدو څخه مخنیوی. ۸: د نصرانیت د بنسټونو په اساس د هیوادونو د وګړو ایزو چارو رهبري کول.

۲: د تنصیر وسائل: هغه وسائل چې مسیحي دعوتګران یې د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره کار ځیني اخلي هغه په لاندې ډول دي:- ۱: مدرسې: هغه مدرسې او پوهنتونونه چې مسیحیانو د مسلمانانو د غفلت او ناپوهۍ له امله په اسلامي هیوادونو کې د خپلو موخو د لاسته راوړلو په منظور رامنځته کړې دي. ۲: مجلې: لکه د العالم الاسلامي مجله چې د پاریس څخه خپرېږي او په همدې ډول نورې مجلې چې د غربي فکر په خپرولو کې فعاله ونډه لري. ۳: د زده کړو غربي کول: په دې معنا چې دوی غواړي چې هم د نصاب له پلوه او هم د هدف له پلوه په اسلامي هیوادونو کې تعلیم ته غربي بڼه ورکړي. ۴: تعلیمي بورسونه: په دې بورسونو سره نصرانیان کولای سي، چې د نوي او خامې مفکورې لرونکي ځوان مسلمانان په آساني سره د خپلو موخو لپاره وکاروي. ۵: اسلامي هیوادونو ته د طبي ډلو لیږل او هلته د روغتونونو جوړول. ۶: کتابونه، ورځپاڼې، راډیو ګاني او داسې نور... اطلاعاتي وسائل. ۷: د کنفرانسونو او سیمینارونو جوړول. ۸: د سپورټي او فرهنګي انجمنونو جوړول. ۹: داسې نور... پټ او ښکاره وسائل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فکري جګړې وسایل، موخې، خطر او اهداف

لکه څنګه چې په پوځي جګړه کې پوځي وسائل:- لکه: پوځیان، توپ، ټانګ، طیاره، بم، بارود، ګولۍ، ټوپک، پوځي ټکنالوژي او پوځي استحکام د ماهرو او روزل سویو پوځي افسرانو له خوا کارېږي، همدا ډول په فکري جګړه کې فکري وسائل لکه: راډیوګاني، تلویزونونه، سینماګاني، تیاترونه، انټرنټ، سټلایټ، د فلم جوړوني کمپنۍ، سیاست، جنس (سیکس) او په هر څه کې د ښځي استعمال او دې ته ورته نور وسائل د ماهرو او روزل سویو خلګو له خوا په پوره مهارت د مسلمانانو په خلاف استعمالیږي، د اسلام او مسلمانانو په خلاف د فکري جګړې میدان دومره پراخ دی چې د انساني ژوند ټول اړخونه یې نیولي دي.

د فکري جګړې شعار: ددې جګړې مسؤلین د خلګو د دوکه کولو او د عمومي افکارو د تر لاسه کولو لپاره ځیني شعارونه پورته کوي، لکه: پرمختګ، تمدن، اصلاح غوښتنه، آزادي، د فکر آزادي او د پخواني مفکورې مخالفت، نړیوالتوب، د بیان آزادي، عدالت، مساوات، بشري حقوق، د ښځو حقوق، مدني ټولنه، قانونیت، ترقي، ډیموکراسي او دې ته ورته نور خطاء ایستونکي شعارونه چې بې له دوکې او فریب څخه بل څه نه دي.

د فکري جګړې خطر: د غرب فکري جګړه د غرب تر عسکري جګړې ډېره خطرناکه ده، ځکه غربیانو په خپلو عسکري استعماري جګړو کې یوازي زیرمي غلا کولې، کورونه یې ورانول، خلګ یې وژل، چې دې هر څه به د مسلمانانو په زړونو کې نوره هم د دوی په اړه کرکه ډېرول، پر خپل اسلام به نور هم ټینګیدل او د مقاومت لپاره به تیاریدل، که څه هم چې جګړه به په پیړیو پیړیو اوږده سوه، مګر د فکري جګړې خطر په دې کې دی چې دغه جګړې مسلمانان د غرب په زهرجن تمدن ولړل، په مسلمانانو کې یې الحادي نظریات، بې دینه فرهنګ او لویدلي اخلاق خپاره کړل، نوی نسل یې د اسلامي مفاهیمو سره داسي ناآشنا کړ، چې د اسلام شریعت، عقاید، تاریخ او تمدن هر څه ورته پردي ښکاري، په هر څه کې د غرب په فلسفه او معیارونو باندي باور لري، او تقلید یې کوي، فکري جګړې یې وجدان او ضمیر ته داسي ماته ورکړې ده، چې اوس د غرب هر څه ورته حق او صحیح ښکاري.

د هغه خپلول ترقي او تمدن ګڼي او هر څه چې د غرب خلاف دي هغه ته ارتجاع، حماقت او بیرته پاته والی وایي، غرب د فکري جګړي په نتیجه کې په اسلامي هیوادونو کې داسي یو نسل رامنځته کړ، حکومتونه او د چارو واګې یې وروسپارلې، چې د غرب د استعمار ښه ځای ناستي ثابت سول، د دغه نسل افکار، نظریات، د ژوند اخلاقي، اجتماعي، سیاسي او اقتصادي فلسفه یې د مستعمرینو څخه هیڅ فرق نه لري، د مسلمانانو په ځپلو او تعذیبولو کې تر مستعمرینو هم ډېر سخت زړه دي، په فکري جګړه کې د مسلمانو هیوادونو دغه ماته خوړلي نسل اسلام او مسلماني نړۍ ته دومره تاوان ور ورسوی، چې د چنګیز تر غمیزي وروسته هیڅکله هم ورته په دې پیمانه نه ده ورسیدلې، دغه ماته خوړلی نسل د مسلمانانو د ژوند ټول معیارونه پردي کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فکري جګړې موخې: د فکري جګړې بنسټيزه او تل پاتې موخه د مسلمانانو د ژوندانه څخه د اسلامي عقيدې او فکر له منځه وړل دي، په اسلام باندې د مسلمانانو د کلک باور له منځه وړل او بالاخره د اسلام د سپيڅلي دين څخه د مسلمانانو اړول دي، د هغه اسلام څخه چې هم عقيده ده، هم روش او هم تګلاره ده، چې ددې جګړې د پړاونو په پام کې نيولو سره کولای سو ددې جګړې موخې په لاندې ډول تر څېړنې لاندې ونيسو:

١:ـ لويديځ ملت ته د اسلام د مبارک دين د خپراوي څخه مخنيوی: د اسلام د مبارک دين يوه د مهمو ځانګړتياوو څخه دا ده چې دغه دين د فطرت دين دی، ځکه نو پاک زړونه او سليم انساني طبيعتونه دغه دين ته په ډېره مينه او خوښه سره غيږ خلاصوي او په دغه مبارک دين باندې مشرف کيږي، لکه څنګه چې د اسلام مبارک دين د الهي او حقاني خصلت له مخې په دې ورستيو کې په ډېره چټکې سره په اروپايي هيوادونو کې مخ په خپريدو سوی دی، چې يو لامل يې هم د صليبي جګړو څخه مخکې کله چې اسلامي لښکري د اروپا زړه ته ورسيدلي وې، نو د اسلامي لښکرو د قوماندانانو او فوځيانو اخلاق، رويه، کارنامو او انساني چلند ډيرو خلکو ته د اسلام د مبارک دين په هکله نيک نظرونه پيدا سوي وه، د اسلام او مسلمانانو حقانيت دې ته اداره کړي وه، تر څو د اسلام په مبارک دين باندې مشرف سي، نو دغه وضعي مسيحي او صليبي دعوتګرانو ته دا بيره پيدا کړه، ويل هسې نه چې د اروپا په لويه وچه کې اسلام د نصرانيت ځای ناستی سي، په دې وخت کې دوی دا وپتيله بايد مخکې تر دې چې اسلام زموږ کورونو ته راورسيږي، موږ بايد مخکې له مخکې هغه د خپل ټاټوبي اسلامي هيوادونو او د مسلمانانو زړونو څخه حذف يعني ليري کړو، د همدې موخې د تر لاسه کولو لپاره يې خپل ټول توان او طاقت، وسائل، مدارک او لاري چاري يې وسنجولې وروسته يې د اسلامي اُمت او اسلام په وړاندې هر اړخيزه ديني، اقتصادي، فرهنګي معنوي او مادي جګړه پيل کړه.

٢:ـ د اسلام د اصلي څهرې په هکله خلک په اشتباه کې اچول: دغه موخه د لومړنی موخې لويديځ ملت ته د اسلام د مبارک دين د خپراوي څخه د مخنيوي لپاره وسيله او سريزه ګڼل کيږي، چې په حقيقت کې د اسلام د دوښمنانو له خوا د اسلام د حقيقي څهرې بدنامول د اسلام يو برخې او يا يو رکن پوري اړه نه پيدا کوي، بلکې دغه اسلام دوښمنه صليبيان هڅه کوي، تر څو د قرآن کريم، سنت، د حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د مبارک شخصيت او اسلامي فقهې څخه نيولې بيا تر ټولو هغو شيانو پوري چې اسلام د ځانه سره راوړي دي، د دغو ټولو په هکله مردود تبليغات تر سره کړي، تر څو ټولو نړيوالو ته دغه دين د يو داسي دين په توګه ور وپيژني، تر څو د يوې خوا نړيوال د دغه دين منلو ته زړه ښه نه کړي او د بلې خوا په خپله مسلمانان د دغه دين سره په کراره کراره اړيکې پرې کړي.

٣:ـ د اسلامي اُمت په تاريخ، اوسني حالت او راتلوونکي کې شک پيدا کول:ـ **الف:** د اسلامي اُمت په تاريخ کې شک پيدا کول: دوی داسي فکر کوي ددې لپاره چې د مسلمانانو اړيکې د خپل ځلانده تاريخ سره پرې سي، نو بايد د دوی تاريخ ورته شکمن کړي، د فخر ځايونه تر پښو لاندې سي، د سهوو او تيروتنو ځايونه په سرو ليکو سره خلکو ته په ډاګه سي، دا ټول کارونه ددې لپاره کوي، تر څو نوي مسلمان نسلونه د خپل ځلانده تاريخ د ښيګڼو څخه ناخبره،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ظلمونو او ستمونو باخبره وساتي، چي په دې سره بيا نوي ځوان ته خپل تاريخ د ظلمونو او کړاونو څخه ډک بريښي او خپله سابقه توره تياره ورته ښکاري، چي په دې کار سره دغه ځوان ښايي کرار کرار د خپل دين سره اړيکي پرې کړي. **با:** د اسلامي اُمت په اوسني حالت کي شک پيدا کول: هو کې**!** غربيان يوازي په دې سره بسنه نه کوي، چي د اسلام ځلانده تاريخ د خلګو په وړاندي بد او ناوړه معرفي کړي، بلکي دوی هڅه کوي، تر څو د مسلمانانو اوسنی حالت هم بد او وروسته پاته معرفي کړي، نو داسي خبري کوي چي ګويا د اسلام اوسنی اقتصادي نظام وروسته پاته دی او د اوسني ټولني غوښتنو ته جواب نه سي ويلای، نو بايد چي غربي اقتصادي نظام ته مراجعه وسي او داسي نوري بيلګي چي په دې کار سره هم دوی غواړي مسلمانان کرار کرار د خپل دين سره اړيکي پرې کړي او د بې دينۍ په جال کي راګير سي. **جيم:** د اسلامي اُمت په راتلوونکي کي شک پيدا کول: وروسته تر دې چي دوی د اسلامي اُمت تير او اوس شکمن کړي، نو بيا لازمه بولي تر څو مسلمانانو ته د هغوی په راتلوونکي کي هم شکونه پيدا کړي. د بيلګي په توګه: غربيان مسلمانانو ته داسي وسوسې پيدا کوي، چي کله د يوه دين يا يوه نظام تير تاريخ او اوسنی حالت داسي ناوړه او وروسته پاته وي، نو راتلوونکی خو به يې بيله شکه د وحشت او وروسته پاته توب سره مخامخ وي، چي په دې کار سره د ډيرو ناپوهه او ناخبره مسلمانانو په زړونو کي اسلام په ريښتيني ډول يو وروسته پاته، تاريخ تيری او نړيدلی نظام ښکاري او په کرار کرار په خپله د دغه دين سره خپلي اړيکي پرې کوي.

۴:ـ د اسلامي اُمت هويت له منځه وړل: کله چي يو ملت د هغوی د تاريخ، اوسني حالت او راتلوونکي په هکله شکمن کړل سي، وروسته د هغه ملت د هويت د ويلي کيدو دوره پيل کيږي، ځکه کله چي اسلامي اُمت خپل هويت د لاسه ورکړي، د خپل طبيعت څخه ليري په بل لوښي کي وځځيږي او عقيده يې خپله اصلي بڼه د لاسه ورکړي، نو په همدې وخت کي ټول کفري ځواکونه ځان ته دا حق ورکوي، چي زموږ ملتونه د يو نامعلوم مسير په لور توجيه کړي، ځکه هغوی خپل کلتور واجب الاحترام او د اقتدار وړ يوازينی لاره ګڼي، د همدې لامل په اساس مسلمانان مجبوروي چي خپل شخصيت د هغوی په شخصيت کي ويلي کړي، د کفري فکري جګړې پوهان شپه او ورځ د مسلمانانو د مځکي د لاندنيو او بحرنيو شتمنيو د لوټولو لاري چاري لټوي، بلاخره دوی غواړي چي خپله اصلي موخه لاسته راوړي، چي هغه عبارت د همدې موخي څخه ده.

۵:ـ د اسلامي خوځښتونو يعني تحريکونو له منځه وړل: لکه څنګه چي زموږ ګران پيغمبر حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) فرمايلي دي: زما په اُمت کي به يوه ډله وي، چي دغه ډله به تل د حق د ملاتړ لپاره د قيامت تر ورځي پوري مبارزه يعني جهاد کوي. نو که نن ورځ اسلامي اُمت څومره په ناوړه شرايطو کي ژوند کوي، د اسلام د دوښمنانو مکر، حيلې او دسيسې د دوی په وړاندي رواني وي، بيا هم اسلامي اُمت د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د پورتنۍ وينا د تحقيق لپاره داسي سرتيري او په دين مين ځوانان لري، چي خپل شيرين ځانونه د الله سبحانه وتعالی په لاره کي نذرانه کوي او سر په لاس د حق په ملاتړ کي مبارزه کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ریښتیني توګه د همدې خلګو مصداق نن ورځ د اسلامي نړۍ فعاله اسلامي خوځښتونه دي، چې د اسلامي اُمت د یووالي، د اسلام حقیقت ته د مسلمانانو د رسولو او د اسلام د دوښمنانو د دسیسو د بربنډولو په لاره کي نه ستړي کیدونکي هلي ځلي کوي، نو همدې حقیقت ته په کتو سره د اسلام دوښمنانو درک کړې ده چي ګویا تر څو په اسلامي ټولنو کي دغه اسلامي خوځښتونه د دینداره او باخبره مشرانو تر مشرۍ لاندي شتون ولري، تر هغه پوري پر اسلامي اُمت باندي زموږ برۍ به ناشونې وي، همدا لامل دی چي د اسلام دوښمنان خپلي نهایي هڅي ددې لپاره په کار اچولي دي، تر څو پر دغو اسلامي خوځښتونو باندي داسي داغونه ولګوي او داسي نومونو باندي یې ونوموي، تر څو د دغو خوځښتونو مشران او غړي د مسلمانانو د نفرت سبب وګرځي او د عامو مسلمانانو د محبوبیت څخه یې بې برخي کړي. د بیلګي په توګه: د دغو خوځښتونو مشران او لارویان په ډول ډول نومونو لکه: د پردیو غلامان، تروریستان، ورانونکي، د خپل هیواد د ګټو دوښمنان او داسي نورو... ناوړو نومونو باندي نوموي، تر څو عام مسلمانان د هغوی د ملاتړ څخه منصرف سي، چي په پایله کي یې په خپله دغه خوځښتونه یا خو کمزوري او یا هم له منځه ځي.

٦: د اسلامي علماؤو ترور او وژنه: ددې لپاره چي په اسلامي ټولنه کي د دین د بنسټونو د ژوندي ساتلو په خاطر تر ټولو لویه شتمني اسلامي حقاني علماء او پوهان کنټل کیږي، نو غربي او صلیبي ښکیلاکګر د دغو علماؤو ترور او وژنه خپلو موخو ته د رسیدو لپاره یوازینۍ لاره ګڼي چي ددې کار لپاره دوی هر وخت دغه علماء په مختلفو نومونو سره نوموي، تر څو د خلګو د نفرت سبب وګرځي او یا خو یې په خپله په مختلفو لارو چارو سره دغه علماء ترور او له منځه وړي، چي نن ورځ موږ ټول د همدې واقیعت عیني شاهدان یو څکه نن ورځ زموږ ډیری علماء د تروریست، وحشتګر او یاغي په نوم بندیان او یا په شهادت رسیږي.

٧: نشنلیزم (قومپالني) ته بلنه: صلیبي او غربي استعمارګران هڅه کوي، تر څو د مسلمانانو د غوټي په څیر یووالی او وحدت دړي وړي کړي، هغوی په قومونو، ژبو، مذهبونو او توکمونو سره وویشي، تر څو دوی وکولای سي چي د دغه ویشل سوي ملت د هري ډلي په وړاندي په ځانګړي ډول مقابله وکړي، چي د دغه کار ښه بیلګه د عثماني خلافت پر مهال د اسلام د دوښمنانو له خوا د عرب قوم لمځول وه، په دې شکل چي دوی به عربانو ته ویل: تاسي د مسلمانانو باعزته قوم یاست او ستاسو ژبه پاکه ده، نو تاسي باید د خلافت چاري په لاس کي واخلی نه ترکان! چي بلاخره عرب قوم ددې غلطو لمځونو په پایله کي د ترکانو په خلاف راوپاڅیده او په پایله کي د اسلامي اُمت د هیلو وروستنی تمثیلونکی اسلامي خلافت په کوچنیو کوچنیو هیوادونو تقسیم او بلاخره له منځه ولاړی. د عثماني خلافت په ړنګیدو سره بیا هم د غربي استعمارګرانو تنده ماته نه سوه، بلکي په اوسنی دور کي هم د اسلامي اُمت په منځ کي د غربیانو له خوا د نشنلیزم (قومپالني) لپاره هڅي په ډاګه او ښکاره شکل سره رواني دي، چي ددې کار لپاره یې په اسلامي هیوادونو کي مختلف ګوندونه د قوم، ژبي او مذهب د پالني په نومونو سره رامنځته کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د فکري جګړې اهداف:** غرب د لاندي اهدافو لپاره په اسلامي نړۍ کي د عسکري جګړې تر څنګ  فکري جګړه پیل کړې ده.

لومړی هدف: په مسلمانانو کي د غرب په مقابل کي د مقاومت روحیه له منځه وړل: غربیان په دې پوهیږي چي تر څو د مسلمانانو په ذهنونو کي د حُریت احساس وي، د جهاد، هجرت، شهادت او قربانۍ فرهنګ یې د فکر منځپانګه تشکیلوي، تر هغه پوري به په روحي او معنوي لحاظ ځان د هر یرغلګر مقابلې ته تیار بولي، په دې لاره کي به هر ډول مالي او ځاني قربانیو ته حاضریږي، مګر که یو ځل یې دغه مفاهیم د فکر څخه د فکري جګړې د وسائلو د لاري وایستل سي، بیا که هر څومره په مادي وسائلو او پوځي امکانات سمبال هم سي، د دوښمن مقابلې ته نه تیاریږي، لکه اوس چي همدغه روحیه د ټولو غرب ځپلو اسلامي ټولنو په ځوانانو او پوځونو کي لیدل کیږي. د اسلام په تاریخ کي وګورو مسلمانان هر وخت د لږو افرادو، او کمزورو پوځي وسائلو په درلودلو د زورورو دوښمنانو مقابلې ته په میړانه تیار سوي دي، او د الله (جل جلاله) په فضل یې جګړې هم ګټلې دي، ځکه چي په هغه وخت کي په مسلمانانو کي په اجتماعي ډول د مقاومت روحیه ژوندۍ، معنویات یې سرشاله او څپانده وه، مګر اوس د اسلامي هیوادونو په میلیونونو پوځونه د لوړو پوځي مهارتونو او پرمختللو جنګي وسائلو سره سره بیا هم د دوښمن په مقابل کي د دریدلو توان نه لري، اصلاً نه غواړي چي د دوښمن په مقابل کي ودریږي، بلکي دا ورته ښه ښکاري چي د خپلو ملتونو په خلاف د یرغلګر دوښمن په صف کي ودریږي، دا ځکه چي فکري جګړې د هغوی څخه د مقاومت روحیه سلب کړې ده، هغوی په داسي ډول روزل سوي دي، چي باید د اسلام د دوښمنانو د اهدافو لپاره کار وکړي نه د اسلامي اهدافو لپاره.

دوهم هدف: مسلمانان د اسلام پر دین، تمدن او انساني آرزښتونو باندي شکمن کول: غرب غواړي چي مسلمانان دي په دین، عقیده، اخلاقو، فکري آرزښتونو، ټولنیزو مناسباتو کي د دوی په څیر وي، او په هر څه کي دي د غربیانو تقلید وکړي، په دې کار به د یوې خوا د غربیانو په خلاف د مسلمانانو په زړونو کي کرکه او کینه ورکه سي، او د هغوی د استعماري پلانونو مخالفت به نه کوي، او د بل لوري به ټوله اسلامي نړۍ د غربي مصنوعاتو لپاره په لوی استهلاکي او مصرفي مارکیټ بدله سي، ځکه چي د مسلمانانو د ژوند ضرورتونه به هم په هغه صورت کي د دوی په څیر وي، دا چي مسلمانان به یې خپله نه سي جوړولای، او یا به یې په ښه کیفیت او آرزانه بیه بازار ته نه سي عرضه کولای، نو ټول مارکیټ به د غرب د صنعت پر مخ خلاص وي، مګر په اسلامي نړۍ او اسلامي اُمت کي اسلامي شریعت، اسلامي عقیدې او اسلامي تمدن د غرب د دغو اهدافو د تحقیق مخه نیولې ده، ځکه چي مسلمانان د خپل ژوند هر څه باید د خپل شریعت مطابق او د خپلي عقیدې په رڼا کي د اسلامي ژوند دود، او اسلامي تمدن د غوښتنو سره سم عیار کړي، دا کار بیا د مسلمانانو څخه یو بیل ملت او جلا اُمت جوړوي، چي هر څه یې باید د صلیبي غرب څخه مختلف وي، ځکه چي اسلام خپل پیروان د کفارو سره د مشابهت څخه منع کوي، د خپل دین په اصولو او ادابو یې ټینګ پاته کیدلو ته تشویقوي، ددې لپاره چي غرب د مسلمانانو او کفارو تر منځ دغه جلاوالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

له منځه وړی وي، کوښښ کوي چي د فکري جګړې د لاري د اسلامي اُمت ځوانان په خپل دين، عقيده، اخلاقو، تمدن او لوړو انساني آرزښتونو شکمن کړي، او په ډول ډول منفي تبليغاتو د اسلام حقانيت او د شريعت افاديت تر پوښتني لاندي راولي، په دې لار کي يې د فکري جګړې ټول وسائل په کار اچولي دي، تر څو مسلمانان پر خپل دين بدګومانه کړي، د سيکولريزم، ليبراليزم، ماډرنيزم، ډيموکراسی او نړيوالتوب د لاري يې په هر څه کي د غرب د خبري منلو ته ور واړوي.

دريم هدف: غربی ټولنو ته د ريښتني او مکمل اسلام د رسيدو مخنيوی: د غرب حکومتونه او مسيحي کليساوي په دې ښه پوهيږي، چي اسلام د خپل فطرت او معقوليت له امله په هره سيمه او ملت کي د منل کيدو وړتيا لري، مګر په دې شرط چي په ريښتني او مکمل ډول ور ورسيږي. د نړۍ د ډيرو هيوادونو لکه: د هندوستان، بنګال، برما، تايلند، ماليزيا، اندونيزيا، فلپين، برونائي او د منځنۍ افريقا د ډيرو هيوادونو خلګو اسلام د دعوت د لاري منلی دی، هلته هيڅ فاتح لښکر نه دی ورغلی، چي د پوځي فتحي په نتيجه کي يې هلته اسلام خپور کړی وي، بلکي خلګو په خپله د اسلام معقوليت، حقانيت او افاديت ليدلی او بيا يې منلی دی. په صليبي غرب کي اوس همدا بيره خپره ده چي که اسلام په ريښتني او مکمل ډول غربي ټولنو ته چي د مسيحيت د نامعقوليت او استبداد څخه ستړي سوي دي ور ورسيږي، ليري نه ده چي د غرب معقول او باسواده خلګ به يې چي د حق موندني په تلاش کي دي ومني، په يومخيز ډول به مسيحيت او ماديت پريږدي، او اسلام ته به مخ ور واړوي، چي بيا به ددې څپې مخه نيول ورته ناممکنه وي، ځکه چي همدا اوس په غرب کي ډير خلګ د اسلام په اړه په مطالعه او څيړنو بوخت دي، او په زرګونو يې په هر کال کي مسلمانيږي، ددې لپاره چي غربيانو اروپا او امريکا ته د ريښتني او مکمل اسلام د رسيدو مخه نيولې وي، دوی دغه لاندي درې (۳) کارونه تر سره کوي:

۱: د غرب سياسي، فکري او ديني قيادتونه کوښښ کوي، چي د خپل هر ډول سياسي، اقتصادي، پوځي او نړيوال نفوذ څخه په استفاده د اسلامي نړۍ حکومتونه دې ته مجبوره کړي، چي په خپلو هيوادونو کي داسي تعليمي نصابونه رائج کړي، چي په هغو کي حقيقي اسلام ځای ونه لري، علماء، دعوتګران، ديني مدارس، اسلامي تنظيمونه، چاپخانې او نور جهتونه چي د اسلامي دعوت لپاره کار کوي، تر شديد فشار لاندي وساتي، ويې ترټي، ويې وژني او يا يې دومره کمزوري او په خپل ځان مصروف کړي، چي غرب ته د صحيح اسلام د رسولو څخه عاجز پاته سي. ټولي شتمنۍ، مادي او معنوي وسائل په بيلا بيلو نومونو او بهانو ځيني مصادره کړي، او بالآخره يې په خپلو هيوادونو کي د فقر، ذلت او مشکلاتو ژوند ته اړ کړي، تر څو نورو خلګو ته د دعوت توانايي د لاسه ورکړي، همدغه وجه ده چي په اکثره اسلامي هيوادونو کي په اسلامي تنظيمونو ډول ډول بنديزونه لګول کيږي، د فعاليت مخه يې نيول کيږي او ددې په مقابل کي عامو خلګو ته داسي څه د اسلام په نامه معرفي کيږي، چي هغه يا اصلاً اسلام نه وي او يا د اسلام يو مسخ سوی شکل وي، چي سليم فطرت نفرت ځيني کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲: د غرب حکومتونه او کليساوي کوښښ کوي، چي غربي ټولنو ته اسلام په مسخ سوي او تحريف سوي شکل کي ورمعرفي کړي، اسلام د تيري زمانې داسي يو دين ورته معرفي کړي، چي د توري، قتل، جنګ، لاس او پښو پريکوني او پر خلګو د مذهبي تسلط پرته بل څه نه پيژني، نه نظام پيژني او نه پرمختګ، نه سوله او سوله يز ژوند پيژني، او نه تمدن، نه انساني عواطف پيژني، او نه هم د بشري ژوند فطري تقاضاوي، د ټولنو په ژوند کي تغير د عقل، علم، فرهنګ او ذهني قناعتونو په وسيله نه بلکي د توري، ټوپک او سوټي په زور راولي، د غرب ميډيا، سياسي او ديني قيادتونه يې په نه ستړي کيدونکي ډول د اسلام پر خلاف په دغه ډول زهرجنو تبليغاتو اخته دي او په دې لار کي هر کال په مليارډونو پيسې مصرفوي، تر څو غربي ټولني د اسلام منلو څخه ليري کړي.

۳: غرب که د يوې خوا غربي ټولنو ته د ريښتني او مکمل اسلام مخه نيسي، د بلي خوا هغه ډلو، تنظيمونو او حرکتونو ته په غرب کي د فعاليت اجازه ورکوي، چي يا خو اسلام په اوښتي او تحريف سوي بڼه خپروي او په خپله هم په اسلامي ټولنو کي د منحرفو او کفري ډلو په حيث پيژندل کيږي، لکه: قاديان، بهايان، بابيان، منحرف صوفيان او داسي نور... او يا هم هغه ډلي چي صحيح اسلام خو په ناقصه او نيمګړې بڼه خلګو ته وړاندي کوي، د اسلام اولويات، فرائض، واجبات، جهاد، ولاء او براء، اسلامي نظام، د اسلام حاکميت، د فساد مخنيوی، کافي شريعي علم، د جهادي حرکتونو سره همدردي، د جهاد او مجاهدينو سره مالي مرسته، حتی هغوی ته دعا يې هم د خپل دعوت د نصاب او فرهنګ څخه ددې لپاره ايستلې ده، چي کفار ځيني ناراضه نه سي او کفري هيوادونو ته يې د ورتګ د ويزو څخه مرحوم نه کړي. که دغه خلګ د خپل همدغه جد او جهد سره د مجاهدينو تر څنګ ودريږي، او د اسلامي مبارزينو ملا ورو تړي، يقيناً به مجاهدين په لږو کلونو کي اسلامي دعوت ته دومره څه وکړي، چي دغه ډلي يې په يوه پيړۍ کي هم نه سي کولای. غرب ځکه دغو ډلو ته د فعاليت اجازه ورکوي، چي د دوی د دعوت څخه د غرب نظام، استعماري پلانونو، کفري تمدن او نړيوال استکبار ته هيڅ صدمه ونه رسيږي، او په عين وخت کي د مسلمانانو څخه په اسلامي هيوادونو کي د بالمثل مسيحي دعوت د اجازې غوښتنه هم لري، او دا بيره هم پر خپل ځای موجوده ده چي مکار غرب به د دغه ډول ساده لوحه ډلو څخه د جهاد او مجاهدينو په خلاف استفاده هم وکړي، په مجموع کي دا هر څه د فکري جګړې د اهدافو د تحقيق لپاره تر سره کيږي.

څلورم هدف: د اسلامي نړۍ لپاره جعلي او پرديو په لاس جوړ سوي قيادتونه رامنځته کول: د فکري جګړې د اهدافو څخه يو هم اسلامي هيوادونه او مسلماني ټولني د صالحو قيادتونو څخه محرومول، پر ځای يې د جعلي، د پرديو په لاس جوړ سوو او پردي پالونکو قيادتونو معرفي کول، نوي نسل ته هغوی د ماډل او نمونې په حيث وړاندي کول دي، غربيان په دې پوهيږي چي تر څو په اسلامي اُمت کي مخلص، اصيل، د الله (جل جلاله) څخه بيريدونکي او د خپل اُمت سره وفادار قيادتونه موجود وي، تر هغه پوري به په اسلامي نړۍ کي د غرب آرمانونه نه تر سره کيږي، له همدې امله غرب پرله پسې هڅه کوي، تر څو د مسلمانانو مخلص قيادتونه، يا شهيدان کړي، يا يې بنديان، تبعيد او بدنامه کړي، ډول ډول توطيې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسیسې ورته جوړوي، تر څو په ټولنه کي يي تاثير له منځه يو سي. کله تورونه وربانديپوري کوي، کله يې اتباع او ملګري انشعابونو او انشقاقونو ته تشويقوي، کله يې د بې لاري کولو هڅي کوي، کله يې هم جوړجاړي او مصالحت ته رابولي، مګر د مخلصو قيادتونو پر ځای بيا په ټولنه کي هغو اشخاصو او جهتونو ته رشد ورکوي او تر شاه يې دريږي چي د غرب پر لاره ځي او غواړي مسلماني ټولني هم د غرب پر لاره رواني کړي.

پنځم اجتماعي ډګر: په اجتماعي او د ځوانانو په ډګر کي هم غرب هڅه کوي، چي د ټولني هغه لاابالي، لنډغر، لويدلي او بې معنويته اشخاص لکه: ډمان، سندرغاړي، نڅاګر او د فلمونو ممثلين ټولني او ځوانانو ته د نمونې او ماډل په حيث وړاندي کړي، مګر د هغوی حيثيت په ټولنه کي دومره لوړ کړي، چي نور خلګ يې تقليد وکړي او پر لاره يې روان سي، دا ټول هر څه ددې لپاره تر سره کيږي، تر څو په ټولنه کي د اصيلو او مخلصو قيادتونو مخه ونيول سي، پر ځای يې جعلي او د پرديو په لاس جوړ سوي شخصيتونه قيادت ته ورسيږي، چي دغه خلګ بيا په اسلامي ټولنو کي د غرب د اهدافو لپاره کار وکړي او حاکميت ته د اسلام د رسيدو مخنيوی وکړي، چي همدا د غرب د لويو اهدافو څخه يو هدف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فکري جګړې ډولونه او ځانګړتیاوې

لویدیځوالو د مسلمانانو په وړاندې خپله فکري جګړه د پیل څخه بیا تر نن ورځې پورې په مختلفو پړاونو کې په مختلفو ډولونو سره په لاره اچولې ده، چې د دغو ډولونو د جملې څخه ددې جګړې اداره کوونکو د خپلو موخو د لاسته راوړلو لپاره د وسله والې جګړې مستقیم یرغل، د خپلو مردودو دینونو خپرولو، د حقیقتونو د تحریف او داسې نورو... لارو چارو څخه استفاده کړې ده، چې دغه پړاونه او ډولونه په دې ډول دي:

۱: صلیبي جګړې د ۱۰۹۷م څخه تر ۱۲۹۸م کال پورې. ۲: ښکیلاک یعنې د اسلامي هیوادونو د مستعمره کولو پړاو. ۳: استشراق یعنې ختیځ پیژندنه. ۴: تنصیر یعنې تبشیر.

صلیبي جګړې او ښکیلاک یعنې د اسلامي ځمکو نیونه:۔ لمړی جز:۔ صلیبي جګړې:۔ د صلیبي جګړو تعریف: صلیبي جګړې هغه جګړې دي چې مذهبي نصاراوو او د لویدیځ کشیشانو د ختیځ اسلام په وړاندې په لاره اچولې وې او د صلیبي جګړو په نوم یې ځکه نومولې وې، چې د لویدیځوالو لپاره دې جګړې دیني او مذهبي اړخ درلوده، همدا لامل وو چې صلیبي عسکرو به د جګړې پر مهال د صلیب نښې (†) پر خپلو سینو باندې ځړولې وې.

د صلیبي جګړو تاریخ: د لومړي ځل لپاره د دوهم سلفستر پاپ له خوا خلک دې جګړې ته راوبلل چې د نیکه مرغه د دغه پاپ دغه شومه هڅونه ناکامه سوه او نوموړي پاپ خپلې موخې ته ونه رسیدی، وروسته په ۱۰۷۵م کال کې یو بل پاپ خوریفورس د دوهم ځل لپاره دغه مفکوره د خلکو په منځ کې را پیدا کړه، دغه شومه هڅونه یې بیا راژوندۍ کړه او د خپل دغه کار لپاره یې یوه شیبه هم آرام ونه کړ، چې د دغه پاپ دغه جګړې ته هڅونه هم تر شلو (۲۰) کالو پورې عملي نه سوه او وځنډیده، بلاخره په ۱۰۹۷م کال کې د همدې پاپانو او کشیشانو په هڅونه سره پیل سوه، ددې سره سم صلیبي غاصب او لوټماره ځواکونه د مسلمانانو ښارونو ته ننوتل، د وژنو، لوټماریو، فساد، چور او چپاول، دربدرۍ او داسې نورې تراژیدۍ یې پیل کړې، په دې جګړو کې صلیبي عسکرو د مسلمانانو په وړاندې داسې جنایات تر سره کړل چې په حقیقي ډول یې د مسلمانانو سره خپله پخوانۍ او اوږده دوښمني څرګنده کړه، کله چې صلیبي عسکرو په ۱۰۹۹م د جولاي پر (۱۵) مه د روژې د میاشتې په درېم تاریخ د بیت المقدس سپیڅلي ښار ته ننوتل، د ننوتو سره سم یې اویا (۷۰۰۰۰) زره بې ګناه مسلمانان په شهادت ورسول، آن تر دې پورې چې د دوی آسونه به تر سینو پورې په وینو کې لمبیدل، کله چې یې د نطاکیه د ښار په لوري حرکت وکړ، د یو (۱) لک څخه ډیر بې ګناه مسلمانان یې په شهادت ورسول. په دې هکله یو مسیحي راهب روبرټ په دغه جګړو کې د صلیبیانو د ظلمونو په هکله وایي: زموږ خلک به د مسلمانانو لارو او کوڅو ته ننوتل او د خپلو مرګونو غریزو د پوره کولو لپاره به یې د مسلمانانو پر کورونو بریدونه کول کوچنیان، ځوانان، سپین ږیري او ښځې به یې ذبحه کولې او ټوټه ټوټه به یې کولې، او یو ډیر شمیر خلک به یې د یوې رسۍ پواسطه په دار ځړول!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د صليبي جګړو موخي: په عمومي ډول د صليبي جګړو موخي دا دي:- ۱: د نصرانيت خپرول، نصرانيت د اسلام ځای ناستی کول او همدارنګه مسيحيت ته د مسلمانانو اړول. ۲: د مسلمانانو څخه غچ اخيستنه، ځکه چي مسلمانان د دوی سره د دوی په خپلو ښارونو کي جنګيدلي وه او د مسلمانانو د دغو برياوو په پايله کي مسلمانانو د مديترانې د سمندرګي نوم د اسلامي سمندرګي په نوم اړولی وو، او بل دا چي مسلمانانو د فرانسې تر سهيلي برخو پوري پرمختګ کړی وو. ۳: د هغو مسلمانانو څخه غچ اخيستل چي نصرانيان يعني عيسويان يې د ختيځو ښارونو څخه شړلي وه. ۴: د اندلس استردادېا بيا نيونه کوم چي مسلمانانو په ۹۲ هجري کال کي هغه سيمه په يوه پياوړي اسلامي دولت باندي بدله کړې وه. ۵: د مسلمانانو پر ښارونو باندي ولکه د هغو ځايونو د طبيعي سرچينو او ذخايرو څخه ګټه اخيستنه. ۶: د يهوديانو د پخوانيو هيلو لاسته راوړل کوم چي د دواړو دينونو اسلام او نصرانيت له منځه وړلو غوښتنه يې کوله، تر څو د ژوند پر ټولو چارو يهوديان حاکم سي او د ټولي نړۍ مشري يوازي د يوه دين په ساحه کي راسي.

د فکري جګړې ځانګړتياوي: د فکري جګړې د مهمو او د آهميت وړ ځانګړنو څخه يوه ځانګړتيا شموليت او دوهمه يې دواميت يا دايمي والی ګڼل کيږي، چي هر يو يې په لاندي کرښو کي په لنډ ډول تر څيړني لاندي نيسو:

الف:- دايمي والی: په دې معنا چي دغه جګړه د خپل خطرناک او پيچلي جوړښت له مخي داسي ده، چي د يوه ټاکلي او معلوم وخت لپاره نه کارول کيږي، بلکي ددې لپاره چي ددې جګړې په لاره اچوونکي خپلو شومو موخو ته په پلانيزه ډول په آسانۍ سره ورسيږي، نو ډير وخت ته اړتيا ليدل کيږي. د بيلګي په توګه: که چيري ددې جګړې په لاره اچوونکي وغواړي، چي د يوه هيواد اسلامي نظام کمزورئ او يا راوپرځوي، نو دوی ددې کار لپاره د مختلفو لارو څخه کار اخلي، چي په دغو لارو چارو کي ځيني يې ډير وخت ته اړتيا لري، ښايي چي دغه وخت څو پيړۍ په خپله غيږه کي راونغاړي. د بلګي په توګه: د يو ملت دين، مذهب او يا کلتور ته تغير ورکول يا پر هغوی باندي د خپل دين منل او داسي نوري چاري.

با:- شاملوالی يعني د ژوندانه ټولو برخو ته شموليت: ددې جګړې د دوهمي ځانګړتيا څخه موخه دا ده چي دغه جګړه يوه ډيره لويه او راښکيلونکې جګړه ده، په دې معنا چي د ژوند ټول اړخونه د خپل هدف لاندي راولي او ډيري دردونکي اغيزې د ځانه سره لري، چي د وسله والي جګړې پواسطه نه سي کيدلای، چي په لاس راسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښکيلاک يا د اسلامي مځکو نيونه

لکه څنګه چې صليبي لښکري د سختي او شرمونکي ماتي څخه وروسته خپلو مينو ته د مړاوي آرمانونو سره ستانه سول، د الله (جل جلاله) په فضل او د مسلمانانو د يو موټيتوب له امله يوه موخه هم تر لاسه نه کړه، مګر اروپايان يعني صليبيانو ددې ماتي څخه وروسته آرام پاته نه سول او خپله وسله يې پر مځکه کښې نه ښوول، د خپلو ټپونو د درملني لپاره يې چورتونه وهل او پر اسلامي نړۍ باندي د نوي يرغل چې د نويو کړنلارو سره مل وي، په فکر کي سول، دا ځل د ښکيلاک په مرحله کي د صليبيانو موخو ډير پر وړه ايزو اقتصادي او د اسلامي هيوادونو د طبيعي سرچينو او ذخايرو څخه په ګټه اخيستني باندي متمرکزي وې، اروپايانو د خپل سياست او کړنلاري د پلي کولو په وخت کي په ډيري هوښيارۍ سره درک کړه، چي اسلامي خلافت د اوسنۍ کمزورۍ سره سره د مسلمانانو د يووالي او وحدت د اصل استازيتوب کوي او مسلمانان د پتنګانو په شان د هغه خلافت پر شاوخوا راڅرخي، نو ځکه يې خپلي ټولي هڅي او کوښښونه د اسلامي خلافت د نړولو لپاره متمرکز کړه، د دغه کار لپاره يې خپل غلام هيواد پلورونکی کمال اتاترک وګمارۍ.

بالاخره دغه مزدور شخصيت د خپلو بادارانو په لارښوونو سره دغه موخه په برياليتوب سره تر لاسه کړه، چي په پايله کي يې اسلامي خلافت ړنګ او د مسلمانانو د غوټي په څير يووالی يې دړي وړي سو، مسلمانان په ډلو، کمزورو او کوچنيو کوچنيو هيوادونو باندي وويشل سول، داسي هيوادونه چي هغوی اصلاً د دفاع او مقاومت توان يې د لاسه ورکړی وو، وسله يې د لاسه ورکړه دلته چي د مسلمانانو په منځ کي فتنې، خپل مينځي جګړې، جهل او ناپوهي رامنځته سوه، په دغه وخت کي لويديځوالو وليده چي د مسلمانانو د هيوادونو د غصبولو او د هغه سيمو د طبيعي سرچينو څخه د ګټي اخيستني ښه وخت او فرصت په لاس راغلی دی، چي د همدې حالت په رامنځته کيدو سره صليبيانو د اسلامي نړۍ د مستعمره کولو لپاره دوه کاره تر سره کړل، يو يې د اسلامي نړۍ کلابندول او دوهم يې د اسلامي مځکو ويشل وه، د تاريخ په دغه پړاو کي د دوو دولتونو څخه پرته چي يو يې عربي ټاپووزمه ننني عربستان او دوهم يې زموږ ګران او سر لوړی هيواد افغانستان څخه پرته نور ټول اسلامي هيوادونه د لويديځ ښکيلاک په منګولو کي راګير سول.

الف: د اسلامي نړۍ کلابندي يعني محاصره کول: په دې وخت کي ښکيلاکي ځواکونو د اسلامي نړۍ تر منځ د ټولو سوداګريزو، سياسي، فرهنګي او تعليمي اړيکو په پرې کولو باندي کار وکړی، چي همدې کار ته هسپانوي مسيحيانو او پرتګاليانو د پنځلسمي (١٥) ميلادي پيړۍ په اخير کي ملا وتړله او د خپلي تجارتي لاري يې په هغه لوري وغځولې، اسلامي نړۍ د هغو ګټو څخه چي د همدې تجارت د برکته تر لاسه کولې محرومه کړه، د همدې کار تر څنګ هسپانويانو او پرتګاليانو چي د مسيحيت د بلاک څخه يې استازيتوب کوی، پر جنوب ختيځه آسيا يې يرغل پيل کړ، د همدې بريد په پايله کي يې د اسلامي نړۍ يوه يوه ټوټه خاوره اشغالوله. د بيلګي په توګه: فلپين په ١٥٦٥م کال کي هغوی تر خپل استعمار لاندي راوستی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د فلپين اوسيدونکي يې په دوه برخو وويشل مسلمانان مورو او مسيحيان انديو. دغو استعمارګرانو وکولای سول چي د فلپين مسيحيان د مسلمانانو په وړاندي راپورته کړي او مسلمانان يې د فلپين په جنوب کي د مندونا په ولايت کي کلابند کړل، حتا تر دې پوري چي نن ورځ د فلپين مسيحيان په دې فکر دي چي ګويا مسلمانان د فلپين خلګ نه دي، کله چي به دوی يو اسلامي هيواد اشغال کړی، نو د هغه اړيکي به يې د نورو اسلامي هيوادونو سره پرې کړې، يعني که په ځانګړي ډول ووايو: په دې مرحله کي استعمارګرانو د ټولو اسلامي هيوادونو تر منځ ټولي سياسي، تجارتي، اقتصادي، تعليمي او داسي نوري... اړيکي پرې کړې، تر څو مسلمانان ونه کړای سي، چي د يو موټي او پياوړي قوت په څير د دوی په وړاندي رابښکاره سي.

با: د اسلامي هيوادونو ويشل: دغه دورې يو سلو شل (۱۲۰) کاله وخت ونيوی، وروسته تر دې پوري چي غربي اشغالګرو اسلامي نړۍ د ټولو څخه يو څه کلابنده کړه او د هغو سيمو د نيولو لپاره يې بنه زمينه برابره کړه، وروسته يې د اسلامي هيوادونو په نيولو شروع وکړه، چي په دې لړ کي اشغالګرو لاندي اسلامي هيوادونه ونيول:

فرانسي دغه اسلامي هيوادونه ونيول:ـ ۱: په۱۸۳۰م کال کي يې الجزاير ونيوی. ۲: په ۱۸۸۱م کال کي يې تونس ونيوی. ۳: په ۱۹۱۲م کال کي يې مراکش يعني المغرب ونيوی. ۴: په۱۹۲۱م کال کي يې سوريه يعني شام ونيوله. ۵: په ۱۸۸۲م کال کي يې سينګال ونيوی.

انګلستان دغه اسلامي هيوادونه ونيول:ـ ۱: په ۱۸۵۷م کال کي يې هند ونيوی. ۲: په ۱۸۸۲م کال کي يې مصر ونيوی. ۳: په ۱۹۱۴م کال کي يې عراق ونيوی. ۴: په ۱۹۲۸م کال کي يې فلسطين او اوردن ونيول. ۵: په ۱۸۹۸م کال کي يې سوډان ونيوی. ۶: په ۱۸۵۱م کال کي يې نايجريا ونيوله. ۷: په ۱۸۷۰م کال کي يې زنګبار ونيوی.

ايټاليا دغه اسلامي هيوادونه ونيول:ـ ۱: په ۱۸۸۷م کال کي يې صوماليه او اريتيريا ونيول. ۲: په ۱۹۱۱م کال کي يې ليبيا ونيوله.

همدارنګه د غربي استعمار تر څنګ روسي استعمار هم پر اسلامي نړۍ بريد وکړ او د شپاړسمي (۱۶) پيړۍ په نيمايي کي يې د قزاقستان، قوقاز، ترکمنستان، قرم ټاپو، تاشکند، بخارا او د ترکستان خاوري تر ولکې لاندي راوستلې. کله چي دغو اشغالګرو پورتني اسلامي هيوادونه او سيمي ونيولې، نو بيا يې په آسانۍ سره وکولای سول تر څو خپله فکري جګړه په دغو سيمو کي پر مخ بوځي، ځکه چي ددې څخه وروسته د دغو هيوادونو ټولي دولتي او غيري دولتي هر اړخيزه منابع، لکه: سياسي، دفاعي، تجارتي، فرهنګي، خېرنيزي او داسي نوري... منابع د اشغالګرو هيوادونو په لاس کي ولويدې، او کولای يې سول چي په هر شکل او په پراخه کچه د دغو منابعو څخه د خپلي مفکورې د خپرولو او د خپلو شومو اهدافو د لاسته راوړلو لپاره کار ځيني واخلي، د دغو شومو موخو د لاسته راوړلو لپاره يې په نيول سويو اسلامي هيوادونو کي مختلف سازمانونه، خېرنيزي رسنۍ، خيريه بنسټونه، تعليمي اداري او داسي نور... اورګانونه چي په مختلفو خوږو او ښايسته نومونو سره يې نومولي دي رامنځته کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فکري او عسکري جګړې تر منځ توپیرونه

**د فکري او عسکري جګړې تر منځ څو مهم توپیرونه موجود دي، څو مهم توپیرونه یې په دې ډول دي:**

۱: عسکري جګړه ښکاره، مګر فکري جګړه پټه روانه ده: پر هر هیواد یا اولس باندي چې بل هیواد یا ولس عسکري یرغل وکړي، تر یرغل لاندي راغلی هیواد او اولس ټول خلګ باندي خبریږي، او په یو نه یو ډول د یرغلګرو مقابلې ته ځان آماده کوي، د عسکري جګړې ږغ په ټول هیواد کي خپریږي، په ځوانانو، زړو، ښځو، نارینه وو، دولتي او ولسي خلګو کي د دفاع او مقاومت حس راویښیږي، یا جنګ کوي او یا د جنګ د سیمي ځان یوې بلي د آمن سیمي ته رسوي، مګر فکري جګړه د عسکري جګړې په خلاف دومره مخفي روانه وي، چې د اولس ډیر لږ خلګ یې احساسوي او په خطر باندي یې پوهیږي، ځکه چې فکري جګړه د وراني، توپ، ټانګ او بم په شکل کي نه وي روانه، بلکي د نصاب، فرهنګ، ادبیاتو، سیاسي تشکیلاتو، اقتصادي فعالیتونه، سپورټ، موډ او فیشن په شکلونو کي روانه وي، عام خلګ تر هغو پوري ددې جګړې په جریان نه پوهیږي، چې تر څو یې خطرناکو عواقبو او آثارو د هیواد او اولس د خلګو د ژوند مسیر وربدل کړی نه وي، همدا وجه ده چې په مسلمانو ولسونو کي ډیر لږ خلګ د فکري جګړې احساس کوي، او مقاومت ته یې پورته کیږي، هغوی که هر څومره خلګو ته چیغي ووهي، چې هیواد او اولس د یوه نامرده توپان سره مخ کیدونکی دی، خلګ یې تر هغه وخته په وینا باور نه کوي، تر څو چې توپان ټول په مخ کړي نه وي، د همدې امله غرب هم په اسلامي هیوادونو کي د عسکري جګړې پر ځای فکري جګړې ته ترجیح ورکوي، ځکه چې په دې جګړه کي یې څوک مقاومت ته نه راپورته کیږي.

۲: په عسکري جګړه کي مقابل لوری هم عسکري وي، مګر په فکري جګړه کي مقابل لوری بې دفاع ولسي خلګ وي: عسکري جګړه د داسي دوو طرفو تر منځ پیښیږي، چې دواړه مسلح وي، که یو یې د برید توان لري، بل یې د دفاع توان لري، که یو طرف ټانګ لري، بل طرف ماین لري، که یو طرف طیاره لري، بل طرف راکټ لري، که یو طرف یرغل کوي، بل طرف کمین ورته نیسي، دواړه طرفونه د جنګي مهارتونو څخه برخمن وي، مګر په فکري جګړه کي بیا د عام اولس بې دفاع او بې وسائلو خلګ هدف ګرځول کیږي.

د مثال په ډول: په فکري جګړه کي یو طرف راډیو، تلویزیون، اخبار، مجله، سینما، تیاتر، فلمي کمپنۍ او د رسنیو ماهرین او متخصصین لري، مګر مقابل طرف چې عام ولس دی، د دغه ډول وسائلو څخه هیڅ نه لري، پرته له دې چې د دوښمن پیغام واوري، او ځیني متاثره سي، د مقابلې لپاره یې هیڅ نه سي کولای، په دغه نابرابره فکري جګره کي یوې خوا ته ماهر، مکار، ژبور او د خلګو په عمومي نفسیاتو پوه یرغلګر دی او بلي خواته بې سواده، غریب، ناتوانه، ماشومان، ښځینه، تنکي ځوانان او پیغلي دي، چې ډیر ژر او په آسانه توګه د تبلیغاتو څخه متأثره کیږي، ځکه چې هغوی د دوښمن د پروګرامونو، تبلیغاتو، نشراتو او پیغام تحلیل او ارزونه نه سي کولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳: عسکري جګړه مځکه اشغالوي، مګر فکري جګړه عقل، فکر او فرهنګ اشغالوي: په عسکري جګړه کي دوښمن د يوه هيواد مځکه اشغالوي، چي آزادول يې ځيني په آسانه ممکن دي، د اسلامي نړۍ ډير هيوادونه د غربيانو له خوا اشغال سوي وه، مګر اوس په ظاهري ډول د هغوی د تسلط څخه آزاد دي، مګر په فکري جګړه کي دوښمن هڅه کوي، چي د مسلمانانو فکر، عقل، عقيده او فرهنګ اشغال سي، هغه بيا هيڅکله د خاوري د آزادي فکر نه کوي، هغه بيا دوښمن ته دوست، تخريب ته يې تعمير، غلامۍ ته يې آزادي او ذلت ته عزت او سرلوړي وايي. غربي استعمار په تيرو دوو سوو (۲۰۰) کلونو کي وکولای سول چي په اسلامي نړۍ کي د ډيرو خلګو او په خاص ډول د حاکمي طبقي ذهن او عقل اشغال کړي، هغوی يې په غربي فکر، عقيدې او غربي مادي فرهنګ وروزل، په دې يې قانع کړل چي د اسلام تر حاکميت ورته د کفر حاکميت او د کفري قوانينو تنفيذ غوره دي.

له همدې امله په هغو اسلامي هيوادونو کي چي د غرب روزل سوي شاګردان يې اداره کوي، تر آزادي وروسته هم هيڅکله د اسلام نظام نافذ نه سو، دغه خلګ نه يوازي دا چي د اسلام نظام نه نافذوي، بلکي د اسلام د نظام د نافذولو مطالبه هم د هغوی په قاموس کي جُرم ګڼل کيږي، هر څوک چي د اسلام د نظام د نافذيدلو مطالبه کوي هغه وژل کيږي، تړل کيږي او يا يې په دعوت او فعاليت بنديزونه لګول کيږي، او دا ټول د داسي چا د لاسه کيږي، چي ځانونو ته مسلمانان هم وايي، او نومونه يې هم د مسلمانانو دي، مګر فکرونه يې د دوښمن له خوا اشغال سوي دي. د خاوري آزادول آسانه دي، مګر د پرديو له خوا د اشغال سويو فکرونو او عقلونو آزادول ډير ګران کار دی، له همدې امله غرب هڅه کوي چي د مسلمانانو د خاوري پر ځای د هغوی فکر اشغال کړي، ځکه چي د فکرونو اشغال له يوې خوا بې خطره دی او د بلي خوا يې نتائج هم سل (۱۰۰) فيصده د دوښمن په ګټه راوځي، او د ډيري مودې لپاره پر اسلامي نړۍ د غرب د سياسي او فکري تسلط تضمين ورکوي.

۴: عسکري جګړه جنګي وسايل او ودانۍ له منځه وړي، مګر فکري جګړه ايمان، عقيده، عزم او اراده له منځه وړي: په عسکري جګړه کي دوښمن کوښښ کوي، چي د مسلمانانو جنګي وسايل، پوځيان، پوځي او دولتي ودانۍ بمبار کړي، په توپونو يې وويلي، او يا يې وسوځي، تر څو پوځي قوت د دفاع او حرکت څخه وغورځوي، جنګي وسايل که هر څومره تخريب سي او يا له منځه ولاړ سي، خو چي د جګړې او دفاع اراده په زړونو کي موجوده وي، د الله (جل جلاله) په نصرت باندي ايمان او باور موجود وي او د مسلمانو پوځيانو په زړونو کي د بري معنوي وسايل لکه: ايمان، تقوا، د مسؤليت احساس، د امير اطاعت او د وحدت احساس موجود وي، که پوځي وسايل يې هر څومره هم لږ او يا کمزوري وي، بيا هم دوښمن ته نه تسليميږي، د ناتواني په صورت کي ښايي تيښتي ته په تسليميدولو ترجيح ورکړي، تر څو د سبا ورځي لپاره بيا ځان جګړې ته تيار کړي، مګر دوښمن ته وسله پر مځکه نږدي، خو په فکري جګړه کي د مقاومت معنوي عوامل لکه: ايمان، عقيده، عزم او د مقاومت اراده له منځه وړل کيږي، په هغه مسلمانو هيوادونو کي چي خلګو يې په فکري جګړه کي ماته خوړلې ده، د کافي جنګي وسائلو او حتی د اټم بم د درلودلو سره سره بيا هم د دوښمن په مقابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کي د دریدلو توان نه لري، او د جګړې تر شروع کیدلو د مخه یې د اسلام دوښمنانو ته د تسلیمیدلو اعلان کړی وي، نه یوازې دا چي د دوښمن په مقابل کي مقاومت نه سي کولای، بلکي په ډېره بې شرمۍ د خپل دین او ملت په خلاف د دوښمن په صف کي دریږي او هغه څه کوي چي دوښمن یې ځیني غواړي. په فکري جګړه کي د ماتي په صورت کي ډېري وسلې، جنګي مهارتونه، کافي شمیر پوځونه، ښه ډېر مادي وسائل او قوي اقتصاد، دا هر څه د کافر دوښمن په مقابل کي د ثبات، دفاع او مقاومت عوامل نه سي کیدای، تر څو چي د جنګیالیو په زړونو کي ایمان، د الله (جل جلاله) څخه بیره، د اسلام پر حقانیت باور، عقیده، د کفر څخه کرکه او نفرت وجود ونه لري، ددې لپاره چي د مسلمانانو پوځونه د نصرت د معنوي عواملو څخه بې برخي وي، غرب په ټولو اسلامي هیوادونو کي هڅه کوي، چي د مسلمانانو پوځونه، دفاعي او امنیتي قواوي او استخبارات په مکمل ډول د دین، عقیدې او اسلامي روحیې څخه محروم وروزي، ددې بې دیني روزني نتیجه دا ده چي نن تقریباً څه کم د ټولي اسلامي نړۍ د هیوادونو پوځونه د صلیب تر بیرغ لاندي د اسلام او خپلو ملتونو پر خلاف په جګړو اخته دي، ځکه چي فکري جګړې یې ایمان، عقیده او اسلامي احساس له منځه وړی دی.

۵: د عسکري جګړې د وراني بیا ودانول لږ وخت غواړي، مګر د فکري جګړې د وراني بیا ودانول پیړۍ پیړۍ وخت غواړي: په عسکري جګړه کي که ښارونه، کلي، پلونه، سړکونه او نور عامه تاسیسات وران سي، کیدای سي هغه د لسو (۱۰) یا پنځه لسو (۱۵) کلونو او یا هم تر دې په لږ وخت کي تر هغه پخواني حال هم ښه جوړ سي، ځکه چي ورځ په ورځ ټکنالوژي ترقي کوي، د ودانۍ نوي نوي وسائل او مواد ایجادیږي، او د انسانانو صنعتي تجربه هم ترقي کوي، وران ښارونه ښائي تر پخوانیو په ښه نقشه او ډیزاین جوړ سي، وران پلونه، سړکونه، مکتبونه، پوهنتونونه، روغتونونه، باغونه، ویالي او نهرونه ښائي د نویو معلوماتو او عصري تعمیراتو تجربو په کارولو سره تر پخوانیو هم په ښه کیفیت جوړ سي، مګر هغه فکرونه، عقیدې او اخلاق چي د فکري جګړې په ترڅ کي وران سوي وي، د هغو جوړول، اصلاح کول، بیرته د حق معیارونو ته راګرځول خورا ډېر وخت، ډېر پروګرامونه، ډېرو نشراتو، صابرو او ماهرو دعوتګرانو، اُستاذانو، مصلحینو، د تعلیم او تربیې هر اړخیز اصلاح سویو نصابونو او د ډېرو پیسو مصرف ته ضرورت لري، دغه کار په زماني لحاظ هم ډېر اوږده وخت او مسلسلو هڅو ته ضرورت لري، ډېر اسلامي هیوادونه د انګریزانو څخه آزاد سول، مګر د انګریزیت څخه لا د لسګونو کلونو په تیریدلو هم نه دي خلاص سوي، ډېر هیوادونه د فرانسې د اشغال څخه خلاص سول، مګر د خلګو افکار، نظریات، نظام او د ژوند ټول اړخونه یې د نیمي پیړۍ تر تیریدو وروسته هم د فرانسویت څخه نه دي خلاص سوي، همدا ډول ډېر اسلامي هیوادونه د روسیې د اشغال څخه خلاص سول، مګر په خلګو او نظام کي یې لا تر اوسه اسلام نه دی راغلی او هر څه په هماغه روسي نظام او د کمونیزم په الحاد وهلي فلسفه باندي چلیږي، او په نږدې راتلوونکي کي دا تصور هم نه سي کیدای، چي دغه هیوادونه دي په ریښتیا د حقیقي اسلام غیږې ته راوګرځي، کیدای سي سلګونه کلونه وغواړي، چي په دغو هیوادونو کي دي اسلام حاکم سي او یا یې د خلګو الحاد وهلي فکرونه بیرته په اسلامي مفاهیمو روښانه سي، دا هر څه پر دې دلالت کوي، چي د فکري جګړې تخریب د عسکري جګړې تر تخریبه ډېر دوامدار او خطرناک وي، د فکري جګړې او عسکري جګړې تر منځ نور ډېر توپیرونه هم سته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فکري جګړې تاريخي پس منظر

دا چي په نړۍ کي هره جګړه چي په هر شکل او صورت سره د ډلو، دينونو يا تمدنونو تر منځ رامنځته کيږي، نو موږ کولای سو چي د شرايطو، موخو او پايلو په نظر کي نيولو سره ددې جګړې د پيل نيتِه او همدارنګه د هغې جګړې سرچينه په ډاګه کړو، دا چي د الله (جل جلاله) حکمت او کړنلاره ددې غوښتنه کوي، چي تل دي حق په دوامداره او نه ستړي کيدونکي ډول د باطل سره په کشمکش او مقابله کي قرار ولري، تر څو چي د حق ربښتيني ملګري او د الله (جل جلاله) ربښتيني بنده ګان يوه شيبه هم د حق د دفاع او ملاتړ څخه بې غوره پاته نه سي، لکه څنګه چي د باطلي لاري لارويان يوه شيبه هم د حق په وړاندي د مکر او فريب څخه بې غوره نه پاته کيږي. په تاريخي لحاظ فکري جګړه د حق د دوښمنانو له خوا د انسانيت د پيداېښت سره سم پيل او تر نن ورځې پوري په مختلفو شکلونو او پړاونو کي روانه ده.

لومړی بيلګه يې د شيطان عليه لعنه له خوا په جنت کي حضرت آدم (عليه السلام) ته فريب ورکول او د هغه د فکر مغشوشول وه، چي د حضرت آدم (عليه سلام) په دې کار سره الله سبحانه وتعالی هغه د جنت څخه مځکي ته راکښته کړی، او د حضرت آدم (عليه السلام) څخه وروسته کله چي د انسانانو شمير مخ پر ډيريدو سو، نو الله سبحانه وتعالیٰ د هغو د هدايت لپاره په مختلفو وختونو کي د حق لور ته بلونکي پيغمبران (عليهم السلام) راليږلي دي، مګر بيا هم تل د حق انساني او شيطاني دوښمنانو خپلي دسيسې، فريبونه او چلونه د حق د ډيوې د مړې کولو لپاره په لاره اچولي دي، چي د دغو ټولو سره سره بيا هم الله سبحانه وتعالیٰحق پر باطل باندي غالب ګرځولی دی، که په ځانګړي ډول د فکري جګړې تاريخ ته کوم چي نن ورځ د اسلام د دوښمنانو د لوري د حق د ډيوې د مړې کولو لپاره په لاره اچول سوي نظر واچوو، نو څرګنده به سي کله چي په (٦) ميلادي پيړۍ کي د وروستني الهي پيغام قرآن عظيم الشان سپيڅلي وړانګي د حجاز د ټاپو څخه راپورته سوې او ټولي نړۍ ته په خپريدو سوې.

د اسلام دوښمنانو، مشرکينو، يهودو او نصاراوو د دغو وړانګو د پرې کولو لپاره په مختلفو محاذونو کي نه تماميدونکي جګړه پيل کړه، د اسلام د ستر پيغمبر او د هغه د ريښتينو ملګرو او همدارنګه د دغه حق دين اسلام پر ضد يې د وسله والي جګړې تر څنګ په مختلفو ډولونو سره فکري جګړه هم پيل کړه او هڅه يې کوله چي د ټولو شونو لارو چارو په کار اچولو سره د اسلام د سپيڅلي دين نور په نطفه او د تبارز په لومړي ټاټوبي کي خنثی او له منځه يو سي، او پرې نږدي چي دغه سپيڅلي وړانګي د نړۍ نورو برخو ته هم خپرې سي، په دغه برخه کي يې د هيڅ ډول شيطاني فريبونو غولونو او چلونو څخه دريغه ونه کړه، چي په لاندي کرښو کي د اسلام د مبارک دين د ظهور په لومړي پړاو کي د دغو شيطاني چلونو او فريبونو يعني فکري جګړې يو څو بيلګي په لنډول ذکر کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱: رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته لیونی ویل: په دې کار سره د اسلام دوښمنانو غوښتل خلګ د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه متنفر کړي، تر څو هیڅوک یې په خبرو باندي باور ونه کړي. (نعوذ بالله)

۲: د ګمراهي تورونه لګول: دوهم تور چي د اسلام دوښمنانو پر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) باندي ولګوی هغه دا وه چي ګویا (نعوذ بالله) رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ګمراه دی. (نعوذ بالله)

۳: شاعر ګڼل: د اسلام دوښمنانو ستر پیغمبر رسول الله (صلی الله علیه وسلم) شاعر بللی. (نعوذ بالله)

۴: کاهن، ساحر او مسحور ګڼل. (العیاذ بالله)

۵: د قرآن کریم د تلاوت څخه مخنیوی: د قرآن کریم د تلاوت په وخت کي شور ماشور جوړول او داسي نور... په دې کارونو سره د اسلام دوښمنانو غوښتل تر څو د اسلام د خپرولو څخه مخنیوی وکړي.

د یادولو وړ ده! د اسلام د دوښمنانو دغه فکري جګړې د اسلام د ظهور څخه وروسته بیا تر نن ورځي پوري مختلف پړاونه وهلي دي او په دې لاره کي د اسلام دوښمنانو د مختلفو وسایلو او لارو چارو څخه کار اخیستی دی، همدارنګه د وخت او زمان مطابق یې د مسلمانانو په وړاندي دغه جګړه سمبال کړې ده، چي نن ورځ همدې حقیقت ته په کتو سره د اسلام دوښمنان رښتیني او سرتیري مسلمانان په مختلفو نومونو لکه: تروریست، ترهګر، بې فرهنګه، منفي ګراه، وروسته پاته او داسي نورو... نومونو سره نوموي، تر څو نور عام مسلمانان د دغو رښتینو او سرتیرو مسلمانانو د ملاتړ څخه راوګرځوي او یا دغه عام مسلمانان د هغوی په مقابل کي ودروي، چي په دې کار سره دوی وکولای سي د اسلام د مبارک دین د خپریدو څخه مخنیوی وکړي او په کراره کراره دغه دین د نړۍ د نقشې څخه ورک کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فکري جګړې مخنیوی

د پوځي جګړې مخنیوی کله په پوځي غلبې، کله هم په صلحي سره کیږي، مګر فکري جګړه بیا هغه جګړه ده چې په هیڅ صورت صلحه او منځګړتوب نه مني او نه د صلحي لپاره ځای په کښې سته، فکري جګړه یوازې د فکري غلبې په صورت کې دریږي او بس او تر څو چې یو طرف پر بل طرف په مکمل ډول غالب سوی نه وي، تر هغه به دغه جګړه روانه وي، فکري جګړه کې نه اسلام، نه صلحه او نه منځګړتوب مني، په هغه وخت کې چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په مکه مکرمه کې د شرک او کفر په خلاف به یوازې ځان سره فکري جګړه پیل کړې وه، د مکې کفار په دغه جګړي کې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) څخه ډیر تنګ سول، مشران یې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) اکا ابو طالب ته راغلل، تر څو د دوی او د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) تر منځ منځګړتوب وکړي، او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د دوی د شرکي افکارو او نظریاتو په خلاف د مبارزې څخه بند کړي، ابو طالب هم په ډیري مهربانۍ د کفارو دغه غوښتنه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ته وړاندي کړه، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) چې د دغه فکري جګړې د توقف د خطرناکو عواقبو ښه خبر وو، خپل اکا ته یې داسي وویل: قسم مي دي په الله وي ای اکا! که کافران لمر زما په راسته لاس، او سپوږمۍ زما په چپه لاس کي راکښیږدي، ددې لپاره چې زه دا کار پریږدم، تر هغو به یې پرې نه ږدم چې یا مي الله سبحانه وتعالی پر کفر غالب کړي او یا زه په دې لار کي ومرم.

که د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دغه دریځ ته وګورو، نو وینو چې هغه مبارک په داسي وخت کي د خپلي فکري مبارزې د دوام قسم یادوي، چې دی په میدان کي یوازې ولاړ دی او حتی چې اکا یې هم د ده تر څنګ نه دریږي، مګر بیا هم رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمایي: که کافران ناممکن شرطونه چې د لمر او د شپوږمۍ په لاسونو کي ورته ایښوول دي، هم ورته ممکن کړي، بیا هم د دوی د فکري دوښمنۍ څخه لاس نه اخلي. دا پر دې دلالت کوي، په اسلام کي د کفر په خلاف په فکري جګړې او دوښمنۍ کي سوله او منځګړتوب ځای نه لري، په عسکري جګړه کي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) صلحه کړې ده، مګر په فکري جګړه کي یې هیڅکله نه ده کړې.

همدا ډول کفار هم تر هغو د مسلمانانو د دوښمنۍ څخه لاس نه اخلي، تر څو چې یې هغوی د خپل دین، فکر او ملت څخه چې اسلام دی ایستلي نه وي، کفار به تر هغه وخته د مسلمانانو پر خلاف په جګړه کي وي، تر څو چې یې د مسلمانانو دین، فکر او نظریات نه وي وربدل کړي، یعني د دوی عسکري جګړې به هم د فکر لپاره وي، اصلي جګړه به فکري وي، مګر کیدای سي چې عسکري جګړه هم ددې فکري جګړې لپاره د وسائلو په حیث استعمال کړي. دا چې فکري جګړه په هیڅ صورت سوله او منځګړتوب نه مني، نو ددې جګړې مقابله او مخنیوی به څنګه او په څه شکل کوو؟ او بیا په خاص ډول موږ مسلمانان به یې د خپل دیني، فکري، سیاسي، علمي او اجتماعي وضعیت په پام کي نیولو سره څنګه کوو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱:ـ د اسلام په هکله هر اړخیز پوهاوی: د فکري جګړې په وړاندي د مقابلې په لارو چارو کي یو مهم اصل عامو مسلمانانو ته د اسلام په هکله هر اړخیز پوهاوی ورکول دي، چي دا ستره او عظیمه دنده د اسلامي پوهانو په غاړه یو درونده بار دی، ځکه اسلامي پوهان باید ټولي نړۍ او په ځانګړي ډول مسلمانانو ته دا څرګنده او ثابته کړي، چي د اسلام مبارک دین سیاست، اقتصاد، سوداګریز، مدني، ټولنیز بلکي د ژوندانه ټول اړخونه په خپله غیږه کي رانغاړي، نو په همدې توګه په کار ده چي لومړی موږ مسلمانان د اسلام روح وپیژنو او د اسلامي روح د غوښتني سره سم حرکت وکړو، اسلامي روح لوی الله (جل جلاله) ته عبادت کول دي او لوی الله (جل جلاله) ته عبادت کول په هماغو ټاکلو حدودو کي کیدلای سي، چي لوی الله (جل جلاله) ورته ټاکلي دي او رسول الله (صلی الله علیه وسلم) موږ ته راښوولي دي.

ټول مسلمانان تر وسه پوري په ټولو صالحه اعمالو مکلف دي او یوه اسلامي ټولنه حقیقتاً هغه وخت تشکیل موندلای سي، څو چي هر فرد یې د اسلامي روح د تقاضا سره سم هر ډول اسلامي عمل ته چمتو وي او د زړه له کومي مینه ورسره ولري، داسي نه چي دیني پوهان او طالب علمه د کسب او کار سره دومره اړیکي پرې کړي، چي ټول ژوند یې د ګدایانو په څیر د نورو پر اوږو بار وي او بالوسیله یې علمي مسلک دومره د خلکو په نظر کي سپک وي، چي هیڅ څوک یې درناوی هم ونه کړي او څوک یې د سیالانو په لیکه کي هم ونه شمیري.

همدا راز داسي نه چي کاریګره طبقه د ټولني موجودیت دومره تر خپل عمل پوري اړونده وګڼي چي علم او دین د علماوؤ خاصه دنده وګڼي، لنډه دا چي ټول مسلمان په اسلام باندي د پوره پوهاوي څخه وروسته په هغه باندي منګولي ولګوي، ځکه پرته له دې څخه چي مسلمانان لومړی په خپل دین باندي پوهه لاسته رانه وړي او همدارنګه په هغه باندي پوره عمل ونه کړي، نو نه سي کولای چي د نړۍ سیادت او قیادت دي په واک کي واخلي.

د اسلام په هکله د هر اړخیز پوهاوي یوه برخه کیدای سي په لاندي عنوانونو کي راونغاړو:

الف:ـ سالمه روزنه: د هر څه څخه لومړی د نوي نسل سالمه روزنه ده، چي مور او پلار، د جومات امام، د ښوونځۍ او مدرسې ښوونکي ته لازمه ده، چي ټولو مسلمانانو ته د اسلامي اصولو سره سمه تربیه ورکړي او د روزني په هر پړاو کي د اسلامي روزني ښوونه ورته وکړي، د نوي نسل اخلاق ناسته ولاړه، خبري اتري، خوب او ویښتیا، لباس او پوښاک د اسلام د لارښوونو سره سم ور زده کړي.

با:ـ تعلیمي نصاب: اسلامي اُمت ته په کار دي چي د ژوند په هره کچه کي تعلیمي نصاب پر اسلامي اصولو عیار کړي، تدریسي اصول اسلامي وګرځوي او د تعلیم په هر پړاو کي عقائد، د اسلامي شعائرو عظمت، د قرآن کریم او نبوي احادیثو زده کړه لازمي وګرځوي، د تاریخ مضمون هم اسلامي وګرځوي، لنډه دا چي هغه ټول مضامین چي په اسلامي مدرسو او ښوونځیو کي چي کوم مضامین تدریس سیږي، که هغه دیني یا عصري وي، هغه ټول باید پر اسلامي اصولو عیار کړل سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جیم:ـ د ټولني اصلاح: دریم تدبیر د ټولني اصلاح ده او هغه داسي چي په اسلامي ټولنه کي د کفري تهذیب له منځه وړل او اسلامي تهذیب پلي او احیاء کړل سي، د فکري تهذیب زیانونه او د اسلامي تهذیب ګټي بیان کړل سي.

د:ـ اسلامي ثقافت: څلورم تدبیر د اسلامي ثقافت ترویج دی او هغه داسي چي د اسلامي اُمت ټول ثقافتي وسائل لکه: جرائد، ورځپاڼي، مجلې، راډیو او ټلویزیون د اسلام د لاربښوونو سره سم عیار او وچلول سي او غیري اسلامي خپروني له منځه یو وړل سي.

هـ:ـ اسلامي اخلاق: پنځم تدبیر یې دا دی چي د ټولني په ټولو خلګو کي اسلامي اخلاق لکه: حیاء، زړه سوی په هر څه کي اعتدال، قناعت، زغم، عفو، وروروِلي، د شریعي حلالو او حرامو توپیر، پر خپل دین باندي ثبات، ننګ، غیرت او کفري نظریاتو څخه کرکه او نفرت کول ترویج کړل سي.

۲:ـ د مسلمانانو د سیاسي یووالي لپاره هلي ځلي کول: ټول مسلمانان په ځانګړي ډول اسلامي سیاسي چارواکي دا وجیبه لري، تر څو د مسلمانانو تر منځ هر اړخیزه اختلافات له منځه یو سي، همدا راز اسلامي مبلغین هم دنده لري، چي د مسلمانانو تر منځ په نړیواله کچه یو واحد سیاسي فکر رامنځته کړي، د مسلمانانو تر منځ د سیاسي بیلتون څخه مخنیوی وکړي او ټولو مسلمانانو ته داسي پوهاوی ورکړي، چي د مسلمانانو تر منځ هیڅ پولي مطرح نه دي، په دې سره مسلمانان کولای سي د ستر اسلامي خلافت د بیا راژوندي کولو زمینه مساعده کړي داسي خلافت چي په هغه کي د مذهبي، ژبني، قومي او داسي نورو... توپیرونو په اساس خلګ ونه پیژندل سي، بلکي ټول د یو واحد اسلامي ملت په توګه وپیژندل سي.

۳:ـ نړیوالو ته د اسلام د حقیقي څهرې وروپیژندل: د اسلام د مبارک دین د خپرولو ستر مسؤلیت د ټولو مسلمانانو په ځانګړي ډول د اسلامي پوهانو په غاړه وراچول سوی دی، نو اسلامي پوهان باید د اسلام د مبارک دین حقیقي څهره په کوم ډول چي ستر پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) هغه بیان کړې ده، ټولو نړیوالو ته په ډاګه کړې ده، تر څو نه یوازي دا چي د اسلام اوسني دوښمنان د اسلام او مسلمانانو سره د خپلي اوږدې دوښمنۍ څخه لاس په سر سي، بلکي هغوی د اسلام د ستر نعمت څخه برخمن او په دغه مبارک دین باندي مشرفه سي، نو په دې برخه کي اسلامي پوهانو ته لازمه ده چي د اسلام د مبارک دین په خپرولو کي د هغو لارو چارو څخه استفاده وکړي، کومي چي ستر پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) اسلامي مبلغینو ته پرې ایښي دي، اسلامي پوهان باید په خپلو وعظونو، کتابونو، مجلو او داسي نورو... شیانو کي د اسلام مبارک دین لومړی ټولو مسلمانانو ته په حقیقي معنا څنګه چي پر حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) باندي رانازل سوی دی ور وپیژني، تر څو لومړی په خپله مسلمانان په خپل دین پوه او وروسته دغه حق دین نورو خلګو ته هم ورسوي، ځکه نن ورځ ډیر داسي مسلمانان شتون لري، چي د هغو اعمال کثیف او داسي اعمال دي چي هغه اعمال غیري مسلمان خلګ د اسلام د مبارک دین څخه زړه توري کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بیلګي په توګه: ځیني مسلمانان په خپل دین باندي پوره تمسک نه کوي او داسي اعمال تر سره کوي، چي هغه اصلاً د یوه مسلمان سره نه ښایي. همدارنګه ځیني مسلمانان د مسلمان په نوم د اسلام د نامه څخه غلطه استفاده کوي او غیري مسلمانو ته دغه دین یو تنګ او وروسته پاته دین معرفي کوي، همدارنګه ځیني مسلمانان غیري مسلمان وګړي په زور او جبر سره د اسلام لور ته رابولي او داسي نوري بیلګي هم سته. نو اسلامي پوهان باید غیري مسلمان وګړي په دې وپوهوي چي د دغو یادو سویو کسانو اعمال هیڅکله هم د اسلام څخه نمائندګي نه کوي، بلکي اسلام هغه سپیڅلی دین دی، چي هغه ټولو انسانانو ته دا حق ورکړی دی، چي کولای سي هر دین انتخاب کړی او د اسلام په منلو کي جبر نسته. همدارنګه په اسلام کي یو مسلمان د هر ډول مضره اعمالو څخه منع کیږي، د خلګو تر منځ عدل قائمیږي، د خلګو تر منځ هر ډول توپیرونه لکه: نژادي، ژبني، قومي او داسي نور... له منځه ځي او ټول خلګ د یو واحد اسلامي ملت په توګه پیژندل کیږي.

همدارنګه د اسلام په راتګ سره خلګ د انسانانو د بنده ګي څخه خلاصیږي او د یوه ستر رب بنده ګي کوي، بالاخره دا چي هغو ته داسي په ډاګه کړي، چي د اسلام مبارک دین سیاست، اقتصاد، حکومت، ټولنیز، مدني، ادبي او د ژوند ټول اړخونه په خپله غیږه کي رانغاړي. نن ورځ ډیر غیري مسلمان وګړي د مسلمانانو دفاعي جهاد او مقاومت ته د وحشت، تروریزم او ترهګري په سترګه ګوري او همدا لامل دی چي ډیر کفار غیري مسلمان وګړي د اسلام دین د وژنو، جګړو اخ او ډب دین ګڼي او د دغه حق دین منلو ته زړه نه ښه کوي، نو بناءً په دې برخه کي اسلامي پوهانو ته لازمه ده تر څو د ټولو ممکنه وسائلو په ذریعه ټولو نړیوالو ته د اسلام د مبارک دین او د مسلمانانو د جهاد حقانیت او مشروعیت ثابت کړي او دا ورته څرګنده کړي، چي مسلمانان هم د نوري نړۍ د قومونو په څیر حق لري، تر څو د خپلو حق او حقوقو څخه په هغه صورت کي چي تر تعرض لاندي راځي دفاع وکړي او دا ورته په ډاګه کړي، چي د مسلمانانو جهاد او مقاومت، وحشت او ترهګري نه، بلکي د خپلو حق او حقوقو څخه دفاع او د ظالم د ظلم په وړاندي مقابله ده.

۴: د اسلام پر ضد د اسلام د دوښمنانو د پلانونو څخه د مسلمانانو خبرول: ددې لپاره چي اسلامي اُمت او اسلامي هیوادونه په خاصه توګه د اسلام د دوښمنانو د ټولو مهلکو پلانونو څخه خبر او په پوه سي چي د اسلام د دوښمنانو د دغه اسلام دوښمنه پلانونه د لویدیځو هیوادونو څخه په ټولو اسلامي هیوادونو کي د خپلو تالي څټو غلامانو پواسطه پلي کړي دي. د همدې امله د اسلامي اُمت ټول اسلامپاله وګړي، هغه که نارینه وي، که ښځینه مسؤلیت لري تر څو په فردي او ډله ایزه توګه د اسلام د دوښمنانو د دغه پلانونو د شنډولو په تکل پاڅون وکړي او خپل دیني مسؤلیت تر سره کړي، چي د دغو پلانونو څخه یې ځیني په دې ډول دي، لکه: د لبرالیزم خپرول، ډیموکراسي دودول، د خُمار ځایونو پرانیستل، په راډیو او ټلویزون کي د اخلاقي فساد خپروني خپرول، د ښځو د حجاب په خلاف یون، په جهادي تنظیمونو باندي بندیز لګول، په دیني مدرسو باندي بندیز لګول، د ږیري پریښوولو، د لمانځه اداء کولو او نورو اسلامي عباداتو په خلاف تحریک چلول، دین او حکومت یو د بل څخه بیلول او داسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور... دین نړونکي پلانونه چي په حقیقت کي د دغو ټولو پلانونو مرکزي او اصلي موخه د نړۍ د نقشې څخه د اسلام د مبارک دین له منځه وړل دي، نو دې ټولو حقایقو ته په پام سره پر ټولو مسلمانانو په ځانګړي ډول پر لوستوونکو او پوهو مسلمانانو لازمه ده، تر څو دغه اسلام دوښمن پلانونه د ټولو مسلمانانو په وړاندي بربنډ، د هغو له منځه وړلو لپاره هر اړخیزه هڅي په لاره واچوي او خپل ملتونه د اسلام د دوښمنانو د پنجو څخه وژغوري. د صلیبیانو پر ضد د مسلمانانو ډیر پیاوړي قوماندانانو پیاوړۍ او زړه ور، د سترګو اغزۍ، د اسلامي تاریخ تاج، جنګیالی، آتل قوماندان صلاح الدین ایوبي وو، او همدارنګه نور پیاوړي او متدین قوماندانان هم وه، ټولو قوماندانانو اسلامي اُمت د بریا په لوري وخوځاوه، او د ژوند په ټولو ډګرونو کي یې خپل ټینګښت، ښایست او ثبات وښوده، وحشي صلیبیانو ته یې غاښ ماتونکي او نه هیریدونکې ماته ورکړه، صلیبیانو د مسلمانانو په وړاندي د خپلي ماتي څخه ژور درس واخیستی، دوی ته دا څرګنده سوه، چي اسلامي اُمت څومره کمرزورۍ هم وي، بیا هم دوی تل په خپله عقیده باندي کلک ولاړ وي، د اسلامي شریعت پای بنده وي، په خپلو مینځونو کي وحدت لري او همدارنګه تل د خپل الله (جل جلاله) پر کتاب او د الله (جل جلاله) د رسول (صلی الله علیه وسلم) پر سنتو باندي کلکي منګولي لګوي، نو ځکه دوی بریالي هم وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه مسلمانان ولي وروسته پاته سول؟

اسلام د پرمختګ دين دی او د ټل لپاره يې خپل پيروان دې ته هڅولي دي، تر څو د خپل ژوند او د ټول انسانيت د هوسايني لپاره هغه اسباب برابر کړي چې ضرورت ورته لري، اسلام هغه دين دی چې په راتګ سره يې بشريت د وحشيانه ژوندانه څخه د يو ټولنيز ژوند پر لور سوق کړی، هغه ټولني چې د يو ژوندي انسان ښخول يې افتخار ګڼی، د اسلام په راتګ سره يې د نوموړي انسان لاسونه ښکل کړل او پر خپلو تيرو کړنو يې د پښيمانتيا اوښکي توی کړې، اسلام هغه دين دی چې انسان يې د غلامی د ژونده څخه د باداری تر مقامه رسولی دی، د يو باعزته سياسي، ټولنيز، اقتصادي او اخلاقي نظام تحفه يې ورکړې ده او ټول انسانيت ته يې د ژوند ريښتني معنا ورښوولې ده، اسلام چې د انساني فطرت موافق او د ټل لپاره د ټولني د پرمختګ غوښتونکی دی.

ولی هغه اُمت چې خپل دين اسلام ګڼي د ذلت او خوارئ په طرف روان دی؟ د پرمختګ څخه د وروسته پاته کيدو لامل يې څه دی؟ ولي ددې اُمت اسلاف د انسانيت خيرخواه ګڼل کيږي او اوسني افراد يې په بيلا بيلو توهين اميزه القابو ستايل کيږي؟ ولي د يو واحد قيادت تر سيوري لاندي نه سي يو ځای کيدلای؟ په داسي حال کي چې دې اُمت يو وخت نه يوازي د نړئ پر انسانانو، بلکي د بحر او وچي پر حيواناتو د حکومت واګي په لاس کي لرلې، د يو واحد قيادت او واحد بيرغ لاندي يې په ټوله نړئ کي د الهي قانون د حاکميت لپاره خپل صفونه منظم ساتل، خو دغه صفونو هغه وخت د ماتيدو پړاونه وهل شروع کړل، کله چې مسلمانانو د خپل دين اساسي لارښونو ته شاه کړله، شايد داسي ډير عوامل واوسي چې اسلامي اُمت يې د پرمختګ د نعمت څخه وروسته پاته کړی دی، مګر ځيني مهم عوامل چې د اسلامي اُمت د ذلت سبب ګرځيدلي او لا هم اسلامي اُمت ورسره لاس او ګريوان دی په دې ډول دي:

۱:- **د** احساس نه کول: يوه مهمه ستونزه چې اسلامي اُمت يې د پرمختګ د کاروان څخه په وروسته پاته کيدو مجبور کړ، د مسلمانانو تر منځ د مسؤليت د احساس ختميدل وه، هغه وخت چې مسلمانانو په خپل زړه کي د خپل خوږ پيغمبر حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) دې فرمان ته چې په تاسو کي هر کس راعي دی او د خپل رعيت په اړه به پوښتنه ځيني کيږي، په ريښتني معنا ځای ورکړی وو او دا فرمان يې د خپل ورځني ژوند لپاره سرمشق ټاکلی وو، يوازي دا نه چې ناکامي يې نه ليدله، بلکي د ناکامئ تصور يې هم چيري په ذهن کي نه ګرځيدی، نو ای ددې پرمختللي عصر وروسته پاته مسلمانه، ای هغه مسلمانه چې د اسلامي اُمت روانو حالاتو دي د سترګو څخه د آرام خوب اخيستی دی، ای هغه مسلمانه چې د ټل لپاره په دې فکر کي اوسي چې موږ مسلمانان ولي کمزوري او بې ځواکه سوي يو؟ نو پوه سي چې ددې روانو حالاتو يو اساسي لامل ته په خپله يې، ځکه چې تا تر اوسه کله په دې اړه د ځان سره فکر کړی دی چې ددې اُمت په اصلاح کي ستا مسؤليت څه دی؟ که چيري دي جواب هو وي، نو دا پوښتنه د ځان سره مطرح کړه چې څومره د خپل مسؤليت په سرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسولو کي کامیاب راغلی یې؟ او که دي جواب دی منفي وي، نو پوه سه چي اوس هم لا وخت تیر سوی نه دی، ته که هر څوک یې، ته باید اول خپل مسولیت وپیژني او بیا یې په سرته رسولو کي یوه ذره غفلت او یې غوري ونه کړې، نو لیري نه ده چي ستا د زحمت او خواری په وجه به اسلامي اُمت یو ځل بیا خپل تیر برم ته ورسیږي او خپل تللی عزت به بیرته لاسته راوړي، بیا به ستا د معدنونو څخه بل څوک ګټه نه اخلي، ستا اولادونه به بې هدفه نه لویږي، بیا به د خپلو مساجدو مختته او په ښارونو کي د خپل مسلمان ملت بې سرنوشته کوندې او یتیمان نورو ته په داسي حالت نه وینې چي بل ته یې د سوال لاس اوږد کړی وي.

د ټولني په اصلاح کي د مسلمان ځوان مسؤلیت څه دی؟ ځوان نسل د اسلامي اُمت تر ټولو لویه او ستره سرمایه ده، د اسلامي اُمت آرزښت او پایښت د ځوانانو سره تړاو لري، که چیري دا ځوانان بې هدفه لوی سي، په دې وپوهیږه چي اُمت د یو بیرونکي راتلوونکي شاهد دی او که ځوانان مو په صحیح اسلامي مفکوره د نړۍ غوره مخترعین او مکتشفین وروزل سي، نو انتظار وباسه چي اسلامي اُمت نور دا د خوارۍ ذلت او رسوایي شپې او ورځي نه سي زغملای او د ترقۍ په لور قدمونه اخلي، نو ای مسلمانه ځوانه اسلامي اُمت تاسو ته سترګي په لار دی، ستاسي هڅي او کوښښونه کولای سي د اسلامي اُمت روان غمونه په خوشحالیو بدل کړي، که خپل تاریخ وګورې، نو داسي ډیر مثالونه به مو تر نظره تیر سي، چي د ځوان قشر په وجه څومره مثبت حرکتونه منځته راغلي دي، د اسلامي دعوت اکثریت دعوت کوونکي ملاتړ کوونکي او ساتونکي ځوانان وه.

مګر د تاریخ په اوږدو کي د ځوان قشر لږ انحرافاتو هم اسلامي اُمت ته دومره ستونزي راولاړي کړي دي، چي تر نن ورځي پوري یې له وجهي اسلامي اُمت کړیږي، لکه د اندلس په شان د اسلام د اته سوه (۸۰۰) کلن تاریخ د نسکوریدو یو اساسي لامل هم د ځوانانو بې غوري او په بې هدفه کارونو کي وخت تیرول وه، اندلس یو وخت داسي ځوانان درلودل کله چي به په خپلو کي سره راټول سول، نو یو بل ته به یې ویل: ما تر تا ډیر صحیح البخاري زده کړی دی. بل به ویل: زه داسي توره چلولای سم. دا هغه وخت وو چي اندلس ته مسیحیانو خپل مبلغین او جاسوسان د اسلام د ځوان نسل د فکر معلومولو لپاره لیږلي وه او په دې هڅه کي وه، چي وپوهیږي د کوم عواملو پواسطه کولای سي د مسلمانانو څخه د اندلس مځکه واخلي.

هو! د ځوانانو آهمیت د اُمت په پرمختګ کي له دې ځای څخه په واضح توګه معلومیږي، کله چي جاسوسان د اندلس د ځوانانو دا خبري اوري نو بیرته واپس ځي او خپلو مشرانو ته وایي: اندلس لا تر اوسه داسي ځوانان لري چي په یو ډګر کي هم ماته او شکست نه مني، نو غوره به دا وي چي اوس د اندلس د نیولو خیالات هیر کړئ، دا ځکه چي لا تر اوسه د اندلس د نیولو موقع نه ده راغلې. مګر د وخت په تیریدو سره یوه ورځ بیا ځیني جاسوسان د اندلس په یوه لاره تیریږي، چي یو ځوان ناست دی او ژاړي، نو دغه جاسوس د دغه ځوان څخه د ژړا د علت پوښتنه وکړه؟ ځوان وویل: دلته یوه انجلۍ وه، ما ډیره مینه ورسره درلوده، خو هغې نن زه پریښوولم. جاسوس چي کله د ځوان خبري واوریدې، نو په تلوار سره خپلو مشرانو ته ورغلی او ورته ویې ویل: د اندلس د نیولو وخت راغلی دی. د اندلس هغه ځوانان

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي يو وخت يې د علومو او فنونو په ډګر کي هيڅ شکست نه منۍ او د ماتي په صورت کي يې اوښکي تويولې، نن په دې خبره اوښکي تويوي چي زه هغې انجلۍ پريښوولم، چي ما ډير مينه ورسره درلوده. نو هماغه وو چي مسيحيانو اندلس ته خپل مبلغين داخل کړل او هغه اندلس چي يو وخت د اسلام کلا ياديده، نن په يو داسي هسپانيه او پرتګال بدل سوي دي، چي د اسلام نوم اخيستل په کښي هم جُرم دی، نو ای د اسلامي اُمت ځوان نسله کوم اُمت چي ستا د ځينو خطاوو په وجه د ذلت دې حالت ته رسيدلی دی، اوس يې د پرمختګ په لور روانول هم ستا مسؤليت دی، ته بايد د معاصري اسلامي نړۍ د سر لوړۍ په لار کي خپل ځان مسؤل وګڼې، ته بايد خپل وخت په بې هوده کارونو کي مصرف نه کړې، د خپل وخت قدر او آرزښت وپيژنه، خپل ورځنۍ ژوند د يو تقسيم اوقات پواسطه تنظيم کړه، دا کار به دي په ژوند کي د وقار او عزت نښه وي، د خپلي ژبې د نعمت قدر وپيژنه او د داسي استعمال څخه يې پاکه وساته، چي کومه فايده نه پرې مرتبيږي، ستا لپاره تر ټولوغوره اسلام او مسلماني د فضول خبرو او بې فايدې کارونو پريښوول دي، د خپل مسلمان ورور سره په نيکۍ کولو کي داسي اوسه ګوندي ته د هغه احسان ادا کوې.

همدارنګه د خپل مسلمان ورور په غياب کي د هغه صفت کوه، دا کار به دي په ټولنه کي د محبت او الفت د پيدا کيدلو لپاره لاره هواره کړي، خپل دين او شريعت ته د دعوت په لاره کي ډير توند او مفرط مه جوړيږه، په ټولنه کي يو غوره رهبر جوړ سه، داسي رهبر چي د ټولني افراد به دي پريکړو ته به دي احترام لري او له مخي به يې ته په آسانۍ سره وکولای سې د اسلامي نړۍ د پرمختګ لپاره يوه باکفايته ټولنه وروزې، ته بايد په ټولنه کي د يو داسي مسلمان په صفت ژوند وکړې، چي خلګو ته دا ثابته کړې چي اسلام يو آسان دين دی، د ټولني د اصلاح او پرمختګ لپاره د هري روا پريکړي تاييد کوي، د هري هغه ډلي چي بې ځايه سختي کوونکي متشديدين او د حد څخه تيري کوونکي دي هيڅ ملاتړ نه کوي، د علم د زده کړي لپاره د هري ممکني لاري څخه بايد ايستفاده وکړې، ځکه علم دی چي د جهالت توري تيارې په روښانه سباوون بدلوي.

هغه اُمت چي ته يې د ترقۍ غوښتونکی يې بايد د علومو په زده کړه بوخت سي، داسي علوم ياد کړي چي په مادي او معنوي دواړو ډګرونو کي ټولني ته ابتکارات وړاندي کړي، د ژوندانه ټولو هغه ادابو ته چي اسلام ټاکلي دي، پابند واوسه، د ملګري په انتخاب کي د ډير اختياط څخه کار واخله، تل د ځان لپاره داسي ملګری انتخاب کړه چي نيک او صالحه وي، ځکه څومره چي انسان د ملګري څخه متاثره وي، د بل چا څخه نه متاثره کيږي، هغه همفکره، مخلص او صالح ملګري چي تا ته يې په زړه کي ځای درکړی او د الله (جل جلاله) د رضا لپاره محبت درسره کوي، خپلو ملګرو ته پر خپل ځان ترجيح ورکوه، ځکه دا کار دي د دعوت په لاره کي د ملګرو همکاري لا ډيرولای سي، د اسلامي نسل د بقاء لپاره د دينداري او صالحي کورنۍ بنسټګر جوړ سه، ښځه يوازې د ښايست لپاره مه خوښوه، ځکه کيدای سي دا ښايست يې د هلاکت سبب درته وګرځي، د يوې ښځي شتمني بايد تا دومره متاثره نه کړي چي دينداري دي د ياده ووځي، اکثره وخت د سرکښۍ اساسي لامل مال کيدلای سي، ځان د

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله سبحانه وتعالی طرف ته په دعوت کولو وروزه او نورو ته هم ددې کار ترغیب ورکوه، ځکه دعوت د یو مسلمان ځوان لپاره تر ټولو اساسي مسؤلیت دی، شیطان خپل اصلي دوښمن وګڼه د هر قسم چل او فریب مخنیوی یې په لوړ همت سره وکړه، ځکه د شیطان مکر او فریب ډیر کمزوری دی، خپل رب (جل جلاله) ته د خپلي کمزوری بیان کوه او د خپلو خطاوو بخښنه ځیني غواړه، ټول هغه څه د یاده وباسه چي د خپل رب (جل جلاله) مخالفت ته دي تیاروي، قرآن کریم د خپل ژوند د لاري مشال وګرځوه او هره ورځ یې پر ځان څه حصه تلاوت لازم کړه، لږ تر لږه په اونی کي یو ځانګړی وخت د نبوي سیرت او د اسلامي تاریخ د مطالعې لپاره وټاکه، چي د ماضي په دې هنداره کي به دي د حال تصویر وګورې، د خپل ژوندانه د ټول نظام د برابرولو لپاره الله سبحانه وتعالی په هر ځای کي حاضر او ناظر وګڼه.

۲:ـ د واحد قیادت نه شتون: اسلامي اُمت نن د واحد قیادت او سالم رهبریت د نه لرلو له وجهي د داسي یو کاروان او قافلې مثال لري چي د سفر لاره یې ورکه کړې وي، منزل ته د رسیدو لپاره په ډیرو سختو لارو سفرونه کوي او تکلیفونه ګالي، مګر دا یو داسي سفر دی چي اصلي منزل ته د رسیدو لپاره سالمه رهبري نه لري، نن اسلامي نړی د پرمختګ ډیر اسباب او امکانات په لاس کي لري، مګر د افسوس ځای دی چي په اسلامي اُمت کي د اتحاد او یووالي نه شتون ددې لامل سوی دی، چي د مسلمانانو خپل امکانات د مسلمانانو پر ضد استعمال سي، د راشده خلافت څخه وروسته اسلامي خلافتونو ډیري ستونزي درلودې، مګر بیا هم د نړی بې دینه قوتونو ته یې د اسلامي اُمت په قلمرو د تجاوز کولو د جرئت اجازه نه ورکوله، د اسلامي نړی ذیرمي او معدنونه د کفر په خدمت کي نه مصرف کیدل، کفري تربیتي مراکزو په ښکاره ډول د اسلام د شعایرو سپکاوی نه سوای کولای، دا هر څه صرف په دې وجه وه چي د شرق څخه تر غربه او د شمال څخه تر جنوبه پوري په ټوله اسلامي نړی کي د ظلم او استبداد پر وړاندي د مسلمان آواز یو آواز او پاڅون یې یو پاڅون ګڼل کیدی.

داسي نه چي کفري قوتونو هغه وخت نه غوښتل اسلامي نړی تر خپلي والکې لاندي راولي، بلکي هغوی په دې نه توانیدل چي د اسلام پر ضد داسي ښکاره توطیې جوړي کړي، او اسلامي نړی د وینو په داسي سیلاب کي لاهو کړي، چي د کوچنیانو څخه نیولې، تر سپین ږیرو پوري ټول ددې سور سیلاب د څپو ښکار سي، په واحد قیادت کي د مسلمانانو د پرمختګ اساسي عنصر باید درک کړل سي، که په اسلامي هیوادونو کي د واحد قیادت تر بیرغ لاندي جمع کیدل مسلمانانو ته کومه اهمه موضوع نه ښکاري، نو د اسلامي اُمت اوسني حالات دي په غور مطالعه کړل سي، د اسلامي نړی د علماء کرامو او پوهانو په اړه دي څیړني وسي، د اسلامي هیوادونو د پوځونو شمیره دي معلوم کړل سي، د معدنونو او ذخایرو کلنی عواید دي حساب کړل سي او بیا دي د اسلامي اُمت پر اوسني مظلومیت فکر وکړل سي، نو دا حقیقت به ورته روښانه سي، چي واحد قیادت د اسلامي نړی د پرمختګ لپاره یو ضرورت او اساسی عنصر دی، او ددې پرته مسلمانان نه سي کولای د پرمختګ په طرف روان سي، د دین دوښمنانو په اسلامي هیوادونو کي د مسلمانانو ذهنیتونه تر دې حده پوري تخریب کړي دي، چي په سلو (۱۰۰) کي شپیته (۶۰) فیصده مسلمانان دا فکر هم نه لري چي ټوله اسلامي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړۍ دي يو قيادت ولري، پاته نور مسلمانان که څه هم په دې طمعه يې شپې او ورځې تيرولې چې ګوندي په خپل ژوند کي يو ځل بيا مسلمانان يو واحد قايد او رهبر ولري، نن تر ډيره په دې اړه ناهيلي سوي دي، مګر دا هم حقيقت دی چې دومره پراخه اسلامي قلمرو چې د افرادو ذهنيتونه يې هم په خپلو کي تر ډيره توپير لري او يو قشر افراد يې هم په خپلو کي متحد نه دي، په لنډ وخت کي تر يو چتر لاندي راجمع کول ستونزمن کار دی، مګر بيا هم په دې يقين ساتل په کار دي چې راتلوونکی د اسلام دی. همدارنګه په دې خبره نااُميدي نه ده په کار چې ګوندي اوس مهال اسلامي نړۍ په ډيرو هيوادونو ويشل سوې ده او ددې هيوادونو تر منځ همغږي او اتحاد منځته راوړل به امکان ونه لري، هو دا هر څه امکان لري که چيري يې موږ وغواړو، ځوانه که ته غواړې چې ټول مسلمانان دي بيرته د يو بدن حيثيت پيدا کړي، چې د يو غړي په درمند کيدو ټول وجود درمند وي، نو اصلاح د خپل ځان څخه شروع کيږي، ته بايد په هغه اسلامي هيواد کي چې ته ژوند په کښي تيروې، د وحدت لپاره هلي ځلي وکړه.

د هغه دعوتي او تربيتي مراکزو ملاتړ وکړه چې ستا په هيواد کي د يو واحد سالم رهبريت د منځته راوړلو لپاره کار کوي، ته بايد په خپله خاوره کي د هر قسم تبعيض د له منځه وړلو لپاره مبارزه وکړې، د خپل وس مطابق په خپلو همزولو کي د وحدت او ورورولئ ذهنيت را ژوندیٔ کړه، اوس نو چې تا د يو درمند مسلمان په حيث د خپل ځان، کورنیٔ او ټولني د اصلاح لپاره هڅي پيل کړې او په خپله دي د خپل حالت د بدلولو لپاره متې راونغاړلې، نو الله سبحانه وتعالی به ستا د هڅو او کوښښونو په وجه ستا او ستا د ټولني حالت تغير کړي، ته به په خپل هيواد کي د يو واحد او سالم قيادت څخه برخمن سې، کله چې ته په دې بريالی سوې، چې خپل هيواد دي د بدبختیٔ څخه وژغوریٔ، نو يقيني سه چې ته به د ټولي اسلامي نړۍ لپاره د آمن يو زيریٔ سې، ځکه تا په ټوله اسلامي نړۍ کي د آمن او سالم نظام د راوستو لپاره قرباني ورکړه او دا قانون دی تر څو چې ځان اصلاح نه کړې، ټولنه نه سې اصلاح کولای.

٣:ـ خپل منځي اختلافات: اختلاف هغه ناسور دی چې مسلمانان يې په يو بل باندي د درمند کيدو څخه بې پروا کړي، اوسني اختلافات د انګريزانو د هغه شعار د تطبيق عملي مثال دی، کوم چې د اسلامي هيوادونو د مستعمره کولو لپاره يې درلودی، تفرقه واچوه او حکومت وکړه. چې له مخي يې نن کفار په خپل دغه کار کي په سلو (١٠٠) کي اتيا (٨٠) فيصده کامياب سوي دي او لا هم بريالي روان دي، نن په اسلامي اُمت کي داسي يو ډله نه تر سترګو کيږي، چې په خپل منځ کي په څه مسايلو اختلاف ونه لري، د اسلامي اُمت د علماؤو څخه نيولې، تر نظامي او سياسي ډګره پوري ټول مسلمانان د خپل هم مسلکه مسلمان په وړاندي د مقابلې او مناظرې ميدان ته راوتلي دي، نن که يوې خوا ته دوښمن د اسلام د ختمولو لپاره او د خپلو تحريف سويو دينونو او فاسدو افکارو د خپرولو لپاره د دعوت ډګر فعال ساتلی دی، بل طرفته يې د مسلمانانو توري او قلمونه د مسلمانانو په خپل منځ کي د يو او بل پر خلاف مصروف ساتلي دي، په تاسف سره د مسلمانانو د روانو دردونکو حالاتو اساسي عاملين هغه مسؤل کسان دي چې د اساسي مسايلو پر ځای يې په آمت کي د فروعي مسايلو پر سر موجود اختلاف ته دومره زور ورکړی دی، چې دوښمن يې پر دی جرءتمند کړی دی، تر څو د اسلام د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ختمولو لپاره د نظامي يرغل پرته په يو آسانه لاره چي فکري يرغل ورته ويل کيږي، د مسلمانانو د ذليله کولو، پر خپل دين او عقيده يې د شکمن کولو لپاره د مقابلې ميدان ته را ووځي، مګر د حيرانتيا خبره دا ده کله چي د مسلمانانو په منځ کي د روان بحران د ختمولو په باره کي پوښتنه کيږي، د اکثريت رايه همدا ده: په اسلامي اُمت کي روان اختلافاتو ته دي د پای ټکی کښېښوول سي، مګر ددې سره سره چي مسلمانانو نن دا درک کړې هم ده چي روان فروعي اختلافات د اسلامي اُمت د بربادي يو اساسي لامل دی، بيا هم ورځ تر بلې دغه اختلافات د پرمختګ په حال کي دي، دا ځکه چي مسلمانان په عمومي ډول سره د هغه څه په باره کي معلومات نه لري چي د دغه اختلافاتو د پيدا کيدو لامل سوي دي او کوم چي په دې اړه څه معلومات لري، هغوی تر اوسه پوري ډير په کم فيصد کي عملي اقدام کړی دی، د اختلافاتو د پيدا کيدو اساسي لاملونه:ـ

الف:ـ ځان غوښتنه: نن د مسلمانانو ذهنونه او فکرونه په دې مصروف دي چي څنګه د ځان د مشهورتيا، په ټولنه کي د نفوذ پيدا کولو او پر نورو باندي د خپلې رايي د منلو په باره کي غوره پلان طرحه کړي، په داسي حال کي چي د ځان غوښتني دې بدمرغه پديدې د اسلامي ټولني په افرادو کي د اختلاف اور ته داسي لمنه ووهله چي ددې اور مړ کول به وخت ته ضرورت ولري، که پر يو اسلامي هيواد باندي د کوم طرف څخه يرغل کيږي، نور اسلامي هيوادونه يې د دفاع په اړه ځان په هيڅ ډول مسؤل نه ګڼي، هر اسلامي هيواد خپل ځان يوه مستقله خاوره ګڼي او د لوی اسلامي ورورولی جوړيدو ذهنيت په اسلامي ټولنه کي د ختميدو په حال کي دی، دا د دوښمن يوه مکاره توطيه ده چي مسلمانان يې په دې مفکورې سره د اسلامي ورورولی په باره کي بې غوره کړي دي، تر ډيره پوري که د صحابه کرامو او يا د صحابه کرامو څخه وروسته د اُمت د نورو اسلافو تاريخ وکتل سي، دا په څرګند ډول ځيني معلوميږي چي د کاميابی يو اساسي راز يې په همدې خبره کي نغښتی وو، د تل لپاره يې بل مسلمان ته پر خپل ځان ترجيح ورکړې وه.

مګر متاسفانه په اسلامي نړۍ کي عوام څه چي هغه خاص چي ځانونه د اسلام ريښتيني داعيان ګڼي او تل يې شعار دا دی: د اسلام د حاکميت لپاره مبارزه او هلي ځلي کوو. پر يوه ټغر نه سره راټوليږي، هر يو ځان د بل امير څخه غوره ګڼي، او د مشرۍ لپاره ځان وړ شخص بولي، د ځان غوښتني دې ناسور د اسلامي اُمت پوځونه يو د بل په خلاف د مقابلې سنګرونو ته ايستل او د دوی تر منځ يې خپل منځي اختلافات دومره تقويه کړل چي د مسلمان فتوا نن د مسلمان په خلاف، د مسلمان توره نن د مسلمان د توري په خلاف او د يو مسلمان فکر د بل مسلمان د ذليله کولو لپاره استعماليږي، د ځان غوښتني پديده مو د پرمختګ په لار کي اساسي خنډ دی، نو بايد د ځان سره يو قوي عزم ولرو، که امير يې، که رعيت يې، که عالم يې او که امي يې، بلکي هر څوک چي يې بل مسلمان ته بايد پر خپل ځان ترجيح ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ب:ـ د د نیا محبت: تاریخ ددې شاهدي ورکوي، کله چې هم مسلمانانو د لړو دنیاوي ګټو لپاره اخروي نعمتونه هیر کړي دي، د لویو مشکلاتو او ناکامیو سره مخامخ سوي دي، په همدې اساس د ننني اسلامي نړۍ د وروسته پاته والي یو اساسي لامل بیا هم د دنیا په مینه کي اخرت هیرول دي، دا ځکه چې نن مسلمانانو د دنیا د حاصلولو لپاره د خپل اسلامي مقدس شریعت ډیر احکام تر پښو لاندي کړي دي، زکات يې د مال د کموالي سبب ګڼلی، نن په اسلامي نړۍ کي د فقر د ډیریدو یو اساسي لامل شتمنو مسلمانانو د خپل مال سره د ډیر محبت له وجهي د فقیرو او ضرورت مندو مسلمانانو خیال نه ساتي، په داسي حال کي که د نړۍ شتمن مسلمانان د خپلو مالونو زکات په صحیح توګه وباسي او مستحقینو مسلمانانو ته يې ورسوي، نو د یوه کال په داخل کي به په ټوله اسلامي نړۍ کي یو فقیر او مسکین مسلمان پاته نه سي، خو دا په هغه صورت کي ممکن ده چې هر مسلمان بل مسلمان ته پر خپل ځان ترجیح ورکړي، د اسلام په تاریخ کي د تبوک غزا یو د هغه سرنوشت ټاکوونکو غزاوو د جملې څخه وه، چې مسلمانان د کفر د یو لوی لښکر سره مخامخ سوي وه، او دا یو د هغه غزواتو د جملې څخه وه، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په هر ځای کي موجودو مسلمانانو ته په جهاد کي د شرکت اعلان کړی وو، د الله (جل جلاله) او د الله (جل جلاله) د رسول (صلی الله علیه وسلم) سره د میني په خاطر خپل ټول مالونه، څه چې ځانونه هم قربان کړل، کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د تبوک غزا ته لښکر برابروی، دا داسي موسم وو چې هوا ډیره ګرمه وه، میوې پخې سوي وې.

کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د غزا لپاره د وسایلو د برابرولو په خاطر د صحابو کرامو څخه د مال د راجمع کولو غوښتنه وکړه، نو ټولو په پراخه سینه د غزا لپاره مالي مرسته وکړه، هر یوه د خپل وس مطابق مالونه جمع کړل، د دوی د جملې څخه یو هم حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) هغه ریښتنی ملګری وو، چې خپل ټول مال يې څلور زره (۴۰۰۰) درهمه کیدل راوړ، کله چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د کورنۍ په باره کي پوښتنه ځیني کوي: څه دي ورته پریښوول؟ نو حضرت ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) په جواب کي ورته وایي: ای د الله رسوله! هغوی ته مي الله (جل جلاله) او د الله (جل جلاله) رسول (صلی الله علیه وسلم) پریښوول. خلاصه دا چې د صحابه کرامو قربانیو ته د چا قرباني نه رسیږي او د اسلامي اُمت د پرمختګ په لار کي د هغو اخلاص او صداقت ته د چا صداقت او اخلاص نه رسیږي، مګر د صحابه کرامو پر قدم روانیدل د اُمت د پرمختګ او د روانو ناخوالو څخه د خلاصون یوازینۍ لاره ده، د اسلامي اُمت پرمختګ د ځاني قربانیو تر څنګ مالي قرباني او د دنیا محبت د زړه څخه ایستل غواړي.

ج:ـ د مشرۍ محبت: اسلام خپلو پیروانو ته ددې خبري ډیر تاکید کړی دی، چې د اسلامي اُمت د مشرانو او اولوالامر اطاعت وکړئ، مګر د ځان لپاره د مشرۍ د تر لاسه کولو په اړه د هیڅا سره موافقت مه ښایاست، اسلام د مشر د ټاکلو لپاره اصول او قواعد لري او په اسلامي ټولنه کي هر څوک حق نه لري چې ځان مشر وګڼي، اسلام دا نه غواړي چې خپلو پیروانو ته د داسي یو ټولني بنیاد پریږدي چې د شخړو او اختلافاتو څخه ډکه ټولنه وي، ځکه نو اسلام مسلمانانو ته دا درس ورکوي چې د مشرۍ محبت دي تاسو د خپل اصلي هدف ته د رسیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څخه غافله نه کړي او کله چي د مسلمانانو د چارو واګي په لاس کي درکول سوي، نو د خپل مشرئ سره محبت دي تاسو د حق څخه ګرځيدو ته مجبور نه کړي، مګر کله چي د مسلمانانو زړونو ته د مشرئ محبت په داسي ډول کښته سو، چي د تر لاسه کولو لپاره يې هره لاره اختيارولو ته اماده سي، نو همدې محبت يې د اسلامي اُمت لپاره د اختلافاتو ميدان ګرم وساتئ، دا کار خپله اُمت ته د تفرق او اختلاف راوستولو اساس جوړېږي او له امله يې اسلامي اُمت پر داسي ډلو وويشل سي چي بيا يې د يو امير تر آمر لاندي جمع کول ډېر ستونزمن سي، د اسلامي اُمت د لومړني دور اصلاح چي په څه راغلي ده، د وروسته اُمت اصلاح به هم په هغه څه راځي، نو په دې اساس هغه څه چي ددې اُمت اسلافو د اختلافاتو د ختمولو لپاره معيار او د اُمت د پرمختګ اساس ګڼه، د اُمت د اوسني دور لپاره به هم د پرمختګ او وحدت معيار وي.

د:ـ جهل او کم علمي: د اسلام اساس او بنسټ پر علم او پوهه ولاړ دی، او هغه ټولنه چي د اسلام دين د ځان لپاره د يو قانون په حيث مني اسلام علميت او ذکاوت ځيني غواړي، اسلام د مسلمان څخه په پټو سترګو د يو چا پيروي کول نه مني او د پرمختګ لپاره علم يو معيار ورته ګڼي، اسلام هغه ټولني ته چي د اسلامي اُمت خطاب ورته کيږي د خپل منځي اختلافاتو د ختمولو لپاره علم اساس ټاکلی دی، دا ځکه چي اسلامي اُمت د هغه وخت څخه د خپل منځي اختلافاتو په جال کي راګير سو، چي د علم صحيح معنا يې بدله کړه، داسي اشخاصو ته يې د علماؤو نسبت وکړ چي د علماؤو د نوم د آهميت کوم لحاظ يې هم نه کوی، د اسلامي اُمت څخه يې خپل اساسي مسايل هير کړل او اُمت يې په داسي مسايلو کي مصروف وساتل، چي اُمت ته کومه فايده نه پرې مرتب کيده او دا سلسله لا تر اوسه روانه ده، که چيري هغه اشخاص چي د فروعي مسايلو پر سر يې په اُمت کي د اختلاف اور بل کړی دی، په دې پوهيږي چي په اسلام کي د مسلمانانو صفونه متحد ساتل ډېر ضروري اصل دی او که په فروعي مسايلو کي خپل مسلک ته دعوت کول، يا خو يې د صحابه کرامو ژوند لږ مطالعه کړی وای چي د حضرت محمد مصطفی (صلی الله عليه وسلم) پسي يې په يوه صف کي ولاړه وه، يا خو يې د څلور (۴) مذاهبو د امامانو ژوند ته لږ نظر کړی وای چي ددې مسايلو سره سره د يو بل سره يې اجتهادي اختلاف وو، مګر يو بل ته څومره په احترام قايل وه، د اسلامي نړئ قدرمنو علماء کرامو تاسو ته د ستر لاربنود حضرت محمد مصطفی (صلی الله عليه وسلم) د وارثانو خطاب سوی دی، اُمت ستاسو هري پريکړي ته لبيک وايي، د اسلام دوښمنان غواړي چي اسلام د مځکي د مخ څخه د تل لپاره ختم سي او دې هدف ته د رسيدو په لار کي د خپلو فعاليتونو په مخ کي اساسي خنډ د مسلمانانو وحدت او په خاص ډول د اسلامي نړئ د عالمانو متحد کيدل ګڼي، دوی نن دا خبره درک کړې ده، چي د علماء کرامو تر منځ د اختلاف پيدا کولو د لاري کولای سي د اسلامي اُمت وحدت مات کړي او په آسانئ سره وتوانيږي مسلمانان تر خپل تسلط لاندي راولي، يعني د علماء کرامو وحدت د ټولي اسلامي نړئ وحدت دی او په فروعي اختلافاتو کي مصروفيدل يې اسلامي نړئ په ډلو د تقسيمولو معنا لري.

ح:- د ډلو او ګوندونو جوړول: يو بل مشکل چي اسلامي نړئ يې د اختلاف په لومو کي مبتلولې او د اسلامي اُمت د پرمختګ په مخ کي اساسي خنډ دی، هغه د مسلمانانو په منځ کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قومي، ژبني او نژادي تعصباتو پر بناء ولاړ ګوندونه او تنظيمونه جوړول دي، اسلام هيڅکله خپل پيروان پر ډلو ډلو ويشلو ته نه رابولي، بلکي هر وخت د وحدت او يووالي پيغام د ځان سره ورته لري، د اسلام مبارک دين هغه ټولني ته چي خپل دين اسلام ګڼي د تل لپاره دا درس ورکړی دی، ستاسو پرمختګ په دې کي دی چي پر ډلو ډلو د ويشل کيدلو څخه ځان وساتئ، او د يو امير تر مشرۍ لاندي خپلي ورځينۍ چاري مخ ته يوسئ او کله چي ستاسو چاري د مختلفو اميرانو له خوا اداره کيدل شروع سي، بيا نو هيڅکله د آمن، سولي او پرمختګ خوبونه مه وينئ، اسلامي اُمت چي کله پر ګوندونو او ډلو ويشل کيږي، دوښمن ته دا زمينه برابريږي چي د دوی تر منځ د تفرق يا اختلاف اچولو لپاره خپلي هڅي ګړندۍ کړي، هره نظريه چي د اسلامي شريعت د احکامو خلاف وي په اسلامي نړۍ کي د وحدت د پيدا کولو لار نه ده، بلکي اسلامي نړۍ د اختلاف په اور کي سوځوولو ته برابروي.

۴:ـ د سالم مديريت او موفق پلان نه شتون: نن اسلامي هيوادونه په دې حيثيت موجوديت نه لري چي د يو اداري واحد په توګه پلان او طرحه ولري، په داسي حال کي چي د معاصري پرمختللي نړۍ د پرمختګ اساسي نقطه د يو موفق پلان درلودل دي، په اسلامي نړۍ کي بايد داسي يو پلان او يا يوه اداره موجوده سي چي په ريښتني معنا د يو ملت د پرمختګ ترجماني وکولای سي، د وخت آرزښت وپيژني او تنظيم ته يې پابنده واوسي، يو موفق پلان يوازي د مادي اړخه د اسلامي اُمت ضرورت نه دی، بلکي په معنوي لحاظ اسلامي نړۍ د پلان لرلو ته ډير ضرورت لري، نن که څومره اسلامي هيوادونه مستعمره ګرځيدلي دي، اساسي لامل يې د يو داسي پلان نه درلودل دي، چي د دوښمن د توطيو مخنيوی پرې وکړي او نه داسي يو باکفايته اداره شتون لري، چي د اسلامي نړۍ د مستعمره کيدو د مخنيوي لپاره يو باآرزښته پلان طرحه کړي، په داسي حال کي چي کفري قوتونه شپه او ورځ پر دې کار کوي چي څنګه اسلامي هيوادونه تر خپل تسلط لاندي راولي، د طبيعي منابعو څخه يې يوازي دا نه چي د خپل ژوند د سوکالۍ او آرامۍ لپاره کار واخلي، بلکي څنګه د مسلمانانو شتمني د مسلمانانو د ختمولو لپاره استعمال کړي.

پلان درلودل د حريت او آزادۍ اساسي شرط دی؟ د افسوس او ژړا حالت دی چي لويه اسلامي نړۍ په داسي حال کي قرار لري چي آزادي يې سلب سوې او ددې سقوط لامل دا وو چي موږ مسلمانانو د هغه اوږد مهاله پلانونو او طرحو په مقابل کي چي د اسلامي ذهنيتونو د بدلولو لپاره ډيزاين کيدل د داسي يو پلان پر جوړولو کار نه کولو چي لږ تر لږه مو خپل اسلامي قلمرو د بهرنيو يرغلونو په مقابل کي خوندي ساتلی وای، موږ د نړيوالو څخه په اداري تنظيماتو او پلان جوړونه کي دومره وروسته پاته يو، موږ د دوښمن په مقابل کي د خپلو حدودو د خوندي ساتلو او په خپلو داخلي چارو کي د پرديو د مداخلې څخه د خلاصون لپاره کلونه کلونه د پرديو په لاس جوړويدونکو طرحو ته انتظار وباسو، يعني نن موږ د ضعف هغه حالت ته رسيدلي يو، چي د دوښمن سره د مقابلې په ډګر کي د کاميابۍ لپاره د دوښمن څخه پلان غواړو، دا زموږ لپاره يو لوی شکست او ناکامي ده، دغه ماتي موږ يوازي په هغه سيمو او هيوادونو کي نه ده خوړلې چي موږ مسلمانان يې اقليت شميرل کيږو، بلکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هیوادونه چي اکثریت وګړي یې مسلمانان شمیرل کیږي هم په دې مشکل کي اخته دي، آیا مسلمانان د نړي اقلیت دي؟ نن په ټوله نړي کي د مستقلو هیوادونو په توګه مسلمانان په دریو (۳) لویو وچو آسیا، افریقا او اروپا کي ځای لري، له دې جملې څخه شل (۲۰) مستقل هیوادونه په آسیا کي قرار لري او د ۲۰۱۴م کال د احصایې له مخي یې نفوس یو (۱) ملیارډ او یوسلو پنځوس (۱۵۰) میلیونه اټکل سوی دی، دا د ټولي اسلامي نړۍ د نفوس دوه سلنه جوړوي. د افریقا لویه وچه د اوویشت (۲۷) مستقلو هیوادونو درلودلو په اساس د ۲۰۱۴م کال د احصایې له مخي پنځه سوه یو اتیا (۵۸۱) میلیونه نفوس لري او د ټولي اسلامي نړۍ د نفوس څلورمه (۴) برخه جوړوي، اروپا د دوولسو (۱۲) آزادو او نیمه آزادو هیوادونو درلودلو په اساس څلور څلویښت (۴۴) میلیونه مسلمانان لري، همدارنګه د نړۍ پاته نور هیوادونه هم مسلمانان د اقلیت په ډول د ځان سره لري، یعني دا ددې ښکاره ثبوت کیدای سي چي نن مسلمانان د افرادو د کمښت سره نه دي مخامخ، بلکي د خپلو افرادو څخه په مناسب ځای کي د استفادې لپاره د سالمي طرحي د نه شتون سره لاس او ګریوان دي، همدارنګه اسلامي نړۍ نن هم د داسي شخصیتونو لرونکې ده چي علمیت، ذکاوت او پوهي ته یې نړیوال ګوته په غاښ دي، مګر ولي هر کله دغه اشخاص د اسلامي اُمت د پرمختګ لپاره خپلي متي نه رانغاړي، عاقبتي ترور، دایمي حبس، د ملک څخه تبعید او یا د داسي بندیزونو لاندي راوستل وي چي هیڅکله هم ونه توانیږي چي د خپلي پوهي په برکت خپلي ټولني ته خدمت وکړي.

۵:ـ د پردیو د فرهنګ تقلید: هر اُمت چي خپل فرهنګ او د ژوند آدابو ته په احترام قایل وي، نوم یې د تل لپاره ژوندۍ وي او هیڅ کله د نورو قوي اُمتونو تر تسلط لاندي نه راځي، مګر کله چي یوه ټولنه د خپل فرهنګ پریښوولو ته مخ کوي، په قرار قرار خپل آرزښت هم د لاسه ورکوي، په همدې اساس کله چي اسلامي اُمت خپل کلتور هیرول شروع کړل، ځان یې په تاریخ کي د وروسته پاته ملتونو په قطار کي دریدلو ته برابر کړ، هغه اُمت چي اسلام یې د ژوند اساسي لار ګڼله اسلام هم ورته د ژوندانه د تیرولو لپاره د داسي یو قانون او نظام ډالۍ د ځان سره درلوده، چي د ژوند هر لورۍ یې روښانه، د عزت او سرلوړۍ نمونه وه، اسلام خپلو پیروانو ته د عزت داسي درس ورکړی وو، چي د نړۍ متکبر او جابر قوتونه یې د یو عادي سپاهي په مخ کي د خبرو جرئت نه درلودی.

مګر کله چي مسلمانان د خپل اسلامي فرهنګ په رواجولو شرمیږي، د غم او خوشحالۍ مراسم یې د پردیو د فرهنګ مطابق سرته رسیږي، یعني د یو چا د فرهنګ منل د هغه د ژوندانه طرز منل دي، نو څومره چي موږ مسلمانان د پردیو په فرهنګ پسي روان یو، دا به ددې معنا ولري چي موږ د یوې اسلامي ټولني په لرلو نه یو راضي او د تل لپاره دا غواړو چي نورو ته مو د احتیاج لاس اوږد وي، همدارنګه په دې حقیقت ځان خبرول په کار دي، فرهنګي استعمار د نظامي استعمار څخه ډیر خطرناک دی، دا ځکه چي که یو ملت په نظامي ډګر کي مستعمره وي، ددې امکان یې سته چي افراد یې یو ورځ پر ملت تحمیل سوی نظامي استعمار ته د پای ټکۍ کیږدي، مګر که یو ملت د فرهنګي استعمار د طریقې مستعمره وګرځیدی، نو نسل تر نسل به د غلامۍ ژوند ته ولویږي، د تل لپاره به یې د پرمختګ کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځان ځخه شاته پرېږدي او دا صرف له دې امله چي دوی به د دوښمن د غلط فرهنګ تر تاثير لاندي راتلو له وجهي خپل صحيح فرهنګ تر پښو لاندي کړی وي، ددې تيروتني په وجه به يې ملت د وروسته پاته والي او حقارت په لومو کي د واه معتصما نارې وهي، خو بيا به معتصم نه ګوري، که هر مسلمان د ځان سره په دې اړه فکر وکړي چي تر څومره پوري زه د پرديو لادينه فرهنګونو په رواجولو او خپلولو کي اخته يم او آيا زه ددې فرهنګونو پريښوولو ته تيار يم، که يا؟ نو که چيري په دې راضي اوسو چي دغو پرديو فرهنګونو ته په خپله اسلامي ټولنه کي د پای ټکی ږدو، هر څوک هغه فرهنګ چي دی يې تر تاثير لاندي راغلی دی پريږدي او د ختمولو لپاره يې اقدام وکړي، نو دا به د اسلامي نړۍ د پرمختګ په برخه کي د يو بادرده مسلمان په صفت د پرمختګ غوښتني يو عملي مثال وي، د اسلامي کلتور او فرهنګ د پلي کولو يو آسانه او هدف ته رسيدونکې لاره وي.

۶:ـ د عصري او ديني علومو تر منځ واټن: کله چي علومو پرمختګ وکړ او د اسلامي نړۍ سترو سترو علماء کرامو د قرآن کريم او حديث څخه د عصري ټکنالوژۍ په ډګر کي په کشفياتو او ابتکاراتو لاس پوري کړ، د عصري علومو د پرمختګ لپاره يې د مراکزو په جوړولو شروع وکړه، دا هغه وخت وو چي مسلمانانو علمي پرمختګ درلودی، کفري نړۍ خصوصاً اروپا د تاريخ په تور دور کي ژوند کوی او د علم په نوم يې څه نه پيژندل، نو کفري نړۍ نوره هم د مسلمانانو څخه په بيره کي سوه، بالاخره پر داسي يو پلان يې کار شروع کړ، چي څنګه د اسلامي اُمت علمي قشر په خپل منځ کي پر يو بل بې باوره کړي، هماغه وو چي د خپلو مبلغينو په ذريعه يې په اسلامي نړۍ کي دې مفکورې ته کار شروع کړ، چي ساينس د قرآن کريم سره هيڅ تعلق نه لري او يا دا چي په ساينسي ډګر کي اکتشافات کول د قرآن کريم د احکامو څخه يو خلاف عمل دی، بل خوا ته يې د عصري علومو د زده کوونکو او ښوونکو ذهنيتونه داسي وروزل چي د دوی په سينو کي يې د خپلو مذهبي مبلغينو لپاره موجوده مينه او الفت وواژه، تر دې پوري چي دواړو لوريو يو بل ته د احترام لرلو څخه لاس واخيست، له امله يې اسلامي اُمت داسي يو زيان وليدی، چي نن يې هم پر حالاتو مځکه او آسمان ژاړي، دې بدمرغه مفکورې يوازي د اسلامي اُمت اقتصاد او صنعت ونه ځپی، بلکي د اسلامي نړۍ پوهنتونونه او مدارس يې هم شاړ کړل، مګر د ژړا حالت دا دی لا هم دا ذهنيت په مسلمانانو کي ژوندۍ دی او که چيري يې د اصلاح لپاره هڅه او کوښښ ونه سي ډير نور بد عواقب به د ځان سره ولري.

عصري ساينس او ټکنالوژي د قرآن کريم محصول دی: دلته به هغه غلط فهمۍ د ليري کولو لپاره څو ټکي وړاندي سي، کوم چي ساينس او قرآن کريم په خپلو کي هيڅ اړيکه نه لري او يا دا چي قرآن کريم د عصري ساينس او ټکنالوژۍ په باره کي هيڅ کوم خبر نه دی ورکړی، نو که چيري ساينس د قرآن کريم سره په ټکر کي وګڼو، نو دا کار به د قرآن کريم د حقانيت په موضوع يو نيوکه کول وي، هغه په دې اساس کله چي دا وايو: قرآن کريم يو نړيوال کتاب دی او تر قيامته پوري د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) يوه داسي معجزه ده چي د دوښمن هر قسم اعتراضاتو ته په زغرده جوابويلای سي. نو کله چي قرآن کريم د ادبياتو، شعر او شاعرۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دور کي دا ثابته کړه چي قرآن کريم د ادبياتو تر ټولو لوی کتاب دی، بايد د ساينس د پرمختګ په عصر کي هم دا ثابته کړي چي د اوسنيو ساينسي اکتشافاتو په اړه د قرآن کريم دريځ روښانه او واضحه دی او الحمدالله قرآن کريم دا ثابته کړې ده هر هغه څه چي نن يې ساينس په اړه معلومات ورکوي، څوارلس سوه (۱۴۰۰) کاله پخوا قرآن عظيم الشان په وضاحت سره بيان کړي دي، نو دا بيا څنګه کيدلای سي هغه څه چي ساينس يې نن وايي، قرآن کريم مخکي لا تشريح کړي دي. آيا عصري علوم د اخرت سره تعلق نه لري؟ يوه بله غلطه مفکوره ځيني خلګ وايي: د عصري علومو زده کړه کول د مسلمان لپاره د وخت ضايع کولو په معنا دي او د دنياوي لړي ګټي پرته د اخرت سره هيڅ تعلق نه لري، مګر په حقيقت کي داسي نه ده، بلکي دا هغه کمزوری ذهنيت دی چي په مسلمانانو کي د خپرولو لړی په تيزی سره روانه ده، له امله يې اسلامي اُمت په داسي ذلت او رسوايي د اخته کيدو په طرف روان دی چي د ساينس او ټکنالوژی په ډګر کي ورځ تر بلي شکست او ماته خوري، علم پر دوه (۲) ډوله دی يو علم مقصود او بل علم محصول چي عصري زده کړي علم محصول دی، تر څو په دنيا کي څه پيسي او مال لاسته په راوړو.

ديني علوم د نورو علومو اصلي منبع ګڼل کيږي او عصري علوم د ديني علومو يو محصول ګڼل کيږي، د اسلامي نړی د پرمختګ لپاره د علومو په ډګر کي لومړی قرآن کريم، احاديث، سيرت، فقه او داسي نور... ديني علومو زده کړه بنياد ګڼل کيږي، په دوهم قدم کي ددې علومو څخه منځته راغلي علوم، يعني رياضيات، فزيک، کيميا، بيولوژي، طب او داسي نور... علوم زده کول ضروري کار دی. قرآن کريم هغه ريښتنی آسماني کتاب دی چي په راتلو سره يې مخکني کتابونه منسوخ سول او دغه آسماني کتاب پر حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) نازل سوی دی، ايمان پرې راوړل فرض دي، د مسلمان لپاره اساسي ژوند د اخرت ژوند او نعمتونه دي، کله چي زموږ ځوان نسل د عصري زده کړو ته شاه کړل، ميدان يې ټول خپل دوښمن ته پريښووی، لامل يې دا سو هغوی زموږ د ختمولو لپاره خپله ټکنالوژي قوي کوي او موږ د مځکي د مخ څخه ختمول غواړي، مګر په مقابل کي يې موږ آرام ناست يو، پر ټولو معدنونو او طبيعي ذخيرو مو دوښمن قبضه کړې ده.

موږ د ذلت او غربت شپې او ورځي تيروو، د عصري علومو مسلمانو زده کوونکو ستاسو هغه ابتکارات او اکتشافات چي د ساينس او ټکنالوژی په دور کي مو اسلامي نړی پرې نازولې ده د ستايلو وړ دي، ستاسو د هڅو او کوښښونو ثمره د اسلامي نړی سرلوړي ده او هر هغه څوک چي د اسلامي اُمت سرلوړي غواړي الله سبحانه وتعالی به هيڅ کله ستاسي کوښښونه بې ځايه نه کړي، تاسو خپلو هڅو ته دوام ورکړی، د ساينس او ټکنالوژی په دې عصر کي خپل دوښمن داسي حيران کړی چي ستاسو د اکتشافاتو هيڅ مخنيوی او مقابله ونه کړای سي، تاسو د ساينس څخه دا ثابته کړئ چي زموږ دين يو ريښتنی دين دی، د ټول انسانيت لپاره د آمن، سوکالی او پرمختګ پيغام لري، تر څو ستاسو د هڅو او کوښښونو په وجه ډلي ډلي خلګ د اسلام مبارک دين ته داخل سي او ټول په شريکه د محمدي شريعت د انفاذ لپاره لاسونه سره يو کړو، تر څو په خپل ژوند کي د يو داسي اسلامي ټولني خاوندان سو چي د ژوند په هر ډګر کي پرمختللي، مترقي او متمدنه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷:ـ د تربیتي مراکزو نه شتون: یوه بله ستونزه چي له امله یې اسلامي نړۍ د وروسته پاته والي په طرف روانه ده هغه د خپلو نسلونو د روزني لپاره داسي تربیتي مراکز نه لري چي له مخي یې خپل اسلامي اخلاق او آداب په داسي انداز ټولني ته وړاندي کړي چي د یو سالم نظام د راوستو او د اُمت د پرمختګ لپاره په اسلامي اخلاقو ولاړه ټولنه تربیه کړي، د اسلام تاریخ ددې شاهد دی کله چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) په مدینه منوره کي د یو اسلامي نظام بنسټ ایښووی، په لومړي سر کي یې د خپلو صحابه کرامو داسي سالم تربیت وکړ چي پر اساس یې د داسي یوې ټولني بنسټ کښېښود، چي له مخي یې اسلامي دعوت د پرمختګ په لور مخ په وړاندي روان وو، د شکست هیڅ بیره نه ورسره پیدا کیده، مګر ولي د هغه وخت راهیسي چي مسلمانانو د خپلو اولادونو د تربیت لپاره د تربیتي مراکزو، دیني مراکزو، دیني مدارسو او پر کیفیت ولاړ پوهنتونونه جوړول کوم مهم کار ونه ګڼی، کفري نړۍ په اسلامي نړۍ کي دا خالیګاه ښه درک کړه، په اسلامي اُمت کي یې داسي اشخاص وروزل، پر اساس یې اسلامي نړۍ ته داسي مفکوري داخلي کړې، چي په آسانۍ سره یې وکولای سول خپلو اهدافو ته د رسیدو مزل لنډ کړي.

د اسلامي نړۍ هغه نابغه فکرونه چي د اسلامي نړۍ د پرمختګ لپاره ډیر کار ځیني اخیستل کیدای سوای، مګر دوښمن دوی په داسي یو دنیا پرسته فکر تربیه کړل چي د اسلام د پرمختګ لپاره د وخت مصرف لا څه، په اسلامي هیوادونو کي اوسیدل او هستوګنه کول د خپل وخت ضایع کول او بې هدفه تیرول ورته ښکاري، نو د اسلامي نړۍ د پرمختګ لپاره یو معیار د تربیتي مراکزو شتون دی، ځکه د اسلامي هیوادونو د اوسنیو مشکلاتو یوازینی لامل موږ د پردیو مفکورو د مخنیوي لپاره په خپله اسلامي ټولنه کي داسي مراکز نه درلودل چي په اسلامي هیوادونو کي یې د اسلام صحیح فهم خلګو ته رسولی وای، اخر یې لامل دا سو چي په اسلامي نړۍ کي د اسلام په نوم د اسلام د ختمولو لپاره کارونه وسول، خلګ پر خپل دین او عقیده شکمن سول او اسلام یې د وروسته پاته والي اساس وګڼی.

۸:ـ امربالمعروف او نهی عن المنکر پریښوول: ددې اُمت اساسي دنده او وظیفه خلګ د بدیو څخه منع کول او په نیکیو آمر ورته کول دي، مګر کله چي دې اُمت د خپلي دندي په سرته رسولو کي سستي او تنبلي شروع کړه، د باطل پر ضد یې د اقدام کولو څخه ډډه وکړه، هغه ته یې اجازه ورکړه تر څو پر ژوند یې مسلط سي، نو دا اُمت د ناکامۍ پر طرف روان سو، په داسي حال کي کله چي دې اُمت په خپله دنده کي غفلت نه وای کړی، یو غښتلی او د غلبې څښتن به وای، د ټولو هغه ځواکونو سره به په مقابله کي کامیاب وای، چي په مځکه کي یې فساد خپرولای، او ورځ تر بلي به د پرمختګ په طرف روان وای، اوس بیا هم که وغواړو چي اسلامي اُمت مو خپل تیر برم تر لاسه کړي، باید د پرمختګ لپاره داسي اساسي اصل ته چي امربالمعروف او نهی عن المنکر دی توجه وکړو، تر څو ټولنه مو د هر ډول بد اخلاقیو څخه پاکه سي، د الله (جل جلاله) په مرسته او نصرت د یو بادیانته او مترقي ټولني خاوندان سوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹:ـ د اسلامي تاريخ هيرول: اسلامي تاريخ د ماضي هغه روښانه هنداره ده چي په اسلامي نړۍ کي د حال ټول تصويرونه بغير له کوم تکليفه ليدلای سي، مسلمانانو ته يوازي او يوازي اسلامي تاريخ هم د کړاونو څخه د خلاصون ذريعه کيدای سي، مګر مسلمانان تر دې حده د اسلامي تاريخ څخه ناخبره پاته دي، چي د خپل پيغمبر د ژوند په اړه د يو اُمتي په حيث پوره اندازه معلومات نه لري، د کريستف کولمب تاريخ په شوق او ذوق سره يادوي، مګر د خلفاء راشدينو او نورو صحابه کرامو د فتوحاتو او کارنامو په اړه بې جوابه دي، د اروپا، امريکا او نوري غربي نړۍ ښارونه ښه په رسميت پيژني، مګر د اسلامي خلافتونو د مراکزو صرف د نومونو يادونه هم نه سي کولای، مسلمانان د اسلام د تاريخ پر ځای د اروپا تاريخ يادوي او د پرمختګ لپاره يې يو معيار ګڼي، مګر ددې څخه ناخبره دي چي لومړی ساعت جوړونکي مسلمانان دي، د يوهنتون د جوړيدو مفکوره د مسلمانانو ابتکار دی، د بريښنا د کاشف د مرګ څخه وروسته د هغه په الماريو کي د سورت نور آياتونه موندل کيږي او داسي ډيري تاريخي پيښي موندل کيږي چي د مسلمانانو له طرفه نړيوالو ته د عبرت يو درس دی، مګر د مسلمانانو د بې غورۍ او د تاريخ سره د نابلدتيا له امله دا ابتکارات خلګ د خپل ځان لپاره د افتخار نښه ګڼي، او دا هر څه په تاريخ کي په خپل نوم يادوي.

موږ مسلمانانو د خپل تاريخ په هيرولو سره هر هغه څه هير کړل چي زموږ د پرمختګ لپاره يو اساس ګڼل کيدلای سوای، يعني د خپلو مشرانو تجربې چي د نړۍ ګوټ، ګوټ ته يې د اسلام مبارک دين په رسولی وو، د ياده وايستلې، په داسي کارونو مشغول سوو چي خپل اصلي هدف مو شاته وغورځوی، اخيري ثمره يې دا سوه چي په خپلو منځونو کي داسي سره ښکيل سوو چي اسلامي قلمرو او سرحدات مو د لاسه ووتل، اقتصاد مو د صفر سره ضرب سو، امنيت مو د تل لپاره د لاسه ورکړ، په سياسي چارو کي مو د پرديو لاسوهنو او مداخلو زور واخيست، مګر ددې هر څه سره سره بيا هم موږ مسلمانانو په خپلو دغه تيروتنو کومه پښيمانتيا ونه ښوول او لا هم د خپل تاريخ څخه په غفلت کي پاته يو، موږ مسلمانانو عوامو او خواصو ټولو که د اسلامي نړۍ د پرمختګ لپاره صرف دومره کار هم کړی وای، چي د خپل تاريخ د لوستلو وروسته مو هغه تيروتني بيا نه وای تکرار کړي، کومي چي د تاريخ په اوږدو کي يې موږ له امله څه شکست ليدلی وو، هيڅکله به مو اسلامي هيوادونه نن د دوښمن د بنديزونو لاندي نه راتللای.

۱۰:ـ په مباحاتو کي ډير مشغوليدل: څوک چي د خپل ژوند هدف ونه پيژني، هغه په ژوند کي کاميابي هم نه سي ليدلای، د يو چا څخه چي په ژوند کي خپل اساسي کارونه د ځينو داسي کارونو لپاره پاته وي، چي هغه کومه فايده لاسته نه په راځي، د اسلامي نړۍ کاروان ځکه د پرمختګ قدم نه اخلي، ځکه چي مسلمانانو د خپل ژوند اساسي مسير او تګلاره د ياده ايستلې ده، مسلمانان په ځينو داسي کارونو کي وخت تيروي چي هيڅکله هدف ته د رسيدو په لار کي موثره نه سي تماميدلای، مګر بل طرف ته که د نوري نړۍ حالاتو ته ځير سوو خپل ځوان نسل په داسي فکر روزي چي په راتلوونکي کي خپلي خاوري ته فايده پرې رسولای سي، مګر بلې خوا ته يې اسلامي نړۍ ته د ځينو بې فايدې کارونو انځور په داسي يو شکل

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندي کړی، چي ګوندي ستاسو بریا او قهرماني همدا ده چي په دې لاره کي نورو ته شکست ورکړی او ځانونه آتلان حساب کړی، په تاسف سره په اسلامي نړۍ کي به ډېر کم داسي افراد وي چي نن خپل هدف پېژني او هدف ته د رسیدو لپاره یې عبث وخت تیرونه پرې ایښی ده او ډېر تمرکز یې پر دې وي چي څنګه اسلامي نړۍ ته وښیي موږ هدف ته د رسیدو لار د وخت آهمیت پیژندلی دی، نه په مباحاتو کي د وخت مصرف. نو د یو لوی اُمت د پرمختګ لپاره د ګوتو په شمار خلګ کفایت نه کوي، تر څو چي دا ذهنیت او فکر ټولو مسلمانانو ته ونه رسول سي د هغه کارونو څخه اجتناب په کار دی چي زموږ وخت یې بې آرزښته کړ او ددې کړني لپاره باید هر مسلمان چي څومره یې د وسه څخه پوره وي، باید هلي ځلي وکړي، هغه که د تالیفاتو له مخي وي، یا له کومي بلي لاري څخه وي، هغه کارونه چي موږ ته فایده نه په مرتبیږي اُمت ته روښانه کړو، تر څو په ټولنه کي د داسي کارونو مخنیوی په وکړو کومو چي د پرمختګ د نعمت څخه وروسته پاته کړو.

۱۱:- جهاد بد ګڼل: جهاد د مسلمانانو د کامیابۍ لار ده، هغه دین چي د ټول انسانیت لپاره د سوکاله ژوند د راوستولو پیغام لري، بیا د خپل انفاذ لپاره ځیني وخت مالي او ځاني قرباني هم غواړي، چي دې ته جهاد ویل کیږي، دا هغه فریضه ده چي الله سبحانه وتعالی د خبیث او طیب د جلاوالي معیار ګڼلی، د کفارو د ذلیله کولو اساسي لار یې ګڼلې ده. د مځکي د مخ څخه د کفر او شرک د ختمولو او د توحید د مراکزو د حفاظت لار ده، د حق د ثابت قدمۍ او د باطل د ختمیدو وسیله ده، د صبر او ثبات لپاره د مومنانو د تربیت وسیله ده، د مومنانو د درجو د لوړیدو سبب دی، د ایمان نښه ده، د الله (جل جلاله) د نصرت سبب دی او د ارتداد څخه د ایمان د حفاظت وسیله ده، همدارنګه په دې لاره کي مرګ د شهادت هغه لوړه مرتبه ده چي رسول الله (صلی الله علیه وسلم) یې هم د الله (جل جلاله) څخه غوښتنه کړې ده. او د الله (جل جلاله) له طرفه جنت ته د داخلیدو زیری دی. مګر نن مسلمانان ځکه د پرمختګ څخه وروسته پاته دي، چي د اسلام د دعوت د پرمختګ لپاره ددې عظیمي فریضي ادا کولو ته تیار نه دي، په داسي حال کي چي اسلامي دعوت د جهاد پرته او جهاد د اسلامي دعوت پرته ممکن نه دی.

په سیاسي لحاظ د اسلامي هیوادونو د ضعف عوامل: په مدینه منوره کي د اسلامي دولت تر تأسیس وروسته بیا د لومړی نړۍ والي جګړې تر ختم پوري، که څه هم ټوله اسلامي نړۍ تر یوه بیرغ لاندي نه وه، مګر بیا هم په سیاسي لحاظ تر ډیره د قوي موقفه څخه برخمنه وه، د عثماني خلافت تر انحلال وروسته اسلامي نړۍ نور هم په کوچنیو هیوادونو سره وویشل سوه، د نویو کوچینو اسلامي هیوادنو تر منځ اتحاد او یووالی له منځه ولاړی، په سیاسي لحاظ کمزوري او حتی مستعمره هم سول، مګر تر نسبي استقلال وروسته بیا هم د غربي نړۍ تر هر اړخیز نفوذ لاندي پاته سول او ونه توانیدل، چي د غربي هیوادونو له دې هر اړخیز نفوذه ځانونه خلاص کړي:-

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱:ـ استعمار او سرحدي اختلافات: د عثماني خلافت تر انحلال وروسته د استعماري سياستونو په پايله کي اسلامي خاوره پر څو هيوادونو باندي وويشل سوه او تر منځ يې په تحميلي ډول داسي پولي رامنځته سوې، چي حداقل د سيمي فرهنګي، قومي او ژبني آرزښتونو ته هم پام په کښي ونه سو، په اوايلو کي همدا نوي زيږيدلي اسلامي هيوادونه د قيموميت تر عنوان لاندي د استعماري قدرتونو تر استعمار لاندي پاته سول، مګر کله چي همدا هيوادونه د غربي هيوادونو د استعمار څخه خلاص سول، د اسلامي اُمت د يووالي پر ځای يې په خپلو منځنو کي په سرحدي اختلافاتو لاس پوري کړ، په دې ډول سره سرحدي اختلافاتو و سياسي اختلافاتو ته لاره هواره کړه او سياسي اختلافاتو بيا دوی يو د بل پر ضد د غربي او پخوانيو استعماري قدرتونو سره د هر راز روا او ناروا تړونونو لاسليکولو ته پوري وهل، په دې توګه تر اوسه په مستقيم او يا غيري مستقيم شکل د غربي هيوادونو تر نفوذ لاندي پاته سوي دي.

۲:ـ نشنليزم: نشنليزم يا ملت پالنه د مسلمان اُمت تر منځ د بيګانه ګۍ احساس پياوړی کوي او نه پريږدي، چي اسلامي اُمت د يووالي په لور ګامونه واخلي، پخوا نشنليزم يوازي ددې سبب سوی وو، چي واحده اسلامي خاوره پر بيلا بيلو ټوټو وويشل سي، د مسلمانانو سياسي اتحاد او قوت له منځه ولاړ سي، مګر نن نه يوازي دا چي اسلامي اُمت و سياسي يووالي او قوت ته نه پريږدي، بلکي اسلامي هيوادونه په خپل منځ کي و هر اړخيزي ناروا سيالۍ ته رابولي، تر څو اسلامي هيوادونه د راتلوونکو څو پيړيو لپاره په خپلمنځي کشمکشونو اخته سي او په دې توګه يې سياسي قوت ورځ تر بلي له منځه ولاړ سي.

۳:ـ کمزوره اقتصادي وضعيت: يو هيواد په سياسي برخه کي هغه وخت پياوړی کيدای سي، چي پياوړی اقتصاد ولري، د هيوادونو په اقتصادي پياوړتيا کي د زراعتي محصولاتو، طبيعي زيرمو او نورو په پرتله صنعت لومړی مقام لري، چي بدبختانه اکثره اسلامي هيوادونه او خاصتاً عربي نړۍ که څه هم د بلقوه جغرافيايي موقعيتونو څخه برخمن دي، مګر بيا هم د صنعت په برخه کي تر نورو ډير وروسته پاته دي، ننني اسلامي هيوادونو ته په کار ده، چي د سياسي قوت په موخه دي، خپل اقتصادي سيستمونه ورغوي او توليدي اقتصاد ته دي وده ورکړي، تر څو ددې کمزوري سياسي حالته ځانونه وباسي.

۴:ـ بهرنۍ لاسوهني: بهرنۍ لاسوهني د اسلامي هيوادونو د هر اړخيزي کمزورۍ د څرګندو عواملو څخه شميرل کيږي او دا څرګندتيا يې ددې ايجاب نه کوي، چي ډير بحث باندي وسي، د اسلامي هيوادونو نفتي منابع، ستراتيژيک او جيوپوليتيک موقعيتونه او مصرفي بازار ددې لاسوهنو اصلي عوامل ګڼل کيږي، په عين حال کي دا هم سمه نه ده، چي د اسلامي هيوادونو د بدبختۍ يوازينۍ عامل استعمار وګڼل سي، بهرنۍ لاسوهني ددې سبب سوي دي، چي اسلامي هيوادونه نهايتاً د سياسي ضعف سره مخامخ سي، بهرنۍ لاسوهني نور يوازي تر بهرنيو دولتونو پوري نه سي منحصره کيدلای، ځکه ګوګل، فيسبوک او ټويټر چي اصلاً خصوصي شرکتونه دي، په خپل ذات کي بهرنۍ لاسوهني دي. ممکن په آينده کي پر اسلامي هيوادونو د ګوګل او يا نورو نفوذ د امريکا د اولسمشر تر نفوذ ډير سي او په دې ډول په اسلامي هيوادونو کي د ځان او يا خپل متبوع هيواد په ګټه لاسوهني وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵:ـ د اسلام انقلابي او اصلاحي پيغام هيرول: د الله سبحانه وتعالی په لار کي جهاد يعني وسلواله او غيري وسلواله مبارزه د اسلام هغه انقلابي او اصلاحي پيغام دی، چي ننني مسلمانانو بيخي د پامه غورځولی دی، همدا جهاد دی چي د يوې خوا د اسلامي ټولني د اتباعو په اصلاح کي ستر رول لوبوي او د بلي خوا مسلمانانو ته د ظالم او متجاوز په وړاندي د دريدلو، ږغ پورته کولو او حق اخيستلو روزنه ورکوي، له کومه وخته چي مسلمانانو جهاد ته شا اړولي ده، د بدبختيو، بدمرغيو، د متجاوزينو د تجاوز او سياسي ضعف سره مخ سوي دي او تر هغو به مخ وي، چي بيرته همدې اصل ته رجوع کوي. دا اصل د اسلام د سياسي اړخ تر ټولو مهم عنصر دی، چي له دې پرته د اسلام سياسي دستګاه په حرکت نه سي راتللای، نو د اوسنيو اسلامي هيوادونو د اتحاد او په سياسي برخه کي خپل تير عظمت ته د رسيدو يوه ډيره اغيزمنه لاره هم د جهاد اصل ته رجوع کول دي.

۶:ـ حزبي او مذهبي اختلافات: حزبي او مذهبي اختلافات بيا په ټولو اسلامي هيوادونو او يا يوه هيواد کي د مسلمانانو د مختلفو ډلو تر منځ ورځ تر بلي کرکه ډيروي، د مسلمانانو تر منځ دا اختلافات په مجموع کي ددې سبب کيږي، چي د يوه هيواد داخلي ثبات متزلزله سي او د داخلي ثبات تزلزل بيا سياسي بې ثباتی ته لاره هواروي او نه پريږدي، چي يو هيواد په سياسي لحاظ ثبات او قوت ته ورسيږي.

۷:ـ د شريعي احکامو عدم تطبيق: په اسلامي هيوادونو کي د شريعي احکامو نه تطبيق يو له هغه لويو عواملو څخه شميرل کيږي، چي د يوې خوا يې په اسلامي ټولنو کي د جرايمو، فقر او بې عدالتۍ کچه لوړه کړې او د بلي خوا يې د خلګو او حکومتونو تر منځ فاصله ډيره کړې ده، د خلګو او حکومتونو تر منځ همدا نه همکاري او ليريوالی ددې سبب سوی، چي حکومتونه خپل مشروعيت د لاسه ورکړي، هيوادونه په داخلي لحاظ بې ثباته سي او داخلي بې ثباتي يې بيا د سياسي ضعف سبب کيږي. د اوسنيو اسلامي هيوادونو د سياسي ضعف يو علت هم د شريعي احکامو نه تطبيق دی. دا او دې ته ورته نورو عواملو په ګډه اسلامي هيوادونه د بدبختۍ وکندي ته اچولي دي او ددې سبب سوي دي، چي اسلامي هيوادونه ورځ تر بلي په سياسي لحاظ کمزوري سي او پرې نږدي چي اسلامي اُمت د سياسي يووالي او قوت په لور ګامونه واخلي، تر څو چي همدا عوامل له منځه نه وي تللي، په نړۍ واله سطحه د اسلامي هيوادونو اتحاد او سياسي قوت به يو خيال وي او بس.

۸: د اسلامي خلافت نشتون: اسلامي خلافت د الله سبحانه وتعالی لوی نعمت دی، د حضرت آدم (عليه السلام) پيدائښت هم د خلافت لپاره سوی وو، حضرت داؤد (عليه السلام) او ټول پيغمبران (عليهم السلام) خليفګان ګرځول سوي وه، ددې هر څه څخه دا معلوميږي چي خلافت خورا لوی نعمت دی، ځوانه د اسلام دين څخه صحيح او کامله ګټه هغه وخت لاسته راوړلای سو، چي قوي اسلامي حکومت ولرو، اسلامي حکمونه او قوانين جاري کولو لپاره د اسلامي خلافت سرپرستي ولرو، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) په زمانه کي کله چي مدينه منوره د اسلامي خلافت مرکز وګرځيد او دارالاسلام وجود ته راغلی، نو د دغه ځايه د اسلام برکتونه راخرګند

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوه، خلګو ته د اسلامي خلافت ګټي ورمعلومي سوې، ډلي ډلي خلګ مسلمانان سول او اسلامي خلافت ډيره ساحه په بر کي ونيول، کله چي اسلامي خلافت قايم سي، نو د مسلمان عزت، آبرو او مال محفوظ ګرځي، زړه ته يي سکون او اطمينان حاصليږي، همدا راز کله چي اسلامي قوانين نافذ سي، حدود او تعزيرات وسي، نو د آمن، سکون او خوښۍ ماحول جوړيږي، اسلام يو نړيوال دين دی، د نورو عقايدو او ايډيولوژيو څخه د يو جلا نړۍ ليد، د انسان ژوند او د کائناتو د دقيقي پيژندني پر بنسټ ولاړ دی، د انسانانو د ژوند په اړه يو واقعي او ژغورونکی ليدلوری وړاندي کوي، د حضرت آدم (عليه السلام) څخه تر خاتم النبيين حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) پوري بشريت ته د هدايت د پيغام رسولو مسؤليت د پيغمبرانو (عليهم السلام) پر غاړه وو، تر څو انسانان د ژوند د ريښتني موخي په اساس د لار ورکی او د ناسمو باورونو د ژوند څخه د يوه سعادتمند ژوند پر لور هدايت کړي، حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) د وروستي پيغمبر په توګه د اسلام پيغام د قيامت تر ورځي پوري د ژوند په ټولو برخو کي د يوې هر اړخيزي حلاري په توګه د انسانانو لپاره پريښود او خپل رسالت يې بشپړ کړ.

د الهي وحيي په بشپړيدو او د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د رحلت څخه درې (۳) ورځي وروسته حضرت ابوبکر صديق (رضي الله عنه) د مسلمانانو د بيعت پواسطه د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) د ځايناستي او د دولت د مشر په توګه د خلافت منصب ته وګومارل سو، تر څو اسلام پلی کړي او نورو ته يې ولیږدوي، د هغې ورځي راهيسي د اسلام رسالت د اُمت پر اوږو پاته سو او خلفاؤ يو پر بل پسې اسلام د نړۍ ګوټ ګوټ ته د دعوت او جهاد د لاري ورسوی، دې لړۍ په پيړيو پيړيو دوام وکړ، بلاخره په ۱۹۲۴م کال کي خلافت د غربي استعمارګرو له خوا سقوط وکړ، مسلمانان ديارلس (۱۳) نيمي پيړۍ د خلافت تر چتر لاندي سره متحد وه، حلافت د خير او عزت سرچينه ګڼل کيدی، کفارو هم د اسلام د روښنايی تر چتر لاندي په پوره آرامتيا کي ژوند کوی، نن چي د خلافت نشتون څخه څه کم يوه پيړۍ تيريږي، مسلمانان منحط سوي او اسلام يې د ژوند څخه ليري کړی دی.

اسلامي اُمت چي په کلونو کلونو د هدايت د پيغام په مرسته د نړۍ د روښنايی او د تيارو د له منځه وړلو مسؤل وو، نن ورځ يې دغه مسؤليت ته شا کړې ده، دا هغه رسالت دی چي الله سبحانه وتعالی پر مسلمانانو فرض کړی دی، نن ورځ اسلامي اُمت د اسلام او اسلامي حلالرو څخه ليري سوی دی، کفري نظامونو او حلالرو خپل سيوری پرې غوړولی دی، اسلامي اُمت چي د پيړيو په لړ کي يې د خلافت تر چتر لاندي نورو ملتونو ته اسلام ليږدوی، د ژوند ټوله انديښنه يې دا وه چي نړۍ ته څه ډول اسلام ورسوي او څه ډول د اسلام واکمني پراخه کړي، دا اُمت اوس مهال په تفرقه کي ډوب دی، د نشنليزم، دولت يا ملت او ډيموکراسی په څير را وراد سويو آرزښتونو ته يې مخه کړې ده، اُمت له دې ټولو ستونزو سره هغه مهال مخ سو چي اسلامي خلافت سقوط وکړ، مسلمانان اوس مهال بايد خلافت د يوې برخليک ټاکونکي قضيې په توګه وبولي او د بيا راوستولو لپاره يې نه ستړي کيدونکي هڅي او کوښښ وکړي، د بل اړخه د خلافت د نشتون له امله نه يوازي مسلمانانو، بلکي ټول بشر زيان کړی دی او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسنیو نظامونو د ادرسه زیانمن سوی دی، نن ټوله نړۍ د پانګوال نظام د شره په آمن کي نه ده، اوسنۍ نړۍ د بیلا بیلو ناورینونو څخه سر ټکوي، پانګوالۍ انسان د بدبختۍ په لوري کش کړی دی، د سیاسي ناورینونو او جګړو څخه نیولې، بیا تر اقتصادي او چاپیریالي ستونزو او ان د بشري نسل تر له منځه تللو پوري، له همدې امله اسلامي اُمت نه یوازي د ځان په اړه، بلکي د ټول بشریت، طبیعت او حتی د ځارویو په اړه هم مکلف دی، تر څو ټول د پانګوال نظام د شره څخه وژغوري، ځکه اسلامي اُمت تر ټولو غوره اُمت دی، چي د ژوند په اړه د یوه واقعي لید لوری، بشپړو پیغامونو او حللارو سره مل دی، د نبوت وروسته بیا اُمت مکلف دی، چي اسلام پلۍ کړي او نورو ته یې ولیږدوي، لکه څنګه چي څوارلس (۱۴۰۰) سوه کاله پخوا اسلام د خلفاوو په وسیله پلۍ کیدی، اسلامي اُمت باید ټولو قضیو ته د اسلامي لید لوري وګوري، د استعماري پولو او ناسمو افکارو یعني دولت یا ملت او ملي آرزښتونو څخه باید خپل ځان آزاد کړي او د یوه متحد دولت په توګه یو ځل بیا خلافت رامنځته کړي، دا مسؤلیت پر هر اُمت فرض سوی دی، نه یوازي دا چي مسلمانان د استعمار د تیري او ذلت څخه آزاد کړي، بلکي ټول بشریت او طبیعت باید د پانګوالۍ د ظلم څخه د خیر او فلاح پر لوري هدایت کړي.

علامه ابن خلدون ته الله سبحانه وتعالی عجیب استعداد ورکړی وو، علامه ابن خلدون په خپله مقدمه کي لیکي:- حکومت درې (۳) ډوله دی:- ۱: طبعي واکمني. ۲: سیاسي واکمني. ۳: خلافت. ابن خلدون طبعي واکمني داسي تعریفوي:- ۱:- طبعي واکمني: د خپلي موخي او خواهشاتو د غوښتنو سره سم پر نورو واکمني کول چي د مطلق العنان پاچایانو همدا تګلاره وه. ۲: سیاسي واکمني: ټول خلګ د خپلو عقلي فکرونو سره سم د دنیوي مصلحتونو د تر لاسه کولو او زیانونو څخه پر ځان ساتلو باندي مجبوره کول. په دې کي سیکولر یعني بې دینه ډیموکراسي هم داخله ده، ځکه چي د دوی سره کوم تل پاته آرزښت نسته کوم کار چي عقل غوره وګڼي هغه اختیاروي. ۳: خلافت: خلګ د شریعت د غوښتنو سره سم برابرول چي په دې سره د دوی د دنیا او آخرت دواړه مصلحتونه پوره سي او هغه دنیوي مصلحتونه هم پوره سي چي د هغو وروستۍ پایله هم د آخرت ګټه وي.

د اسلامي اُمت په درد دردمند او مخلص ځوانه! تا ته د خپل ځان سره د اسلامي اُمت د پرمختګ روحیه ژوندۍ کول په کار دي، د اسلامي نړۍ روان حالات د زغم وړ نه دي، ورځ تر بلي د اقتصادي بحران په طرف روان یو، صنعت مو په ټپه دریدونکۍ دی، سیاست مو د ګواښ سره مخامخ دی، علمي کدرونه مو په یو نوم او بل نوم سره وژل کیږي، ددې ټولو مشکلاتو او ستونزو څخه لوی مشکل چي ورسره مخ کیدونکي یو، هغه د اسلام د ختمولو ذهنیت او مفکوره ده، چي په اسلامي هیوادونو کي کار ورته روان دی، تر څو د اسلام نوم داسي معرفي کړل سي، چي ګوندي د بیري او وحشت دین دی، د پرمختګ لپاره هیڅ کوم معیار نه لري او داسي نور... څه چي پر اساس یې د اسلام ختمولو لپاره کار کیږي، مګر موږ باید مخکي له دې چي دا مفکوره ودردوي او بیا پر خپل حال د پیښمانتیا اوښکي تویه وو، دوښمن زموږ د پرمختګ معیار اسلامي نظام، قرآن کریم، زمږږ یووالی، وحدت او د خپل خالق سره د اړیکو ټینګول ګڼي، کله چي موږ اسلامي نظام د لاسه ورکړو، قرآن کریم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مو د لاسونو څخه واخیستل سي، وحدت مو مات سي، د شهواتو په دام کي دومره مصروف سوو، چي د خپل خالق قهر او غضب مو هیر سو، نو هغه ورځ به د نړۍ د مخ څخه زموږ نوم هم ورک سي، نو باید ددې هر څه د مخه پر خپل حال رحم وکړو او نور د اسلامي نړۍ د پرمختګ په لار کي خپل ځان مسؤل وګڼو، هیره دي نه وي د نورو د علمي نوښتونو څخه استفاده د اسلام له نظره جایز ده، بلکي ضروري ده، صرف د اسلامي فرهنګ په مقابل کي د پردیو فرهنګ قبولول صحیح کار نه دی، د نورو تاریخ لوستل او د نورو د تجاربو څخه استفاده کول عیب نه دی، البته د خپل تاریخ هیرول یوه ستره جفا ده، نو د نورو د تاریخ څخه مخکي د خپل تاریخ په اړه پوره معلومات درلودل ضروري دي.

ځوانه! ځواني د ټول عمر یو نه راګرځیدونکې پسرلی دی، د داسي پسرلیو قدر کول د هر ځوان یوه دیني او اخلاقي لویه او مهمه فریضه ده، د ځوانۍ په پسرلي کي د هر چا د ژوند د اُمیدونو غوټۍ پر غوړیدو سي، د هر چا سره یو نوی احساس او یوه نه ما تیدونکې جذبه پیدا سي، نیکبخته هغه څوک وي چي خپل غلط او شیطاني احساسات قابو کړي، د چا حیاء او عفت پریوتو ته یې مجبور نه کړي او د چا د ناموس لوټلو ته یې ونه هڅوي، هغه شیطان چي ته یې پر مخه کړی یې، د ژوند د هسکو او ټیټو څخه یې ناخبره ساتلی یې، ډیر مکار، هوښیار او ځیرک دی، پام کوه که یو وار ورسره ملګری سوې، نو بیا به یې د دوستۍ څخه تر عمره پوري خلاص نه سې، تا به داسي شیانو ته هڅوي چي هغه یوازي نورو ته نه، بلکي تا ته پخپله هم یوه لویه صدمه او ضربه درکولای سي، بس تا قیمتي ځوانۍ په اور لمبه کړي، ټول ژوند په دي په غم او ویر اخته کړي، د بلاوو څخه ځان ساتل د هر هوښیار او ایماندار بنده خورا لویه هوښیاري او ایمانداري ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه ستا د بريا راز په څه کي وو

تاريخ شاهد دی، چي کفارو خپل ډېر امکانات او عمرونه په دې کي مصرف کړي دي، چي څنګه تا د مځکي له مخ څخه نيست او نابود کړي، قرآن شاهد دی چي همدا کفارو سخته دوښمني درسره کړې ده او کوي يې، مګر ته لاهم لاس تر زنه ناست يې او په دې فکر کي ډوب تللی يې چي ستا اصلي دوښمن به څوک وي؟ همدغه کفار وه، چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) او صحابه کرام يې د خپل وطن پرېښوولو ته مجبور کړه او د له منځه وړلو لپاره يې هر قسم پلانونه په کار واچول، د مسلمانانو د مقابلې لپاره يې لښکر کشۍ وکړې، حضرت حمزه (رضي الله عنه) يې په شهادت ورسوی، د احد په يوه ورځ يې اوويا (۷۰) کسه صحابه کرام يې شهيدان کړه، د مسلمانانو په مقابل کي يې دې دوښمنۍ ته ادامه ورکړ، په هره پيړۍ کي يې په لکونو او ميليونونو مسلمانان يې شهيدان کړه، او دې دوښمنۍ ته يې تر نن پوره ادامه ورکړې ده، اوس هم اخته دي مسلمانان وژني، همدغه کفار دي چي د فلسطين مسلمانان يې بې اوره کباب کړه، مګر د برما مسلمانان يې په اور کباب کړه، اولنۍ قبله مسجد اقصی يې قضبه کړه، د ټولي نړۍ پر مسلمانانو يې يرغل او تجاوز وکړ.

د مسلمانانو عزت او ناموس يې لوټ کړ، د رسول الله (صلی الله عليه وسلم) کارتون يې جوړ کړ، قرآن کريم ته يې اور واچوی، همدې سپيڅلي الهي کلام ته يې په غرور او تکبُر د خپل کلاشنکوف شپيلۍ سيخ کړه او په مردک يې سورۍ سورۍ کړ، د اسلامي شعائرو سپکاوۍ يې وکړ، مدرسي او مسجدونه يې پر مؤمنانو را نسکور کړه او د خاورو سره يې خاوري کړه، آيا په اسلامي اُمت کي ځوانان نسته؟ آيا دا هر څه ته په خپلو سترګو نه ويني؟ آيا ددې وحشتونو مخه نيول ستا مسؤليت نه دي؟ افسوس ځوانه کله وښيږې؟ آيا اوس هم اصلي دوښمن نه پيژني؟ آيا دا ستا ځواني او نور نعمتونه الله سبحانه وتعالی ددې لپاره درکړي دي چي يوازي خوب او خوراک وکړې؟ د ټول اسلامي اُمت طمع تاته ده، مګر ته په عبثو کارونو باندي اخته يې، صحابه کرام ددې اُمت رښتيني ځوانان وه، هغه ځوانان چي رسول الله (صلی الله عليه وسلم) راويښ کړي وه.

هغه ځوانان چي ځيني امپراطورۍ يې را نسکوري کړې او د ځينو څخه يې د سوونو کلونو لپاره جزيه واخيستله، هغه ځوانان چي اسلامي اُمت ته يې ژوند ورکړ، هغه ځوانان چي د اسلام بيرغ يې پر شرق او غرب ورپوی، تر ما او تا پوري يې په پوره امانت اسلام را ورسوی، مسلمان ځوانه ستا سره نن هم هغه اسلام موجود دی چي صحابه کرامو عمل په کوی، فقط ويښ سه! احساس او ضمير دي را بيدار کړه، د دين په لارښوونه او د الله سبحانه وتعالی په توکل خپل مسؤليت درک کړه او د اداء کولو لپاره يې لستوني راپورته کړه، اسلامي اُمت او راتلوونکو نسلونو ته همدا ته نجات ورکولای سې، تر کومه وخته چي مسلمانانو په دين منګولي لګولي وې، پر نړۍ به د دوی اختيار وو، ساينس او ټيکنالوژي ته يوازي د دوی لاسرسی وو، په سياسي او نظامي ډول د دوی لمن ورځ تر بلي په پراخيدو وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسنی عالم اسلام خو پرېږدئ ان د اروپايي براعظم جنوب مغرب په څنډه پرته جزيره ائبيريا چي پرتګال او هسپانيا ته شامله ده ورسره د فرانسي جنوبي څنډي اربونه، پرپينان او تولوشه ښارونو باندي مسلمانانو اته سوه (۸۰۰) کاله حکومت وکړ چي اسلامي تاريخ کي دې سلطنت ته اندلس ويل کيږي، مګر کله چي يې دين ته شا کړه، د دنيا محبت او واقعات يې زړونو کي ځای ونيوی، له کبله يې د واکمنانو تر منځه داخلي اختلافات راپورته سول، له دې سره د نوي نسل تعليم او تربيه کي پاملرنه کمه سوه، وخت سره ناپوهه او کم عقل خلګ مشران سول، اخلاص له منځه ولاړی، د دنيا جا وجلال، شان او شهرت يې زړونو کي ځاي ونيوی، د الله (جل جلاله) پر ذات تکيه او يقين پر ځای يې په ظاهري قوت باور او يقين وکړ، نو د الله (جل جلاله) د غضب سره مخ سول، هغه پرمخ تلوونکي لښکر سمدواره پر شا راوګرځيدی، خپل اته سوه (۸۰۰) کاله رپانده بيرغونه يې يو يو ټول کړل، سياسي ځواک او لمن يې په ټوليدو سوه او بلاخره نړئ دا حالت هم وليدی، چي ستر اسلامي سلطنت د کفري نړۍ په سمندر کي لاهو سو.

د زوال اصلي لامل يې څه وو؟ د اسلامي سلطنت زوال ستر سبب او لامل د نسلونو د تربيت په اړه بې غوري وه، ډيوه چي بليږي رڼا ورکوي، تر شا حرکت لري، زوال د يو څو کلو خبره نه وه، بلکي سلګونه کاله د مسلمانانو په داخل کي استعمار کار وکړ، داخلي ايجنټان يې په کار بوخت کړي وه، ان په اخيري وختونو کي نظامي ځواک که څه هم د مسلمانانو په واک کي وو، مګر علمي ډګر او پوهه د دوی د لاسه وتلې وه، استعمار خپله زړه تګلاره په کار واچوله او د اخيري نسل د ګمراهي اسباب يې برابر کړل، ځکه دا کار د يو هيواد په پرځولو کي بنستيز ګام دی، سربيره پر دې د ځوانانو د اخلاقو کچه غورځول د کفر د ټولو ستره لاسته راوړنه وه، ټول ديني او سياسي خوځښتونه په دې موافق دي چي د حکومتونو عروج او زوال د ځوانانو تربيت پوري تړلی دی.

پروتوکولات صيهوني د ځوان نسل د بې لارئ په اړه داسي ليکي: هر ځای کي د اخلاقو کچه غورځول غواړې، په همدې شکل به پر مسلمانانو زموږ تسلط قايميدل آسانه سي، جنسي اړيکي به د لمر د رڼا په څير وړاندي کيږي، تر دې پوري چي د ځوانانو په زړونو کي يو شی هم مقدس پاته نه سي او د هغوی پوره فکر همدا وي چي څنګه جنسي غريزه خوند اخيستل سوږ کړي.

کميونيستي ګوند الحادي برخه خپلو پټو کړنلارو کي ليکي: ديني روابط او دين ماتول په جوماتونو غورځولو نه کيږي، ځکه چي دين وجدان کي پټ وي، بلکي اشتراکي قوانين او احکام مسلط کيدو څخه وروسته دين خپله له منځه ځي، ددې لپاره اړينه ده چي موږ په نوي نسل کي ډول ډول کيسې، ډرامې، محاضرات مجلې، او کتابونو ليکلو سره الحاد عام کړو، ددې په لوري به دعوت ورکوو، تر څو همدغه شيان دوی مسلط کيدونکي خدای وګرځوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حل لار څه ده چې موږ بیرته خپل ماضي راتازه کړو؟ علامه اقبال د حل لار داسې ښوولې ده: دا وخت د غفلت نه دی، نه هم د مستیو او د لوبو، بلکې دا وخت د هنر، کارسازي، اختراعاتو او پرمختګ وخت دی، ځوان د مشرانو په پرتله قوت جسماني او مشقت سره مقابلې کولو توان ډیر لري، دی کولای سي چې هر ناممکن کار ممکن کړي، نو باید تم نه سي.

موږ مسلمانان باید د الله سبحانه وتعالی پر دین متحد سو، زه افغان، ترکی، عربی نه، بلکې د هر څه څخه مخکې مسلمان یم، په همدې بنسټ د خپل نوي نسل بهترینه اسلامي تربیه وکړو، چې هغوی په اصلي معنا مسلمانان لوی سي، ځکه د همدوی په لاسونو کې زموږ راتلوونکی دی، اسلام د قرآن کریم او حدیث د سوري لاندي سپیڅلې کړنلار لري، چې زموږ د عروج لامل ګرځیدای سي، همدا مزل او موخه وګرځوو، لیري نه ده چې د نړۍ پر سر بیرته خپل حاکمیت او واک تر لاسه کړو. لږ د خپلو اسلافو تاریخ وګوره، هغوی د ژوند د ښه کولو او اخرت د خپلو لپاره څه کول؟ خپل اسلاف وپیژنه چې څوک دي؟ او په نړۍ کې یې څنګه وخت تیر کړی دی؟ په نړیوالو کفري نظامونو یې څنګه راج او باج چلوی، څنګه یې پر ټولې نړۍ خپل ځان منلی وو؟ مسلمانه ځوانه د پردیو بیوګرافي او کلتور پریږده، لږ د خپلو تیرو آتلانو تاریخ وګوره چې په نړۍ یې څنګه رعب او دبدبه پرته وه، ولې یې نړۍ د نومونو څخه بیریدله؟ د خپلو اسلافو تاریخ زده کړه، ولې یې نومونه زرینو پاڼو ثبت کړي دي؟ ولې یې د آتلولیو ساری په نړۍ کې نسته؟ ځان په پوه کړه، هغوی خپل ژوند څنګه تیروی؟ خپل ژوند د هغوی ژوند سره آرزیابي کړه، چې هغوی ولې پر ټوله نړۍ اسلامي نظام چلوی؟ او ته ولې د غیري اسلام نظام دومره تابع ګرځیدلی یې، چې خپل کلتور، دود، دستور او اسلامي عنعنات دي ورته پریښوول او د کفري ټولني بد عادات دي خپل کړل، که په خپل ګریوان کې سوچ او فکر وکړې دا پخپله د ژوند د مسیر تغیر دی چې تا په خپل لاس ورکړی دی، ستا ژوند د اسلافو د ژونده په مکمله معنا بدل کړی دی.

اسلافو مو خپلې ویني تویولې، مګر د نورو مسلمانانو ژوند به یې روښانوی، مګر ته د خپلې ټولني د اوږو بار سوې، خپل مسیر دي د غرب په تقلید روان کړی دی، غرب په ګوړه کې زهر درته ډالۍ کوي، مګر ته بیا هم پر ځای ددې چې په وړاندي یې مبارزه وکړې، ملاتړ یې هم کوې او په ډیر فخر او ویاړ یې خپلوې. مسلمانه ځوانه په دې پوه سه کامیابي او بریا د پردیو په تقلید کې نه ده، بلکې د خپل حق دین په پیروي کې ده، د کامیابۍ راز دا نه دی چې د هالیووډ او بالیووډ د ستورو بایوګرافي په خپله حافظه کې ټایپ کړې، بلکې کامیابي په دې کې ده چې د خپلو ریښتنو آتلانو ژوند لیک او تاریخي کارنامې په غور او دقت وګورې او تقلید یې وکړې، یاد دي نه دي چې یوې مسلماني خور ناهید په خپلو وینو پر یوه دسمال د سند د زندانونو څخه خپل مسلمان قوم ته ولیږه، قوم ورته خپل اوولس (۱۷) کلن زوی محمد بن قاسم راولیږی، او خپله سپیڅلې خور یې د سند د ډاکوګانو د زندانونو څخه خلاصه کړه، بلکې په سند کې یې حق دین خپور کړ. مسلمانه ځوانه څه فکر کوې؟ د محمد بن قاسم مسیر درته غلط ښکاري؟ معاذ الله نه بلکې ته د غرب ړوند تقلید کوې، ته د غرب د ډیموکراسۍ څخه متأثره ښکارې، ځکه خو دي د خپل ژوند مسیر تغیر کړی دی، تا د خپلو اسلافو تاریخ او کارنامې هیري کړي دي، ته د خپل ژوند قیمتي وخت د فلمي ستورو او غربي تمدن د مخکښانو په بایوګرافی زده کولو کې لټوې، تا د خپل ژوند آرزښت او قدر هیر کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه د ځان سره محاسبه وکړه او د ژوند اصلي مسير درک کړه!

ځوانه د خپل ځان سره محاسبه وکړه، پر انسان باندي لازمه ده چي د خپل ځان سره د قيامت د ورځي تر حساب مخکي حساب وکړي، که دا کار وکړي نو په دې کي به يوه ډېره لويه فائده تر لاسه کړي، ځکه چي په دغه حساب کي يې نتيجه ورته غلطه معلومه سي، نو بيا به سبا هغه کار نه کوي، د مثال په ډول: ماښام د ځان سره داسي حساب شروع کړي، په نن ورځ کي دي څومره لمونځونه کړي دي؟ د ګناهونو په هکله داسي د ځان سره حساب کول چي څومره نافرماني را څخه سوې ده او څومره د دين مطابق مي ځان عيار کړی دی؟ څومره غيبت مي کړی دی؟ څومره مسلمانانو ته مي تکليف او څومره مسلمانانو ته مي فائده ور رسولې ده؟ که داسي حساب د ځان سره انسان جاري ساتي، نو انشاء الله ځوان به کنترول سي او اعمال به يې د شريعت مطابق وګرځي، د انسانانو سره به هرومرو حساب کيږي، خاصتاً د ځوانانو سره، دوی له دې څخه هيڅ چاره هم نه لري، د حساب څخه انسان ځان نه سي خلاصولای، داسي يوه ورځ به راځي چي په هغه ورځ به د انسان ټول کړه وړه تلل کيږي.

د هغو مطابق به بيا بدله ورکول کيږي، که يې عمل سم وو، نو بدله به يې هم سمه وي، ثوابونه به يې په برخه وي او د ده د سمو کړو په بدل کي به تلپاته نيکمرغي او خوشحالي ورپه برخه سي، مګر که د چا عمل خراب وو، نو بيا به هم د ده د عمل مطابق بدله ورکول کيږي، د مجُرمانو لپاره الله (جل جلاله) داسي عذابونه تيار کړي دي چي بيا به په هغو کي غمجن او پريشانه وي، خو هيڅ چاره به هم نه لري، داسي لوری به هم نه وي چي پر هغه لوري ولاړ سي او د عذابه خلاص سي، نه به بيداري کار کوي، نه به واسطه کار کوي، نه به پيسې فائده کوي، نه به رشوت ځيني اخيستل کيږي او نه به قوم کار کوي، ځيني خلګو سره به سخت او دقيق حساب کيږي، دا به هم د دوی لپاره بربادي وي، ځيني خلګو سره به په آسانۍ حساب کيږي، دا به په حقيقت کي هغه څوک وي چي په دنيا کي يې د ځانه سره محاسبه کړې وي.

ځوانه غواړې څنګه د حرامو ځان وساتې، دا کار ډېر آسانه دی، د خپل نفس سره يوه شيبه په ريښتينې توګه محاسبه وکړه، خپل نفس ته ووايه: تر کومه به دا ګناهونه وي، تر کومه اې زما غافل نفسه په داسي حال کي چي ته هره ورځ آورې فلانی مړ سو، اې نفسه يوه ورځ به داسي راسي ته به هم مړ سې. اې نفسه! جنت د الله (جل جلاله) سره ريښتينولۍ او صداقت ته اړتيا لري. د خپل ځان سره محاسبه وکړه مخکي تر دې چي محاسبه در سره وسي او خپل اعمال په خپله وتله مخکي تر دې چي وتلل سي. د ځان سره محاسبه د ځان د اصلاح په معنا ده، اصلاً خو د انسان اصلي موخه معلومه ده، چي په دنيا کي د آخرت لپاره ځان چمتو کړي، دنياوي چاري د آخرت د سمون لپاره عياري کړي، انسان حتماً اشتباه کوي، اشتباه يې د انسانيت د طبعيت صفت دی، مګر د اشتباه کولو وروسته د ځانه سره محاسبه تر ټولو بهترين کار دی. په مادي نړۍ کي د غرقو انسانانو زړونه تنګ وي، د ژوند هدف ځيني ورک وي، د ځان څخه هميشه دا پوښتي: زه ولي خفه يم؟ ولي مي زړه تنګ دی؟ که څوک غواړي چي پاک او سپيڅلی ژوند ولري بايد د الله سبحانه وتعالی احکام عملي کړي او د ځان سره محاسبه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ځوانه موسيقي د روح غذا نه، بلکي زهر ده

د موسيقۍ ستر زيانونه: په ټولنه کي موسيقي اوس يو کسب، د وياړ او توجه سمبول ګرځېدلی دی، العياذ باالله، مخکي وختو کي به موسيقي يوازي په غيري مسلمو ټولنو کي دود وه، خو افسوس اوس دا موسيقي په اسلامي ټولنو کي يو ځانګړۍ ځای لري او ځوان نسل نه دی خبر چي دا موسيقي و ټولني ته زهر او دا لاندي عُمده تاوانونه لري:

۱: هغه اشعار چي د سروز سره ويل کيږي د ځوانانو په ذهنو او دماغو کي ځای پيدا کوي او په هغه عمل کوي، کله په دې شعرو کي د نشيي توکو ستاينه وي، کله د انجونو او په مجموع کي د ښځو د ښکلا انځور په کښي وي، په مجموع کي ځوان نسل و لعنتي او د جنسي خواهشاتو و کندي ته غورځوي، خلاصه دا چي موسيقي د ځوان نسل د تباهۍ او ګمراهۍ سبب ګرځي او بس.

۲: هر ډول موسيقي چي هر څوک يې اوري، دا موسيقي يې و خپل ځان او روغتيا ته پوره ګوابښ دی او د يو لړ روحي ستونزو سره يې مخامخ کوي، چي بالاخره د انسان و روغتيا ته داسي ګوابښ دی، د انسان دماغ تر دې اندازې پوري تر اغيزو لاندي راولي او په سيلابي تورو څپو کي يې راونغاړي چي هغه به خپل ځان پخپله ووژني، دنيا او اخرت يې دواړه برباد سي.

۳: موسيقي چي په هر نامه يا تر هر سرليک لاندي وي، په هرو مراسمو کي چي وي او په هره بڼه سره چي وي زموږ خالق او مالک (جل جلاله) او د الله (جل جلاله) خوږ استازۍ حضرت محمد (صلی الله عليه وسلم) حرامه او منع کړې ده، نو د الله (جل جلاله) نافرماني يوه مسلمان ته هلاکت او ضلالت دی، چي دا و هر انسان ته د ناکامۍ او بدمرغۍ زيرۍ دی او پاته دي نه وي، د الله (جل جلاله) په حُکمونو کي هيڅ شک نسته، هيڅ څوک تصرف نه سي په کښي کولای او نه هم څوک دا اختيار لري چي د قرآن کريم آياتونه د خپلي خوښي مطابق تعبير او تفسير کړي. د يوه مسلمان خاصيت بايد داسي وي چي اسلام چي څه ويلي دي او آمر يې کړی دی هغه به مني او بيا به يې عملي کوي پر خپل ځان باندي او وروسته به يې په ټولنه کي د عملي کولو هلي ځلي او پوره کوښښ کوي، داسي کسان نو يقيناً ريښتني مؤمنان دي او دا هغه کسان دي چي الله (جل جلاله) د جنت زيرۍ ورکوي.

ځيني کمزوري او ساده مسلمانان وايي: ته به موسيقي نه اورې، بلکي د موسيقۍ اوريدل ټول خلګ خوښوي. ځيني بيا داسي وايي: يو څو ورځي ژوند دی، له دې څخه به څه خوند واخلو او په دې نه دي خبر چي د الله (جل جلاله) نيونه بيا ډيره سخته او دردونکي ده. ځيني بيا داسي وايي: ما پريږده او کار مي پريږده، څوک خو به زما په قبر کي نه راننوځي. ددې څخه مطلب يې دا دی: دا سړی ډير مغروره دی او يا يې دا ګمان لا هم نه کيږي چي زه دي په قبر کي مجازات سم، يا هم داسي ګمان کوي چي الله (جل جلاله) به و ما ته پر دې باندي سزا رانه کړي، او يا دا د الله (جل جلاله) سزا ته دومري آرزښت نه ورکوي او انګيري چي دا يو خيال دی، العياذ باالله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومري احمقانه، پوچ، بیهوده، د عقل څخه لیري او د منطق څخه لیري فکر او تصور دی، د الله (جل جلاله) د عذاب تصور او فکر کول د انسان د عقل او دماغ څخه ډیر لوړ دی، هغه اور، شکنجه، عذاب، نیونه او هر څه ددې دنیا په شان نه دي، په قرآن کریم او مبارکو احادیثو کي چي د دوږخ کوم بیان راغلی دی و هر چا ته دا جوتیږي چي هغه ځومره سخت اودردناکه دی، الله (جل جلاله) و ټول انسانیت ته وایي: تاسي د هغو خلګو انجام وګورئ چي د مځکي د ګرې پر سر باندي یې نافرمانیاني وکړې او سزاء یې څه سوه، د عاد، ثمود، قوم لوط، فرعون، هامان او داسي نور.. وګورئ، چي د هغو دنګ دنګ په غرو کي جوړ سوي عمارتونه وګورئ، هغه کورونه او محلونه یې سته او دوی نسته، د فرعون، هامان، شداد، نمرود او داسي نورو... غټو کفارو انجام وګورئ د دوی تعمیرونه تر اوسه سته، د ښکلا توکي، سامانونه، زیورات یعني هر څه یې سته، مګر دوی نسته او د دوی انجام اخیر څه سو؟

علامه ابن جریر طبري (رحمة الله علیه) په خپل تفسیر جامع البیان کي لیکي: د مفسرینو په اند د (لهوا لحدیث) اصطلاح ددې درو (۳) شیانو لپاره استعمالیږي:- ۱: غزل ویل او اوریدل. ۲: د ښځینه او نارینه غزل ویونکو یعني غزل چیانو چوپړ او کاروبار کول. ۳: د موسیقۍ د آلاتو استعمال، رانیول او کاروبار کول. (تفسیر طبري)

د موسیقي تاوانونه د لویدیځ پوهانو له نظره:- ۱: د امریکا د شکاګو د پوهنتون یو مفکر او ساینس پوه ایلن بلوم (Allan Bloom) پخپل یو کتاب (The Closing of the American Mind) کي وایي: نن سبا موسیقي یوازي او یوازي انسان و جنسي خواهشاتو او جذباتو ته کشوي، دا مینه نه ده، بلکي ترتیب سوی فحش، بربنډتوب د جنسي اړیکو خواهش او یوازینۍ شیطاني آرزو ده.

۲: په ۱۹۹۲م کال کي په یوه ژورنال کي Social Forces دوو نړیوالو څیړونکو سینون سټاک او جیم یوه څیړنه خپره کړې وه، چي په کښي لیکلي یې وه: موږ د امریکا په نه څلوېښتو (۴۹) ایالاتو کي پر ځان وژنو باندي څیړنه وکړه او دې پایلو ته ورسیدو: ځومري سپین پوستي امریکایان چي موسیقي اوري په هغو کي د ځان وژنو ګراف لوړ وو، دا ځکه خپله موسیقي دوی دې ته هڅوي چي ځان وژنه وکړي، غولونکې مینه، خیالي ودونه او نشه ددې سبب سي چي یو انسان پخپله خوښه سره ځان وژنه وکړي، موسیقي صرف د مایوسۍ، منافقت او شیطاني خیال پلو تربیه ورکوي، چي دا خپله هلاکت دی.

۳: د روانشناسۍ د علم نړیوالو پوه ډاکتر مارټینو دا ثابته کړې ده: د موسیقۍ له کبله د ټولني ځوانان داسي حالت ته رارسیدلي دي چي هره ښځه د جنسي اړیکو یوه آله ورته ښکاري او ځیني په داسي حالاتو کي دي چي د ښځي په لیدو سره حمله پرې کوي او خپل د عقل د کنترول توان یې د لاسه ورکړی دی، دا حالت نه زغمونکی او ډیري بد عواقب لري.

۴: د لویدیځ وتلی ساینس پوه پارډون (Pardun) وایي: د بربنډتوب او فحاشی ټول مواد او اسباب په موسیقۍ کي نغښتي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵: پروفیسر ډاکټر (RL) بیکستر د موسیقۍ په اړه وايي: په موسیقۍ کي (۶۰) سلنه د جنسي اړیکو جذبات، احساسات او تمایلات دي، چي په ډېره اندازه سره په موسیقۍ کي فحش غزلي، فحش جامې او حرکتونه د یادوني وړ دي.

۶: د یونان مشهوره فلیسوف افلاطون وايي: د موسیقۍ آواز، سروز او رقص دا ټوله په اصل کي د انسان روح وحشي او درنده طبع جوړوي، چي بیا د هیڅ شي پروا نه لري. افلاطون په خپل کتاب جمهوریت (Republic) کي وايي: عوام خلګ باید په جدي ډول سره د موسیقۍ څخه وژغورل سي دا ځکه چي دوی ګمراه کوي، د دوی اخلاق بربادوي او فاسدوي، وناوړه کارونو او کړنو ته یې هڅوي.

۷: الزبت براون او ډاکټر ولیم هینډي په دې یقین دي او وايي: نوي ځوانان چي کله موسیقي اوري نو دوی د خپل ژوند ټول الهام د موسیقۍ څخه اخلي، د ژوند په هره برخه کي یې عملي کوي او دا اغېزې تر ډېره مهاله پورې پاته کېږي.

۸: د امریکا په مشهوره طبي جریده (Postgraduate Medicine) کي راغلي دي: د دلائلو او شواهدو څخه دا په لاس راځي چي موسیقۍ اوریدونکي کسان د جنسي بې لارۍ، تشدد او لوړو رجحاناتو ښکار دي.

۹: ډاکټر ادم کنسټي وايي: موسیقي ډېره قوي نشه ده، موسیقي ستا په بدن کي زهر پاشي، ستا جذبه لوړوي او کله دي ناروغه کوي هم، مګر تا ته یې سبب هم نه معلومېږي.س

۱۰: د امریکا د لاس انجلس د غوږونو د څېړنو د یوه مرکز د روغتون ساینس پوهه ډاکټره ریکل کروز وايي: په ۱۹۶۰م کال کي د پاپ موزیک د اوریدلو له کبله د ډېرو عامو امریکایانو د اوریدلو توان ډېر کمزورۍ سو، اوس زموږ مشاهده او تجربه دا ده: هغه انجینران او د موسیقۍ کار کوونکي چي د موسیقۍ سره یې اړیکي او کار دی، دوی د اوریدلو توان د کمزورۍ سره لاس او ګریوان دي، د مشکلاتو سره مخامخ دي، او دا هغه تکلیفونه دي چي درملنه یې ناشونې ده، دا ځکه چي د سامعې حس یو مخ د فعالیته وځي.

۱۱: پروفیسر جانسن ډیو په یوه نړیوال کانفرانس کي وویل: افرین د مسلمانانو ټولني تاسي خپل حیاء ساتلې ده، تاسي خپل مذهبي تهذیب ساتلی دی، ستاسو دین و تاسو ته داسي قوانین وضع کړي دي، چي په هیڅ ټولنه کي نسته، مسلماني ښځي زه وینم په امریکا او اروپا کي حجاب کوي، ټولي سر تر پایه په حجاب کي پټي وي، کله چي د شرابو او موسیقۍ مست ورته وګوري نو شوق یې نه ورته کېږي او مخ ځیني اړوي، دا په اصل کي د مسلمانانو کمال نه دی، بلکي د دوی د الهي کتاب قرآن کریم کمال دی، چي ټولي مسلماني ښځي یې د هر ډول لعنت او فحشاء او جراثیمو څخه ساتلي دي، دا ځکه په اسلام کي موسیقي، شراب، زنا، همجنسبازي، خُمار او نور ناوړه کارونه ټول منع دي، چي زه و مسلمانانو ته افرین وایم، یو وخت زموږ په کلیساوو کي هم حجاب وو، په ښارونو او کورونو کي هم حجاب وو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر زموږ د ناقصو ډیموکراتیکو قوانیو موږ ته فحشاء، شراب، موسیقي او بربنډتوب په سوغات کي راکړل، پایله یې دا سوه چي موږ په اصل کي د اخلاقي نزول، بشري فساد او ستر تاریخي ناورین سره مخ یو، زه فکر نه کوم چي موږ دي تر اسلامي ټولنو لوړ اخلاقي معیار ولرو.

۱۲: د امریکا د باسټن د پوهنتون (Boston University) د اوریدلو پوهني یو تجربه کاره پروفیسر کلارک کاکس وایي: په دې کي شک نسته چي موسیقۍ په لوړ آواز اوریدل د انسان د اوریدلو حس له منځه وړي. د لوړ آواز د اوریدلو په وجه نه یوازي د اوریدلو توان له منځه ځي، بلکي د زړه حرکت او ضربان هم زیاتوي، د ویني فشار لوړوي، بې خوابي راولي، تنفسي نظام د طبعي او عادي حالت څخه باسي، وینه په شریانو کي خرابوي او نوري داسي بدي اغیزې پر اعصابو او ټول بدن باندي لري چي بیا یې درملنه ناشونې ده.

۱۳: ډاکټر ولف آدلر د کلمبیا د پوهنتون پروفیسور وایي: علاوه پر دې چي موسیقۍ ته په غیري طبیعي توګه ډیره توجه کول زموږ اعصاب ډیر ستړي کوي، بلکي د موسیقۍ د ږ.غ څخه د ارتعاشاتو د پورته کیدلو له وجهي د انسان په پوست کي غیري معمول عکس العمل را پورته کیږي چي ډیر تاوان او زیان لري.

۱۴: ډاکټر آلکسیس کارل لوی فرانسوي فیزیولوژست وایي: موسیقي د انسان په بدن کي ډیر کهالت او سستي راولي او زموږ د اولادونو روحیه فلج کوي.

۱۵: ډاکټر ارنولد فریدماني په نیویورک کي دروغتون ډاکټر او د سردردۍ د کلینیک رئیس د الکترونیکي دستګاو په مټ چي مغزي امواج ورباندي معلومیږي دډیرۍ ناروغانو د کتلو او د هغوی څخه د پښتونو د اخیستلو وروسته په تجربه ورته ثابته سوې ده، چي د روحي او فکري ستړیا او عصبي سردردونو د لویو لاملونو څخه یو هم موسیقۍ ته غوږ نیول دي، په خاصه توګه هغه خلګو ته چي په ډیر دقت او غور ورته غوږ نیسي.

۱۶: ډاکټر رابرت چي په انګلیستان کي د ماشومانو د اروا پوهني متخصص دی وایي: ماشومان د مور په رحم کي د موسیقۍ تر منفي تأثیر لاندي راځي، حامله میرمن چي موسیقۍ ته غوږ نیسي په رحم کي یې د ماشوم د زړه تکان ډیریږي البته (۶) میاشتي د حمل وروسته.

۱۷: ډاکټر اوریزن اسوت مارون وایي: هغه نشه او حالت چي انسان ته د موسیقۍ د اوریدلو له کبله پیدا کیږي تر ټولو لوی لامل او عامل د قلبي سکتې کیدلای سي.

۱۸: ځیني کارپوهان په دې نظر دي چي موسیقي، په خاصه توګه هغه موسیقي چي ډیره تنده وي په سمپاتیک او پاراسمپاتیک سیستم کي تحریکات را پورته کوي چي په نتیجه کي اعصاب خپل تعادل د لاسه ورکوي، هم مهاله د اعصابو ضعف، د حواسو ګډوډ کیدل، خوابدي پیدا کیدل، لیونتوب، په اوریدلو او لیدلو کي ستونزه پیدا کیدل او نور مشکلات زیږوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موسيقي دنيوي تاوانونه:- ۱: موسيقي د اخلاقي فساد مهم عامل دی. ۲: د پرښتو يا ملائيکو د را نازليدو څخه مخنيوی کوي. ۳: په زړه کي نفاق زرغونوي. ۴: د زنا طرف ته د تشويق وسيله ده. ۵: د الله (جل جلاله) د رحمت څخه د ليريوالي باعث ګرځي. ۶: د کور څخه د خير او برکت د تلو او مسکنی باعث ګرځي. ۷: د زړه د سختي باعث ګرځي.

ځيني خلګ په دې عقيده دي چي موسيقي د روح غذا ده، مګر که حقيقت ته وګورو نو د دوی دا دعوه بې ځايه ده ځکه که چيري موسيقي د روح غذا وای، نو ولي په غرب او اروپا کي د موسيقي د ډيري خپريدو سره سره اخلاقي فساد او عصبي ناروغی ورځ په ورځ ډيريږي؟ همدارنګه اوس په نړی کي موسيقي د مخدره موادو په حيث پيژندل سوې ده، ځکه هغه کسان چي د موسيقي سره عادت سوي دي د هغوی ټول فکر د موسيقی په هکله وي، د دوی په اعصابو باندي يو ډول سستي حاکمه وي او بيا دا خلګ غيري د شهوت، عشق بازی، ښکلا پرستی څخه نور څه نه پيژني او د دوی عقل د موسيقي پواسطه داسي محاصره سوي وي چي بيا دوی د عفت او حياء، عدالت او انصاف، ورورولی او غيرت څخه خلاصيږي.

د موسيقي تاوانونه د طب له نظره:- ۱: ډاکټرانو دا ثابته کړې ده چي موسيقي د اعصابو د ضعيفوالي باعث ګرځي او د ډاکټرانو څو اتحاديو د حکومت څخه غوښتي چي په عامه ځايونو کي د موسيقي او کنسرت څخه مخنيوی وکړي، تر څو په نړی کي د عصبي ناروغيو مخه ونيول سي. ۲: د انسان په بدن کي د سيمپاتيک او پاراسيمپاتيک په نامه دوه ډوله اتومات يعني خودکاره اعصاب موجود دي، دواړه د برابری په حالت کي دي او د دوی برابري د بدن د نظم باعث ګرځي، هر کله چي د خارجي عواملو په نتيجه کي ددې عصبي سيستم نظم له منځه ولاړ سي، نو انسان د ډيرو جسمي او عصبي ضررونو سره مخامخ کوي، يو د دغو عواملو څخه چي د دغه عصبي سيستم نظم له منځه وړي موسيقي ده. ۳: موسيقي د زړه د حملې او زړه دريدو باعث ګرځي. طب وايي: د زړه د دريدو يو مهم عامل هيجانات يعني ډيره خوشحالي يا ډير خفګان دی او دا چي د موسيقي د اوريدو په اثر په انسان کي يو ډول هيجاني حالت را منځته کيږي ځکه نو د زړه د حملې باعث ګرځي او ډير ځله ليدل سوي چي سندر غاړي د زړه د حملې له امله مړه سوي دي. ۴: موسيقي د ويني د فشار د لوړيدو او ټيټيدو باعث ګرځي. په دې هکله يو اروپايي پروفيسور خپله تجربې کړي او نتيجه يې داسي کړې ده: نوموړي ډاکټرد يو ناروغ د فشار د کتلو پر وخت هغه ته آرامه موسيقي واورولهنو په تعجب سره يې وليدل چي د ناروغ د ويني فشار د نارمل حالت څخه ډير کښته سو، او کله چي يې سخته يا غليظه موسيقي ورته واوروله ويې ليدل چي د ناروغ فشار د عادي حالت څخه ډير لوړ سو. يو بل آلماني ډاکټر دا ثا بته کړې ده: موسيقي د سر دردي، روحي او فکري خستګي باعث هم ګرځي. ۵: ليونتوب او جنون. ۶: موسيقي د ځان وژني عامل ده. ۷: د ليدو او اوريدو د حس ضعيفوالی. ۸: د ظلم او جنايت سبب ده. ۹: د الله (جل جلاله) د ذکر او ياد څخه د مخنيوي وسيله ده ځکه په هغه زړه کي چي د شيطان فاسد آواز ځای ونيسي هلته بيا د الله (جل جلاله) ذکر قرار نه نيسي او آرام نه مومي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ځوانه د ګناهونو څخه د توبې کښلو نیت نه لرې؟

موږ ټول پوهيږو چي انسان يو ضعيف موجود دی، له دې امله د سهوي او خطاء څخه خالي نه دی او د هر چا څخه په يو ډول نه يو ډول ګناه ترسره کيږي، ان زموږ لومړنی پلار ابو البشر حضرت آدم (عليه السلام) او حضرت حوا انا (عليه السلام) د بشري ضعفونو له مخي شيطان خطاء ايستل او له امله يې د جنت د نعمتونو څخه د مځکي ستونزو او مصيبتونو ته وليږل سول، د يوې خوا جني او انسي شيطانان تل تر تله لاس په کار دي، د انسانانو په خطاء ايستلو او ښويولو پسې دي، د بله پلوه د انسان نفس اماره بالسوء يعني په بدو کارونو آمر کوونکی دی، همدا راز دا دنيا هم يوه ډيره مکاره ده، چي انسان غرور، خوندونو او شهوتونو ته وربولي، له بله پلوه انسان د ژوند په لومړيو پړاوونو کي کم سنه وي، خام او بې تجربې وي، بې علمه وي، ځوان وي، احساساتي وي، چي له دې امله ژر غوليږي او د ټولني شيطان صفته ساکښان يې د حسن نيت او ښو احساساتو څخه بده ګټه اخلي.

د توبې فضايل، ديني او دنيوي ګټي: هر هغه عبادت چي الله (جل جلاله) خپلو بنده ګانو ته د ترسره کولو آمر يې کړی دی، هرومرو فضيلتونه، بيلا بيلي ګټي، اسرار او ښيګڼي لري او په دې کي شک نسته چي توبه افضل د عباداتو ده، بلکي د حنبلي مذهب يو ستر امام ابن رجب (رحمة الله عليه) وايي: توبه د ټول عمر وظيفه ده.

۱: د توبې د سترو فضايلو څخه د توبه ايستونکي سره د الله (جل جلاله) مينه او محبت دی، په دې توګه د توبې عبوديت الله (جل جلاله) ته تر ټولو غوره او خوښ عبوديت دی. ابن قيم (رحمة الله عليه) فرمايي: که الله (جل جلاله) ته توبه تر ډيرو شيانو غوره او خوښه نه وای، نو به يې خپل بنده ګان په ګناهونو نه اخته کولای، دا د توبې او توبه کوونکي سره د الله (جل جلاله) ځانګړې مينه ده چي هغه په ګناه اخته کوي، بيا يې د توبې کښلو ته هڅوي او بيا فرمايي: زه توبه کښونکي او خواپاکي خلګ خوښوم. ۲: همدا راز د توبې د فضايلو څخه په هغې باندي د الله (جل جلاله) خوشالي ده، البته هر مسلمان هيله لري او غواړي چي د الله (جل جلاله) محبت ورسره ولري او په توبه يې خوشاله سي. دغه خوښي د توبه کوونکي پر حال احوالو او زړه باندي ستر اغيز ښندي، په دې ډول ګناه کار بنده په توبه سره د الله (جل جلاله) د محبوب درجې ته رسيږي، د الله (جل جلاله) حبيب او دوست بلل کيدای سي. ۳: توبه د دواړو جهانونو کي سعادت او نيکمرغي ده. د توبې فضيلت د خير ښيګڼي، برکتونو، ظاهري او باطني عافيت او د زړونو د ډاډ، د نيکمرغی، هوسايی، سوکالی او ښې روغتيا رامنځته کيده، د پر وخت، ښو او ګټورو اورښتونو اوريده، د آفتونو او ډول ډول توپانونو لرېده، پر دوښمنانو باندي بری، قوت او آمن دی. ۴: توبه د بنده ګناهونه په نيکيو او حسناتو بدلوي، خلاصه دا چي په قرآن کريم او نبوي احاديثو کي په ډيرو څرګندو الفاظو د توبې او استغفار ډيري زياتي دنيوي او اخروي ګټي بيان سوي دي، ځکه نو پر ټوله اسلامي اُمت باندي لازمه ده چي ګناهونه پريږدي، توبه وکاږي او د الله (جل جلاله) په توبه، استغفار او عفو غوښتلو سره ځانونه د عزت، شوکت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې دنیا او هغې دنیا د ګټو څخه برخمن کړي. ۵: توبه کوونکي کس ته ملائیکي د مغفرت دعاوي کوي، وګورئ پر الله (جل جلاله) باندي مومن په تیره بیا توبه کښونکی مسلمان څومره ګران دی، هغه په ځای کي پروت وي خوب کوي او ملائیکي د بخښني دعاوي ورته کوي.

د توبې لغوي معنا: توبه په لغت کي د معصیت یعني ګناه او نافرمانۍ څخه د طاعت پر لور رجوع ته وایي. الله (جل جلاله) توبه قبلوونکی دی، کله چي بنده د خپلي ګناه څخه توبه وکاږي، د هغه توبه په خپل فضل سره قبلوي.

د توبې شریعي تعریف: توبه په شریعت کي پر تیرو ناوړو کارونو او ګناهونو یعني کړنو او ویناوو باندي د هغو په بدوالي باندي په پوهیدو سره پیښماني، د تل لپاره د هغو د پریښوولو په هکله ټینګ عزم او هوډ دی، البته که یې د چا څخه څه په ظلم او ناحقه تر لاسه کړي وي، هغه به بیرته ورکوي او یا به بخښنه ځیني غواړي. دا توبه به الله (جل جلاله) ته او د الله (جل جلاله) په حضور کي او د الله (جل جلاله) لپاره وي، نه د دنیوي ګټي او کوم ضرر د مخنیوي لپاره.

حضرت حسن بصري (رحمة الله علیه) فرمایلي دي: څوک چي د ګناه څخه په زړه کي پیښمانه سي، په ژبه د الله (جل جلاله) څخه بخښنه وغواړي، د بدن په غړو د ګناه ترسره کول پریږدي، توبه په زړه کي پټه وساتي او بیا ور ونه ګرځي، دې ته توبه ویل کیږي.

امام غزالي (رحمة الله علیه) فرمایلي دي: څوک چي ګناهونه سمدستي پریږدي، په راتلوونکي کي یې د پریښوولو هوډ او عزم وکړي، کوم تقصیرات چي پخوا ځیني ترسره سوي دي، په ښو اعمالو یې تدارک او جبران کړي دې توبه ویل کیږي.

امام ابن القیم (رحمة الله علیه) فرمایلي دي: توبه د هغو څخه چي الله (جل جلاله) یې نه خوښوي، هغو ته چي الله (جل جلاله) یې خوښوي رجوع او ګرځیده دي، هغه که په پټه وي که په ښکاره وي، چي اسلام، ایمان، احسان او نور ټول مسایل په کښي راځي.

دا توبه به الله (جل جلاله) ته په اخلاص، د الله (جل جلاله) څخه د ثواب په هیله او د الله (جل جلاله) د عقاب څخه په بیره کي وي، تر زکندن او د لویدیځ څخه د لمر تر راختو د مخه به وي. یادونه: که د حقوقو د څښتنانو او د هغو د ورثه وو معلومات نه پیدا کیدل، نو بیا په زور او ظلم اخیستل سوی مال د هغه د خاوندانو له خوا خیرات کړئ او پخپله یې د ثواب هیله مه کوئ.

د ژبي توبه: البته که په پورته ډول توبه ونه کښل سي، یوازي په ژبه توبه توبه لري، د زړه څخه یې د ګناه خوند او لذت نه وي وتلی، نو دې ته علماء فاسده توبه وایي، دا نه ده صحیح، بلکي له دې څخه هم باید توبه وکښل سي. ربښتیا هم دا توبه نه ده، بلکي د توبې الفاظ دي. نامتو عالم ډاکټر یوسف قرضاوي وایي: د عوامو د فکرونو په خلاف یوازي په ژبه توبه کښل، توبه نه شمیرل کیږي. یعني توبه کښل داسي ساده خبره هم نه ده، بلکي توبه تر دې سخته او یوه ستره چاره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

البته په توبه تلفظ کول مطلوب دی، مګر تر قطعي تصميم او د الله (جل جلاله) په وړاندي پر ګناه باندي تر اقرار او اعتراف وروسته به وي. اما يوازي په ژبه استغفار او د توبې اعلان، د زړه بيله هوډ او تصميمه د ذوالنون مصري په وينا دا د درواغجنو توبه ده.

درواغنه توبه:ـ منصور بن عمار وايي: ما يو آشنای درلودی چي د ګناهونو په ترسره کولو سره يې پر ځان ظلم کوی، يو وخت يې توبه وکښل، ما به هغه ډېر ليدی چي په ښو کارونو، عبادت، لمانځه روژو نيولو، تهجد لمانځه او داسي نورو... به بوخت وو، بيا هغه وو چي څو ورځي مي ونه ليدی. بيا چا را ته وويل: هغه ناروغه دی. نو زه يې د پوښتني لپاره کور ته ورغلم. کله چي مي دروازه وروټکول لور يې را ووتل او را ته ويې ويل: څوک دي په کار دی؟ ما ورته وويل: پلار ته دي ووايه پلانی راغلی دی. نو هغه وو چي ما ته يې کور ته د ننوتلو اجازه راکړه. کله چي کور ته ورننوتلم ومي ليدل چي د کور د غولي په منځ کي يې پر کټ باندي اړخ وهلی دی، او مخ يې خورا ډېر تور سوی وو، سترګي يې بې نوره سوي وې، شونډان يې وچ سوي او ترخي ترخي چاودلي وې، ما په داسي حال کي چي د قوارې څخه يې وبيريدم، ورته وويل: (لا اله الا الله) ډېر ډېر وايه. هغه سترګي په ډېر تکليف خلاصي کړې، راته ويې کتل او بيرته بې سده سو، بيا مي ورته وويل: وروره د (لا اله الا الله) کلمه ډېره ووايه او بيا مي هم کلمه ورته تکرار کړه. دغه مهال يې سترګي خلاصي کړې او را ته ويې ويل: ای منصوره وروره! دا داسي کلمه ده چي زما او د هغې تر منځ واټن راغلی دی.

ما وويل: (لاحول ولا قوة الا بالله العلى العظيم). بيا مي ورته وويل: وروره ستا هغه لمونځونه، روژې، تهجد لمنځونه، عبادتونه او ښه کارونه څه سول؟ را ته ويې ويل: دا د الله (جل جلاله) لپاره نه وه، ما په درواغو توبه کښلې وه، دا کارونه ما ددې لپاره کول چي خلګ ښه را باندي ووايي، دا ټول په رياء سره وه، کله چي به زه په کور کي يوازي سولم ډول ډول ناروا وي به مي کولې، نه لمونځ وو، نه بل څه، شراب به مي څښل، ډول ډول سازونه او سندري به وې، زه به وم او په دې ډول مي د الله (جل جلاله) پر ضد هر ناوړه عمل تر سره کوی، تر دې پوري چي ناروغه سوم او د مرګ تر پولي ورسيدم. نو مي دې لور ته وويل: قرآن کريم را ته راوړه. کله چي مي قرآن کريم په لاس کي ونيوی، ومي ويل: الهي ستا د دغه قرآن کريم په برکت ما ته شفاء راکړه، زه ژمنه درسره کوم چي بيا به هيڅکله بد کارونه نه کوم. نو هغه وو چي الله (جل جلاله) رحم راباندي وکړ او روغ سوم. کله چي جوړ سوم شيطان زما او د الله (جل جلاله) تر منځ هغه کړې ژمنه راڅخه هيره کړه، بيرته مي هغو خپلو ناوړو کارونو، خوندونو، ساز او سرود ته لاس ور واچوی، څه موده همداسي راباندي تيره سوه، چي بيا ناروغه سوم، دا ځل بيا د مرګ تر پولي ورسيدم، نو مي د خپل پخواني عادت سره سم ميرمني ته آمر وکړ: د کور غولي ته مي وباسئ. بيا مي قرآن مجيد را واخيست، څو آيته مي تلاوت کړ او بيا مي الله (جل جلاله) ته زاری وکړې: ستا د دغه کلام په حق او برکت مي دا وار لا هم جوړ کړه، بيا داسي نه کوم. الله (جل جلاله) مي بيا پر حال رحم وکړ او بيا يې جوړ کړم، مګر ما بيا هغه ناوړه کارونه پيل کړل، دا دی بيا داسي ناروغ سوم، بيا مي قرآن کريم را

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخیست چي تلاوت يې کړم، خو دا ځل هیڅ حرف نه راته معلومیږي، نو پوه سوم چي الله (جل جلاله) را ته په قهر سوی دی. نو مي سر آسمان ته پورته کړ او ومي ویل: ای لویه خدایه! دا رنځ را څخه واخلې! یو ږغ مي تر غوږو سو، چي را ته وايي: کله چي ناروغ سې توبه کاږې او کله چي روغ سې، بیا ته يې او هغه ستا ناوړه کارونه! منصور بن عمار وايي: زما تر سترګو اوښکي راغلې او ځیني را ووتلم، مګر تر کوره لا نه وم رسیدلی، خبر سوم چي سا يې ورکړه.

هو ګرانه ځوانه! توبه، په ژبه توبې کښلو ته نه وايي، بلکي توبه په پټه او ښکاره په زړه کي پر ګناهونو پیښماني، تیر تریخ او ناوړه حالت ته نه ورګرځیدلو ته توبه ویل کیږي. توبه د کوچنیو او لویو یعني صغیره او کبیره ګناهونو څخه ایستل کیږي، هر انسان، په تیره بیا توبه کوونکی باید هغه ناوړي کړني چي توبه ځیني کاږي پوه سي او ویې پیژني، که څه هم په اجمالي توګه وي، څو ډډه ځیني وکړي او که چیري په اخته سوی وي، توبه دي ځیني وکاږي، الله (جل جلاله) په خپل فضل او کرم سره د توبې دروازه خلاصه کړې ده، الله (جل جلاله) په خپل سپیڅلي کتاب قرآن کریم کي د توبې کښلو په هکله ډیر ځایونه آمر کړی دی، خپل بنده ګان يې ورته هڅولي دي، الله (جل جلاله) د هر چا توبه قبلوي، که کافر وي، که مشرک، که منافق وي، که فاسق، که مرتد وي که کوم بل طاغي او باغي، که ملحد وي او که زندیق وي، که ظالم یا په نورو ناوړو چارو او ګناهونو اخته وي.

د توبې وجوب: په دین کي توبه کښل ډیره ستره چاره بلل کیږي، په اسلام کي ډیر ستر ځای او منزلت لري، له دې امله د ظاهري او باطني، فقهي او اخلاقي علومو ټولو علماء کرامو د قرآن کریم او نبوي سنتو د نصوصو پر بنسټ فرمایلي دي: د ګناهونو څخه توبه سمدستي واجب ده. امام نووي (رحمة الله علیه) فرمايي: د توبې سمدسي وجوب په قرآن کریم، نبوي سنتو او د اُمت په اجماع ثابت دی. یو بل عالم فرمايي: د توبې سره یو ځای د هغې درې (۳) اجزاوي، یعني په ګناه باندي علم، پر هغې پیښماني او پریښوول يې هم واجب دي. دې کي هیڅ شک او شبهه نسته چي توبه تر ګناهونو ترسره کولو وروسته فوري او سمدستي واجب ده، دا ځکه چي ګناهونه او معاصي هلاکوونکي او خطرناک بلل په نفس ایمان کي داخل دي، او دا واجب هغه څوک ادا کولای سي چي د هغه د وجوبه خبر وي. بیله پیغمبرانو (علیهم السلام) چي د ګناهونو څخه پاک او معصوم دي، بل هیڅوک د ګناه څخه خالي نه دی، که څوک د ګناهونو څخه وژغورل سي، نو د شیطان د وسوسو څخه نه سي ژغورل کیدلای، ځکه چي شیطان تل د انسان په خطاء ایستلو پسې دی او د الله سبحانه وتعالی د یاده يې غافله کوي.

د توبې شرطونه: علماء کرامو د قرآن کریم د آیتونو او نبوي سنتو پر بنسټ فرمایلي دي: ګناه چي هر څه وي او هر څومره کوچنی هم وي د هغې څخه توبه واجب ده. بیا ګناه پر دوه (۲) ډوله ده. یوه هغه ګناه ده چي په الله سبحانه وتعالی پوري اړه لري، یعني په حقوق الله کي څه کمي سوې وي، ددې ګناه د توبې څو شرطونه دي، چي باید تر سره سي، څو د الله (جل جلاله) له خوا دا توبه ومنل سي، دغه شرایط دا دي:- ۱: ګناه باید سمدستي پریښوول سي او بیا ګناه کوونکی د هغې ګناه څخه ځان لیري وساتي. ۲: باید پر ګناه باندي پیښماني څرګنده سي، البته

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څوک پر ګناه باندي پیښماني څرګند نه کړي توبه یې نه صحیح کیږي، او دا شرط په ټولو شرطونو کي مهم دی.۳: باید توبه کښنل د الله (جل جلاله) سره د اخلاص په رڼا کي وي، دا په ټولو عبادتونو کي شرط دی. ۴: باید توبه پر خپل وخت باندي وي، د توبې کښنل دوه (۲) وخته لري، یو عام وخت دی چي د ټولو خلګو لپاره او تر قیامته دی، کله چي قیامت را ورسیږي بیا توبه نه قبلیږي، دوهم د هر چا لپاره ځانګړی وخت دی، هغه تر زکندن دمخه مهال دی او کله چي د بنده د ژوند وروستی سلګۍ سي د توبې دروازه پرې وتړل سي. ۵: ټینګ هوډ او اراده به کوې چي په راتلوونکي کي به ګناه نه کوم. ۶: که یې د بنده ګانو حقوق خوړلي وي، د هغو حقوق به بیرته ورکوي او یا به بخښنه ځیني غواړي، مګر که یې د چا غیبت یا چغلي کړې وي، یا یې ظالم حکومت یا کفارو ته د کوم مسلمان په هکله جاسوسي کړې وي، یا یې پر چا ناحقه تور تړلی وي، یا یې داسي نور کړي وي، نو پر ده واجب ده چي حق خبره رامنځته او روښانه کړي، ځکه چي ده په داسي ناوړو چارو ظلم کړی دی، په دې صورت کي دي هغه چا ته چي داسي ظلم یې ورسره کړی وي د الله (جل جلاله) څخه بخښنه وغواړي او په ښو دي یادونه وکړي. والله اعلم

البته که د دغو شرطونو څخه یو هم ترسره نه سي، نو توبه سمه او صحیح نه ده. ځینو عالمانو د توبې د شرطونو په جمله کي ځیني نور تفصیلات هم لیکلي دي، چي د هغو څخه ځیني دا دي:ـ ۱: توبه به په ځانګړې توګه د الله (جل جلاله) لپاره وي، نه د کوم بل شي په موخه او مقصد. ۲: چي د ګناه کولو قدرت یې ختم سي نو توبه وکاږي، یا بیا خطاء او ګناه نه سي کولای، یا د خلګو د بیري توبه وکاږي، یا یې ګناه واک او چوکۍ ته ضرر رسوي، نو توبه وکاږي، یا یې ګناه روغتیا ته تاوان رسوي، نو توبه وکاږي، یا ګناه کوي، خو لار ورته پیدا نه کړای سي، نو ووایي: زما توبه ده دا کار نه کوم، یا د شرابو رانیولو پیسې ونه لري او ووایي: زما د شرابو خوړولو څخه توبه ده، یا د توبې څخه یې موخه د خلګو ستاینې او تعریفونه وي، او داسي نور...

د توبې مقامات: عالمانو د توبې درې (۳) مقامه ښوولي دي:ـ ۱: توبه. ۲: انابت. ۳: اوابت. ۱: توبه د الله (جل جلاله) د عذاب د بیري ده. ۲: انابت د ثواب د تر لاسه کیدو لپاره دی. ۳: اوابت د الله (جل جلاله) د فرمان وړلو او منلو لپاره دی. پر دې بنسټ توبه د عامو مسلمانانو مقام بلل کیدای سي. انابت د اولیاوو کرامو، د الله (جل جلاله) د مقربینو مقام دی او اوابت د انبیاوو کرامو او مرسلینو مقام ګڼل سوی دی. ځکه نو د اطاعت سره یو ځای د کبایرو څخه د رجوع نوم توبه دی، د الله (جل جلاله) په مینه او محبت کي د کوچنیو ګناهونو څخه د رجوع نوم انابت دی او د خپله ځانه د الله (جل جلاله) لور ته د رجوع نوم اوابت دی.

په اسلام کي د توبې آرزښت: توبه د اسلام په سپیڅلي دین کي ستر ځای او منزلت لري. ابن قیم (رحمة الله علیه) فرمایي: د توبې په نومونو کي اسلام، ایمان، احسان او نور ټول مقامات داخلیږي. ځکه نو عالمانو ویلي دي: د ګناه څخه توبه سمدستي واجب ده. د توبې دروازه خلاصه ده: دا هم د الله سبحانه وتعالی لوی رحمت او فضل دی چي پر خپلو بنده ګانو یې د توبې دروازه خلاصه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د توبې قبلیدولو علامې: تر توبې کښلو وروسته د توبه کوونکي په ذهن کې دا سوال ورګرځي، آیا د هغه توبه د رب العزت په دربار کې قبوله سوې ده، که څنګه؟ ددې جواب الله (جل جلاله) توبه کوونکي ته د خوب یا مراقبې په حال کې ورکوي، او وروسته د انسان په زړه کې د نیکیو ترسره کولو ته هڅوونکي جذبې او خیالات پیدا سي. چې ځیني معلومیږي، د هغه توبه قبوله سوې ده. په دې اړه ځینو علماء کرامو بیا د توبې د قبلیدو لس (۱۰) علامې لیکلي دي:

۱: چا چې رښتني توبه کښلې وي، خپله ژبه د ټولو ګناهونو څخه ساتي، لکه: درواغو، غیبت، چغلی، چټي خبرو، ښکنځلو او داسي نورو... څخه ډډه کوي، له دې ټولو څخه یې بد راسي او پر ځای یې د قرآن کریم په تلاوت، ذکر او داسي نورو... سي. ۲: همداسي د نس د ګناهونو څخه هم ډډه کوي، یعني حلال څه خوري، د حرامو څخه پرهیز کوي. ۳: خپلي سترګي د الله (جل جلاله) د نافرمانۍ څخه ژغوري، او د حرامو د لیدو کتو څخه ډډه کوي، دنیا ته د رغبت په سترګو نه، بلکي د عبرت په سترګه ګوري. ۴: غوږونه د سندرو، درواغو، چغلی او چټي خبرو د اوریدو څخه لیري ساتي. ۵: خپل لاسونه حرامو شیانو ته نه غځوي، او نه چا ته تکلیف ورکوي، همدا راز نامحرم ته لاس نه ورکوي او روغبړ نه ورسره کوي، بلکي خپل لاسونه د الله (جل جلاله) د رضا لپاره پورته کوي. ۶: خپلي پښې د ګناه د ځایه لیري ساتي، په هغو د ګناه او معصیت پر ځای، هغو ځایونو ته ځي چې د الله (جل جلاله) رضا وي، یعني جوماتونو، د خیر ښیګڼو ځایونو ته ځي. ۷: زړه د هر ډول ککړتیا څخه پاکوي، په دنیا کي عداوت، بغض او حسد د دنیا لپاره نه کوي، بلکي یوازي د الله (جل جلاله) لپاره بغض کوي او مینه محبت هم د الله (جل جلاله) لپاره کوي. ۸: هر څه چې کوي د الله (جل جلاله) د رضا لپاره یې کوي. ۹: سر تر نوکه د الله (جل جلاله) او پیغمبر (صلی الله علیه وسلم) سره مینه او محبت ګرځیدلی وي، د الله (جل جلاله) پر بنده ګانو باندي مهربان، خیرخواه او نصیت کوونکی وي. ۱۰: په ښو کارونو کي هیڅ ډول ځان ښکاره کول او ریاء نه کوي.

نصوح توبه: نصوح توبه هغه توبې ته ویل کیږي چې رښتیني، خالصه، حقیقي او قطعي وي، هیڅ شبهه او علت په کښي نه وي، بیا هیڅ ماته نه سي او د ټولو ګناهونو څخه وي. په التوبة وظیفة العمر کتاب کي وایي: نصوح توبه هغه توبه ده چې یوازي د الله (جل جلاله) د بیري وي، د جاه، جلال او چوکۍ د خوندیتوب مطلب په کښي نه وي، نه د مال او خپل واک د ساتني لپاره وي، همدا راز ددې لپاره هم نه وي چې خلګ یې ښه ووایي او د هغو د بد ویلو څخه د تښتیدو لپاره وي، البته که داسي نصوح توبه څوک وکاږي الله (جل جلاله) به یې ټول ګناهونه وبخښي، چې پر دغه توبه ټینګ ودریږي بدۍ په یې په نیکیو واوړي.

د توبة النصوح په باره کي د علماء کرامو نور بیلا بیل قولونه هم سته، چې د هغو څخه یې ځیني دا دي:- ۱: نصوح هغه توبه ده چې وروسته یې د ګناه خوا ته ګرځیده داسي ناممکن سي، لکه مړ انسان بیرته ژوندۍ کیدل. ۲: نصوح هغه توبه ده چې ورپسې یې د بنده په زړه کي تل دا بیره وي چې زما توبه به قبوله سي که یا؟ او ددې تر څنګ پر کړو ګناهونو باندي سخت پیښمانه هم وي.۳: نصوح توبه هغه ده چې تر هغې وروسته انسان بیا بیا توبې کولو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړ سي. ۴: نصوح توبه هغه ده چي په زړه کي پیښماني، په ژبه استغفار وي، ګناه پرېږدي، په راتلوونکي کي د ګناه نه کولو ټینګ هوډ او عزم وکړي. ۵: نصوح توبه دا ده چي د ګناه بدي تل د بنده په ذهن کي ورګرځئ، ګواکي تل هغه ویني. ۶: نصوح توبه دا ده چي د ګناه د دروندوالي له امله یې دا پراخه مځکه تنګه په نظر ورځي او تل د ګناه د وریادیدو له امله نفس تنګه وي. ۷: نصوح توبه دا ده چي د خلګو سره ټولي شخړي او لانجې ختمي کړي، د خلګو حقوق ورکړي، ځان د هر څه څخه فارغ کړي او په نیکو اعمالو اخته سي. ۸: په پلاوو پلاوو د ګناه له امله خپل ځان ملامت کړي او ټول عمر پیښماني پرې ښرګنده کړي، څو د نورو ګناهونو د آفته فارغ سي. ۹: ګناه تر سره کول یې د ذهن څخه داسي ووځي چي هیڅ یې په یاد کي نه ورګرځي، ددې لپاره چي توبه ښه قبوله سي د الله (جل جلاله) سره ډېر محبت کوونکی سي او د بل چا مینه د زړه څخه وباسي.۱۰: نصوح توبه قبولي سوي توبې ته وایي، او په هغې کي د درو (۳) شرطونو موجودیت اړین دی:- ۱: د توبې د نه قبلیدو بیره. ۲: د قبلیدو هیله. ۳- په ښو کارونو مشغولیدل. ځیني بیا وایي: دغه څلور (۴) شرطونه ورته ضروري دي:- ۱: په ژبه استغفار. ۲: د بدن غړي د ګناه څخه لیري کول. ۳: په زړه کي د ګناه نه کولو پوخ عزم کول. ۴: د بدو مجلسونو څخه ډډه کول.

د توبې ځنډول: د توبې کښلو په هکله ډېر خلک ځیني تیروتني کوي، چي دا د توبې د مفهوم په اړه د ناخبری، د توبې چاري ته د لږ پام اړولو او بې پرواهی څخه پیښیږي، د دغو خطاوو څخه یوه هم د توبې ځنډول دي، د توبې سمدستي نه کښل او ځنډول یې ډېر تاواني کار دی، دا د انسانانو ډېره لویه خطاء ده، ډېرو خلګو ته د توبې کښل یو ډېر کوچنی او عادي کار معلومیږي، ډېر خلک پوهیږي چي ګناه مي کړې ده او یا یې اوس هم تر سره کوم، مګر توبه نن او سبا ته ځنډوي، ځیني یې تر واده پوري ځنډوي، ځیني یې تر حج او د عمر د پوختیا پوري ځنډوي او په دې سر نه خلاصوي چي د ګناه د ترسره کولو څخه په پیل کي د زړه سختي رامنځته کیږي، بیا کرار کرار انسان کفر او ګمراهی ته رسوي، له دې امله په توبه کښلو کي تلوار، هوښیاري او کوښښ په کار دی، که تاسي هر څه ژر توبه وکاږئ نو هیله کیدای سي چي هر څه ژر پر ګناهونو باندي د مداومت ناروغي ستاسي د زړه څخه ووځي او د ګناهونو د شومتیا بار ستاسي د زړه څخه لیري سي. ابن قیم (رحمة الله علیه) فرمایي: که څوک ګناه تر سره کړي پر هغه باندي سمدستي توبه واجب ده او که یې وځنډوي د ځنډیدو له امله ګناه کاره کیږي، که بیا وروسته له دې ګناه څخه توبه وکاږي، نو بله توبه به یې پر غاړه پاته وي چي هماغه د توبې د ځنډیدو توبه ده، په دې حساب باید داسي څوک دوې توبې وکاږي.

د ګناه د بیا کولو د بیري توبه نه کښل: ځیني ګناه کار انسانان غواړي چي توبه وکاږي، مګر دا کار له دې بیري نه کوي چي بیا به ګناه ځیني تر سره سي، دا یوه تیروتنه ده، ګناه کار باید هر څه ژر توبه وکاږي، ځکه ده ته څه معلومه ده که خدای مکړه نابېره مرګ ورته راغلی، بیا خو نو افسوس او آرمان هیڅ ګټه نه کوي، که څوک توبه وکاږي او بیا خدای مکړه ګناه ځیني وسي بیا دي پر هغې ګناه هم توبه وکاږي، الله (جل جلاله) نه دا چي پر داسي بیا بیا توبه کښلو په غوسه کیږي، بلکي خوشاله کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خلکو خبرو د بیري توبه نه کښل: د ځینو کسانو توبه کښل زړه غواړي، د توبې ګټې او طریقه هم ور معلومه وي، مګر د ځینو خلکو د خبرو او عیب لګولو څخه بیریږي، په وهم کي وي چي ما ته په متشدد، وسواسي او داسي نور... ونه وایي. ریښتیا هم زموږ په ټولنه کي داسي خلګ سته چي پر یوه خوا سړی نه پریږدي، که ګناه کوې وایي: دا ګناهکار دی. او که توبه کاږې وایي: دا بیا له کومه دونه ښه سړی او زاهد سو. خو سمه خبره دا ده که کوم ګناه کار توبه کاږي د خلکو په خبرو پسي دي سر نه ګرځوي، ځکه د خلکو د خبرو د بیري توبه نه کښل سم کار نه دی، دی باید د الله (جل جلاله) څخه وبیریږي، نه د خلکو د خبرو څخه، بیا د توبه کوونکي له خوا د خلکو ناسمي خبري اوریدل د الله (جل جلاله) له خوا یو ډول امتحان دی، په دې توګه الله (جل جلاله) دی امتحانوي چي آیا دی په خپله توبه کي ریښتینی دی او که درواغجن. که په لومړیو وختونو کي د خلکو پر خبرو د صبر او حوصلې څخه کار واخلي، نه دا چي توبه به یې د الله (جل جلاله) په نزد ریښتیني او قبوله سي او له دې امله به نیکمرغه سي، بلکي هغه خبري کوونکي به هم ده ته وګوري او هغه به هم توبه وکاږي.

د ګناه د ډیروالي څخه زړه تور سي او زنګ یې ووهي: څنګه چي په ګناهونو کي پرله پسې ډیروالی راځي، همداسي پرله پسي او کرار کرار په زړه کي هغه تور ټکي لوییږي، تر څو چي ټول زړه تک تور او زنګ خوړلی کړي، د زړه رڼا او نور له منځه یو سي، بالاخره یې اغیزه او نتیجه داسي چي د مسلمان زړه د نوره بې برخي سي، نه ګټور علوم آرزښت ورته لري او نه یې نیک اعمال تر سترګو ښه ایسي، نه د عقل او حکمت خبري تاثیر پرې کوي، په دې توګه هغه د شفقت او رحمت د ډیر غوره صفت څخه خالي سي، چي نه پر خپل ځان رحم کوي، نه د بل چا سره د رحم او شفقت کړنه کوي، په نهایت کي یې په زړه کي د ظلم، جهل، شر او فتنو تیارې ځای ونیسي، پای یې پر ګناه جرأت دومره ډیر سي چي د معصیت او ګناه ژوند غوره کړي، الله (جل جلاله) مو دي په خپل فضل او مرحمت سره د دغه حاله وساتي، آمین.

یوازي د ګناه پریښوول هم بسنه نه کوي: که یو څوک د خپلو ځینو غوښتنو یعني خواهشاتو پیروي وکړي او بیا الله (جل جلاله) د توبې توفیق ورکړي، نو یوازي د دغو غوښتنو د پیروۍ پریښوول توبه نه بلل کیږي، بلکي تر دغو ګناهونو دمخه چي یې هر څومره ګناوي کړي دي، د هغو تلافي هم ضروري ده، دا ځکه کوم انسان چي کله کومه ګناه کوي، نو یې پر زړه باندي یو ډول تیاره پریوځي، لکه څوک چي پر هینداره باندي ساه وکاږي، هینداره پیکه سي، بیا څه نه په کښې معلومیږي، که د ګناهونو دغه تیاره پوړ پر پوړ خپره سي، نو زنګ ځیني جوړ سي، اوس نو که دغه زنګ نور هم ډیر سي، د انسان په طبیعت اوړي او تر دې وروسته الله (جل جلاله) د بنده پر زړه مهر لګوي، ځکه په داسي زړه کي د لارښووني اثر او وړتیا ختمه سي، لکه پر هینداره چي خوپ ولویږي او تر ډیره وخته پاکه نه سي، نو په زنګو اوړي او بالاخره یې شفافیت له منځه ولاړ سي، داسي حالت ته ورسیږي چي پاکول یې ناشونی کار سي، او څنګه چي کار نه ځیني اخیستل کیږي، نو یې ایسته وغورځوي، همداسي توبه دې ته نه وایي چي ووایي په راتلوونکي کي زه ګناه نه کوم، بلکي پر زړه چي د ګناهونو کومه تیاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریوتې ده، د هغې له منځه وړل هم اړین بلل کیږي، لکه د هینداري لپاره دا کافي نه ده چې بیا به ساه نه پر کاږم، بلکې مخکنۍ خیري به هم ځیني پاکیږي، همداسي د ګناهونو څخه پر زړه تیاره خپریږي، د نیکیو د ترسره کولو څخه زړه روښانه سي، د ګناوو تیاره ځیني لیري سي او د هینداري غوندي پاک سي، ځکه نو انسان ته په هر حال کي د ګناهونو د تیارو د لیري کولو لپاره په ښو اعمالو بوختیا په کار ده.

د کومو کسانو توبه نه قبلیږي؟ د هر چا توبه قبلیږي، مګر بنسټیز شرط یې دا دی چي توبه کوونکی به د ایمان خاوند وي، هغه کسان چي د اسلامه پرته د کوم بل مذهب، لکه: یهودیت، عیسویت، الحاد، دهریت، کمونیزم، سیکولریزم او داسي نورو... څخه د یوه پیرو وي، که د خپل باطل مذهب څخه توبه ونه کاږي، اسلام رانه وړي او ومري، نو پر کفر مړ دی. البته که کوم مسلمان چي د اسلامه اوښتی او د کمونیستي یا سیکولریستي الحادي عقیدې یا کومي بلي باطلي عقیدې په خپلولو سره مرتد سوی وي، که تر مړیني دمخه توبه ځیني وکاږي، بیرته اسلام راوړي دا نیکمرغي الله (جل جلاله) ور په برخه کړي، دغه توبه یې قبلیږي. پر دې سربیره اسلام دا رعایت هم ورسره کړی دی چي د بیرته مسلمان سوي مرتد هغه ګناهونه چي د ارتداد په حال کي یې کړي دي او هغه عبادتونه چي د ارتداد په وخت کي یې پرې ایښي دي، د هغو قضاء او جبیره نه باندي لازموي. کافر چي مسلمان سي، د بدني او مالي عباداتو او د ده د هغو ګناهونو چي پر نفس او مال باندي د جنایتونو له امله ځیني صادر سوي وي، قضاء نه پر لازمیږي. د اسلام راوړلو په صورت کي ده ته عفو ده او د اسلام راوړلو په ساعت کي داسي ګرځي، لکه د مور څخه چي تازه زیږیدلی وي.

د حضرت آدم (علیه السلام) توبه: الله (جل جلاله) زموږ لومړني پلار ابوالبشر حضرت آدم (علیه السلام) او حوا انا (علیه السلام) ته وفرمایل: تاسي په جنت کي واوسئ او د هغه د میوو څخه د یوې وني پرته د نورو ټولو میوې خورئ. خو د هغو د بشري ضعفونو له مخي، دوښمن یعني جني شیطان دوی خطاء ایستل او ورته ویې ویل: تاسي الله (جل جلاله) ددې وني د میوو د خوړلو څخه نه یاست منع کړي، که زما خبره ومنئ او ددې وني میوه وخورئ تاسي به ملائیکي سئ او یا به تل د جنت د نعمتونو څخه برخمن سئ. نو هغه وو چي د هغه په وسوسه او اغوا یې د هغې وني څخه چي د الله (جل جلاله) له خوا منع سوي وه میوه وخوړل. له دې امله الله (جل جلاله) هغوی د جنت د نعمتونو څخه د مځکي ستونزو او مصیبتونو ته ولیږل، په دې ډول الله (جل جلاله) هغو او د هغو راتلوونکي توکم ته وښوول چي د انسان بدمرغي د الله (جل جلاله) په نافرماني کي ده، سعادت او نیکمرغي یې د الله (جل جلاله) په اطاعت او حکم منلو کي نغښتي ده. همدا راز الله (جل جلاله) د حضرت آدم (علیه السلام) اولادې ته په دې ډول څرګنده کړه: ستاسي دوښمنان یعني جني او انسي شیطانان تاسي د الله (جل جلاله) د طاعت او فرمان وړلو څخه را ګرځوي، د الله (جل جلاله) د دنیوي او اخروي نعمتونو څخه مو بې برخي کوي. هغو ته یې وښوول او ورته ممکنه یې کړه چي تاسي باید د شیاطینو مکرونو او غولونو ته متوجه اوسئ، د قیامت تر ورځي د شیاطینو سره وجنګیږئ، د هغو د خطاء ایستنو او غولونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په وړاندي مقاومت وکړئ، څو هغوی ونه کړای سي چي د حضرت آدم (علیه السلام) صالح اولادونه خپل غوندي بې لاري او دوږخیان کړي. کله چي ددې ګناه له امله حضرت آدم (علیه السلام) او بي بي حوا (علیه السلام) مځکي ته راکښته سول، نو پر خپلو کړو پښیمانه سول، توبه یې وکښل، د الله (جل جلاله) په حضور کي یې د مغفرت او بخښني غوښتنه وکړه. نو هغه وو چي الله (جل جلاله) د دوی توبه قبوله کړه.

ځوانه د مرګ دمخه هر څه ژر توبه وکاږه: د حسرت د ورځي څخه د ژغورني لپاره همدا اوس سمدستي بې ګټي، کږې او وږې لاري پریږده، همدا نن دستي د فلاح، ژغورني او بریالیتوب لار خپله کړه، ځکه چي الله (جل جلاله) هم سمدستي د توبې کښلو آمر کړی دی، نه ګورې چي مرګ مازي زموږ تر سترګو نهام دی، کله چي راسي هیڅ مهلت نه راکوي، نابېره راځي، لوی او کوچنی، زوړ او ځوان، موړ او مسکین نه پیژني.

مالک ابن دینار (رحمة الله علیه) فرمایي: یو وخت زما د ګاونډي کور ته د عیادت لپاره ورغلم، کله چي مي ولیدی د نفس غرغړ یې وو، په ډیر سخت حالت کي وو، کله به پر سد سو، کله به بې سده سو، دمخه به دی تل د دنیا په ټولولو اخته وو، د الله (جل جلاله) عبادت به ځیني پاته وو، دغه مهال ما ورته وویل: الله (جل جلاله) ته توبه وکاږه او تر دغه ګمرهي دي تیر سه، ګوندي الله (جل جلاله) شفاء درکړي، په خپل فضل او احسان به تر ګناهونو در تیر سي. ویې ویل: افسوس هغه چي راتلی، دا دی راغلی دی او زه همدا اوس مرم، نو افسوس دی پر هغه عمر چي په باطلو کي مي تیر کړ.

همدا اوس دستي توبه وکاږه، خدای مکړه بیله توبې تر دنیا تیر نه سو، دا ښه نه ده چي بیله توبې د الله (جل جلاله) د مغفرت هیله ولرو، دا صحي ده چي الله (جل جلاله) غفور او رحیم ذات دی، مګر که موږ د ناوړو چارو څخه توبه ونه کاږو، نو بیا قهار ذات هم دی. همدا اوس د توبې کښلو وخت سته. بیا داسي نه سي چي دا وخت دي د لاسه ورکړی وي، کله چي نابېره مرګ راسي بیا خبره خرابیږي، دغه مهال هر اُمید او هیله قطع کیږي، یوازي به آرمان، درد او حسرتونه پاته وي، ګرانه ځوانه تر مړیني دمخه همدا اوس توبه وکاږه، د الله (جل جلاله) خوښي، ددې او هغې دنیا سعادت او نیکمرغي په لاس راوړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای

غفلت، هيره او تلوار، د نفس او هوا، هوس او خوندونو، شهوتونو او واک غوښتني، استکبار او ځان غوښتني، د مادياتو د تر لاسه کولو، وينو تويولو، فسادونو او داسي نورو... ظلمونو او جنايتونو غرايز او صفات د انسانان په خټه او طبيعت کي اخښل سوي دي، ځکه نو انسان ډير کله د آخرت څخه غافله وي، دنيوي خوندونو او د خپلو همنوعو پر حقونو تيري ته ليوال وي او د هغو نعمتونو پر ځای چي په هغه دنيا کي ورکول کيږي، ددې دنيا نعمتونو ته ترجيح ورکوي، دا شيان ښکلي او ښه ورته معلوميږي، دا چي غفلت، تيروتني او ښوييدني د انسان په خټه او طبيعت کي اخښلي دي، مګر د الله (جل جلاله) قانون دا دی چي په خپل لطف او کرم يې د توبې کښلو چاره بيخي ډيره آسانه کړې ده او هغه څوک چي د توبې کښلو اراده وکړي.

که کافر وي، که مشرک، که مرتد وي، که منافق، که ظالم وي او که بل هر څوک، مطلب هر ګناه کار چي وي د توبې دروازه يې ورته خلاصه ده، د الله (جل جلاله) د لوی او عظيم الشان دربار دروازه هم تل خلاصه ده، پر خپلو بنده ګانو يې رحم او شفقت زښت ډير زيات دی، الله (جل جلاله) هر چا ته د خپلي بخښني او مهربانۍ په پراخه لمن کي ځای ورکوي، خو چي هغه ريښتينې توبه وکاږي اورجوع ورته وکړي، توبه د بنده د ټول عمر دنده ده او دا د بنده پيل او پای او د عبوديت د لومړيو، منځنيو او وروستيو منازلو څخه بلل کيږي، بنده بيله توبې بله چاره نه لري، نو موږ ټول بايد په دې پوه سو، نيکمرغه هغه کس دی چي د عمر اخير او انجام يې سم سي.

الهي زموږ ټينګه او نصوحه توبه په نصب کړه، موږ تاته رجوع کړې ده، موږ هر څه ستا څخه غواړو، موږ ستا څخه د کړو ګناهونو بخښنه هم غواړو، بيله تا پر بل هيچا تکيه نه کوو، يوازي ستا په هيله او اُميد يو، تاته غاړه ايږدو، پر تا ځانونه سپارو، پر تا توکل کوو، ستا رضا مو هدف دی، لکه هر څه چي دي راکړي دي، همداسي هر څه ستا څخه غواړو، تاته شکرونه کاږو، يوازي ستا عبادت کوو، ستا څخه مرسته غواړو او تاته پناه دروړو، نو الهي ته مو مل او ملګری سه! الهي موږ وبخښه، زموږ توبه قبوله کړه، د ګناهونو د قيده مو وژغوره، د نفس او شيطان، هوا او هوس د شره مو په آمان کي کړه، علم او عمل مو ستا لپاره کړه، د رياء او شهرت څخه مو وساته، الهي ستا ديدار مو په نصيب کړه، ستا د دوستانو په ډله کي مو داخل کړه، الهي ستا په قضا مو راضي کړه، پر کړاوونو صبر را کړه، ستا چي پر موږ څه پيرزو وي، په هغو مو قانع کړه، حلاله روزي راکړه، د حرامو مو وساته، پر ګناه او سرکښۍ باندي وس مه راکوه، الهي د همت د خاوندانو، ستا د لاري د لارويانو، نيکانو ژوند، د حق د خاوندانو برخليک او د شهيدانو مړينه را په برخه کړه. آمين

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ماخذونه


۱: په اسلام کي د ځوان او ځوانۍ اهمیت، لیکوال: دکتور رحمت الله زاهد.
۲: مسلمان ځوان څه مسوولیت لري؟ د واجب الشباب المسلم الیوم د کتاب څخه، مؤلف: دوکتور یوسف القرضاوي، ژباړن: سید محبوب شاه ساجد.
۳: مسلمان ځوانه! د ژوند اصلي مسیر درک کړه! لیکوال: خاکسار.
۴: یو مسلمان څه ډول باید ژوند وکړي؟ لیکوال: مولانا محمد عاشق الهی، ژباړن: بسم الله علمیار.
۵: مسلمانان ولي وروسته پاتي شول؟ لیکوال: کریم الله (صمد یار).
۶: د ځوان نسل فکري روزنه، لیکوال: امام سید ابوالحسن علي ندوي، ژباړن: ابو معاذ.
۷: تفسیر دیوبندي، مرتب: الحاج مولوي عبدالحنان صاحب.
۸: اسلام او سیاسي اندونه، مؤلف: علامه مفتي محمد تقي عثماني.
۹: په سیاسي لحاظ د اسلامي هیوادونو د ضعف عوامل، لیکوال: ممتاز الدین ممتاز.
۱۰: د دعوت اصول او آداب، لیکوال: مولانا نصیب الرحمن علوي، ژباړونکی: ډیوه (همت لور).
۱۱: د بریالتوب لار، لیکوال: محمد مقني، ژباړن: شفیق الله آمین.
۱۲: د وخت آرزښت، لیکوال: مفتي رفیع الله نعماني.
۱۳: بې خونده ګناهونه، مرتب مفتي اعظم حضرت مولانا محمد شفیع صاحب.
۱۴: غربي تمدن، لیکوال: دوکتور مصباح الله عبدالباقي.
۱۵: فکري پوهنه، لیکوال: مولوي عبدالهادي (مجاهد).
۱۶: ځوانان د سیرت نبوي په رڼا کښې، لیکوال: مفتي حسین احمد مدني.
۱۷: په اروپا کي د مسلمانانو د بریاوو تاریخ، لیکوال: علامه شکیب ارسلان، ژباړن: محب الله.
۱۸: فکري جګړه، لیکوال: یحیی محمد الیاس، ژباړن: مولوي عبدالهادي (حماد).
۱۹: ځوانه د وخت آرزښت ته تم سه، لیکوال: خالد عثمان زوی.
۲۰: موسیقي په اسلام او ساینس کي، لیکنه او څېړنه: عبدالغفار جُبیر.
۲۱: له ځانه سره حساب، لیکوال: مولوي عصمت الله عزام.
۲۲: فکري جګړې لاري، لیکوالان: دوکتور محمد جریشه او محمد شریف الزیبق.
۲۳: راځئ توبه وکاږو، لیکوال: عبدالمالک (همت).
۲۴: د مسلمان ځوان ځانګړتیاوي، سرچینه: موقع دعوة الإسلام، ژباړه: خلیل الرحمن حنیف.
۲۵: تعلیم الاسلام ویب پاڼه او تعلیم الاسلام مجله: ۲۶، ۱۱ او ۲۲ ګڼه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**